فتاوى رحيميه

پښتو

افادات

حضرت مولانا قاري مفتي سيد عبد الرحيم لاجپوري

خطيب بڑی مسجد رانديز ضلع سورت

پښتو ترجمه

مولانا محمد خليل

حضرت مولانا غلام ربي

مكتبه فاروقيه
محله جنگي پشاور
Ph: 091-2217181
Mob: 0300-9007550

فتاوی رحیمیه

(لومړی جلد)

کتاب الایمان والعقائد

افادات

حضرت مولانا قاري مفتی سید عبدالرحیم لاجپوری رحمة الله علیه
خطیب بړی جامع مسجد راندیر ضلع سورت

پښتو ترجمه :
حضرت مولانا غلام ربي

مکتبه فاروقیه محله جنګی پشاور
Ph: 091-2217181
Mob:0300-9007550

دکتـــاب پېژندنه :

د کتاب نوم : فتاوی رحیمیه

جـلد : لومړی

ترجمه : مولانا غلام ربي

کمپوزر : بشارت الله

ناشر : مکتبه فاروقیه

دچاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

فهرست

ګڼه	عنوان	صفحه
۱	دصاحب فتوی لنډه پیژندنه	۵
۲	دتعارف تکمله	۱۵
۳	دمفتي مقام	۱٦
۴	دفتوی لیکنه اودرای اصابت	۱۷
۵	یودلچسپ بحث	۱۷
٦	دحضرت مفتي لاجپوري صاحب تنقید	۱۸
۷	دمفتي اعظم خواب	۱۹
۸	استفتاء	۲۰
۹	دفتاوی رحیمیه په متعلق دعلماو او فضلاو آرا	۲۲
۱۰	دایمان او دعقائدو په متعلق معلومات	۴۴
۱۱	دغیر الله نه دمدد غوښتلو څه حکم دی	۴۵
۱۲	دوباء زده علاقې پریښودل	۴۸
۱۳	مسلمان لپاره دهندوانو دمذهبي مشرته تعظیم کول	۵۲
۱۴	په ړیره باندی دتنقید حکم	۵۴
۱۵	دبزرګیه نوم وینته ساتل څنګه دي	٦۲
۱٦	ایا انسان سپوږمۍ ته رسیدلې شي؟	٦۳
۱۷	اسمان ، داسمانونو ترتیب او خپل منځی فاصله	٦۸
۱۸	اووه اسمانونه	۷۰
۱۹	آسمان اودشریعت نصوص	۷۲
۲۰	جدید ساینس او اسمان	۷۵
۲۱	دشریعت پیروي کولو باوجود	۷۸
۲۲	دنعل شریف نقشه سرته کیښودل	۷۹
۲۳	کوم سړی چی له الله نه منکر شي	۸۰
۲۴	مسلمانانو په مندر کی امداد وکړ	۸۰
۲۵	دکوهی کنستلو لپاره غیر مسلم سره مشوره کول	۸۱
۲٦	دهندوانو په میله کی شریکیدل حرام دي	۸۲
۲۷	دبزرګانو په طفیل او برکت دعاکول	۸۳

ګڼه	عنوان	صفحه
۲۸	۱_ شرعي تقلید ۲_ دتقلید ضرورت	۸۴
۲۹	دشرعي مسائلو دفهم لپاره دحدیثونو یادول	۱۰۸
۳۰	ددین مدار دوه شیانو باندی ده	۱۱۵
۳۱	دتقلید حیثیت او ثبوت یې	۱۲۵
۳۲	نفس تقلید له قران او حدیث نه ثابت دی	۱۳۴
۳۳	دغیر مقلدینو څو اشکالونه او ځوابونه یې	۱۴۵
۳۴	امام الانبیاء حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله	۱٦۳
۳۵	دامام صاحب په متعلق دحدیث بشارت	۱٦۴
۳٦	امام صاحب تابعي و	۱٦۵
۳۷	امام نقدرجال یحیی بن سعید قطان	۱٦٦
۳۸	حضرت عبدالله بن مبارک	۱٦۷
۳۹	امام اعمش کوفی	۱٦۹
۴۰	شعبه بن حجاج	۱٦۹
۴۱	علی بن مدیني	۱۷۰
۴۲	سفیان ثوري	۱۷۰
۴۳	یزید بن هارون	۱۷۱
۴۴	مشهور محدث یزید بن هارون	۱۷۱
۴۵	امام وکیع بن جراح	۱۷۲
۴٦	امام ابو یوسف	۱۷۳
۴۷	امام مالک	۱۷۳
۴۸	امام شافعي	۱۷۴
۴۹	امام احمد بن حنبل	۱۷۴
۵۰	دحدیثو امام مسعر بن کدام	۱۷۴
۵۱	محدث کبیر مکی بن ابراهیم	۱۷٦
۵۲	مشهور محدث شفیق بلخي	۱۷٦
۵۳	دفقه دتدوین ضرورت	۱۷۹
۵۴	دفقه دتدوین کیفیت	۱۸۰
۵۵	دمودودی صاحب سبائی ذهنیت	۱۹۴
۵٦	دګنبد خضرا دتوهین متعلق درضا خانیانو پرو پیګنډه	۲۰۵

ګڼه	عنوان	صفحه
۵۷	دنبوي جماعت توسيع	۲۰۶
۵۸	دديوبند داکابرو علماو عقائد	۲۰۷
۵۹	مديني منورې ته دروانيدو آداب	۲۰۷
٦۰	دمديني حرمت	۲۰۸
٦۱	نبوی جومات ته ننوتل	۲۰۸
٦۲	په روضه اطهر باندی حاضري	۲۰۹
٦۳	دالله رسول وسيله کول	۲۱۰
٦۴	فاسق څوک دی؟	۲۲۰
٦۵	ايا دانساني نسل ابتداء له بيزونه دی؟	۲۲۱
٦٦	دعيسی عليه السلام ژونديتوب	۲۲۴
٦۷	ديو اشکال ځواب	۲۲۸
٦۸	قادياني دکوم غير مسلم سند سره مسلمان کيدلی نشي	۲۳۰
٦۹	دنبوت دعوه او کفري اقوال	۲۳۲
۷۰	دمسيح کيدو دعوه	۲۳۳
۷۱	په عيسی عليه السلام باندی دفضيلت دعوه	۲۳۴
۷۲	دحضرت عيسی عليه السلام توهين	۲۳۵
۷۳	دعيسی عليه السلام دمعجزو په متعلق دمزراجی خيالات	۲۳٦
۷۴	په يوسف عليه السلام دفضيلت دعوه	۲۳۷
۷۵	دمعجزو کثرت	۲۳۷
۷٦	دحديثو په باره کی دمزراجي خيالات	۲۳۸
۷۷	قاديانی او مرزائي فرقه	۲۳۹
۷۸	علمي لطيفه	۲۴۰
۷۹	دمهدويه فرقې متعلق وضاحت او دامام مهدي حالات	۲۴۳
۸۰	دځيلو عقيدتمندو په متعلق دسيد محمد جونپوري نظريه	۲۴٦
۸۱	دامام مهدي حالات	۲۵۷
۸۲	دامام مهدي له حضرت عيسی عليه السلام سره ملاقات	۲٦۱
۸۳	دسالګری څه حکم دی؟	۲٦۳
۸۴	دقاديانيانو څه حکم دی؟	۲٦۹
۸۵	دقيامت دعلامت ثبوت	۲۷۰

گڼه	عنوان	صفحه
۸٦	ددین بزرگانو په ژوند پاوشات نه وروسته حج ته تلل	۲۹۳
۸۷	دحجر اسود په ښکلولو کی دده دعبادت شائبه	۲۹۴
۸۸	دغیر مسلمو دتبلیغ لپاره بی قراره کیدل	۳۱۳
۸۹	داسلام دصحیح کیدو په شرائطو کی دتوحید مقام	۳۱۴
۹۰	شرعي تقلید او دامت علماء	۳۲۳
۹۱	دتقلید حقیقت	۳۲۴
۹۲	داماما نو په تقلید دامت متفق کیدل	۳۵۳
۹۳	حاصل دکلام	۳۵۷
۹۴	دتقلید دحیثیت دبیانولو په ترخ کی لیکل دي	۳٦۱

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله الذی وفق من ارد به خیرا للتفقه فی الدین

اما بعد :

فتاوی رحیمیه دحضرت مولانا مفتي عبدالرحیم صاحب لاجپوري یوه عمده او بهترین تصنیف دی ،کتاب او صاحب د کتاب دواړه د څه تعارف او پیژندګلوي محتاج ندي ، د اهل علمو او خاص طور د مفتیانو صاحبانو په نزد چې د فتاوی رحیمیه او دمفتي صاحب کوم مقام دي هغه د بیان محتاج ندي ، تقریباً د پاک و هند برصغیر په هر دار الافتاء کی لدی کتاب نه استفاده کیږي ، د دی باوجود په کتاب کی ځینی نیمګړتیاوی چی له امله یی اهل علمو ته پری استفاده کولو کی څه مشکلات وړاندی کیدای مثلاً په ترتیب کی نقصان ، او په ځینو مسائلو کی تکرار ، اوپه ځینو مسائلو کی د دلیل نیشتوالی شو .

پدی باره کی بنده له مفتي صاحب سره رابطه وکړه نو مفتي صاحب راته د ترتیب وغیره اجازت راکړ لیکن مکرراتو له ختمولو نه یی منع کړم ، د مفتي صاحب خواهش ته په احترام کولو سره می کومه مسئله ختمه نکړه البته دنوي ترتیب او تبویب او تخریج سره کتاب ښائسته کړی شو ، امید دی چی اهل عملو ته به څه مشکلات مخی ته را نشي .

صالح کاروړي

دار الافتاء جامعة العلوم الاسلامیه علامه محمد یوسف

بنوري ټاون ، جمشید روډ کراچي ۵

د مفتي صاحب د خط له کاپي سره

۱۸ شعبان المعظم ۱۴۲۱ ھ　　　　باسمه تعالی　　　　له راندیر نه

۱۵ نومبر ۲۰۰۰ ء

محترم او مکرم جناب مفتي محمد صالح صاحب بارک الله في علمکم وعملکم

د مسنون سلام نه وروسته د دواړو خواو خیریت له پاک الله نه مطلوب دی . الحمد الله احقر (ناچیز) د بوډاتوب باوجود صحت لرم ، پاک الله دی تاسو هم صحت مند او په اخلاص سره په دیني خدمتونو کی مشغول وساتي ، آمین بحرمة سیدالمرسلین صلی الله علیه وسلم . ستاسو خط راته ورسید ، د رایادونو مو شکریه ، په لوستلو سره مو له احوالو نه واقف شوم ، تاسو ته چی د دار الاشاعت له طرفه څمونږه وړوکي رساله درکړی شوی د دی یوه کاپي مونږ ته راولیږئ ، او تاسو چی د ترتیب او د تبویب کوم کار شروع کړئ الله تعالی دی په خیر او نیکی سره سر ته ورسوي ، تاسو ددی خبری زیات اهتمام وکړئ چی ټول مسائل یکی راشي او کومه مسئله ترینه پاتی نشي او کوم مسائل چی په ظاهر کی مکرر معلومیږي هغه هم باید ټول راشي .

او باقي احوال د شکر وړ دي ، احقر هم تاسو لپاره دعا کوم او تاسو هم ما لپاره د حسن خاتمی دعا کوئ ، آمین .

(حضرت اقدس مفتي) سید عبدالرحیم لاجپوري ـ دام ظلکم العالی .

د صاحب فتوی لنډ پیژندګلوي

د منشي عیسی د ابراهیم ورور د پیغام ګجراتي میاشتنی مجلی مدیر په قلم

الحمد لله الذی وفق من اراد به الخیر للتفقه فی الدین وهدی من شاء الی السبیل المهتدین والصلواة والسلام علی سید الاولین والاخرین محمد خاتم النبیین والمرسلین الذی قال " من یرد الله به خیرا یفقهه فی الدین " علی اله الطیبین واصحابه الطاهرین وعلی اتباعه اشیاعه اجمعین الی یوم الدین .

د محترم مفتي صاحب پشان ګرانقدر شخصیت د تعارف او پیژندګلوي لپاره د فتواګانو دغه مجموعه (ټولګه) هم کافي وه لیکن لکه څنګه چی د پیغام میاشتنی مجلی دخریدارانو او لوستونکو زیات لیکونه راغلل چی نوموړي په فتاوی باندی‌د کامل اعتماد اظهار شوی ؤ او همدارنګه ډیرو حضراتو د تعارف او د پیژندګلوي خواهش هم کړی ؤ .

دحضرت مفتي صاحب شخصیت د دی باوجود چی د اسلامي تعلیماتو عملي نمونه دی او دا هم د اسلامي تعلیماتو اثر دی چی د دی دشهرت او نمائش نه تنفیر او د خاموش او د ګوشه نشیني ژوند عادت لري په اسټیج باندی د دوی تقریرونه او نه پریس (مطبوعاتو) ته داشاعت او نشر لپاره دوه بیانات لیږلی شي اخباري دنیا له ده څخه ناواقف ده پدی وجه ضروري شوه چی د تعارف خواهش لرونکو حضراتو فرمائش پوره کړی شي . حضرت مفتي صاحب پخپله د دغه فرمائش پوره کولو ته تیار نه شو نو دغه خدمت ما پخپله غاړه واخست لهذا د مختصر تعارف لپاره یوڅو کرښی پیش کوم :

د نسب سلسله :

حضرت مفتي صاحب ته لکه څنګه چی الله تعالی علم و فضل د قرآن پاک حفظ ، قرئت و تجوید او د بیت الله شریف دولتونه نصیب کړي دي ، خصوصیت دا دی چی دوی ته خانداني شرف هم نصیب کړیدی چی د ده د نسب سلسله (۲٦) واسطو سره د محبوب سبحاني حضرت مولانا سید عبدالقادر جیلاني رحمه الله ته رسیږي د دی سرورزرو د خنځیر بندونه وګوری .

(۱) مولانا قاري حافظ مفتي سیدعبدالرحیم قادري (۲) ابن سید عبدالکریم (۳) ابن سید ابراهیم (۳) ابن سیدعبدالرحیم (۵) ابن سید محمد فقیرالله (٦) ابن سید عابد میان (۷)

ابن سید درویش (۸) ابن سید محمد فقیرالله (۹) ابن سید پیرمحمد (۱۰) ابن سید رکن الدین یوسف (۱۱) ابن سید حسام الدین ننا میان (۱۲) ابن سید حسن (۱۳) ابن سید نظام الدین سلیمان (۱۴) ابن سید ابوالفتح اسحاق (۱۵) ابن سید انور محمد (۱٦) ابن سید علاء الدین آدم (۱۷) ابن سید ابراهیم (۱۸) ابن سید موسی قطب الدین (۱۹) ابن سید هاشم (۲۰) ابن سید غیاث الدین (۲۱) ابن سید صالح (۲۲) ابن سید فتح الله (۲۳) ابن سید نصرالله (۲۴) ابن سید داؤد (۲۵) ابن سید صدیق (۲٦) ابن سید القطب ابومحمد عبد الخالق (۲۷) ابن سید الامام مرشد الانام شیخ الجن والانس ، سلطان الاولیاء السبحاني محی الدین سید عبدالقادر جیلاني الحسنی الحسینی قدس الله سره العزیز ونور الله ضریحه .

امتیازي شان :

د دوی د ژوند سوانحو لپاره یو غټ کتاب پکار دی مګر هغه ټول تفصیل چې هغه لپاره یو مکمل کتاب لازم دی ، د هغه خلاصه دا ده چې الله تعالی دوی ته علم و فضل او زهد و تقوی سره سره محنت او زیاراېستل ، عزم و استقلال او اوچته حوصله هم ورکړیده چې سبق آموز دی او همدا د ده د ژوند خصوصیات دي ، دمختلفو مشکلاتو سره د صحت خرابي داسې یو ازمائش ؤ چې د علم شوق ،مسلسل کوشش د زړه لګیدل او د استقلال او استقامت جوهرونه یې راوپارول تر دی پوری چې الله تعالی دوی د افتاء عظیم منسب ته ورسول .

پیدائش :

د سورت د ضلع مشهور کلی نوساري د دوی د تولد ځای دی کوم ځای کی چې دوی د شوال میاشت ۱۳۲۱ ھ چې دسمبر ۱۹۰۳ء سره سمون لري نیټه باندی پیدا شوی ، محترم نیکه حضرت مولانا سید ابراهیم رحمه الله خپل وطن لاجپور کی اوسیدو .

د تعلیم ابتداء او د قرآن کریم حفظ :

۱۳۲۹ھ کال کی دوی د خپل محترم سره شاګردي اختیار کړ مګر لاتر اوسه پوری یې (عم) اخري سپاره نه وه ختمه کړی چې محترم نیکه یې د اجل داعي ته لبیک ووېل او بیا دوی خپل والد بزرګوار او ګرامي القدر تره حضرت حافظ سید حسام الدین قادري المتوفي ۱۳۴۲ھ سره د قرآن پاک حفظ مکمل کړ او پدی دوران کی دوی په ګجراتي سکول کی اوله درجه هم سره ته ورسوله او څه وخته پوری دوی په جامعه اشرفیه

راندیر کی د حفظ په درجه کی هم داخل ؤ ، د کورني کارونو ځینی ذمه واری او مشکلات ؤ چی دوی یی پدی طور ګرځول راګرځول او که چیرته د رشتینی جذبی دستګیري او دالله تعالی فضل نه وای نو پدی کم عمری کی د طلب علم په لاره باندی روان اوسیدل ډیر زیات مشکل ؤ او خاص چی دی دوران کی د دوی واده هم شوی ؤ[۱]

د فارسي تعلیم او زده کړه :

د حضرت مفتي صاحب د والد محترم په کوشش سره د نوساري (موتهوار محله) کی د مدرسه محمدیه بنیاد کیښودل شو او والد محترم د درس سلسله شروع کړه نود مولانا موسی بهبات او یوسف میمن وغیرهما سره دوی هم په مدرسه کی د فارسی درجی طالب علم جوړ شو

د امامت منصب :

الله تعالی حضرت مفتي صاحب ته په قرئت او تجوید کی هم کمال ورکړی ؤ ، قرئت یی ډیر اعلی اولهجه یی نهایت زړه راښکونکی دی دنوساري حضراتو د دوی د دی خداداد کمال څخه فایده اخستل وغوښتل لهذا دجومات امامت یی دوی ته حواله کړ او بیا یی د جامع جومات امام جوړ کړی شو ، پداسی حال کی چی د تعلیم سلسله هم جاري وه او د فارسي تکمیل یی کولو ، لیکن دغه باکمال شخصیت زیات وخت لپاره دلته په پاتی کیدو ونه توانید ، حضرت مولانا محمد حسین رحمه الله (دجامعه حسینیه راندیر باني) او محترم حافظ احمد موتها صاحب غوندی قدردان حضراتو د دوی دکمال قدر وکړ او دوی یی په پوره اصرارسره راندیر ته راوبلل ، څرنګه چی دوی د ذوالقعدی ۱۳۴۳ھ نیته باندی د جومات د امام په حیثیت باندی راندیر ته راغی ، څرنګه چی راندیر دیني مرکزي درسګاه دی نو دوی لپاره دا ډیر مترقبه نعمت و ، او په حقیقت کی همدا دیني درسګاه وه چی دده لپاره جاذب ګرځیدلی وه چی دلته یی درس نظامي مکمل کولی شو ، نو څرنګه چی دوی راندیر ته ورسیدل نو اول یی د جناب قاري محمدعمر تهانوي صاحب نه قرئت مکمل کړ او بیا یی په مدرسه محمدیه

---

[۱] ـ د مفتي صاحب محترم دوالد بزرګوار د ترور ځوی حضرت مولانا سیدعبدالحی صاحب د همشیری لور محترمه فاطمه بي بي سره د دوی واده شوی ؤ ، او مولانا سید عبدالحی صاحب د سورت د ضلع کیلان په مدرسه کی صدر مدرس ؤ

عربیه جامعه حسینیه راندیر کی دروسونه تکمیل کړل ، په ۱۳۴۹ھ کی چی د ۱۹۳۱ء سره مطابق دی نیته کی کلا چی حضرت علامه مولانا انور شاه رحمه الله د صدارت لاندی دجامعی څلورم کلنی احلاس کیدلو ذوی ته د جامعی نه طرفه دفراغت سند ورکړل شو .

د افتاء صلاحیت :

د امامت د فرائضو ورته پوره احساس وُ چی پدی وجه د درسي کتابو نه علاوه د مسائلو د کتابونو هم مطالعه جاري ساتلو ، الله تعالی ورته بهترینه حافظه ورکړی وه نو ځکه د طالب علمی په دوران کی د ډیرو مسائلو حافظ جوړ شوی وُ ، د درس نظامی سلسله شروع شوه نو داستاذانو په نګرانی کی یی د فتاوی لیکل هم شروع کړل ، ددہ مشفق استاذ مولانا محمد حسین رحمه الله به ورته استفتاګانی (سوالات) ورکول او ده به پوره تحقیق او توجه نه وروسته ځوابونه لیکل او د استاذ محترم آفرین او دعا ګانی به یی حاصلول .

د افتاء سره درس قرئت هم ده ته حواله شوی وُ ، مولانا قاري نورګت صاحب ، مولانا قاري احمد ډیسائي صاحب ، قاري احمد سبات صاحب ، مولانا احمدالله صاحب ، مولانا سلیمان پټیل صاحب ، مولانا محمد شریف صاحب بخاري ، مولانا حنیف صاحب ، د هغه وخت د ده مشهور شاګردان دي .

اصابت رای او صحت فتوی :

داسی څو څو ځله شویدي چی د ده له ځینو فتوو سره ځینی عالمانو اختلاف کړی لیکن کله چی هغه د هندوستان علمی مرکزونو او یا د مرکزي حضراتو په خدمت کی وراندی کړی شوی نو د حضرت مولانا مفتي عبدالرحیم صاحب د فتوی تصدیق شویدی ، فقط دوه مثالونه دلته وړاندی کولی شي کوم چی تاریخي حیثیت لري :

(۱) په ۱۳۵۱ھ تاریخ کی د راندیر یو مشهور حاجي وفات شو د حاجي صاحب دوېمه ښځه وه اولنی ښځه یی وفات شوی وه او اولادونه یی موجود وو ، حاجي صاحب د ځینی علماؤ په مشوره باندی وصیت نامه ترتیب کړه په وصیت کی حاجي صاحب داسی ولیکل :

" د وفات شوی ښځی په ترکه کی ځما چی کومه حصه ده هغه زه نه اخلم "

دحاجي صاحب د وفات نه ورسته دا سوال پیدا شو چې دحاجي صاحب په ترکه کی د ده هغه حصه ده هم شامل کړی شي کومه چې د اولنی ښځی په ترکه کی دشرعي حصی په طور رسیږي او که نه ؟ د دویمی ښځی مطالبه دا ده چې د هغی حصی نه دی هم ورته ثمن یعنی اتمه حصه ملاویدل پکار دي ، او دویمه ډله د وصیت نامی په بنیاد ددی منلو ته تیار نه وو ، دوی ویل چې حاجي صاحب خپل حق ختم کړیدی ځکه چې هغه لیکلي دي چې " زه نه اخلم " .
دغه مسئله حضرت مولانا مفتي عبدالرحیم ته پیش شوه نو دوی وفرمایل : " پدی لیک سره چې " زه نه اخلم " د ده حق نه ختمیږي بلکی حاجي صاحب د خپل حق حقدار دی او پدی حصه کی دویمه ښځه دثمن (اتمه) حقداره ده البته که چیرته داسی لیکل شوی وای چې ما خپل حق فلاني او فلاني ته ورکړیدی پدی وخت کی بغیر د شک نه حق نه پاتی کیدو چاته چې یی ورکړی وه هغه یی‌حقدار کیدو " .
د حضرت مفتي صاحب د دی رائ سره ځینی جلیل القدر علماؤ اختلاف وکړ نو دغه مسئله حضرت علامه مولانا محمد کفایت الله صاحب مفتي اعظم هند په خدمت کی وړاندی شوه چې پدی وخت کی نوي سنټرل جیل ملتان کی اسیر او قید وُ ، حضرت مفتي صاحب ولیکل : " بیشکه دحاجي صاحب حق نه رد کیږي هغه د دی د پخوا پشان مالک دی او پدیکی دویمی ښځی ته اتمه حصه ملاویږي " د هند دمفتي اعظم له طرفه د حضرت مولانا مفتي عبدالرحیم صاحب د رائ چې تصدیق وشو نو د اختلاف کوونکي عالم صاحب اعتماد په مفتي عبدالرحیم باندی‌دومره زیات شو چې هغوی هیڅ یوه فتوه د دوی د ښودلو نه بغیر نه ورکوله .

دویمه فتوی

په ۱۹۳٦ء تاریخ کی د راندیر په کناره باندی د یوي نوي جماعت د تعمیر په وخت د بیت الخلاء د پائپ باره کی متولي حاجي بنو صاحب دحضرت مفتي صاحب نه تپوس وکړ او دوی د ځای په لیدلو سره اجازت ورکړ ، د لاندیني ځواب نه سوال معلومیږي :
ځواب : د دغه کوهي پائپ په کوم کی چې د بیت الخلاء پائپ داخلول وي دا د جومات او دجومات له صحن نه خارج دی ، دلته د جومات تر جوړیدو پوری په عارضي طورسره جماعت سره د فرض لمونځ ادا کیدلی شي او کله کله سنتونه هم ادا کیدلی شي ،لهذا دغه ځای په شرعي جومات کی داخل نه دی نو بناء پدی بیکار کوهی کی د ضرورت په وجه د بیت الخلاء پائپ کینبودلی شي نوجائز دي پدی سره د

جومات بی‌حرمتي نه کیږي . فقط والله اعلم ، سید عبدالرحیم لاجپوري ، دستخط راندیر ، شوال ۱۳۵۴ھ .
لدی فتوی نه وروسته متولي صاحب پائپ واچولو او وروسته ځینی کسانو اختلاف وکړ د یو ځای مفتي صاحب په راغوښتو سره د ځای په ښودلو دعدم جواز فتوی حاصل کړ او بیا یی دغه فتوی په " همدرد " اخبار کی نشر کړ کله چی دغه د عدم جواز فتوی په همدرد کی نشر شو نو د هر طرف نه متولي صاحب باندی د لعنت او ملامتیا باران شروع شو متولي صاحب ویریدلی په منده مفتي صاحب ته ورغی او ورته یی ویل چی تاسو د جواز فتوی ورکړ او په همدرد کی دعدم جواز او د حرمت فتوی شائع شوی اوس څه وکړو ؟ چی دا مات کړو پدی ډیر خرچه شویده . حضرت مفتي صاحب ورته تسلي ورکړه چیٔ تاسو فکر مه کوئ چی څه موکړیدي غلط مو ندي کړي پدی باره کی د نقشی تیارولو سره دهلي وغیره نه ځواب حاصل شي ، نو هغه و چی نقشه یی تیاره کړه او دهلي ته یی ولیږله اوهغه ځای نه دغه لاندینی ځواب راغی
ځواب : دا خبره صحیح نه ده چی کوم ځای د جومات په احاطه کی واقع دی هغه دی د جومات حکم ولري او دا خبره هم صحیح نه ده چی کوم ځای باندی د ضرورت په وجه لمونځ کیږي هغه دی جومات وګرځي ، په صورت واقع کی که چیرته کوهي ته د پلیتی لاره جوړولو نه غیر بل کوم خرابي یا نقصان نه وي نو پدی وجه چی دا ځای د جومات په احاطه کی دی او یا پدی باندی عارضي طور سره جماعت کولی شي ، د جواز مانع ندی ، فقط ، د محمد کفایت الله کان الله له دهلي دستخط .
په دی باره کی مفتي مهدي حسن صاحب ته رجوع وکړی شوه ، دهغه سوال و ځواب لاندی ذکر کولی شي :
سوال : پدی لاندی مسئله کی دیني عالمان او مفتیان صاحبان څه فرمائي : چی دلته دجومات په احاطه کی د جومات د صحن په یو طرف حوض سره متصل د جومات متعلق یو مختصر ځای دی پدی ځای کی مخکی غسل خانه او کوهی و څو کاله کیږي لدی ځای نه غسل خانه بل ځای ته نقل شوی او کوهی هم وران کړی شو او د ځمکه د هوارولو نه وروسته پوخ فرش جوړ کړی شو یدی پوخ فرش باندی خلک کیني او بی غمه د دنیا خبری کوي تر دی چی سګریټ هم څکـي او کله نا کله خلک سنت او نوافل هم کوي او کله چی جومات شهید کړی شوی وُ تقریباً یوه نیمه میاشت د ځای د نیشتوالي په وجه پنځه وخته لمونځونه جماعت سره پدی ځای کی ادا کولی شو ،ما

دجومات د فایدی او د کفایت لحاظ ساتلو سره دغه کوهي لره دجومات نه خارج گنلو سره دنوی بیت الخلاء نه کوم چی د جومات داحاطی په یو طرف کی واقع دی د څپلو ویستلو ځای نه ذکر شوی معطل کوهي پوری د بول و براز تللو لپاره د ځمکی له سطحی نه دوه قدمه ژور پائپ اچولی دی او د پائپ نه دځمکی تر سطحی پوری حصه له خاورو نه ډک کړی شو پدی وجه د بدبوي راتلو احتمال هم نشته ، د ځینی خلکو دا خیال دی چی چونکه دغه کوهی د جومات په احاطه کی دی‌لهذا داخل د جومات دی او د دی فرش د جومات د صحن په حکم کی دی او خاص طورچی دلته کی سنتونه او نفل کولی شي او تر څه وخته پوری فرض لمونځ د جماعت سره ادا کړی شویدی پدی وجه پدی کوهي کی بول وبراز داخلول د جومات د بی حرمتی باعث دي ایا دا خبره صحیح ده ؟ امید دی چی دجومات د نقشی په لیدلو سره د شرعي حکم نه مو خبر کړئ او دیته مو هم باید خیال وي چی ذکر شوی کوهی ډیر زیات ژور دی او سیند هم نژدی دی ، د اوبو په زیاتیدو او کمیدو سره پلیتي هم ختمیږي . پدی وجه د ډکیدو ویره هم نشته او که دا بند کړی شي او بل وکنستلی شي نو حکومت اجازت نه کوي یعنی د (۲۰) فټ نه زیات ژور کوهي ویستل منع کړی شویدي پدی وجه بیا بیا د ډکیدوامکان دی او پدی صورت کی په لمونځ گذارو باندی تکلیف جوړیږي او په جومات باندی بار گرځي او جومات دومره صاحب حیثیت هم ندی لیکن که چیرته دغه پائپ د جومات د بی حرمتی باعث وي نو بیا د دی په مقابل کی هر قسم تکلیف اوچتولی شي ، د دی وضاحت وکړئ مهرباني ، (د ضلع سورت د راندیر د کناري جومات متولي) .

ځواب : یو د جومات صحن وي او بل د جومات فناء ، فناء د جومات هغه خالي ځای وي چی هلته دجومات ضرورتونه پوره کولی شي ، عرفاً چی دجومات په احاطه کی چی څومره ځای وي پدیکی جومات ، د جومات صحن او دجومات فناء وغیره ټول شیان وي پدیکی غسلخانه ، لیټرین (بیت الخلاء) او د تشومتیازو ځای ، د اودسونو ځای ، حوض ، د څپلو ایښودو ځای ، د اوبو سبیل او ټینکی ، دجومات د سامان ایښودو ځای او داسی نور ټول دجومات په احاطه کی وي خو ښکن پدی ټولو د جومات شرعي احکام نه جاري کیږي ، د شرعي جومات له حد نه چی څومره ځمکه او ځای خارج وي هغه جومات ندی بلکی د جومات د انتظاماتو او ضروریاتو لپاره وي ،

البته کله چې د محلي واله او اصلي مالک پروت ځای د جومات د توسیع لپاره جومات سره یوځای کړي نو هغه هم جومات ګرځي .
په سوال کې دکوم ځای نه چې پائپ اچولو سره کوهي ته رسول شویدی هغه د نقشې مطابق د جومات له شرعي حد نه خارج او د جومات په فناء کې داخل دی ، دجومات له صحن سره دا هیڅ واسطه نه لري ، دجومات صحن کوم چې د فقهاؤ په نزد جومات دی دا هغه صحن دی چې یو کولاؤ ځای دی چې دیته د اوړي جومات او یا بیروني جومات ویل کیږي . کوم ځای چې څپلي وباسي او کوم ځای چې کوهی جوړ شوی کوم ځای چې غسلخانه دی او یا د تشو بولو ځای دی دا ټول دجومات له صحن نه وتلی ځای دی .
لهذا په ذکر شوی مسئله کې د دغه پائپ پورې رسولو کې هیڅ کوم حرج نشته ، پدې سره دجومات بی‌حرمتي نه کیږي او دا د جومات پلیتول نه دي دا ټول ځایونه د نقشې مطابق له جومات نه خارج دي پدی وجه هلته ناسته ولاړه ،خبرې کول او سګریټ وغیره یې څکل او لدینه وړاندی غسلخانه هم و لکه چې په سوال کې ذکر شوي ، پ کوم ځای نوافل وغیره ادا کولو سره هغه ځای جومات نه ګرځي اوهمدا راز دکوم عذ په بناء کوم بیروني جومات په ځای کې په جماعت سره لمونځ کولو سره هغه ځا جومات نه ګرځي کله چې نیت دا وي چې د عذر په ختمیدو سره هغه ځای پریږدي په ذکر شوي سوال کې دا خبره شته چې جومات دنوي جوړولو په بناء شهید کړ شوی پدی وجه د جومات په صحن کې د لمونځ کولو لپاره دځای د نیشتوالي په سب مجبوراً څه وخت لپاره پدی ځای جماعت سره لمونځ شوی دی او چې کله جوما جوړ شو نو هغه ځای پریښودل شو پدی صورت کې پدی ځای د جومات احکام نه جاري کیږي او دا ځای جومات ندی . وقید باذن البانی لان متولی المسجد اذا جا منزل الموقوف علی المسجد مسجداً وصلی فیه سنین ثم ترك الصلوة فیه واعی منزلاً مستغلاً جاز لان المتولی وان جعله مسجداً لایصیر مسجداً کذا فی الخانیه بحر ج ۵ ص ۲۴۸) لکن لو قال صلوا فیه جماعةً صلوٰةً وصلوتین یوماً او شه لایکون مسجداً کما صرح به فی الذخیرة وقد مناه عن الخانیة فی الرحبة (بحر ۵ ص ۲۴۹) جعل شیء ای جعل البانی شیئاً من الطریق مسجدا الضیقة ولم ی

بالمارين جاز (درمختار) ثم ظاهر مانقلناه ان نقييد الشارح اولا بالبانى وثانيا بالامام غير قيد الخ (رد المختار ج ۳ ص ۳۹۵)
ما پخپله هم د نقشى نه علاوه هغه ځاى وليد چى ذكر شوى كوهى او پائپ د جوماتـ په فناء كى دى چى د جومات دحد نه خارج دى او دجومات په صحن كى داخل ندى تر څو ناجائز وګرځي ، والله اعلم .

الځواب صحيح بنده محمد بدر عالم عفا الله عنه (دستخط) ليكونكى السيد مهدى حسن غفر له

مفتي رانديرم ، سورت ۱۹ جنوري ، ۱۹۳٦ء

الځواب الصحيح : دغه ځاى ماليدلى د جومات له حد نه خارج دى دا دجومات په حد كى داخلول زبردستي ده ، فقط والله اعلم بنده سيد عبدالرحيم غفرله لاجپوري د رانديرد لوى جومات امام .

الځواب الصحيح
شبير احمد عثماني عفا الله عنه

الځواب الصحيح
مولانا اشرف علي عفى عنه

الځواب الصحيح
ظفر احمد عفاالله عنه

الځواب الصحيح
اسماعيل بن محمد بسم الله

۲۲_ ذى الحجه ۵۴ ھ حقّر عبدالكريم عفى عنه جامعه اسلاميه ډابيل خانقاه امداديه تهانه بهون سملک ضلع سورت ، ۲۲ ذى الحجه ۵۴ ھ ۲۸ ذى ا لقعده ۵۴ ھ .

الځواب الصحيح : بنده احمد نور مدرس جامع حسينيه رانديرضلع سورت

الځواب الصحيح : عبدالرحمن كان الله له ولوالديه .

د بدعاتو رد :

د حضرت مفتي صاحب يو خاص فضيلت دا هم دى چى دوى نه يواځى د تحرير او فتوى په لحاظ سره بلكى عملي طور هم د بدعاتو په رد كى ذهر چانه وړاندى دى ،د نوساري ، سورت وغيره ځايونو كى د رسم ورواج وغيره ، دجومات په صحن كى د جنازى لمونځ كول ، په ترويحه كى د تهولو په يو ځاى دعا كول ، داختر د خطبى نه وروسته اجتماعي دعا كول (د خلكو تر منځ اختلافي) مسائلو په لرى كولو كى كافي تكليف اوچت كړى او له ډير استقامت او ثابت قدمى نه كار اخستى .

دوی لکه څنګه چې نورو لره دستنو پابند حوروال غواړي پخپله هم د ژوند په هر شعب کی د سنتو پابندي پوره اهتمام کوي د دوی په کور کی د پردی ډیره سخته پابندي ده . پدی د فتنو ډک دوران کی پدی باندی پابندي کول ډیر سخت کار دی .

پای :

دا یو څو تعارفي کلمات وو چې دلته می پیش کړل او که نه وقعه دا ده :

داماں نگه تنگ و گل حسن تو بسیار

گلیچین بهار تو زواسان گله دارد

اختتام :

په آخر کی تبرکا د هغو بزرگانو نومونه پیش کولی شي چې د هغو نه حضرت مفتي صاحب فیض حاصل کړی . او دا د حضرت مفتي صاحب استاذان دي . د فتاوی رحیمیه څخه فایده اخستونکي حضرات چې مفتي صاحب ته دعا کوي نو دغه بزرگان دی هم په دعا کی یادوي ،اوهمداراز د دغو تکو لیکونکي دي هم په دعا کی نه هیروي :-

حضرت الحاج مولانا محمد حسین صاحب راندیري رحمه الله

حضرت الحاج مولانا مفتي سید مهدي حسن صاحب صدر مفتي دار العلوم دیوبند مدظله العالی

حضرت مولانا احمد انور صاحب مدظله العالی

حضرت مولانا مفتي محمود الحسن صاحب اجمیري

حضرت مولانا محب الله صاحب مدظله العالی

ناچیز عیسی د ابراهیم ورور د پیغام گجراتي میاشتی مجلی مدیر

کادي ضلع بهروج

بسم الله الرحمن الرحیم

د تعارف تکمله

د محترم عیسی د ابراهیم ورور مدظله په قلم

د فتاوی رحیمیه په اول جلد کی می د صاحب فتوی حضرت مفتي لاجپوري صاحب مختصر تعارف لیکلی دی مګر ځینی دوستانو شکایت کولو چی په ګجراتي ژبه کی چی فتاوی رحیمیه شائع شوی ددی د تعارفي مضمون ځینی اهمی خبری ولی پریښودلی شویدي ؟ دغو دوستانو ته زما دا درخواست دی چی که چیرته د صاحب فتوی قابل رشک د اسلامي زندګي مثالي اړخونه ولیکل شي نو د ګجراتي فتوی تعارفي مضمون هم ناکافي او د تکمیل تری پاتی کیږي ، نو اوس چی د فتاوی رحیمیه دویم جلد د چاپ په ګانه سره ښایسته کیږي نو د تعارف د تکمله په عنوان سره یو څو کرښی په دی نیت سره د کاغذ ښایست جوړوم چی د صاحب فتوی د مزید تعارف سره د محترم دوستانو شکایت هم رفع شي

الحمدالله ماته پدی احساس سره ډیرزیات خوشحالي حاصلیږي چی اګر که د " پیغام " سیاشتنی مجلی د ګجراتي مسلمانانو د بی اعتنایي او د خپلو زیاترو خریدارانو د کج ادائي او نادهندګي په وجه حوصله بایللي ده مګر پدیکی شائع شوی فتوی نه یواځی په ګجراتي ژبه کی په کتابي شکل کی چاپ شوی بلکی د خپل محبوبیت او مقبولیت په وجه سره په اردو ژبه کی هم په دوه جلدونو کی چاپ شویدی او اوس په انګریزي ژبه کی هم عنقریب چاپ کیدونکی دی . انشاء الله

نن صبا غیر دیني ماحول او دنیاوي علومو دغلبی په دور کی د فتاوی رحیمیه دا په دریو ژبو کی چاپ کیدل خپل خان لپاره یو اهم او امتیازي مقام پیدا کول که چیرته د صاحب فتوی د خصوصیت علامت ندی نو نور څه دي ؟

یقینا د حضرت مفتي صاحب مدظله شخصیت د اسلامي تعلیم عملي نمونه کیدو باوجود د خپلی انکساری او خاموشی په وجه ګمنام اوغیر معروف پاتی شوی او دا یو عام قانون دی چی دکلام اثر د صاحب کلام د باثر او باوقار کیدو پوری محصر دی لیکن دلته د دی قانون په خلاف داسی ښکاري چی د صاحب فتوی شخصیت غیر معروف کیدو باوجود د ده کلام د هری ژبی لوستونکي متاثر کولو سره عام وتام مقبولیت حاصلوي اللهم زد فزد

د مفتي مقام

د هر دور په علمي حلقو کی د مفتي مقام یو امتیازي خصوصیت او دخپلو ذمه واریو په اعتبار سره د لوی نزاکت او د اهمیت حاصل شمیرلی شي ، ځکه چی نن په ظاهر کی یو شان ښکاره کیدونکي په لکونو جزئیات او فروعي مسائل سره تعلق لرونکي احکاماتو پر منځ معمولي غوندی فرق او امتیاز وي پدی باندی پوهیدو لپاره د ډیر ژور علم و عقل او د بصیرت ضرورت وي چی دهر اهل علم د وس خبره نه ده ، او همداراز خو پوری چی د مفتي له فقه سره پوره ، مناسب او شرعي مسائلو کی مکمل بصیرت نه وي حاصل شوی ، عقل و ذهانت کی خاص قسم صلاحیت او په قلب او دماغ کی مذهبي علوم ښه راسخ او مضبوط شوی نه وي تر دی وخته پوری هغه د خپلو ذمه واریو کما حقه اطمئنان بخش طریقی سره سرته رسولو نه قاصر او ناقص پاتی کیږي .

الحمد لله حضرت مولانا مفتي سید عبدالرحیم صاحب لاجپوري، کی پورتني ذکر شوي خصوصیات په ډیرو وسیع پیمانه باندی قدرت ورته نصیب کړی دی ، علاوه لدینه په حضرت مفتي صاحب کی د الله تعالی ویره ، دوراندیشي ، بردباري ، شرافت ، عاجزي ، تقوی ، وقار ، سنجیدګي ، دمسئولیت احساس ، د کردرا بلندي ، میلمه پالنه او تجربه کاري پشان اعلیٰ او عمده صفات هم موجود دي او همداراز دده ځوابونه د مختلفو کتابونو په حوالو سره هم ښایسته شوي دي اودتولو نه لویه خوبي دا ده چی ځوابونه داسی مدلل وي چی هغه مستفتي او سوال کونکي ته هم اطمئنان او قناعت ورکوي چی د هغه له منشاء او فهم نه خلاف وي .

حضرت مفتي صاحب مدظله په ۱۳۴۹ھ تاریخ باندی له جامعه حسینیه راندیر ضلع سورت نه د فراغت سند حاصل کړی دی د جامعه حسینیه پدی سالانه اجلاس کی چی صدارت یی حضرت علامه فخر المحدثین انورشاه صاحب کشمیري قدس سره کولو او پدی کی شیخ الاسلام حضرت مولانا سید حسین احمد مدني رحمه الله هم شرکت کړی وُ د دی په رپورټ کی حضرت مولانا محمد حسین صاحب (نور الله مرقده) د مفتي صاحب باره کی لیکلي دي :

" مولوي حافظ عبدالرحیم لاجپوري له شپږو کالو نه پدی مدرسه کی تعلیم حاصلوي د ده له ابتداء نه انتهاء پوری عربي تعلیم پدی مدرسه کی شوی او همداراز د قرئت سند هم لدی مدرسی نه حاصل کړی ، نهایت صالح او ذهین طالب علم دی الله تعالی دی

د ده په علم او عمر کې برکت واچوي او د ګجرات خلک دې د ده له فیوضاتو نه برخمن وګرځوي "

د فتوی لیکنه او د رائ اصابت

دحضرت مفتي صاحب موصوف باره کې دا خبره واضحه شویده چې دوی د طالب علمۍ له وخت نه د فتوی نویسي خدمت تر سره کولو ، لدینه علاوه دوی د ځینې اهمو فتواګانو په سلسله کې د اطمنان او دفع تردد لپاره خاتم المحدثین حضرت شاه صاحب کشمیري رحمه الله او حضرت مفتي اعظم کفایت الله صاحب رحمه الله او حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د خط او کتابت په ذریعه تائید غوښتلو الحمد الله د ملت دغو اکابرینو کله هم په کومه مسئله کې د حضرت مفتي صاحب له تحقیق سره اختلاف ندی کړی بلکې هر وار یې تصدیق او تائید کړیدی چې یو څو نمونې یې په لاندی شکل ذکر کوو :

د طالب علمې په زمانه کې اشکال او د خاتم المحدثین حضرت انور شاه کشمیري تحقیقي ځواب (په ډابیل کې د اوسیدو په وخت کې) د طلاق د وقوع لپاره بالفصل ملک او یا اضافت الی الملک ضروري دي لهذا پدی مسئله کې د اقرار نامه خلاف ورزي موجب د طلاق کیږي یا نه الخ ؟

د حضرت شاه صاحب ځواب : د سبب ملک اضافت دی لپاره شرط دی چې د ملائم سره یې تعلیق راشي لکه چې په کفاله کې ذکر کوو نو بناء پدی دغه اضافت هغه وخت کې لازم دی چې زوج ابتدا وکړي ، په ذکر شوي مسئله کې د ښځی د اولیاؤ له طرفه شرط دی او ملائم دی دا باید معتبر وګڼل شي لکه چې کفاءت شرط کړي . محمد انور عفا الله عنه .

یو دل چسپ بحث

د " تعلیم الاسلام " او د " تعلیم المسلمین " په عبارتونو باندی اشکال

د جناب مولوي سید جعفر صاحب سورتي دحضرت مولانا مفتي اعظم محمد کفایت الله صاحب مشهور کتاب " تعلیم الاسلام " سره اتفاق نه درلود پدی وجه دوی د تعلیم الاسلام په عوض او مقابله کې د " تعلیم المسلمین " څلور حصې ولیکلې او په عقائدو او مسائلو کې یې ځای په ځای اختلاف وکړ ، پدی وجه حضرت مولانا محمد حسین صاحب د جامع حسینیه راندیر باني " تعلیم المسلمین " باندی د تنقید کار خپل رشید

شاگرد صاحب فتاوی حضرت مفتي لاجپوري صاحب ته وسپارلو حضرت مفتي صاحب رحمه الله د تعلیم المسلمین د غلطیانو اصلاح د فقه مشهور و معتبرو کتابو د عباراتو له نقلولو او حوالو سره مرتب کړ او مسوده یې د استاذ محترم په خدمت کې پیش کړیدی په اصلاح شوي مسائلو کې د " تعلیم المسلمین " دڅلورمی حصي نه دا مسئله ده

ځواب په قصر والا لمونځو کې که چیرته مسافر قصدا څلور رکعته وکړي نو که چیرته په دویم رکعت کې قعده کړی وي نو په آخر کې د سجده سهوه په کولو سره لمونځ ادا یږي الخ (تعلیم الاسلام ۶۰\۴)

د حضرت مفتي لاجپوري صاحب تنقید

معلومیږي چې د تعلیم المسلمین د مؤلف په نزد که مسافر قصداً د دوه رکعتو په ځای څلور رکعته وکړي او په آخر کې سجده سهو وکړي نو لمونځ صحیح کیږي او حال دا چې صحیح ندی د قصد په صورت کې سجده سهو نه کافي کیږي ، لمونځ واجب الاعاده ګرځي لیکن پدی مسئله کې د " تعلیم الاسلام " عبارت هم واضح ندی د تعلیم الاسلام عبارت دا دی .

سوال : که چیرته مسافر څلور رکعتي لمونځ پوره وکړي نو څه حکم لري ؟
ځواب : که چیرته دویم رکعت کې قعده کړي وي نو په آخر کې دسجده سهو په کولو سره لمونځ صحیح کیږي لیکن قصداً په داسی کولو سره ګنهګاریږي او که سهواً وشي نو ګناه هم نشته (تعلیم الاسلام ۴۴\۴) .

په تعلیم الاسلام کې هم د قصد په صورت کې د اعادی تصریح نشته بلکې د قصد په صورت کې هم د سجده سهو په کولوسره د لمونځ د صحیح کیدو شبهه کیږي پدی بناء محترم مفتي لاجپوري صاحب د حضرت مفتي اعظم رحمه الله په خدمت کې د دواړو ځوابودو متعلق خیل اشکال پیش کړ او وی لیکل : " لایکفی سجود السهو لتکمیل السهو لا لرفع نقص العمد (سیدعبدالرحیم)

د حضرت مفتي اعظم قدس سره ځواب

ځواب : د تعلیم الاسلام په عبارت کې د سجده سهو کولو باوجود د قصد په صورت کې د ګنهګاریدو حکم موجود دی د دی مطلب همدا دی چې لمونځ واجب الاعاده دی

" لان الاثم يتعلق الاختياری وهو عدم قبوله رخصة الله تعالی او التزامه عدم فريضة الله تعالی

اګرکه د وجوب اعادی له تصريح نه هغه عبارت قاصر دی، خو څومره عبارتونه چې دي هغه غلط ندي ، البته د تعليم السلمين عبارت مخدوش دی

د تعليم المسلمين په يو بل ځواب باندی اشکال

او دحضرت مفتی اعظم ځواب (پورتني دواړه ځوابونه دملتان له سنترل جيل نه ورکړی شوی دي)

سوال اولنی جماعت شويدی نو دويم جماعت کيدلی شي ؟

ځواب : او ، که چيرته د محلی جومات او د دی معين امام په اذان او اقامت سره د جومات لمونځ ورکړی وي نو اوس جماعت د محراب نه بېي يا کس طرف ته بغير د اذان او اقامت نه بالاتفاق جائز دي ، او که اولنی جماعت بغير د اذان نه شوی وي او يا د معين امام نه بغير کوم بل چا کړی وي نو بيا دوېم جماعت د اذان او اقامت سره جائز دي او دا به اولنی جماعت حسابيږي (تعليم المسلمين ۴۲\۴) .

ايا دا ځواب صحيح دی ماته خاص طور باندی " بالاتفاق جائز دي " باندی اعتراض دی اميد دی چې محترم حضرات د خپل تحقيق نه مونږ مشرف وګرځوي .

(سيد عبدالرحيم لاجپوري)

ځواب : " بالاتفاق جائز دي " دا صحيح ندي ، غالباً د تعليم المسلمين مؤلف د فقهاؤ لدی عبارتونو څخه دا مطلب اخستی دی چې پر هغه کی د هيأت له بدلولو نه وروسته جاز اجماعاً جازت يا تجوز اجماعاً ليکلي دي مګر هغه غالباً د امام محمد او د امام ابويوسف رحمهما الله د اتفاق متعلق دی لدينه اتفاق بين الائمة الاربعة مراد ندی او نه ورنه څمونږ د دريو واړو امامانو اتفاق مراد دی ، مزيد تحقيق لپاره دلته په جيل کی کتابونه موجود ندي محمد کفايت الله عفا عنه (سنترل جيل ملتان) .

د یو اهم استفتاء تصدیق

حضرت مفتي صاحب مدظله . السلام علیکم ورحمة الله دغه لاندنی فتوی شائع کول دي لهذا د تصدیق یا د اصلاح نه مشرف کولو سره زر راولیږئ (سید عبدالرحیم)

استفتاء

سوال : پدی مسئله کی دیني علماء څه فرمائي : بغیر د اجرت نه تراویح ورکونکی حافظ نه پیدا کیږي او اجرت ورکول او اخستل جائز ندي نو مونږ په تراویحو کی قرآن کریم څنګه واورو ، وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : یقیناً چی په طاعت باندی اجرت اخستل او ورکول جائز نه دي ، متأخرینو فقهاؤ چی ندی حکم نه کوم شیان مستثنی کړیدي په هغه کی په تراویحو کی د قرآن آورولو مسئله شامله نه ده لهذا په تراویحو کی په اجرت باندی د قرآن پاک اورول ناجائز دي ، پدی پرفتن دور کی څنګه چی د خلکو دیني تعلیم نه یو قسم نفرت کیږي د حافظانو تعداد په کمیدو ښکاري او کوم چی دي هغه هم تش په نوم حافظان دي ، ځکه چی په تراویحو کی ختم کول پریښی دي پدی چی په ختم کی نه پیسی ملاویږي او نه عزت او که پیسی ملاو شي نو بیا خو مطعون ګرځي مستقبل لدینه هم تیاره په نظر راځي ،لهذا ځما په نزد باندی د اجرت اخستو لپاره د جواز صورت دا دی چی د رمضان لپاره یو حافظ د نائب امام په حیث باندی مقرر کړی شي اویو دوه وخته لمونځونه هم لکه ماسخوتن وغیره د تراویحو نه علاوه پری لازم کړی شي او په باقي لمونځونو کی که چیرته زیات مشکل ورته نه وي نو حاضري پری ضروري وګرځولی شي اوبیا دی د چندی او یا دجوماتو له تنخواه نه پوره کړی شي . فقط والله اعلم بالصواب.

لیکونکی : سید عبدالرحیم لاجپوري غفر له ، شعبان المعظم ۱۳۷۰ھ .

نمبر ۲٦۲۷ هوالموفق ، که چیرته د رمضان المبارک په میاشت کی تراویحو لپاره په تنخواه باندی حافظ وساتل شي او په یوه دوه لمونځونو کی د هغه امامت معین کړی شي نو دا د جواز صورت دی ځکه چی په امامت باندی د اجرت (تنخوا) اخستو اجازت فقهاؤ ورکړی دی ، (محمد کفایت الله کان الله له ، دهلي) .

ځواب نمبر ۲٦۷ حامداً ومصليا ، اصل مذهب خو عدم جواز دی ليکن په ذکر شوي حالت کی د ذکر شوي حيلی ګنجائش شته ، فقط والله اعلم

ليکونکی : العبد محمود ګنګوهي عفا الله عنه

معين مفتي مدرسه مظاهر العلوم سهار پنوري ، ۱۵ _ ۸\۷۰ ه .

حضرت مفتي لاجپوری صاحب د خپل طالب علمی په زمانه کی د حضرت حکيم الامت رحمه الله نه بار بار تصديق غوښتی او هر ځل يی تصديق کړيدی د نمونی په طور يو خط کتونکو ته پيش کولی شي .

حضرت مولانا صاحب مدظلکم العالی ! السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

د مسنون سلام نه بعد ستاسو په خدمت کی عرض دا دی : زيد وائـي د لمونځ کونکي په وړاندی چی نزدی د کوم بزرګ قبر وي نو هيڅ پروا نه کوي ځکه چی لمونځ ګذار او د قبر تر منځ د مقبری ديوال حائل دی البته که قبر بلاديوال وي نو لمونځ مکروه کيږي . زما خيال دا دی چی د مقبری چار ديوالي د اتصال په وجه د قبر تابع دی ، ځکه چی بدعتيان د قبر پشان د مقبری ديوال هم قابل تعظيم ګڼي نو که چيرته کوم سړی د مقبری په طرف لمونځ کوي نو کتونکی به ضرور دا شک کوي چی دا سړی د تعظيم لپاره پدی ځای کی لمونځ کوي‌لهذا د تعظيم له اشتباه نه ځان ساتلو په غرض پداسی ځای کی له لمونځ کولو نه ممانعت کول پکار دي ، اميد دی چی جناب عالي پدی باره کی څه وليکئ تر څو ځمونږ قناعت حاصل شي ، په مرقات کی دا عبارت دی: ولاتصلوا ای مستقبلين اليها لما فيه من التعظيم البالغ لانه من رتبة المعبو فجمع بين الاستحقاق العظيم والتعظيم فالتشبه به مکروه وينبغي ان تکون کراهة تحريم وفی معناه بل اولی منه الجنازة الموضوعة (مرقاة المفاتيح ۲\۳۷۲) .

بنده قديمي خادم عبدالرحيم غفرله

حضرت حکيم الامت رحمه الله فرمائي : " زه هم لدی خيال سره موافق يم " .

پدی قسم مسلسل دحضرت حکيم الامت رحمه الله سره دخط وکتابت او دعلمي تحقيق تصديق او دتصويب سلسله جاري وه اوحضرت حکيم الامت به دحضرت مفتي صاحب له علمي استعداد او دفتوې نويسی له ذوق نه خبريدو، لکه څنګه چی په ۱۲۵۰هـ تاريخ کې حضرت مفتي صاحب دراندير دلوی جومات متولی حاجی ګلاب خان سره کله چی

هغه تهانه بهوت ته تشریف ورلو دبیعت په درخواست باندی مشتمل یو خط واستولو اوحضرت حکیم الامت رحمه الله په لاندی ډول خواب ولیږلو .
مولانا دامت برکاتکم السلام علیکم ! دخدمت نه عذر نشته لیکن پخپل خان کی دمخدومیت صلاصیت نه وینم اوپدی باندی نفع هم موقوف ندی اصل شئ تابعداري دی ، داحکام او د مشوری ټول احکام ماشاء الله تاسو له مانه ښه پیژنئ او مشوری لپاره زه حاضر یم هرکله چی تاسو وائې . والسلام دعاګو او دعاجو اشرف علي
حضرت مفتي صاحب مدظله دحضرت حکیم الامت رحمه الله دوفات نه وروسته دحضرت شیخ الاسلام مولانا سید حسین احمد صاحب مدني قدس سره لاس په لاس بیعت نه مشرف شو الحمدلله دی دحضرت علامه انور شاه صاحب نه هم دشاګردی شرف حاصل کړی کله چی حضرت شاه صاحب کشمیري دديوبند په پریښودلو سره اول ځل راندیر ته تشریف راوړ او تقریباً یو میاشت پاتی شو ، پدی وخت دحضرت سولانا ابراهیم صاحب (دجامعي مهتمم) په درخواست دوه کتابونه تدریس کول منظور کړی و ، نو حضرت مفتي صاحب او حضرت مولانا سعید راندیري صاحب ډله دحضرت شاه صاحب استوګن ځي ته په ورتللو سره سبق ویلو او ترپنځلس ورځو پوری حضرت شاه صاحب دغه ډلی ته نور الانوار او شرح وقایه درس کولو .
خط کافي اوږدشو مګر زما امید دی چی محترم کتونکی به لدی طوالت ته محفوظ شوی وي ځکه چی اوږدوالی زیاتره دفتاوی دل چسپ بحث په وجه سره وشو کوم چی دفتاوی لوستونکو عین مقصد دی ، فقط . محتاج .
عیسی بهائي ابراهیم د پیغام میاشتنی مجلی مدیر کاوي ضلع بیروج .

دفتاوی رحیمیه متعلق دمحترم مفتیانو ، علماو او فضلاو آراء :

۱ــ حضرت علامه مفتی سید مهدي حسن صاحب دام ظله العالي (صدر مفتي دار العلوم دیو بند)

ستاسو لیږل شوی یو جلد فتاوی رحیمه ماته ورسید مکمل جلد خو می مطالعه ونه کړی شوه خو ځیني ځیني ځایونه خصوصاً اوږدوه ځوابونه مې په غوره سره ولوستل او د زړه نه می دادعاووته چی الله تعالی دی په فهم او دمسائلو په تلاش کې نور قوت درکړي ډیر ښکلې او محنت سره ځوابونه ورکول شوی دی خاص طور سره ځوابونو کی معتبر نقلونه پیش شویدي ځیني مختصر ځوابونه هم شته چی پخپل ځای باندی بالکل

صحیح دي پدی بناء باندی زه داویلې شم چې په مجموعي حیثیت سره فتاوی رحیمیه یواځې د عوامو لپاره نه بلکې اهل علمو لپاره هم بغیر دمحنت نه مفید دی الله تعالی دی عام قبولیت ورته نصیب کړي او محترم مجیب ته دی هم ډیر ډیر اجرونه ورکړي پدی چې دمخلوق داعتقادي او دعملي ژوند اصلاح او دحنفي مذهب تائید او تقویت داهل سنت والجماعت مطابق کړیدی او همداراز دمذهب دځینو مخالفینو داعتراضاتو ځوابونه هم په ښه مدلل طریقې سره ورکړیدی ، حاصل داچې فتاوی رحیمیه په هر اعتبار سره قابل اعتبار دی ، داخو کرښې مې دمجبورۍ نه ولیکلې که نه زه پخپل جهالت او ناپوهي باندی شرمنده یم زه چیرته داهل علمو په فتاوو باندی تقریظ چیرته (من آنم که من دانم) په آخر کې بیا دعاکوم الله تعالی دی دفتاوی رحیمیه مؤلف ته نور زیات توفیق ورکړي چې دمخلوق دیني خدمت وکړي . آمین

احقر الزمن السید مهدي حسن کان الله له، خادم دار الافتاء دار العلوم دیوبند.

۲ـ سید الملت حضرت الحاج مولانا سید محمد میاصاحب مدظله العالي شیخ الحدیث صدر ومفتي مدرسه امینیه دهلي

دسید محترم مولاناحافظ قاري مفتي عبدالرحیم صاحب قادري (لاجپوري) مدظله العالي دغه فتاوی چې پدی جلد کې وړاندی کولی شي ددی دمطالعي او داستفادی موقع احقر ته میسر شو او احقر دامحسوس کړ چې دغه فتاوی دنورو شائع شوی فتاواو نه په څو خبرو کې خاص طور سره ممتاز دی .

۱ـ حضرت مفتي صاحب داختصار نه کار ندی آخستی بلکې دسوال په هریو اړخ باندی نظر آچولو سره تسلي بخش ځواب ورکړي .

۲ـ دځواب تائید لپاره یواځې دکتاب حواله ندی ورکړی بلکې اصل عبارت یې پیش کړی اودصفحې او جلد هم حواله ورکړی پدی بناء والمجموعه (فتاوی) هغو حضراتو لپاره هم راهنما جوړشوی چالپاره چې دفتاوی نو یسي خدمت سرته رسول دی .

۳ـ داسې هم شویدی چې دګڼو کتابونو عبارتونه سره دحوالو نقل کړیدي یعنی یواځې مستفتي لپاره نه بلکې مفتي لپاره یې هم ذخیره جمع کړی ده .

۴ـ په زیاتره ځوابونو کې دداسې شرح او تفصیل نه کار آخستې دی چې ځواب یوه رساله جوړشوی دی نو پدی بناء داوینا به بې ځایه نه وي چې فتاوی رحیمیه یواځې

فتاوی نـه بلکـې مجموعـه درسـایلو دی ، الله تعالی علـم دوسـت حضـراتو تـه لدینـه داستفادی توفیق ورکړي او ددی قائم او دایم اجر دی مفتي صاحب ته ورنصیب کړي.

۳_ فخر ملت حضرت مولنا محمد منظور صاحب نعماني مدظله العالي

اولنې گذارش خو دادی چې جناب راته فتاوی رحیمیه راکړ نو دنوم نه مې داگنل چې پس ((فتاوی)) او ((مسائل)) به وي له ببرو ده نه تربمبئ پورې راته فرصت و نو ددی مطالعه مې شروع کړ او نظر مې په پوره کتاب باندی ولگید . دالله تعالی په توفیق سره پدیکې ډیر زیات مفید شیان جمع شویدي ، لده سره دا پیژندگلوي بالکل نه وه ، حقیقت دا دی چې زه لدنیه کافي مستفید شوم ، الله تعالی دې قبول کړي او دهغه چا لاسو ته ورسوي چې صحیح فایده ترینه واخلي .

۴ _ حضرت مولانا احمد الله صاحب د جامعه حسینیه راندیر شیخ الحدیث

مفتي صاحب مدظله هره یوه مسئله په پـوره کوشـش سـره منقح او مـدلل کـړی اولـه حواله جاتو سره یوځای حل کړی دی چې په دی کار سره د گجرات خلکو لپاره د علم فقه یوه بهترینه ذخیره جمعع کړی ده کوم چې الحمد الله د فتـاوی رحیمیـه پـه نامـه (اول او دوېم جلد د چاپ لاندی دی) په شائع کیدو سره به ډیر مقبولیت حاصل کـړی ، فتاوی رحیمیه د اهل علم حضراتو لپاره په موجوده مسائلو کی د خپلو ډیرو خصوصـیاتو سره یواځی فتاوی ندی بلکی د احنافو یو جامع کتـاب هـم دی او همـداراز د فتـاوی نویسي مشق کونکو لپاره معین المفتیین هم دی او د گمراه فرقو په مقابله کـی حجة الله البالغة هم دی د فتاوی رحیمیه د ټولو نـه لـوی خصوصیت دا هـم دی چـې حضرت مفتي صاحب په اختلافـي مسـائلو کـی د مخـالفینو باطـل دلائلـو لپـاره نهایـت معقـول خوابونه ورکړي او ورسره د اهل حقو ټول عقلي او نقلي دلائل په انتهائي تفصـیل سره

یوخای جمع کړیدي چې لدینه د مفتي صاحب مدظله وسعت نظر او دعلمي قابلیت صحیح اندازه کیدلی شي .

٥ ـ حضرت مولانا محمد عمران خان الندوی (المتخصص بالجامع الازهر) او د بهوپال د تاج المساجد د دارالعلوم مشر او مدیر

جناب محترم مفتي صاحب دامت برکاتکم ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته

د جولای په آخر کی د کویت او کراچی نه زما واپسي وشوه د اته نیمو میاشتو د اوږدی مودی غیابت کی ډیر خطونه کوم چی ذاتي طور ما پوری متعلق ؤ محفوظ وو لږ لږ روزانه د وخت په ویستلو سره گورم او خواب ورکوم د نن په نمبر کی د ستاسو جناب گرامي خط ولید او کتاب هم ماته اوس راکړی شو ، ستاسو د مهرباني څخه زیاته مننه کوم لدی قیمتي هدیه نه زیات خوشحال شولم ډیر لوی قابل قدر هدیه ده الله تعالی دی وکړي چی دویم جلد هم زر چاپ شي ، تاسو ډیر لوی د کار شی شائع کړی ، دا مجموعه مستفتي لپاره خو د کار څیز ده لیکن مفتي هم ترینه استفاده کولی شي ، د کتاب په پرانستلو سره د تراویحو (٢٠) رکعتو په اثبات کی چی مو څه لیکلي ځما تر نظر لاندی راغلل نو خط لیکل می پریښودل دا می پوره ولوستل ماشاء الله او جزاک الله حق دی ډیر ښه ادا کړی دی ، " الله تعالی دی د قلم زور نور زیات کړي ".

٦ ـ حضرت مولانا انظر شاه صاحب د دارالعلوم دیو بند د تفسیر استاذ

ستاسو دا مجموعه فتاوی پخپل خاص شان کی د انفرادیت مالک او نادر راته ښکاره شو په الله قسم عوام خو یو خوا اهل علم به هم لدی بهترین سوغات نه فایده اوچته کړي پدی سره به ورته په علم ، فن ، بصیرت او آگاهي کی اضافه وشي یوه صفحه می هم داسی نه ده لیدلی چی داسی شیان راته په نظر نه وي راغلي کوم چی د نن نه مخکی می نه اوریدلي و او نه می لیدلي وو ، الله تعالی دی تاسو ته د ټول امت له طرفه جزاء خیر درکړي ، چی عجیبه ویړیا فایده مو د امت لاسو ته رسولی ده .

۷ _ حضرت مولانا نظام الدين صاحب د بهار واړيسه ، پهلواري شريف او پټنه د امارت شرعيه د د فتر ناظم

مخلص او محترم _ السلام عليكم ورحمة الله وبركاته ، الله تعالي دی وکړي چی ستاسی مزاج گرامي په خيريت وي .

اول ستاسو خط راته ورسيد او بيا په دويمه ورځ ستاسو کتاب فتاوی رحيميه د رجسټر بک پوسټ په ذريعه راته موصول شو ، ما په ډير شوق سره مطالعه کړ ، ماشاء الله کتاب ډير ښه دی ، د دی کتاب په اشاعت سره د فتاوی په مجموعه کی د يو قيمتي کتاب اضافه وشوه ، تاسو چی په کوم محنت سره فتاوی ترتيب کړی الله تعالی دی وربانـدی جزاء خير درکړي ،ماشاء الله دتحرير انداز ډير ښه او ژبه بالکل ساده اوروانه ، د ټولو نـه لويه خوبي دا ده چی مخکی راتلونکي نوي مسائل مو پکی شامل کړيدي او د دی مـو تسلي بخش ځوابونه کړيدي ،ځما دوستانو هم ډير خوښ کړيـدی ، انشاء الله فتاوی رحيميه به په علمي حلقو کی ډير زيات مقبوليت حاصلوي ، په راتلونکي شماره کی به پدی باندی د نقيب تبصره راځي ، او د دويم جلد به په ناقراری سره به انتظار کوي .

۸ _ حضرت مولانا ابو الفضل حكيم محمد اكرم صاحب مد فيوضكم طالعپوری (پالن پوري) د ډابيل جامعی د حديث استاذ

(فتاوی رحيميه) لوستونکي به يی لولي ...... خومره چی وړاندی ځي هـره مسئله به ورته واضحه او حل شي ، او مستند حوالی به ورتـه حسب ضرورت اوموقع پـه آيت ، حديث او د ائمه و په اقوالو سره مدلل يوځای پيـدا کيـږي او د هـر سوال هـر اړخ به واضح او صفا کيږي او بيا به د زړه راښکونکي بيان سـره بـه ورتـه وربانـدی يـو کيفيت غوندی طاري کيږي او بيا به بی اختياره دا خبره کوي چـی " سبحان الله " الله تعالی ورته څه علم ورکړی دی " الخ .

۹ حضرت مولانا سید حمید الدین صاحب دامت برکاتهم کلاوټهي د منبع العلوم د مدرسی مهتمم

د فتاوی په لیدلو سره زیات خوشحال شوم ، الله تعالی دی درته جزاء خیر درکړي ، ډیر لوی کار مو کړیدی د کتاب طباعت او جلد هم ډیره عمده او ښکلی دی.

۱۰ ـ رئیس المناظرین حضرت مولانا عبدالسلام صاحب لکهنوي دامت برکاتهم

د فتاوی مطالعه می وکړه ، ماشاء الله ډیر ښه دی.

۱۱ ـ حضرت مولانا قاضي اطهر صاحب مبارک پوري دامت برکاتهم

حضرت مولانا مفتي سید عبدالرحیم لاجپوري صاحب د راندیر ضلع سورت لوی جامع جومات خطیب په فقه کی نهایت ژور نظر لري او په افتاء کی د دی اوچت مقام دی د فتاوی رحیمیه اول جلد د ده د فتاوی مجموعه ده چی پدیکی د فقهی ترتیب مطابق د کتاب الایمان ، کتاب العلم، کتاب الطهارت ، کتاب الصلواة ،د اخترونو ، تراویحو مسائل ، کتاب الجنائز ، او د ایصال ثواب وغیره په بابونو او فصلونو کی ډیری فتوی ګانی نهایت مدلل او محقق او واضح دلائل او شواهدو سره درج کړی شویدي دا ټول فتاوی اول د ګجراتي میاشتني " پیغام " کی دولس کالو په موده کی چاپ شویدی د دی اردو ژباړه په دوه جلدونو کی شائع کیږي او د اول جلد چاپ کیدو سره ځمونږ مخی ته راغلی ، د محترم استاذ حضرت مولانا سید محمد میان صاحب مدظله هر قول حضرت مفتي صاحب په هره مسئله باندی د هر اړخ نه ژور نظر اچولو سره اطمئنان بخش ځوابونه ورکړیدي ، یواځی د کتابونو حوالی نه بلکی د هغو عبارتونه یی هم نقل کړي تر څو نور مفتیان صاحبان هم د ضرورت په وخت کی لدینه کار واخلي ، په ډیرو مسائلو د علم او دتحقیق نه داسی کار اخستل شوی دی چی هغه مستقل رسالی جوړی شویدي اوپدی طریقه دا کتاب مجموعه رسائل جوړ شویدی ، ژبه نهایت صفا او اسانه او نهایت ضروري کار آمد او اهم مسائل درج کړی شوي دي په اردو پوهیدونکي دیني طبقي خلک د دی کتاب نه ښه فایده اخستی شي او دوی لپاره دا کتاب لوی دکاری

شی دی ، امید دی چی فتاوی رحیمیه د فقهی مسائلو او معاملاتو لپاره اهم ترین مرجع وګرځي او دیته به عام قبولیت حاصل شي .

۱۲ _ د معارف میاشتنی مجلی مدیر صاحب

دا مجموعه د حضرت مولانا سیدعبدالرحیم صاحب د راندیر ضلع سورت د لوی جومات خطیب په فتواګانو باندی مشتمل او د ګجراتي ژبی نه اردو ته نقل کړی شویده د دی دویم جلد اوس د چاپ لاندی دی ، تر نظر لاندی پدی اول جلد کی کتاب الایمان ، کتاب العلم ، کتاب الطهارت ، کتاب الصلواة وعیدین ، تروایح او جنائز په اشاعت سره پدی ذخیره کی یوه بهترینه اضافه وشوه فاضل مفتي صاحب د هری مسئلی مدلل او محققانه ځواب لیکلی د حوالی سره عبارت یی هم نقل کړی او یواځی د فقه په کتابونو باندی اکتفاء ندی کړی بلکی په زیاتره ځوابونو کی دمولانا عبد الحی فرنګي پشان قرآن و سنت او دصحابه کرامو تعامل هم بیان شویدی او د دی نظائر یی پیش کړیدي په ځوابونو کی دومره تفصیل او تنقیح کړی شویدی چی د مسئلی ټول متعلقات مخی ته راځي عام طور سره د فتاوی ژبه خشک او د فن په اصطلاحاتو باندی ډک کړی شوی وي لیکن د دی مجموعی ژبه نهایت اسانه او ساده ده او د دی له مطالعی نه یو خوند او روحاني کیفیت محسوس کیږي کوم چی غالباً د مصنف د باطني کیفیت اثر دی لیکن دا خبره ظاهره ده چی پدی دومره مسائلو کی د هر سړي له مجیب سره کلي اتفاق ضروري ندی ، کوم ځای کی چی په غیر مقلدینو او د بریلي علماؤ په فتواګانو باندی رد او تنقید شوی هلته په لب ولهجه کی شدت او تیزي راغلی دی .

معارف جلد ۱۰۴ جمادی الثاني میاشت او۱۳۸۹ه کال چی د ۱۹۴۹ء کال د ستمبر میاشت سره سمون خوري ص۲۳۹ صفحه .

شیخ الحدیث المحدث الجلیل حضرت مولانا محمد ذکریا صاحب مد ظله العالي

فتاوی رحیمیه لپاره دغه ناکار د زړه نه دعا کوي الله جل شانه دی پخپل فضل و کرم سره خلکو ته لدینه زیات نه زیات فایده نصیب کړي او جناب لپاره او طابع او نشر

کوونکي او پډیکی د هر قسم کوشش کونکي لپاره صدقه جاریه وګرځوي او تاسو ته دی په دارینو کی د دی بهترینه بدله درکړي . فقط والسلام (حضرت شیخ الحدیث صاحب) بقلم عبدالرحیم د رجب ۲۸ او کال ۱۳۹۰ ھ .

حضرت مولانا ابوالحسن علی ندوي " متعنا الله بطول بقائه "

په فقه او فتاوی باندی زمونږ په ملک کی برابر کتابونه شائع کیږي او داسی کیدل یو قدرتي کار دی ځکه چی فتاوی او فقهي مسائل د مسلمانانو د روزمره ژوند ضرورت دی او نوي نوي مسائل پیدا کیږي او پدیکی فوری طور سره د دیني راهنمایئ ضرورت وي لیکن دی لپاره په فقه کی راسخه ملکه ، جزئیاتو باندی ژور او وسیع نظر او په اصول فقه کی د استاذانو د قابلیت ضرورت دی .

او بیا د دی سره سره تقوی او احتیاط ، خوف الهي ، د ذمه واری احساس ، او د سلفو له مسلک سره تر ډیره حده پوری د وابستګي او د تعلق ضرورت هم دی ، کومو خلکو ته چی د دی لاری د مشکلاتو علم ، او فقه حنفي سره کامل مناسبت دی ، هغوی د " فتاوی رحیمیه " د علمي اوعملي قدر او قیمت اندازه کولی شي او دوی ګواهي ورکولی شي چی الله تعالی فاضل مؤلف لدی صلاحیتونو نه برخمن ګرځولی ، کوم چی پدی دور کی د دغه نازک فریضی د تر سره کولو لپاره لومړی شرط دی .

الله تعالی دی مفتي صاحب ته جزاء خیر ورکړي او قوت و صحت دی ورته نصیب کړي چی دی د دی مفید سلسلی تکمیل وکړی شي (مولانا) ابو الحسن علي ، د شوال المکرم ۷ نیټه او ۱۳۹۰ ھ کال .

حضرت مولانا مجیب الله صاحب ندوي دامت برکاتهم

بغیر د تصنع نه عرض کوم چی تاسو د تحقیق حق ادا کړی دی .

د دویم جلد هم ډیر زیات شوق دی ...... فقط خادم مجیب ندوی . ۱۸ _ ۹۱ \ ٦۹ .

حضرت مولانا نصیر احمدخان صاحب دامت برکاتهم و فیوضهم د دار العلوم دیوبند صدر مدرس او نائب مهتمم

بسم الله الرحمن الرحیم حامداً و مصلیاً ومسلماً !

حضرت حق جل جلاله وعم نواله امت محمدي (علی صاحبها الصلواة والسلام) باندی بی شمیره رحمتونه او بی انتها فضل وکرم کړی دی لدی جملی نه پدی امت مرحوم باندی یو ډیر لوی احسان دا کړی دی چی په هره زمانه کی نوي نوي مخی ته راتلونکي مسائل او معاملاتو کی د شرعي احکامو بیانولو لپاره د شرعي علومو ماهرین فقهاء پیدا کړیدي کوم چی د قرآن کریم له ایاتونو او نبوي احادیثو نه مسائل او احکام استنباط او استخراج کوي ، د قوي ملکي درلودلو سره ورع ، تقوی ، خشیت الهي ، احتیاط او د سلف صالحینو اتباع او پیروي اعلی صفاتو باندی متصف وي .

عام مسلمانان (کومو کی چی د تفقه في الدین حاصلولو فرصت یا همت نه وي) د خپلو روزمره معاملاتو کی د شرعي حکم معلومولو لپار دغو پاکو نفسونو ته رجوع کوي او د دوی له ځوابونو څخه زړه یو قسم قوت او د اطمئنان کیفیت محسوسوي .

علم الفتاوی هم اګر که د علم الفقه یوه حصه ده مګر دخپل خصوصي شرائطو او احکامو په وجه په اسلامي علومو کی علم الفتاوی مستقل د یو اهم فن حیثیت لري ، دمسئلی حکم معلومیدل یو شی دی او د دی فتوی ورکول ځانله شی دی پدی وجه فقهاؤ په مختلفو ځایونو کی لیکلي دي چی هذا مما یعلم ولا یفتی به .

مفتي د خپل بصیرت نه فیصله کوي چی فتوی ورکړی شي او که نه ؟ پدی وجه افتاء نهایت مشکل او نازک کار دی ، د صحابه کرامو په جماعت کی هم خاص خاص صحابه کرام پدی عظیم منصب باندی مشرف ؤ ، تابعین او د تبع تابعین او لدوی نه وروسته زمانه کی هم دغه حال ؤ .

خمونږ پدی زمانه کې هم په دغه سلسة الزهب یو قیمتي کړۍ زبلة الفقهاء أسوۃ الصلحا فقیه النفس حضرت مولانا قاري حافظ سید عبدالرحیم لاجپوري دامت برکاتهم ګرامي القدر شخصیت دی چی د افتاء په فن کی د یو امتیازي شان مالک دی چی د ده له مفصل او مدلل ځوابونو څخه نه یواځی عام مستفي ته د زړه اطمئنان حاصلیږي

بلکې نورو مفتیانو صاحبانو ته هم دکتابونو حوالې او تفصیلي تحقیقات او یو زبردست کارآمد ذخیره په لاس ورځي .

د حضرت مفتي صاحب موصوف مدظله العالي له یوی مودی نه د فتاوی رحیمیه په نوم شائع کیږي او دټولی دنیا مستند طبقه علماء فقهاء او مفتیان کرام ورته انتهائي په نیک نظر ګوري کوم چې د قبولیت عند الله دلیل دی، پدی اوس وخت کی د فتاوی رحیمیه اتم جلد د چاپ په زیور سره ښائسته او منظر عام ته راغلی دی کوم چې د مخکینو ټولو جلدونو پشان خصوصیات درلودونکی دي .

الله تعالی نه غواړو چې حضرت مفتي صاحب موصوف مدظله ته صحت و عافیت او د ده فیض زیات نه زیات عام وګرځوي ، آمین .

مولانا نصیر احمد عفا الله عنه صدر المدرسین ونائب مهتمم دار العلوم دیوبند ۹ ستمبر ۱۹۹٦ء .

حضرت مولانا مرغوب الرحمن صاحب دامت برکاتهم مهتمم دار العلوم دیوبند

حضرت مولانا مفتي سید عبدالرحیم لاجپوري صاحب دامت معالیهم

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

د جناب عالي لیږلی فتاوی رحیمیه نهم (۹) جلد موصول شو ، مختلف ځایونه می ولیدل، انتظامي مصروفیتونه د پوره او مکمل مطالعی نه خو مانع ګرځي مګر وخت په وخت د اکابرو کتابونه ګورم .

زه اګر که مفتي نه یم مګر د عام لوستونکی په حیثیت د دغه خبری بې تکلف عرض کولو ته می زړه غواړي چې الله تعالی ستا په قلم کی یو جاذبیت او کشش ایښی دی چې کله لوستونکی مطالعه شروع کړي نو بس همداسی د لوستلو لپاره یې زړه کیږي ، لدینه علاوه ستا د اصابت رأی له کرښی کرښی نه اندازه کیږي ، دعا کوم چې الله تعالی دی دغه سلسله لازیات کړي او امت مسلمه ته لدی سلسلی نه د استفادی توفیق ورکړي او فتاوی ته قبولیت عام نصیب شي او په آخر کی خپله دعا د دعوت صالحه په درخواست باندی ختموم ، والسلام

(مولانا) مرغوب الرحمن عفی عنه ۱۸ صفر ۱۴۱۸ ه

حضرت مولانا مفتي سعيد احمد صاحب پالن پوري دامت برکاتهم د دار العلوم ديو بند د حديث استاذ

فتاوی رحیمیه د قیمتي ملغلرو امیل او هار دی د رنګارنګ ګلونو نهایت حسین ګلدسته ده پدیکی یواځی د عامو مسلمانانو لپاره د تسلی سامان ندی بلکی د علم او فن د درياب لامبوزنو لپاه هم غير معمولي غذا ده ، هره فتوی د علم د تحقیق داد (آفرین) غواړي او لوستونکي ورته په دعا کولو باندی مجبوريږي ، په حقيقت کی کامياب مفتي هغه دی چی دهغه له فتاوی نه خلکو ته اطمئنان نصيب شي او هيڅ قسم تنده پکی پاتی نشي ، ماته د دی خبری په اظهار سره یوه زره هم شک او تردد نشته چی د فتاوی رحيميه هره فتوه تسلي بخش او تنده ماتونکی ده ، الله تعالی دی دا د عام قبولیت نه برخمن کړي او امت مسلمه ته لدينه زيات نه زيات د استفادی توفيق ورکړي ، آمین .

لیکونکی العبد سعيد احمد عفا الله عنه پالن پوري

خادم دار العلوم ديوبند

حضرت مولانا برهان الدين صاحب سنبهلي زيد مجدهم د لکهنو په دار العلوم ندوة العلماء کی د تفسير او حديث استاذ

مخدوم و محترم حضرت مولانا مفتي سيد عبدالرحيم صاحب دامت برکاتکم وفيوضکم

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ، الله تعالی دی وکړي چی مزاج ګرامي له هر اړخ نه لائق د شکر وي .

لیکونکی دغه فتاوی رحيميه د الله تعالی د صفت او رحمت په خاص مظهر او د موجوده دور یوه قیمتي سرمايه ګڼي بلکی دا خيال هم کوي چی تراوسه پوری د فتاوی په نوم سره خومره مجموعي چی په اردو کی مخی ته راغلي دي په دوی کی دا مجموعه عوامو لپاره عام طور او اهل علمو لپاره په خاص طور باندی د ټولو نه زيات فايده من او د آسودګی سامان ده (والعلم عند الله ولاازکی علی الله احداً) او راقم دا هم محسوسوي چی پدی مجموعه کی کوم علمي مضامين او صفا تحقيقات ځای کړی شويدي د دوی د بيان لپاره د " فتاوی " لفظ ناکافي بلکی حجاب جوړ شوی دی ځکه چی د تعبير نه د اصل حقيقت پوره اظهار نشي کيدای . فقط والسلام

(مولانا) محمد برهان الدين ۱۴۰۳\۷\۲۲ ھ

حضرت مولانا محمد رضا اجمیري صاحب د رانډیر سورت د دارالعلوم اشرفیه پخواني شیخ الحدیث

د جناب عالي قیمتي هدیه فتاوی رحیمیه موصول شو ، ماشاء الله ډیر زیات کوششونه یې کړیدي د تولو لپاره دا ډیره قیمتي تحفه ده چې پدې سره ایمان او اسلام رڼا اوتازه کیږي او دیني جذبات په ژوندي کیدو سره عرفاني روح ته نبه قوت حاصلیږي ، جزاکم الله فی الدارین خیرا " ډیره زیاته مننه ،دعاجو .

(مولانا) محمد رضا اجمیري ، ۱٦ مارچ ۸۳ء .

حضرت مولانا مفتي ظهير الدين صاحب دامت برکاتهم د رانډیر سورت د جامعه حسینیه د حدیث پخواني استاذ

بسم الله الرحمن الرحیم حامداً ومصلیاً ومسلماً وبعد

رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک فرمائي : " من یرد الله به خیراً یفقه فی الدین او کما قال علیه الصلوة والسلام (رواه البخاری) حجـة الله فـی الارض حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رحمه الله (د دار العلوم دیوبند باني) فرمائي :

په ((ویعلمهم الکتاب والحکمة)) کې د تعلیم حکمت معنی نسبت حکمیه حقیقیه له نسبت حکمیه غیر حقیقیه نه د ممتاز او جدا کولو تعلیم یعنی د تفقه فی الـدین مصـداق امت کله هم دنارینه ونه خالي شوی ندی او بالخصوص د دیوبنـد پـه علمـاؤ کـې کـوم چې پدی منصب باندی مشرف وو په ذوی کې د حضرت قطـب الارشـاد ، مولانـا رشـید احمد ګنګوهي رحمه الله ، حجة الله في الارض مولانا محمد قاسم نـانوتویي ، حضـرت مولانا خلیل احمد سهار نپوري ، حضرت مولانا مفتـي عزیـز الـرحمن عثمـاني ، حضـرت مولانا سیدانور شاه کشمیري ، حکیم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمـه الله ، فقیـه الامت حضرت مولانا مفتي محمود حسن ګنګوهي وغیرهم اسماء ګرامي یادول په ځای دي ، که چیرته راقم الحروف د یو داسي درونـد اوخاموش شخصـیت کـوم چـې د دې سلسلة الزهب یوه کړۍ دی نوم واخلي نو تعجب او حیرانتیـا نـده پکـار ، دی یقینـاً د حکمت په منصب باندی فائز او د تفقه فی الدین له صلاحیت نه سـرفراز دی د ده علـم وحکمت او تفقه فی الدین لره شاید دفتاوی رحیمیه اته غـټ غـټ جلدونـه بیـان کـړی

شي دی خو لدینه هم اوچت دی د ده خو نامي او ګرامي نوم فقیه النفس ، شبیه ابی حنیفه حضرت مولانا حافظ قاري مفتي سیدعبدالرحیم لاجپوري دامت برکاتهم دی . د دی نوم د فضایلو او مسایلو بیانولو سره یو لوی دفتر پکار دی ، که چیرته ستاسو خوښه وي نو داسی ووایي چی پدی کاغذ کی چی د کومو بزرګانو نومونه دي حضرت مولانا مفتي لاجپوري صاحب دامت برکاتهم د دوی د علومو او د معارفو خلاصه او نچوړ دی ، د ده فتاوی نهایت مقبول ، سهل التناول اوسیر حاصل دی لکه څنګه چی حضرت مفتي صاحب سید السادات دی دوی لره الله پاک سید العلماء او ریحانة الفقهاء هم جوړ کړی دی د دوی فتاوی هم سید الفتاوی ده ،تاسو هم لږ همت وکړی او وګوری او له فتاوی نه لطف او مزه واخلئ ، والله اعلم ، فقط والسلام .

(مولانا مفتي) ظهیر الدین نیبوي عفی عنه ، نیبافیض آباد ، یوپي .

حضرت مولانا مفتي رشید احمد صاحب دامت فیوضهم د شاهي مسجد خطیب او د پاکستان د پسرور ضلع سیالکوټ د عربیه حنیفه مدرسی مهتمم

بحر العلوم شیخ العلماء أسوة الصلحاء سیدالسادات والأتقیاء رئیس المتکلمین وزبدة الفقهاء حضرت العلام السید السند مفتي لاجپوري صاحب ، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته .

مزاج ګرامي دی په خیر دی الله رب العزت دی ستاسو د رحمت او شفقت سوری تر ډیره عمره په زړګونو کاله سلامت او باکرامت ولري، او خپل مخلوق دی د علم و عمل له خزانی او د رشد وهدایت له سرچینی او د ایمان و معرفت له دریاب نه فیض یاب کړي .

د وقار العلماء حضرت العلام مولانا حسن الرحمان صاحب، مدظله ـ یوسفیه بنوریه مدرسی مهتمم له طرفه د فتاوی رحیمیه (ج ۱ـ ٦) په ملاویدو سره د حضرت والا د محترم او باکمال ذات سره غائبانه د وصال شرف حاصل شو ، یواځی موجوده یا د اردو فتاوی ذخیره کی نه بلکی د فتاوی په تاریخ کی " فتاوی رحیمیه " د دلائلو ، تفصیل او اعجاز په اعتبار سره منفرد ، امتیازي عظمت او شان مالک دی ، الحمد الله عاجز ته په ډیر کم وخت کی د څو ځلو لوستلو شرف حاصل شو ، د هری مسئلي په ځواب کی د

متون او اصولو نه اصل عبارت هم ذکر کول لکه چي فقهاؤ دا عبارت دهمدی سوال لپاره لیکلی وي ، او بیا دا پداسی شکل درج کول چی سوال کونکی حیران پاتی شي دا د فتاوی یو امتیازي خصوصیت دی او بیا د خینو نه بلکی په کومو اهمو مسئلو باندی چی په تفصیل سره قلم اوچت کړیدي نو هغه د دی دورتاریخي اسناد او شواهد جوړ شویدي . مثلاً تراویح . طلاق ثلاثه . غیر مقلدیت (د خواهشاتو او د نفس پیروان) اعتراضات . دفقه ضرورت او د صحابه کرامو او د سنت التزام . د بدعاتو رد او نور داسی عنوانات په کومو باندی چی داسی بلیغ ، جامع ومسکت ، مؤثر او مدلل لیکل چیرته ندي لیدل شوي دا پته زاته نشته چی پدی مسائلو باندی داسی بل کوم جلد هم چاپ شوی یا نه ؟ زما آرزو وه چی شاید د هلته په حاضریدلو سره د قدم بوسی شرف حاصل نه کړی شم ، تر خو کلمو په ذریعه د حضرت والا دعا حاصل کړی شم .

بلبل همین که قفیه گل شود بس است

او د جناب د مبارکی ربیؔ نه ولی دعائیه کلمی زما لپاره د دنیا و اخرت د فوز و فلاح ذریعه جوړ شي ، الله تعالی دی حضرت عالي صحت و عافیت سره قائم و دائم ولري ، زه دمولانا حسن الرحمن صاحب هم ډیر شکر گذار یم چی د ده په توسط سره د فتاوی ځخه فیض یاب کیدو شرف ماته حاصل شو ، ضرورت د دی خبری دی چی د فتاوی ټول جلدونه په عربي کی هم ترجمه وکړی شي او عربي ملکونو ته ورسول شي او که ټول فوری طور سره نشي کیدای نو کم از کم اهم مسائل دی په اجزاؤ کی په عربي باندی شائع کړی شي ، که وسائل وایئ نو عاجز به د دغه اعزاز په حاصلولو کی ابدي راحت حاصلولو ، یواځی او یواځی د دعا گانومحتاج .

رشید احمد عفا الله عنه د پسرور سیالکوټ د ضلع د شاهي سجد خادم

د دارالعلوم ندوة العلماء ترجمان د " البعث الاسلامی " مدیر اعلی مولانا سید الرحمن صاحب لیکي :

ورد الینا کتاب " الفتاوی الرحیمیه " الذی یحتوی علی مجلدین ضخمین من تالیف فضیلة الشیخ المفتی السید عبدالرحیم لاجپوری خطیب المسجد الجامع فی راندیر بولایة گجرات الهند لقد جمع المؤلف اسئلة المستفتین وفتاواها فی هذا الکتاب الضخیم وهی فتاوی من صمیم الحیاة والمجتمع یعیش فیه المسلمون

ويحتاجون الى مثلها فى كل زمان ومكان ولا سيما الجماهير المسلمة التى تعيش بعيدة عن مراكز العلم والعلماء لاتخفى حاجتها الى مثل هذه الفتاوى المتضمنة على فروع وجوانب كثيرة وكثيرة .

تصدى المؤلف على الاسئلة ذات النواحى الكثيرة فى ضوء الكتاب والسنة فى غاية ايضاح وبيان وبرهن على كل جواب من مصادر الشريعة الاسلامية ولاشك فان لعلمه هذا قيمة لا يستهان بها فى مكتبة الفقه الاسلام والمؤلف يستحق كل الشكر والتقدير لهذه الهدية العلمية القيمة التى اتحف بها طبقة العلماء والجماهير على السواء مجملة شهرية " البعث الاسلامى " شوال ١٣٩١ هه دسمبر ١٩٧١ الميلادى .

ترجمه : مونږ ته " فتاوی رحیمیه " کتاب ورسید کوم چې په دوه غټو جلدونو باندی مشتمل دی او د محترم شیخ مفتي سید عبد الرحیم لاجپوري د هند د ګجرات ولایت د راندیر د جامع جومات خطیب تالیف دی .

مؤلف پدی غټ کتاب کی د پوښتونکو سوالونه او دهغوی ځوابونه جمع کړیدي او دا د زندګي او د معاشری لپاره فتاوی ده په کوم کی چې مسلمانان اوسیږي او دغسی کتابونه په هر وخت او مکان کی احتیاج لري او خاص طور هغه زیات شمیر مسلمانان چې دعلم او د علماؤ له مرکزو نه لري اوسیږي ، داسی قسم فتاوی ته اړتیا د چانه پټه نه ده کوم چې په فروعاتو او مختلفو اړخونو باندی مشتمل وي ، مؤلف کوشش کړي چې دګې اړخیزو سوالونو د قرآن او سنت په رڼا کی په انتهائي وضاحت او تفصیل سره ځوابونه ورکړي ،او هر ځواب لپاره د اسلامي شریعت له مصادرونه دلیل وړاندی کړی ، پدیکی شک نشته چې د ده دغه علم ډیر قیمتي دی او د اسلامي فقه په مکتب کی ورنه سترګی نشي پټولی ، نو مؤلف محترم د دی علمي قیمتي هدیه په وجه چې علماؤ او عوامو ته یې یو شان ډالی کړی د شکر او د ستاینی وړ دي ، د " البعث الاسلامي " میاشتنی مجله شوال ١٣٩١ ھ د دسمبر ١٩٧١ء میلادي کال .

۱۲_ حضرت مولانا احمد عبد المجيب قاسمي دام مجده د حيدر آباد د دارالعلوم سبيل الاسلام استاذ

فتاوی رحیمیه : د مشهور مفتي حضرت مولانا عبدالرحیم لاجپوري دامت برکاتهم (تولد ۱۹۰۳ء مجموعه فتاوی ده صاحب فتاوی حضرت مفتي لاجپوري دګجرات یوه علمي کورني سره تعلق لري د ازل او تقدير مالک ورته مختلف صلاحيتونه ورکړي دوی یو باکمال خطیب و امام او یو ماهر مفتي دی ، په فتوی نویسي کی د رأی په اصابت او صحت فتوی کی شهرت لري ، په لیک کی جامعیت او په مسائلو کی د شرح او تفصیل سره داسی محقق او مدلل بحث مخی ته راځي چي ډير ځلی فتوی د یو مفیدی رسالی شکل اختیاروي ، د ده لدی مجوعی نه د ده فقیهانه بصیرت ، دیانت ، احتیاط د نظر وسعت او د فکر د ژوروالی بی شمیره نمونی په نظر راځي ، په ټولو فتواګانو کی د حوالو اهتمام په ډیر پابندی سره کړی شوی په ځینو اوردو فتواګانو کی د فقهِ دخشکی په ځای باندی د قرآن و سنت آموز او عبرت انګیز ترغیب و ترهیب ، تذکیر و موعظت او شعر او د خبرو لذت و حلاوت هم موجود دی ، پدی طریقه د فقه او افتاء سره د دعوت و ارشاد د فریضي تکمیل هم کیږي او بی د شک نه پدی خصوصیت کی دغه مجموعی ته خاص اهمیت حاصل دی ، ژبه یی هم ساده او د تحریر طریقه یی هم اسا او روانه ده .

د باطله فرقو د بیخ کني او د بدعاتو په رد باندی په پوره قوت او جرأت او سنجیدګی سره لیکل کوي ، په اختلافي مسائلو کی د مخالفینو د دلایلو نهایت معقولو ځوابونو نه علاوه د اهل حق علماؤ عقلي او نقلي دلائل هم ذکر کوي پدی طریقه د فتاوی اول جلد کتاب الایمان ، کتاب العلم ، کتاب الطهارت او کتاب الصلواة باندی مشتمل دی چی پدی کی د عقائدو او د بدعاتو په رد کی ډیری اهمی فتواګانی دي ، په دویم جلد کی زکات ، روژه ، حج ، نکاح و طلاق ، اخستل خرخول او د میراث وغیره بابونه دي او یو مستقل باب د بدعت په رد کی دی ، په دریم او څلورم جلدونو کی هم د ذکر شوي بابونو مسائل دي ، ګویا چی په مسائلو کی عام طور باندی تکرار نشته خو د بابونو تکرار او د مسائلو انتشار د استفادی په لاره کی د پیچیدګی باعث دی پدی وجه راتلونکی چاپ کی دی د نوي ترتیب خیال وساتلی شي ، څلورم جلد کی د تفسیر بالرأی تقلید د فقه او تفقه اصل ترتیب او وغیره موضوعاتو باندی مفید لیکنی جمع

شویدي ، پنځم جلد کی هم ذکر شوي بابونه دي البته یو اهم تحریر " یو مجلس کی دری طلاقه " مسئلی باندی دی چي پدیکی د قرآن و سنت نه علاوه د صحابه و او تابعینو د (۳۵) آثار په رڼا کی د مسئلی تفصیلي جائزه اخستل شویده، شپږم جلد کی د عقائدو ، او د بدعت او د حلال او حرام په باب کی بی شمیره مسائل او فتواګانی دي او د ایمان و نذور ، احکام مساجد او اجاره وغیره ابواب دي ، د فقه او د فتاوی د معتبرو کتابونو نه علاوه د اردو فتاوی ځینی مستندو کتابونو څخه هم استفاده شویده .

د " صفا " دری میاشتنی مجلی خصوصي پیش کش " اسلامي فقه ، اصول ، خدمتونه ، تقاض " (۴۲۵ ، ۴۲٦) صفحی ، شپږم باب د هند د فقهاؤ خدمتونه ، د فتاوی په کتابونو یوه ځغلنده نظر) .

حضرت مولانا محمد شریف حسن رحمه الله د جامع اسلامیه ډابیل او د دار العلوم دیوبند پخوانی شیخ الحدیث

مخدومي ومعظمي محترم حضرت مولانا قاري مفتي سید عبدالرحیم صاحب دامت برکاتکم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته د خیر سره د خیریت طلبکار یم ، الحمد لله قیمتي هدیه د فتاوی رحیمیه دریم جلد راورسید لدینه وړاندی د دویم جلد هدیه هم رسیدلی وه د دواړو شکریه واجبه ده ، فجزاکم الله تعالی احسن الجزا فی الدارین خیراً امین .

ما دویم جلد ډیر ځایونه مطالعه کړل خومره چي می د دی تعریف اوریدلی وُ له هغه نه می زیات مفید او د علومو ذخیره می ومونده، ستاسو د وسعتِ علم ، ژور نظر او د فقاهت فی الدین اعتراف ته اړ شوم ، اولدی سره سره په تاسو کی احتیاط فی الدین او د سلفو اکابرو اتباع هم شته او په نوي مسائلو کی هم تاسو د کافي تحقیق او تدقیق په کولو سره پوښتونکي مطمئن کړیدي ، او په هر ځای کی د معتبرو کتابونو حوالی سره د عبارتونو په نقل کولو سره عوام ، علماؤ او مفتیانو ټولو لپاره مو کارآمد ذخیره جوړه کړیده ، څما په نظر خو د دی خوبیانو جامع فتاوی په اردو ژبه کی نده تیره شوی ، په هر ځای کی د تحقیق نه کار اخستل شوی یواځی‌د لکیر فقیر ندی ، الله تعالی دی دا عالم لپاره مفید او خاص قبولیت ورته نصیب کړي ، آمین .

طباعت او كتابت هم بهترين دى ، فقط والسلام (حضرت مولانا) محمد شريف حسن
دارالعلوم ديوبند د ۱۳۹۵ ه كال د صفر (۲۶) نيټه
چې ۱۹۷۵ء د مئى ۹ نيټې سره سمون خوري

د هندوستان مشهور محدث ، د اسماء الرجال د فن امام ، د حديث د مشهور كتاب مصنف عبدالرزاق (۱۱ غټ جلدونه) او د سنن سعيد بن منصور ترتيب كونكى د اردو او د عربي د ګڼو كتابونو مصنف (په علمي او تصنيفاتي خدمتونو په بدله د حكومت هند ايوارډ (جائزه او انعام حاصلونكى) د دار العلوم ديوبند د مجلس شورى ركن **حضرت مولانا حبيب الرحمان اعظمى صاحب** "متعنا الله بطول بقائه" ليكي:

مكرمي ! السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

د فتاوى دواړه جلدونه راته ورسيدل د دى مهرباني مو ډيره مننه ، جزاك الله خيرا .
ځيني ځيني ځايونه مي ترينه هم ولوستل ، ماشاء الله تاسو په ډير شرح او تحقيق او تفصيل سره ځوابونه ليكلي دي الله تعالى دى درته د صحت او عافيت سره د ديني خدمت مزيد توفيق دركړي ، (مولانا) حبيب الرحمان اعظمى غفر له .

د پاكستان جيد عالم او فقيه ،د مجدديه طريقې شيخ طريقت ، د عمدة الفقه د ۴ جلدونو) وغيره كتابونو مصنف **حضرت مولانا زوار حسين شاه صاحب نقش بندي مجددى** ليكي:

د فتاوى رحيميه له مطالعې نه لوى تسكين او انشراح حاصليږي " .

(له كراچي ـ پاكستان نه)

د دار العلوم ديوبند د حديث استاذ شيخ المشائخ ، **د حضرت مولانا محمد زكريا صاحب مهاجر مدني مجاز ، حضرت مولانا محمد هاشم صاحب بخاري** دامت بركاتهم (اوس وخت كى د مدينې منورى استوګن) ليكي:

د زړه خبره دا ده چې " فتاوى رحيميه " پخپل طرز او طريقه كې منفرد دى او د فتوى نويسي مشق كونكو لپاره رهنماء مفتي دى .

د دارالعلوم ديوبند ۹ جمادى الاولى ۱۳۹۲ ه

د دار العلوم ماتلي والا بهروچ شیخ الحدیث ، د بهروچ منبار د جمیعة العلماء صدر

حضرت مولانا محمد ابوالحسن صاحب دامت برکاتهم لیکي :

د " فتاوی رحیمیه " پنځم جلد کی هم الحمد الله ډیر زیات اهم او ضروري مسائل درج دي خصوصاً د طلاق ثلاثه فی مجلس واحدٍ بحث الحمد الله ډیر په مفصل او تسلي بخش انداز کی لیکل شویدی چی لدینه زړه اودماغ ته سکون نصیب کیږي ، حق دا دي چی تاسو محترم د دی حق ادا کړیدی ، " اعلی الله درجاتکم فی المدارین "

بنده (مولانا) محمد ابوالحسن علی غفرله خادم دار العلوم ماتلي والا بهروچ

۱۰ ذی قعده ۱۴۰۴ھ

حضرت مولانا مفتي محمد اکبر میان رحمه الله د گجرات پالن پور مفتي د مولانا محمد هاشم بخاري مدظله په نوم مکتوب

د " فتاوی رحیمیه " می دوه ، څلور ځایونه ولیدل الحمد الله ډیر زیات پر کیفیت می وموند او عجیب جاذبیت راته محسوس شو او ورسره په صاحب د فتاوی کی څه د مجذوبیت شان هم ما ناقص الفهم ته محسوس شو ، او د ده طرز بیان هم ډیر ساده او سهل الافاده راته معلوم شو .

جزاه الله عنی سائر المستفیدین الجزاء الأوفی آمین .

(۹ صفر ۱۳۹۰ھ پنچشنبه)

د مشهور نقاد مرحوم حضرت مولانا عبدالماجد دریا بادي د مشهوری اوه نیزی جریدی " صدق جدید " د لکهنو فاضل مدیر **حضرت حکیم عبدالقوی دریا بادي** دامت برکاتهم تبصره کوي او لیکي چی :

د " فتاوی رحیمیه " پنځم جلد د مولانا مفتي سید عبد الرحیم لاجپوري صاحب د دی فتاوی څلور جلدونه لدینه وړاندی په شائع کیدو سره د اهل علمو خراج تحسین حاصل کړیدی ، پنځم جلد هم په همدی خصوصیاتو سره ښائسته او ډیرو اهمو دیني مسائلو باره کی د حق شریعت د احکامو واضحه کونکی او پدی سلسله کی وړاندی کیدونکو شکونو رفع کونکی فتواګانی درج دي ، لویه خبره دا ده چی د هری فتوی دلائل د معتبرو کتابونو نه په حوالو سره پیش کړی شویدي او یواځی په رسمي فتوی باندی

اکتفاء ندی شوی ، د فاضل گرامي مولانا منظور نعماني صاحب الفرقان (لکهنو) دغه رأیه دغه مجموعه فتاوی باره کی بالکل صحیح ده چی " الله تعالی دی اهل علمو ته لدینه د استفادی کولو توفیق ورکړي د فتاوی کومه مجموعه ماته نده معلومه چی دفتاوی رحیمیه په شان دی په هره مسئله او هره فتوی کما حقه مدلل کړی شوي وي " الخ .

د صدق جدید ۲۳ محرم الحرام ، ۱۹ اکتوبر ۱۹۸۴ء جلد نمبر ۳۴ او (۳٦) گنه .

د داسی قسم تقریظونو سلسله ډیره اوږده ده ، پدوی کی ځینی تقریظونه خو د فتاوی رحیمیه په نورو جلدونو کی شائع شوی هم دي ، زمونږ د زړه خواهش و چی ټول تقریظونه یوځای شائع شي مګر د اوږدوالي له ویری یواځی د دغو حضراتو اسماء گرامي په لاندی ډول شائع کولو باندی اکتفاء کولی شي .

حضرت مولانا شیخ احمد صاحب (شیخ الحدیث جامع حسینیه راندیر ضلع سورت)

مولانا عامر عثماني (ایډیټر تجلي دیوبند)

حضرت مولانا نظام الدین (پهلواري شریف)

حضرت مولانا سید انظر شاه صاحب (د دارالعلوم دیوبند د حدیث پخوانی استاذ)

حضرت مولانا حکیم محمد آدم پالن پوري (د جامع اسلامیه ډابیل پخوانی استاذ)

حضرت مولانا حمیدالدین صاحب (گلاوټهي ، یوپي)

حضرت مولانا سعید احمد اکبر آبادي (د برهان دهلي میاشنتي مجلی مدیر)

حضرت مولانا محمد نیاز ترکستاني د مدینی منوری استوګن

حضرت مولانا مفتي یسین صاحب (د احیاء العلوم مبارک پور مفتي) او نور

د ذکر شوی حضراتو په گرانقدر تقریظونو او رأیو سره ځمونږ حوصله افزائي شوی مونږ دغو ټولو حضراتو ته د قدر په سترګو ګورو او د ټولو ممنون او شکر گزار یو ، جزاهم الله خیرا الجزاء .

تحدیث (اظهار) د نعمت

د " فتاوی رحیمیه " متعلق د مفکر اسلام حضرت مولانا سید ابوالحسن علی ندوی مدظله تأثرات او ښکلي کلمات :

د لکهنو ندوة العلماء د کتب خانی ناظم جناب مولانا محمد مرتضی صاحب د گجران د دوری له واپسی نه وروسته لیکي : " ما (مولانا محمد مرتضی صاحب) حضرت مولانا علي میان صاحب مدظله ته ستاسو سلام او پیغام ورسولو نو مولانا علی میان وفرمایل حضرت مفتي صاحب ته زما سلام ولیکه او دا هم ورسره ولیکه چی :

" زه مفتي صاحب لپاره د دوی د صحت و عافیت او د عمر د درازي لپاره باقاعده او همیشه دعا کوم پدی چی الحمد لله تاسو پدی وخت کی محقق ، فقیه او ماهر د فن یئ او ستاسو له تحقیق نه پوره ملک د مستفید کیدو شرف حاصلوي ، ستاسو دا زور تحقیق ټولو خواصو او عوامو لپاره اطمئنان بخش دی ، الله تعالی دی تر اوږدی زمانی پوری ستاسو فیوض او برکات قائم ولري ، آمین .

ناچیز خادم : مرتضی

۱۴ ربیع الثاني ۱۴۰٦ھ

مولانا محمد نیاز ترکستاني (د دارالعلوم دیو بند فاضل) د مسجد حرام معلم له مکه معظمی نه لیکي :

د فتاوی رحیمیه اردو اول جلد د مولانا حافظ قاري مفتي سید عبدالرحیم لاجپوري صاحب تالیف ماته راورسید ، ماشاء الله د صوري او معنوی حسن باندی ښایسته او د اهل اسلام لپاره عظیم المرتبت او گران قدر تحفه ده ، دا مجموعه په هغو ټولو دیني او ضروري مسائلو باندی مشتمل ده چی لدی څخه استفاده هر مؤمن لپاره پخپلو معاملاتو او عباداتو کی حتمی او ضروري ده ، او همداراز د مبتدعینو او په دین کی اختراع کونکو لپاره دندان شکن ځواب او د دوی باطل گمان او د افتراء بیخ کني په پوره شرح او تفصیل سره کړی شویدی او د دی ښوه خوبي دا هم ده چی د سوالونو ځوابات یواځی استفتاء او افتاء پوری محدود ندي بلکی دا ئی د تحقیق او تدقیق په زیور سره ښایسته کړي او د دی معنوي محاسن یی لازیات کړیدی ، الله رب العزت دی تاسو ته د عامو مسلمانانو له طرفه جزاء خیر درکړي ، آمین .

جـزائے دائمـی مـلتی رهـے خـلائق عـالم سے
که نصرت او اعانت کی هے تم نے دین احمد (ص) کی
یعنی د دنیا د مخلوق له طرفه دی درته دائمي بدلـه مـلاو شـي پـدی چـی تـا د دیـن محمد صلی الله علیه وسلم نصرت او امداد کړیدی .

د دیو بند دمیاشتنی مجلی " تجلي " مدیر

دومره وخت خو مونږ پیدا نکړ چی د " فتاوی رحیمیه " دواړه جلدونه اول نـه تـر آخـره پوری ولولو لیکن خاص خاص ډیر ځایونه می ولیدل ، فتاوی مونږ د خپل امید نه زیـات مؤثر ، هدایت افروز او محققانه ومونـد ، پـدی خـوبی کـی دی شـاید منفـرد وی چـی محترم مفتي صاحب د فتوی قدیمی او د تفهیم جدید طرز سره یوځـای کړیـدي لدینـه طرز نه دو چند فایده وشوه ، د فتاوی قانوني حیثیت هم قائم او ثابت پاتی شو او دعـام نه عام سړي ته د پوهیدو موقـع هـم آسـان او مـلاو شـوه ، د شـریعت د قـانوني موقـف ظاهرولو ته " فتوی " وائي او دا اظهار چی څومره په حوالو او مثالونو سره ښایسته شـوی دی همدومره به مؤثر هم وي ، او محترم مفتي صاحب خو د حوالو اهتمام ډیر زیات په التزام سره کړی دی ، او په تشریح او تفهیم کی د دوی لب ولهجه مـتعین او باوقـاره ده ، د تولو نه زیاته خوشحالي د دی خبری ده چـی د دوی فکـري زاویی مسـتقیمی دي ، په نظر کی یی هم ژوروالی دی او په اسـتدلال کـی یی هـم ژور والی دی ، د دوی لـه فتاوی نه به یواځی عوام نه بلکی څمونږ پشان "په نوم خواص" هم فایده اچتولی شي .
او تر کومه ځایه چی د بدعتیانو او د غیر مقلدینو په فرموداتـو بانـدی د تنقیـد او د نظـر تعلق دی نو د موصوف په طرز تحریر کی لږ غوندی تغیر ضـرور راغلـی دی مګـر دومـره ندی چی مذمت یی وکړی شي ، پخپل ځای او موقع کی " شدت " هم یو حسن دی په شرط د دی چی غصه او جوش د علم او تحقیق له چوکاټ نه باهر نشي او مونږه پوهیږو چی مفتي صاحب پدی شرط بانـدی پـوره ختلـی دی ، او چیرتـه هـم د ده د جـذبی شدت او سختي د استدلال په څهره باندی داغونه ندي جوړ کړي ، الخ .

د دیوبند د تجلی خاص اشاعت ، د جولائي ۱۹۷۰ء
فقط والله اعلم بالصواب

کتاب الایمان

د ایمان او د عقائدو متعلق

د غیر مسلم نه د توحید خلاف منتر په ویلو سره علاج کول څنګه دي ؟

(۱ سوال) ما قولکم رحمکم الله تعالی ، په سترګو کی تکلیف کیدل ، په بدن باندی دانی وتل ، د لاسونو ، پښو شل کیدل او یا د پیریانو شکایت وي نو غیر مسلم خوا ته ورتلل کوم چې خلاف توحید منتر ویلو سره دمونه کوي ، دوی ته ورتلل او وربانـدی منتر لولول او ځان دمول جائز دي یا نه ؟ ډیرو کسانو ته پری فایده هم کیږي ، د دی وضاحت وکړئ .

ځواب : کله چې دا یقین وي چې د منتر الفاظ او مضمون د توحید خلاف او شرکي وي نو د دغه سړي نه علاج کول ناجائز دي [1] او پاتی شو فایده کیدل نو دا د حق کیدو دلیل نه دی .

د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د محترمی میرمنی واقعه ده چې د ده سترګو به درد کولو نو هغه یو یهودی ته ورتله او وربانـدی دموله به یې ، هغه یهودي به چې کله دم کړله نو فوراً به سترګه آرامیدله کله چې د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه په وړاندی د دی تذکره وشوه نو وی فرمایل : دا د شیطان کار وٓ ، شیطان خپل لاس سره سترګه دردوله او چې کله به یهودي منتر ویلو نو شیطان به غلې کیدو (دا د شیطان او د دغه عمل کونکي ګډ کار دی په سفلی عمل کی همدغسی کیږي) حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وفرمایل : تاله پاره هغه څه کافي دي کوم چې به رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایل ، او هغه کلمات دا دي : " اذهب البأس اشف انت الشافی

---

[1] ــ وعن ابن مسعود رضی الله عنه انه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الرقی والتمائم والتولة شرك ، رواه ابوداؤد وابن ماجه ، والتولة ای بوزن عتبة ضرب من السحر .... وعن عروة بن مالك رضی الله انه قال کنا فی الجاهلية نرقی فقلنا یارسول الله صلی الله علیه وسلم کیف تری فی ذلك فقال اعرضوا علی رقاکم لابأس بالرقی مالم یکن فیها شرك . ردالمختار ٤\٤٦٩ ، الحظروالاباحة فصل فی البیع .

لاشفاء الا شفاءك شفاء لا یغادر سقما "[1] ترجمه : ای د خلکو پروردګاره ! بیماري لرې کړې او شفا ورکړه ای شفا ورکونکیه شفا ورکونکی یواځی ته یې ، ستا شفا ورکول شفا ده داسی شفا چی د بیماری نوم او نشان پاتی نشي.
لقد كانت عيني تقذف فكنت اختلف الى فلان اليهودي يرقيني فاذا رقاني سكنت فقال عبدالله انما ذلك عمل الشيطان كان ينخسها بيده فاذا رقاها كف عنها انما يكفيك ان تقولي كما كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول اذهب البأس رب الناس الخ (ابوداؤد شریف کتاب الطب) (تلبیس ابلیس لابن جوزی ص ۱۲۶۸) فقط والله اعلم بالصواب.

د غیر الله نه د مدد غوښتو څه حکم دی ؟

(۲ سوال) د حضرت حسین رضی الله عنه نه په " یاحسین امداد کن ، یاحسین اغثنی " اواز کول روزي او اولاد غوښتل جائز دي ؟ څمونږ په ځای کی هره یولسمه (ګیارهوین) یو خو کسان په یوځای کیدو سره دغه ذکر شوی وظیفه ټول په شریکه باندی کوي او وائي چی دا خو توسل (وسیله نیول) دي وظیفه دا ده : " امداد کن امداد کن ، ازهربلا آزاد کن ، در دین و دنیا شاد کن یاغوث الاعظم دستګیر ، یا حضرت غوث اغثنی باذن الله یاحضرت شیخ محی الدین مشکل کشا بالخیر " داوینا جائزه ده او که نه؟
ځواب : حضرت حسین رضی الله عنه ته دغسی آواز کول او ورنه مدد غوښتل او د ذکر شوي وظیفی د لوستلو شرعاً اجازت نشته ، وسیله نیول جائز دي خو د دی دا طریقه نه ده د ذکر شوی وظیفی عملي کولو سره دنورو خلکو دعقیدی خرابیدو هم خطره ده ، لهذا د دی وظیفی پریښودل پکار او ضروري دي ، د الله تعالی په پریښودو سره د نورو نه اولاد غوښتل ، د بیمار لپاره صحت غوښتل ، د قبرونو والاؤ نه روزي طلبول ، په مقدمه کی د کامیابیدو درخواست کول جائز ندي او دا مشرکانه کار دی ، محدث علامه محمد طاهر رحمه الله به په صراحت سره فرمایل چی دا د هیڅ مسلمان په نزد باندی جائز ندي ځکه چی عبادت او حاجت طلبول او استعانت صرف او صرف د الله

---

[1] ـ مسلم باب استحباب رقیة المریض ۲\۲۲۲

تعالی حق دی ، فان منهم من قصد بزيارة قبور الانبياء والصلحاء ان يصلي عند قبورهم ويدعو عندها ويسئالهم الحوائج وهذا لايجوز عند احد من علماء المسلمين فان العبادة وطلب الحوائج والاستعانة لله وحده (مجمع البحار الأنوار ۲\۳۷۳) .

الله تعالی خپلو بندګانو ته تعليم ورکړی چی ووائـي : " اياك نعبد وايـاك نستعين " (يعنی یاالله مونږه خاص ستا عبادت کوو او خاص له تانه مدد غواړو) کله چی عبادت او استعانت (مدد غوښتل) قرآن پاک الله تعالی لپاره خاص کړی نو د نورو څخه به اولاد ، روزي او صحت وغيره غوښتل څنګه جائز کيدی شي ؟ د همدی لپاره رسول الله صلی الله عليه وسلم حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهٔ ته وصيت فرمايلی دی چی : " اذا سألت فسئل الله واذا استعنت فاستعن بالله " يعنی کله چی سوال کوی نو د الله تعالی نه يی کوه او کله چی مدد غواړی نو د الله تعالی نه يی غواړه (مشکوٰة شريف ص ۴۵۳) .

حضرت پيران پير رحمه الله د ذکر شوي حديث په نقل کولو سره فرمائي : هر ايماندار ته پکار دي چی دا د خپل زړه آينه جوړه کړي او خپل جسم ، لباس ، ګفتګو وغيره په هره معامله کی پدی باندی عمل وکړي (فتوح الغيب عـ ۴۲ مقاله) او فرمائي : " کوم سړي چی د ضرورت په وخت کی الله تعالی پريدي او د نورو خلکو نه مدد غواړي هغه د الله تعالی له صفاتو او د ده له قدرت نه ناواقف دی (۴۳ نمبر مقاله) او فرمائي : "افسوس په تا ته په دی شرميږی نه چی د الله نه علاوه د بل چا نه مدد غواړی او حال دا چی الله تعالی د نورو نه زيات نزدی دی" (الفتح الربانی م ۳۸ ص ۲۵۹) او فرمائي : " ای د الله تعالی له مخلوق نه متاثره کيدونکيه او ويريدونکيه او د زړه نه هغوی ته متوجه کيدونکيه ! د مخلوق نه اعراض وکړه ځکه چی دوی درته نه نقصان رسولی شي او نه څه فايده ، پخپل زړه کی د شرک پټولو باوجود د توحيد دعوی مه کوه لدينه تاته هيڅ نه حاصليږي (ذکر شوی حواله) .

دوی د وفات په وخت کی هم خپل ځوی عبدالوهاب ته دا وصيت فرمايل ؤ چی ټول حاجتونه الله پاک ته حواله کړه او له همدينه غواړه " عليك بتقوی الله وطاعته ولا

تخف احدا ولاتوجه وكّل الحوائج كلها الى الله عزوجل واطلبها منه ولاتثق باحد سوى الله عزوجل ولاتعتمد الا عليه سبحانه ، التوحيد التوحيد التوحيد " (ملفوظات مع الفتح الربانى ص ٦٦٥).

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي فرمائي : " كل من ذهب الى بلدة اجمير او الى قبر سالار مسعود او ماضاهاها لاجل يطلبها اثم اثما اكبر من القتل ولزنا الخ " يعنی څوک چی خپل حاجت پوره کیدو لپاره اجمیر ښار او د سید سالار مسعو غازي قبر او یا دغسی بل کوم ځای ته لاړ شي او حاجت وغواړي یقیناً هغه د الله تعالی ډیره لویه ګنا وکړه چی د ناحق قتل او د زنا نه هم لویه ده ، ایا هغه د دغه مشرک پشان ندی ؟ چی د خودساخته څیزونو بندګي کوي او کوم چی دلات او عزی پشان بتانو ته د خپل حاجت لپاره اوازونه کوي (تفهيمات ٢\٤٥).

او همدا راز پخپل مشهور کتاب " حجة الله البالغة " کی فرمائي : " ومنها انهم كانوا يستعينون بغير الله فى حوائجهم من شفاء المريض وغناء الفقير وينذرون لهم ويتوقعون انجاح مقاصدهم بتلك النذور ويتلون اسمائهم رجاء بركتها فاوجب الله عليهم ان يقولوا فى صلاتهم " اياك نعبد واياك نستعين " وقال تعالى " ولاتدعوا مع الله احداً ، وليس المراد من الدعاء العبادة كما قاله بعض المفسرين بله هو الاستعانه لقوله تعالى " بل اياه تدعون فيكشف ما تدعون " او د دی شرکي کارونو څخه دا هم دي چی مشرکان خپلو حاجتونو لپاره د غیر الله نه مدد غواړي ، د بیمار لپاره صحت او د غریبانو لپاره مالداري ورنه غوښتل او د دوی لپاره نذرونه منل او د دی نذرانو په وجه د خپلو حاجتونو د پوره کیدو امید ساتل او د برکت په امید د دوی نومونه اخستل ، نو پدی وجه الله تعالی په خلکو باندی واجب کړي چي پخپلو لمونځونو کي دا ووایئ " اياك نعبد واياك نستعين " (یعنی مونږه خاص ستا عبادت کوو او خاص له تانه مدد غواړو) او الله تعالی وفرمایل : " فلا تدعوا مع الله احداً " یعنی د الله تعالی سره بل هیچا ته اواز مه کوه ، (حجة الله البالغة ١\١٢٢) فقط والله اعلم

د شرعي کارونو د مخالیفینو باره کی شرعي حکم څه دی ؟

(۳ سوال) یو سړی د شریعت په خلاف کارونه کوي او ځینی نور د ده حمایت کوي نو د دغو حامیانو متعلق څه حکم دی ؟

ځواب په ګناه او بدکار باندی چی څوک راضي کیږي هغه هم فاسق او ګنهګار دی ، او کوم چی شرعي ګنهګار او فاسق دی ، حتی الامکان د هغه نه ځان ساتل پکار دي ، الله تعالی فرمائي : " فلا تقعد بعد الذکری مع القوم الظلمین " (سوره انعام) یعنی د ګنهګارو سره ناسته ولاړه پریښودل پکار دي .

پدیکی د انجام ښه کیدل ، د دین سلامتي او مجرمانو لپاره عملي نصیحت او عبرت دی .

په حدیث شریف کی دي : کله چی بني اسرائیل په ګناهونو کی اخته شول نو علماء دوی منع کړل مګر دوی منع نه شول ، علماؤ د دوی په مجلسونو کی کیناستل او خوراک څښکاک هم ورسره وکړل نو د هغوی د زړونو اثرات د علماؤ په زړونو باندی هم وشول د دوی د زړونو نحوست د نیکانو خلکو په زړونو کی هم اثر وکړ ، په دوی ټولو باندی د حضرت داؤد او د حضرت عیسی علیهما السلام په ژبه باندی لعنت وکړی شو[1] (ترمذي ، ابوداؤد) .

دوباء زده علاقی پریښودل

(۴ سوال) (۱) کوم ځای کی چی بیماري خور شوی وي د هغه ځای نه تلل پکار دي او که نه ؟ (۲) مثلاً مونږ بمبی ته لاړو او هلته خدانخواسته وبا شروع شوه او مونږ د کار نه فارغ شولو او کور ته واپس راتلل غواړو نو ورنه راتللی شو یا نه ؟ او یا هلته د وباء تر ختمیدو پوری پاتی کیدل ضروري دي ؟ (۳) او دهغه ځای اوسیدونکي د څه کار لپاره

---

[1] ـ عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لما وقعت بنوا اسرائیل فی المعاص نهتهم علماؤهم فلا ینتهوا فجالسوهم فی مجالسهم واکلوهم وشاربوهم فضرب الله قلوب بعضهم ببعض فلعنهم علی لسان داود و عیسی بن مریم ذلک بما عصوا وکانوا یعتدون قال فجلس رسول الله صلی الله علیه وسلم وکان متکئاً فقال لا والذی نفسی بیده حتی تاطروهم اطرا ، رواه الترمذی وابوداود وفی روایة قال کلا والله لتامرون بالمعروف ولتنهون عن المنکر ولتاخذن علی ید الظالم ولتاطرنه علی الحق اطراً ولتقصرنه علی الحق قصرا او لیضربن الله بقلوب بعضکم علی البعض ثم لیلعنکم کما لعنهم . مشکواة باب الأمر بالمعروف ص ۴۳۷ .

باهر ته تللی شي یا نه او سفر کولی شي یا نه ؟ (۳) د اب وهوا د تبدیلی لپاره علاقه او آبادی پریښودو سره د عیدګاه په طرف ځنګل ته تللی شو یا نه ؟
خواب : د وبائي او طاعون ځای نه بدی خیال او عقیده سره وتل چی د بیماری او مرګ نه بچ شو که نه بیماري کی اخته کیدو باندی مړه کیږو ، ناجائز او سخته ګناه ده ، الله تعالی فرمائي " الم تر الی الذین خرجوا من دیارهم وهم الوف حذر الموت الخ " یعنی تاسو صلی الله علیه وسلم هغه خلک ندي لیدلي (یعنی تاسو صلی الله علیه وسلم د هغوی له حال نه واقف نه یئ ؟) چی د مرګ نه د بچ کیدو لپاره د خپلو کورونو نه وتلي وو او دوی په زرګونو کسان وو ، الله پاک وفرمایل مړه شئ (نو مړه شول) او بیا یی راوژندي کړل (سورت بقره)[1].
د ذکر شوي ایت په تفسیر کی دي چی د مخکینې امت په یوه کلي کی وباء خوره شوه نو زرګونه (په یو روایت کی (۷۰) زره) خلک وتښتیدل او خیال یی وکړ چی مونږ د مرګ نه بچ شولو ، الله تعالی دوی ته د دوی د بدی عقیدی سزا ورکړه چی په یو دم ټول مړه شول څوک دفن کونکی هم پاتی نشو بیاه څه موده وروسته هلته د الله تعالی یو نبي ورسید او د دغه خوفناک منظر په لیدلو سره دعا وکړه نو الله تعالی د عبرت ورکولو لپاره هغوی ژوندي کړل او بیا یی یقین راغی چی د مرګ نه هیڅوک نشي تښتیدلی (تفسیر مظهري ۳۴۳\۱ ، تفسیر احمدي ۱۶۹\۱) .
واقعاً مرګ پخپل وخت او د الله تعالی د حکم نه بغیر نه راځي ، او چی وخت یی راشي نو بیا معطل کیدی هم نشي ، د الله تعالی فرمان دی : " اینما تکونوا یدرککم الموت ولو کنتم فی بروج مشیدة " یعنی په هر ځای کی چی تاسو یئ هلته به درته مرګ راځي ، اګر که تاسو په مضبوطو کلاګانو کی هم ووسئ (سورت نساء) " قل ان الموت الذی تفرون منه فانه ملاقیکم " یعنی تاسو صلی الله علیه وسلم ووایئ : بیشکه د کوم مرګ نه چی تاسو تښتئ هغه به ضرور در رسي (سورت جمعه) بیشکه د الله تعالی مقرر کړی وخت چی پوره شي نو بیا تأخیر پکی نه کیږي (سورت نساء) .
د جاهلیت د زمانی دا عقیده وه چی څوک بیمار سره کیني او هغه سره خوراک وکړي نو د هغه بیماري ده ته لګیږي ،لهذا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :

---

[1] د سورت بقره (۲۴۳) ایت

"لاعدوی" یعنی (بغیر د تقدیر او بغیر د الله تعالی د حکم نه) د یوه بیماري بل ته نه لګي . یو ځل یو اعرابي (بانډه چي) عرض وکړ چي : په روغو اوښانو کي یو پمن اوښ ګډ شي نو ټول ورسره پمن شي . رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : هغه اولني اوښ چا پمن کړ ؟ (ځواب ظاهر دی چي الله تعالی ! نو بیا د نورو اوښانو لپاره هم داسي ولي نه ګڼي ؟)[1]

یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم د جزامي لاس ونیولو او د خپل خوراک په لوښي کي یي شریک کړلو ، مطلب دا چي د الله د حکم او تقدیر نه خلاف هیڅ نشي کیدی ، مګر د عقیدی د حفاظت لپاره شریعت دا تعلیم ورکړی چي وبائي ځایو ته بغیر د ضرورت نه مه ورځئ او مه له هغه ځایه راوځئ ځکه ګڼه چیرته هلته په ورتلو سره بیماري کي مبتلا شئ نو کمزوري طبیعت او ضعیف العقیده سړی به دا ګڼي چي هلته په تللو سره دا وشو ، او تیښتي والا به دا ګڼي چي په تیښتی سره بچ شوم که نه ضرور به مبتلا شوی وم او تښتیدونکي نورو خلکو لپاره هم د ډیری پریشانی او د کم همتی سبب ګرځي د داسی دیرو حکمتونو او مصلحتونو په بناء رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته دا هدایت فرمایلی دی چي : " اذا سمعتم بالطاعون بارضٍ فلا تدخلوها واذا وقع بارضٍ وانتم بها فلاتخرجوا منها " یعنی کله چي تاسو دا واورئ چي فلاني ځای کي وباء ګډه شوی ده نو هلته مه ځئ او کوم ځای چي تاسو وئ او هلته وباء ګډه شوه نو د تیښتی په اراده باندی له هغه ځایه مه اوځئ (بخاري شریف ۸۵۳\۲ ، مسلم شریف ۲۲۹\۲)[2]

او فرمایلي دي : بیمار اوښ د روغ اوښ سره مه پریدئ ، او فرمائي : د مجزوم (د جزام بیمار) نه داسی وتښته لکه د زمري نه چي تښتي ، ځکه چي د عقیدی حفاظت ضروري دی ، ډاکټر او حکیم وغیره ځیني امراض لکه (تي بي ، جزام ، طاعون ، انفلوئنزا وغیره) ساري او متعدي ګڼي او د دی جراثیم ثابتوي موثر ته د دی د تردید ضرورت نشته مګر دوی هم باید ومني چي بیماري پخپله ساري او مؤثر نده بلکی د الله تعالی په حکم او

---

[1] عن ابی هریرة حین قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : لاعدوی ولاصفر ولاهامة فقال اعرابی یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) فما بال الابل تکون فی الرمل کانها الظبآء فیجئ الأجرب فیدخل فیها فیجربها کلها قال فمن اعدی الاول (مسلم باب لا عدوی ولا طیر الخ ج ۲ ص ۲۳۰)

[2] باب الطاعون والطیرة والکهانة ونحوها ، بخاری باب ما یذکر فی الطاعون .

پر سره مقتدي كيږي، چاپاره چې الله تعالى حكم نه وي شوى ان د چا په تقدير كې چې نه وي په هغه باندې ذره هم اثر نه كوي وګورئ د حزامي په كور كې تول ...امي نه وي، او د ني ني د بيمار خدمتګاران ټول پټې نه مبتلا كيږي او د انفلوئنزا بيمار سره اوسيدونكي عام طور سره د انفلوئنزا (زكام) نه محفوظ او بالكل صحيح او سالم وي، الغرض ثابتيږي چې چاپاره د الله تعالى حكم شوى وي هغه ته بيماري لګي او كه داسې نه وي نو د بيمار سره تر ډيرې مودې پورې اوسيدونكي او ورسره خوراك څښاك كولو باوجود څنګه صحيح او سالم وي ؟

شريعت د لرې اوسيدو هدايت پواځې او پواځې د عقيدې د حفاظت او د ايمان د سلامتي لپاره كړى دى نه دى لپاره چې د مرض نه بچ شئ او دا هم هر چا لپاره په هر حال كې وجوبي حكم ندى . په حديث شريف كې دي : " فراراً منه " (يعنى د وباء نه وتښتئ په اراده باندې مه وځئ) د دى په تشريح كې ليكي : كه چيرته د وباء څخه د تيښتې د اراده نه علاوه بله كومه وجه او غرض وي نو دهغه ځاى څخه وتلو او د ضرورت په وجه هلته ورتلو كې هيڅ پروا نشته ،ليكن چې په عقيده كې پوخ وي او ست نه وي (فتح الباري وغيره) .

او په درمختار كې دي : " واذا خرج من بلدة بها الطاعون فان علم ان كل شيئ بقدر الله تعالى فلابأس بان يخرج ويدخل . وان كان عنده انه لو خرج نجا ولو دخل ابتلي كره له ذلك فلا يدخل ولايخرج صيانة لاعتقاده " يعنى څوك د وبائي علاقې نه ووځي ليكن د هغه عقيده دا وي چې هر يو شى د الله تعالى په تقدير سره دى د الله تعالى د حكم نه بغير هيڅ نه كيږي نو هغه لپاره د هغه ځاى نه د وتلو او هلته د ورتلو اجازه ده او كه عقيده يې داسې وه چې لدى ځاى نه لاړشم نو بچ كيږم او كه نه مبتلا كيږم نو داسې سړي لپاره د هغه ځاى نه د وتلو او د ورتلو اجازه نشته ترڅو د ده عقيده محفوظ پاتى شي . (درمختار مع الشامي ٥/٦٦١)[1]

(٢) آو ! له هغه ځاى نه راتلى شي ، د وباء تر ختميدو پورې هلته اوسيدل لازمي ندي ، د اوسيدو په مقصد هلته نه ئى تللى نو د كار نه فارغيدو سره واپس راتلل په فرار كې نه حسابيږي ، خو د نيت درست كول ضروري دي ، وفى هذه الأحاديث منع القدوم

---

[1] ـ شامي مسائل شتى قبيل كتاب الفرائض

علی بلد الطاعون ومنع الخروج منه فراراً من ذالك اما الخروج لعارض فلا باس به . (نووی شرح مسلم ۲۲۸\۲ [1]) .

(۳) آو ! د ضرورت په وجه هغه ځای نه تلی شي او سفر هم کولی شي پدی شرط چې د تیښتې اراده نه وي . لکن ابوموسی حمل النهی علی من قصد الفرار محضاً ولاشك ان الصور ثلاث من خرج لقصد الفرار محضاً فهذا يتنا وله النهی لامحالة ومن خرج لحاجة متمحضة لا لقصد الفرار اصلاً ويصور ذالك فيمن تهيأ للرحيل من بلد كان بها الی بلد اقامته مثلاً ولم يكن الطاعون وقع فاتفق وقوعه فی اثناء تجهيزه فهذا لم يقصد الفرار اصلا فلا يدخل فی النهی والثالث من عرضت له حاجة فاراد الخروج اليها وانضم اليها وانضم الی ذالك انه قصد الراحة من الاقامة بالبلد التی وقع بها الطاعون فهذا محل النـزاع الخ (فتح الباری ص ۱۵۹) .

(۴) آو ! د آب و هوا د تبدیلي لپاره د ښار په حدود کی ځنګل او ډاګ ته تللی شي خو پدی نیت چی د آب و هوا تبدیلي هم یو قسم علاج دی ،لهذا د علاج په غرض وتلی شي ، غرض دا چی د وبائي ځای نه د فرار په اراده لاړ نشي ، په الله تعالی به توکل وکړي او په صبر او همت باندی پاتی شي ، که په تقدیر کی مرګ وي نو راځي به او د شهادت درجه به ورته حاصلیږي ، نو کله چی په تیښته باندی مرګ نه معطل کیږي نو په تیښته باندی سړی ایمان ولی خراب کړي ؟ فقط والله اعلم .

مسلمان لپاره د جینی ګروجي (د هندوانو د یو مذهب مشر او مرشد) ته په تیټیدو سره تعظیم کول

(۵ سوال) د یو جین پادري بیان ته یو مسلمان ورځي ، دغه پادري د جین (د هندوانو د یو مذهب پیروان) خلک خپل کور ته راغواړي او د ده پښو ته سر ښکته کوي او څه پیسی ورکوي ، پدی طریقه یو مسلمان ورور هم دغه ګروجي (پادري) خپل کور ته راوغوښت او پښو ته یی ورتیټ شو او (۱۱) روپی یی په پښو کی ورته کیښودی ، او سر یی د سجدی پشان تیټ کړ ، نو اوس سوال دا دی چی د ده ایمان او د نکاح شرعي

[1] ـ باب الطاعون والطيرة والكهانة ونحوها .

حکم څه دی ؟ او هغه د دی کار په ګناه باندی هم نه پوهیږي ، پدی خاطر می سوال وکړ چی د هغه ورور اصلاح وشي

ځواب د الله تعالی وحده لاشریک نه علاوه د بل چا په وړاندی (پیر وي او که پیغمبر) سجده کول . د غیر الله په وړاند ی‌په ځمکه سر لګول په شریعت محمدي (صلی الله علیه وسلم) کی قطعي حرام او کبیره ګناه ده که د عبادت په نیت وي نو موجب د کفر دی ، او که تعظیم مقصد وي او یا هیڅ نیت نه وي دا هم د ډیرو علماؤ په نزد باندی موجب د کفر دی ، په درمختار کی دي : (تقبیل الأرض بین یدی العلماء) والعظماء فحرام والفاعل والراضی به اثمان لانه یشبه عبادة الوثن وهل یکفر ان علی وجه العبادة والتعظیم کفر وان علی وجه التحیة لا وصار اثما مرتکبا للکبیرة (ذرمختار مع الشامی ج ۵ ص ۳۳۷ _ ۳۳۸ . آخر باب استبراء وغیره) .

یعنی خوک چی د عالِم ، بادشاه وغیره په وړاندی ځمکه ښکلوي نو دا حرام دي ، ښکلونکی او پدی باندی راضي کیدونکی دواړه ګنهګاران دي ځکه چی دا طریقه د بت پرستی سره مشابهت لري ، او دا خبره چی پدی باندی سړی کافر کیږي ؟ د دی ځواب دا دی چی که عبادت او تعظیم مقصود وي نو کافر کیږي او که د سلامي په طور وي نو بیا کافر کیږي خو نه لیکن د ګناه مرتکب ګرځي (درمختار ص ۳۷۸) .

او په ملتقط ناصري کی دي : " واذا سجد لغیر الله تعالی حقیقة کفر " یعنی غیر الله ته سجده کونکی کافر کیږي ، او په کفایه شعبي کی دي : " اذا سجد لغیر الله تعالی یکفر لان وضع الجبهة علی الأرض لایجوز الا لله " یعنی چا چی غیر الله ته سجده وکړه هغه کافر شو ځکه چی په ځمکه باندی تندی لګول د الله نه علاوه بل هیچا لپاره جائز ندي ، خوک چی د الله نه علاوه بل چا لپاره سجده وکړي هغه کافر او مشرک ګرځي (نصاب الاحتساب باب (۴۹) ص ۹۷ ، ۹۸ قلمي) .

پدی ذکر شوی مسئله کی د جین ګروجي په وړاندی د عبادت په غرض نه بلکی د تعظیم په غرض د سجدی پشان سر ټیټ کړیدی ، بیا هم ده لپاره د توبی او استغفار او د نکاح د تجدید ضرورت دی ، " ومافیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح " (درمختار مع الشامی باب المرتد ۳\۴۱۴ ، نصاب الاحتساب قلمي

باب ۱۹ ص ٤۲) . کوم شی چې د الله پاک لپاره خاص وي هغه د پېغمبر لپاره هم جائز نه وي نو دغير مسلم لپاره څنګه روا کېدی شي ؟ د روم د بادشاه په دربار کی د رکوع پشان سر ښکته کولو سره له داخلېدو نه په انکار کولو سره يو صحابي رضي الله عنه فرمايلي وُ چې ماته د کافر په وړاندې د رکوع پشان سر ښکته کولو سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه شرم راځي چې زه به ورته څنګه مخامخ کېږم . " انی استحی من محمد صلی الله علیه وسلم ان ادخل علی کافر علی هیئة الراکع نصاب الاحتساب باب ٤۹ ، ص ۹۸ قلمی)

دیته وائي د اسلامي قانون پابندي او اسلامي غیرت ، فقط والله اعلم .

په ږیره باندی د تنقید حکم

(٦ سوال) ما د الله تعالى په فضل سره ږیره ساتلی ده مګر ځما دوست او وروڼ ټوقی کوي او کاکا وغیره قسماقسم نومونه راکولو سره ما شرموي ، ځینی وائي چې شکل بنه نه ښکاري نو ږیره کله کړه ، پدی طریقه ما تنګوي نو څه څه وکړم ؟ که ږیره کله کړم نو ګنهګاریږم یا نه ؟

ځواب : افسوس ! هغه وخت رسیدلی د کوم چې مخبر صادق صلی الله علیه وسلم خبر ورکړی وُ یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحاب کرامو ته په خطاب کولو سره وفرمایل : هغه وخت به ستاسو څه حال وي چې ستاسو ځوانان فاسقان او فاجران جوړ شي ؟ وی فرمایل : ستاسو به څه حال وي کله چې تاسو د نیکی لپاره خنډ او رکاوټ جوړیږئ او د بدي حکم کوئ ، صحابه کرامو عرض وکړ یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) ! ایا دغسی کیدونکي دي ؟ وی فرمایل : بیشکه لدینه هم زیات سخت ، بیا یی وفرمایل : ستاسو به څه حال وي کله چې تاسو د نیکی کارونه بد او د بدی کارونه ښه وګڼئ ؟ (جمع الفوائد) ایا دا ټول نن صبا نه کیږي ؟

خلک ږیری کلوي او د کلولو تبلیغ هم کوي یواځی دا نه بلکی د ږیری کلولو ته بهتر او ساتلو ته خراب وائي ، ځوانان خو پریده د لوی عمر خاوندان او بوډاګان هم ږیری کلوي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو مخالفت کولو سره ښکاره فاسق جوړیږي ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمان دی : " تاسو سپین ویختـه مه راوباسی! کوم مسلمان چې د اسلام په حالت کی بوډا شي نو الله تعالی ورته د سپین

ویختو په بدله کی ثواب ورکوي او د هغه گناهونه معاف کوي او د قیامت په ورخ به دغه سپین ویخته ورته نور او رڼا وي (ابوداود شریف ۲۲۵\۲ باب فی نتف الشیب) .
په یو حدیث کی راځي چی الله تعالی بوډا ته د عذاب ورکولو نه حیا کوي ، الله اکبر الله تعالی بوډاګانو ته د دوی د گناهونو سزا ورکولو نه حیا کوي مګر بوډا د ږیری په کلولو سره خپل بوډاتوب پټوي او له ځان نه جعلي ځوان په جوړولو نه شرمیږي .
د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : " خیر شبابکم من تشبه بکهولکم و شر کهولکم من تشبه بشبابکم " په ځوانانو کی د ټولو نه بهتر ځوان هغه دی چی د بوډاګانو سره مشابهت اختیار کړي او په بوډاګانو کی د ټولو نه بدتر بوډا هغه دی چی د ځوانانو سره مشابهت کوي (کنز العمال ۱۲۸\۸) .
ږیره یوه اسلامي او قومي شعار ده او نارینه لپاره زینت او ښایست ده د ځینو ملائکو تسبیح دا ده چی " سبحان من زین الرجال باللحی والنساء بالذوائب " یعنی پاک دی هغه ذات چا چی نارینه و ته په ږیره او ښځو ته په کمڅو سره ښایست ورکړیدی ، (الحدیث بحرالرائق ۳۳۱\۸) .
رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله ږیره ساتلی ده او امت ته یی د ږیری ساتلو لپاره تاکید کړی دی ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمل خپلول او د ده حکم او فیصله په سر سترګول منل د ایمان شرط دی ، ځکه چی د شریعت په اصطلاح کی اسلام د برحق نبي دهدا یت په رڼا کی د الله تعالی د حکمونو باندی د عمل کول نوم دی ، د خپل عقل او خواهش مطابق د الله تعالی تابعداري کول اسلام ندی بلکی کفر دی .
ع کفر ست درین مذهب خودبیني وخودرائی .
د الله تعالی فرمان دی : " فلا وربك لایؤمنون .... ویسلموا تسلیما " (سوره نساء) یعنی قسم دی ستا په رب باندی چی دا خلک تر هغې نشي مسلمان کیدی تر څو پوری چی تا د خپلو جګړو او معاملو لپاره حکم او ثالث ونه مني ، او بیا چی تر کومه فیصله وکړي په هغه باندی خپلو زړونو کی څه تنګي محسوسه نه کړي او په مکمل طور سره (د زړه) دا فیصله ومني او قبوله کړي .
د دی آیت کریم په تفسیر کی د جعفر صادق نه نقل دي چی که کوم قوم د الله تعالی عبادت کوي ، لمونځ ، روژه ، حج او زکات دا ټول علمي کوي مګر د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو عمل په باره کی د اعتراض په طور سره دا خبره وکړي چی رسول

الله صلی الله علیه وسلم دا ولی کړي ؟ او یا د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کوم یو حکم باره کی زړه کی څه تنګـي محسوسـه کـړي نـو د لمـونځ او روژی وغیره اعمال باوجود هم هغه د کافر او د مشرک په حکم کی دی (تفسیر روح المعاني ٥\٦٠) .

د یو مسلمان او د یهودي مقدمه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دربار کی وړاندی شوه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د تحقیق نه وروسته د یهودي په حـق کـی فیصلا وکړه ، مسلمان پدی فیصله باندی راضي نه شو او دغـه مقدمـه یی حضـرت عمر فـاروق رضی الله عنه ته یو وړله ، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د مقدمی د آوریدلو په ځـای دا فیصله وکړه چی دا سړی مرتد شوی نو هغـه وّ چـی د هغـه سـر یی پـری کـړ او وی فرمایل : ځوک چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم فیصله نه منـي هغـه لپـاره صحیح فیصله همدا ده .

دا د یوی ضابطی او قانون خبره وه چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د فیصلی نه ګرځیدونکی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیات بل چا لره منصف ګڼـونکی مرتد او کافر دی او د اسلام نوم چی اخلي دا نفاق دی ، لدینه عـلاوه حقیقـت دا دی چـی کله الله تعالی محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم د ټولو کمالاتو او د محاسـنو کامـل نمونه جوړولو سره دنیا ته راستولي دی او دا اعلان یی کړیـدی چـی : " لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْ رَسُوْلِ اللهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ " نو کمال هغه دی چی د نبوي کمالاتو پشان وي او حسن هغه دی چی د رحمة للعالمین د محاسنو نمونه وي ، صحابه کرامو د حسن وکمال دغه فلسفه مکمل طور سره پیژندلی وه لکه څنګه چی نه یواځی په عباداتو کی د نبوي سنتو پیروي کولو او نه یواځی خپل عادتونه د رسول الله صلی الله علیـه وسـلم دعـادتونو په سانچه کی اچول بلکی د رسول الله صلی الله علیه وسلم معمـولي اشـاره بـه یی هم د حکم په حیثیت منلو او د دی تعمیل ئی د هر څه نه لوی سعادت ګڼلـو مـثلاً رسـول الله صلی الله علیه وسلم منبر باندی تشریف فرمـا وّ او حاضـرینو تـه وفرمایـل : " اجلسـوا اجلسوا " تشریف کیدئ تشریف کیدئ ، اوس د دی حکم تعمیل څنګه وشو ؟ د دی بلا مثال وګورئ : حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنـه دروازی سـره وّ څنګـه چـی دا خبره د هغه غوږ ته ورسیده نو راکیناست او چی بیا کله رسول الله صلی الله علیـه وسلم راوغوښت هغه وخت بیا له هغه ځای راپاخید او وړاندی راغی .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات او رحلت نه وروسته د عربي قبائلو د سرکشي او د ارتداد خبرونه مدینی منوری ته راورسیدل نو صحابه کرامو صدیق اکبر ته مشوره ورکړه چی پداسی وخت کی شام ته فوج لیږل مناسب نه دي ځکه چی زیات امکان لري چی د مدینی منوری په خالي لیدو سره باغي او مرتدان پری حمله وکړي، حضرت صدیق اکبر ځواب ورکړ په هغه ذات می دی قسم وي چی دهغه په قبضه کی زما ځان او ساه ده که چیرته مدینه داسی خالي شي چی یواځی زه پکی پاتی شم او ځناور او سپیان می وخوري بیا به هم زه اسامه رضی الله عنه (کوم چی د دی لښکر سپه سالار ؤ) هغه کار لپاره ولیږم چی کوم کار لپاره رسول الله صلی الله علیه وسلم روان کړی ؤ (ابن عساکر وغیره).

دا د اولنی خلیفه د حضرت صدیق اکبر شان ؤ و د یو عام صحابي رضی الله عنه واقعه ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه د لاس نه د سرو زرو گوتمه وویسته او وی فرمایل: انسان پخپله په زوره باندی خپل لاس کی اور ږدي، کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم لاړو نو یو چا هغه ته وویل: دا اوچت کړه او بل څه ته یی پکار کړه هغه صحابي ځواب ورکړ نه، نه په الله قسم زه به چیری هم هغه گوتمه اوچته نکړم کوم چی رسول الله صلی الله علیه وسلم غورځولی ده (مسلم شریف پ حواله دمشکواةشریف ص۳۷۸).

حضرت ابو ذر غفاري رضی الله عنه د یو تالاب څخه پتی اوبه کولو څه کسان دی طرف ته راغلل او دهغوی په پښو سره د ویالی پوله ماته شوه او اوبه ترینه روانی شوی ابوذر غفاري رضی الله عنه چی اوبه روانی شوی ولیدلی نو فوراً کیناست او بیا په هغه ځمو کی څملاستو، هغه کسان حیران شول او د ابوذر غفاري رضی الله عنه نه تپوس وکړ چی دا کوم حرکت دی؟ سیدنا ابوذر غفاري رضی الله عنه ځواب ورکړ چی د دغو خلکو په بی پروایئ باندی ماته غصه راغله او ورسره می د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد یاد شو چی که غصه راشي نو کینئ او چی بیا هم غصه ختم نشي نو بیا څملئ، لهذا ما د دغه ارشاد گرامي تعمیل وکړ، یعنی نه یی د بدن پروا وکړه نه د کپړو خیال او نه د خلکو د خندا او د مسخرو جوړولو څه فکر، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اشاری عملي کول د هر څه نه وړاندی دي د دی په مقابل کی ټول هیڅ دي

یو ځل عمر فاروق رضی الله عنه د جمعی لمانځه لپاره کپړی بدلی کړی او روان و په لاره کی د حضرت عباس رضي الله عنه د کور د ناوې نه د حلال شوي چرگ په وینه

کی ګډی شوی اوبه د ده په سر راپریوتی ، دوی واپس کور ته لاړل او کپړی یی بدلی کړی او دناوی متعلق یی حکم وکړ چی دا دی د لاری نه لری کړی شي ، د حکم تعمیل وشو نو حضرت عباس رضی الله عنه د تذکری په طور وفرمایل : چی دغه ناوه رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه ځای باندی اینبی وه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه چی څنګه دا خبره واوریده فوراً اوچت شو او د ناوی خوا ته ورغی څه ځینه او اندر پایه نه وه نو پخپله تیټ شو او حضرت عباس رضی الله عنه ته یی قسم ورکړ چی زما په اوږو باندی ودریږه او ناوه په هغه ځای باندی کیده چی په کوم ځای رسول الله صلی الله علیه وسلم اینبی وه .

دا د صحابه کرامو ادب ؤ ، ناوه چی په هر ځای کی وه چونکی رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپل مبارک لاس اینبی وه اګر که په ناپوهی سره لری کړه شوه خو چی لری کړی شوه نو د دی کفاره دا شوه چی پخپلو اوږو باندی د حضرت عباس رضی الله عنه په ودرولو سره ناوه په هغه پخواني او اصلي ځای باندی ولګول شوه ، یو څمونږ د ځوانانو او د ډیرو بوډاګانو ادب دی چی کومه ږیره رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله هم ساتلی وه او نورو مسلمانانو ته یی هم تاکید کړی ؤ چی ږیره وساتئ او بریت کټ کړئ ، اوس پدی باندی اصرار دی چی د ږیری او بریتانو نوم او نشان به نه پریدو ، لدینه زیاته بی ادبي او ګستاخي څه کیدی شي ؟ په هر حال ږیره د ټولو انبیاء کرامو سنت ده ، ږیره اسلامي شعار دی ، ږیره د شرافت او د بزرګی علامه ده ، ږیره دلوی او د وړوکی ترمنځ فرق کونکی ده ، په ږیره باندی مردانه شکل مکمل کیږي ، ږیره کلول د شیطان کار دی او د الله تعالی د ورکړي شکل خرابول دي ، د ږیری کلولو ته ښه ویل د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک سنت سره مقابله او ضد کول دي (معاذالله) .

د فقه نامدار کتاب " هدایه " کی دي : " ولنا ان اللحیة فی وقتها جمال وفی حلقها تفویته علی الکمال " (۴\۵۷۱ فصل الدیة فیما دون النفس) یعنی ږیره په خپل وخت کی (د کله نه چی راشنه کیږي) باعث د زینت او د ښایست ده او د دی په کلولو سره زینت او ښایست بالکل ختمیږي ، په بحرالرائق کی دي : " لان اللحیة فی اوانها جمال " یعنی ږیره پخپل وخت کی د ښایست شی دی ، په دلیل کی یی دا حدیث پیش کړیدی : د الله تعالی د ملائکو د یوی ډلی وظیفه دا ده : " سبحان من

زين الرجال باللحي والنساء بالقرون والذوائب " پاکي ذات دی هغه چا چي نارينه و ته په ږيره او ښځو ته په ويختو او کمڅو سره زينت او ښايست ورکړی دی . (تکمله بحرالرائق ٨\٣٣١ فصل الدية فيما دون النفس) په يو روايت کي دي چي کله ملائکي قسم کوي نو داسي وائي : " والذي زين بني آدم باللحي " يعني قسم دی په هغه ذات چي انسان ته يي په ږيری سره ښايست ورکړی دی .[1]

د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره چي رشتيني مينه وي نو د ده هره خبره او هر عادت بايد خوښ وي د محبوب هره اداء محبوب وي له ده سره (معاذ الله) نفرت ، د مينی د نشتوالي علامه ده ، د ږيری کلونکی د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سنتو پايمالونکي دی هغه ريشتني محبت کونکی څنګه جوړيدلی شي ؟ چا څه ښه ويلی دي:

تعصي الرســـــول وانت تظهر حبه
هــــذا لـــعمری فی الفعـــال بديع
لـــو كـــان حبــك صادقا لأطعته
ان المحـــب لـــمن يحب مـــطيـــع

يعني ته د الله او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د محبت دعوی کوی او ورسره د دوی د حکم نافرماني هم کوی او څومره د تعجب خبره ده که چيرته په حقيقت کي ستا په زړه کي د دوی مينه وای او پخيله دعوه کي رشتيني وای نو هيڅکله به دی د دوی د حکم خلاف ورزي نه کولای د دوی هر فعل او ادا سره به دی محبت کولای ، مجنون د ليلی په کوڅه تيريدو نو هر در و ديوار به يي ښکلولو او ويلی به يي :

امـــر علی الـــديار ديـــــــار ليلی
اقبـــل ذا الجــــــــدار وذاالجــــدار

---

[1] ــ دا حديث په كنوز الحقائق لعبد الروف المناوی علی هامش الجامع الصغير ١٢\١٤٢ کي د حاكم په حواله پدی الفاظو سره نقل دی "سبحان من زين الرجال باللحی والنساء بالذوائب" ، او په ١٢\٩٠ د فردوس ديلمي په حواله پدی الفاظو سره نقل دی " ملائكة السماء تستغفر لذوائب النساء ولحی الرجال " او مبسوط سرخسي ١٢\٧٢ کي پدی الفاظو نقل دي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي : " ان لله ملائكة تسبيحهم سبحان من زين الرجال باللحی والنساء [illegible] "

وماحب الدیار شغفن قلبی
ولکن حب من سکن الدیار

یعنی زه چې د لیلی په کوخه تیریږم نو دغه دیوال هم ښکلوم او هغه دیوال هم ښکلوم دلارو او کوڅو سره مې د زړه محبت نشته بلکې د هغه چا محبت دی چې پدی کوڅو کې اوسیږي . یو بزرګ فرمایي :

نازم بچشم خود که جمال تو دیده است
افتم بپائے خود که بکویت رسیده است
هر دم هزار بوسه زنم دست خویش را
کو دامنت گرفته بسویم کشیده است

یعنی پخپلو سترګو باندی ناز کوم چې ستا دیدار کړیدی او پخپلو پښو باندی پریوځم چې ستا کوڅې ته رسیدلی دی او خپل لاس زرځلی ښکلوم چې ستا د لمنې په نیولو سره ځما طرف ته راکش کړی یې :

په " مثنوي " کې دي چې یوی معشوقې عاشق ته وویل : تا ډیر ښارونه لیدلي دي د ټولو نه ښکلې ښار کوم یو دی ؟ عاشق ځواب ورکړ : په کوم کې چې زما محبوب اوسیږي .

گفت آن شهري که دروی دلبر ست

افسوس دی چې دعوی خو د الله تعالی د محبت او د رسول صلی الله علیه وسلم کوو خو عمل مو دا دی چې د ږیری نه معاذ الله نفرت کوو ، د محبوب رب العالمین اقاء دوجهان ارشاد دی " لایؤمن احدکم حتی یکون هواه تبعاً لما جئت به " (مشکواة کتاب الایمان) د محبت دعوه قابل د اعتبار نده څو پورې چې د ایمان د دعویدار خواهش زما د تعلیماتو تابع نشي ، یعنی د زړه خواهش او جذبه هغه څه وګرځي کوم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعلیم او سنت دی (مشکواة شریف وغیره) بار بار دا ارشاد شوی : څوک چې زما په سنتو عمل نه کوي هغه زما له امت نه ندی ، څوک چې د نورو په طریقه چلیږي هغه له مونږ نه ندی څوک چې زما له طریقې نه مخ اړوي هغه ځما د ډلې نه ندی ، چا چې زما سنت برباد کړل هغه باندی زما شفاعت حرام دی

یو خل امام ابو یوسف رحمه الله حدیث بیانول چی " کان رسـول الله صـلی الله علیه وسلم یحب الدباء " یعنی د رسول الله صلی الله علیـه وسـلم کـدو خـوښ و . یـو شاګرد فورا وویل زه خو نه خوښوم امام ابویوسف رحمه الله د تـورې پـه ویسـتو سـره وفرمایل توبه وباسه که نه قتلوم دی .

په مدینه منوره کی د بزرګ سړي له ژبی نه دومره خبره ووته چی د شام یا د هندوسـتان مستی د دی ځای له مستو نه ښې دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوب کی (یا په عالم واقع کی) ورته وفرمایل : خمونږ له ځای نـه لاړ شـه هلتـه ووسـیږه چـی د کـوم مستی ښې وي .

امام رباني فرمايي : ټول سنتونه د رب العالمین خـوښ دي او کـوم شـیان چـی خـلاف سنت دي هغه د شیطان خوښ دي (مکتوبات ۱\۲۵۵) .

ته دا تپوس کوی چی زه څه وکړم ؟ مسلمانه وروره ! د خواهش د بنـدګانو د ملامتیـا او لعن طعن نه په ویریدو سره حقه خبره پرینبودل د ابوطالب طریقه ده ، رسول الله صـلی الله علیه وسلم ابوطالب ته د مرګ په وخـت کـی وویـل : ای تـره یوځـل لا الـه الا الله محمد رسول الله ووایه ، ابوطالب ورته به خواب کی وویل :

اظــهرت دیناً قــد عــلمت بــــانه
مـــن خـــیرا ادیـــان الــبریة دینـــــاً
لــو لا المـــلامـــة او حـــذار مسیـــة
لــــو جـــدتنی سمـــحاً لـــذالك مبیناً

یعنی تا ځما په وړاندې داسې دین پیش کړیدی کوم چی زه د دنیا د ټولـو دینونـو نـه بهتر ګنم . که چیرته زه د خلکو له ملامتیا او لعن طعن نه نه ویریدلی نو تـا بـه زه د حـق په قبولو کی خوانمرد موندلی وای .

خلاصه دا چی د خلکو له ملامتیا او لعن طعن نه په ویریدو سره حقـه خبـره پرینبـودل د ابوطالب طریقه ده او د ټولې دنیا د ملامتیا پروا کولـو نـه بغیـر حـق بانـدی قـائم پـاتی کیدل د مجاهد اسلام حضرت حذیفه بـن یمـان رضـی الله عنـه سـنت دی ، حضـرت حذیفه رضی الله عنه په سفر کی ؤ د ده له مبارک لاس نه یـوه نـوړی پریوتـه دوی هغـه اوچته کړه او د صفا کولو نه وروسته یی خولی ته واچوله او عجمي خلکو ورته کتلـی نـو

خادم ورته غلی غوندی وویل : حضرت داسی مه کوه دغه عجم پریوتی نوری اوچتول او دهغی خوړل ډیر بد ګڼي او داسی خلکو ته د حقارت په نظر سره ګوري ، دوی ورته په اوچت آواز ځواب ورکړ : " أأترك سنة حبيبي لهؤلاء الحمقاء " یعنی ایا زه د دغو بی وقوفانو په وجه د خپل حبیب صلی الله علیه وسلم سنت پریدم ؟ دغه دی ایمان ، او دا ده د رسول الله صلی الله علیه وسلم د افضل الانبیاء کیدو او د ده تعلیم مکمل ترین تعلیم کیدو باندی اعتماد ، خادم د عجمو له تهذیب نه مرعوب دی او حضرت حذیفه رضی الله عنه د خپل حبیب صلی الله علیه وسلم په تهذیب او مبارک سنت باندی ناز کونکی ، هر هغه چاته احمق او بی وقوف وائي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم کامل معلم ونه ګڼي او د ده په تعلیماتو باندی شیدا نه وي ، تاسو خپله ریره مه کلوی ، که تاسو د دغو جاهلانو په خبره عمل وکړئ نو ګنهګاریږئ ، الله تعالی خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته هدایت کړیدی چی مونږ ته د دین په یوه خاصه طریقه باندی ګرځولی ئی په همدی طریقه باندی روان ووسه او د دوی د خواهشاتو پیروي مه کوه کوم چی د علم سره ناآشنا دي (سوره جاثیه) فقط .

د بزرګ په نوم ویخته ساتل څنګه دي ؟

(۷ سوال) (۱۰۲۵ استفتاء) په اکثره ځایو کی د خلکو دا عادت دی چی دماشومانو د سرٍ ویخته نه کلوي د بزرګانو په نوم ویخته تر یو وخته پوری ساتي او بیا د ۵۰ ، ٦۰ کسانو په ملګرتیا د بزرګ زیارت ته ځي او هلته په رسیدو سره ویخته کټ کوي ، د دی شرعي حکم څه دی ؟

ځواب : دغه ذکر شوی طریقه غیر اسلامي ده یعنی د اهل سنت والجماعت د عقیدی او طریقی نه خلاف او بدعت دی ، اسلامي طریقه خو دا ده چی په اومه ورځ [1] د هلک عقیقه وکړی شي او د سر ویخته یی کل کړی شي او د هغه د وزن په مقدار سره یا سپین زر په غریبانانو باندی تقسیم کړی شي ، پدی باندی د عمل کولو په ځای د کوم بزرګ په نوم ویخته ساتل او د هغه مزار ته په تلو سره کلول د اسلامي طریقی نه خلاف او یو

[1] فقالت عائشة : السنة عن الغلام شاتان مكافئتان وعن الجارية شاة تقطع جدولا ولايكسر لها عظم فيأكل ويطعم ويتصدق ولكن ذلك يوم السابع فان لم يكن ففي اربعة عشر فان لم يكن ففي احدى وعشرين . مستدرك حاكم ٢٣٨\٤ . يافاطمه احلقي رأسه وتصدقي بزنة شعر فوزناه فكان درهما ، (اعداد السنين ١٠٣١\٧ ، كتاب الذبائح) .

قبیح بدعت او مشرکانه کار دی ، مولانا احمد رضا خان صاحب هم دیته بدعت وائـي ، په ځینو جاهلو ښځو کی دستور دی چی د هلکانو په سر باندی د ځینو اولیاء کرامـو پـه نوم ویخته پریدي او د دی یو وخت مقرر کوي او بیا د وخت په پوره کیدو سره مزار تـه بیائي او هلته یی ویخته کلوي ، دغه طریقه بالکل بـی اصـل او بـدعت ده ، (السـنیة الانیقة فی فتاوی افریقه ص ٦٨) . فقط والله اعلم .

ایا انسان سپوږمی ته رسیدلی شي ، د شریعت نقطه نظر څه د؟

(٨ سوال) (١٠٧٧ استفتاء) ایا د امریکی خلابازان سپوږمی ته رسیدلي او له هغه ځایـه شګی او کاڼي راوړیدي ؟ سوال دا دی چی د شریعت له نقطه نظر نه دا امکـان لـري او که نه ؟ تفصیل سره ځواب راکړئ ډیره مهرباني .

ځواب : سپوږمی ته انسان رسیدلی شي ، د اسلامي تعلیم نه مخـالف نـدی ،لهـذا کـه د امریکی خلابازان دا دعوه کوي نو د دی په منلو کی په شرعي لحـاظ سـره هـیڅ کـوم حرج نشته سپوږمی هم د الله تعالی یو مخلوق دی ، سپوږمی ته د رسیدو عقل هـم دوی ته الله تعالی ورکړیدی دا هم د الله تعالی یوه کرشمه ده ، الله تعـالی شـیطان لعـین تـه لدینه هم زیات طاقت ورکړیدی د سترګو په رپ کی د کوم ځای نه کوم ځای تـه رسـي ، الله تعالی ورته آسمان پوری د رسیدو طاقت ورکړیدی ، همدا شان الله تعالی "دجـال" ته هم حیرت انګیز طاقت ورکوي چی یو لوی بزرګ به ټوټی ټـوټی کـوي او بیـا بـه یی راژوندی کوي او د قرنو او زمانو مړي به راوژنـدي کـوي او خبـرې بـه ورسـره کـوي ، باران به راوروي او فصل به نچوي ، په څو لمحو کی به د دنیا سفر کوي او لـه ده سـره به د ده خود ساخته جنت او جهنم وي خپل منونکي به جنت او نه منـونکي بـه جهـنم ته داخلوي .

حضرت سلیمان علیه السلام به هوائي سفر کولو ، او هد هد مرغی به نهایت لـری ځـای نه پټ راز راوړلو ، د قـوم سـباء او د دی د ملکـی " بلقـیس " او د دی غـیر معمـولي او نهایت عظیم الشان شاهي تخت خبر حضرت سلیمان علیه السلام ته هم هد هد ورکـړی وُ ، او بیا د حضرت سلیمان علیه السلام یو ووزیر چاته چـی د کتـاب الهـي علـم وُ (اسـم اعظم یی یاد وُ) دا کرامت وښودلو چی د سترګو په رپ کی د بلقیس شاهي تخـت راوړ او د سلیمان علیه السلام په وړاندی یی کیښود . د قرآن کریم سورت نمل وګورئ . کـه د امریکی خلابازان سپوږمی ته ورسي او شګی او کـاڼي راوړي نـو پـدیکی د تعجـب څـه

خبره ده داسی کار خو خناورو (هد هد وغیره) هم کړیدی ، د الله تعالی له طرفه چی چا ته څه قسم توفیق ملاو شي هماغسی کار کوي ، په قرآن کریم کی دي : " من كان يريد الحرث الآخرة نزدله فى حرثه ومن كان يريد حرث الدنيا نؤته منها وماله فى الآخرة من نصيب " (سورت شورى) یعنی څوک (مؤمن) چی د اخرت د فصل د ثواب خواهش مند وي نو مونږ ورته خپل فصل کی (اخروي نعمتونو کی) ترقي ورکوو ، او څوک چی (د دنیا بنده) د دنیا فصل (د ترقي ، عیش و آرام) خواهش مند وي نو مونږ ورته پدیکی حصه ورکوو او د آخرت په نعمتونو کی ورته هیڅ حصه نشته .

اکثر خلک وائي چی سپوږمی ته رسیدل پدی وجه محال دي چی سپوږمی په آسمان کی ده او هلته د ملائکو پهره ده او په دلیل کی د قرآن دا ایت پیش کوي : " تبارك الذى جعل فى السماء بروجا وجعل فيها سراجا و قمرا منير " یعنی هغه عالیشان ذات دي چا چی په آسمان کی برجونه (لوی لوی ستوري) جوړ کړي او پدیکی چراغ (لمر) او نوراني سپوږمی پیدا کړی (سورت فرقان) (۲) " او جعل القمر فيهن نورا وجعل الشمس سراجاً " (سورت نوح) یعنی او الله تعالی په آسمانانو کی نوراني سپوږمی پیدا کړی او لمر یی چراغ او ډیوه جوړه کړی ده .

په پورتني ذکر شوي دواړو ایتونو کی دي چی الله تعالی سپوږمی ، لمر وغیره په آسمانوکی پیدا کړي دي ، د دی خواب دا دی چی بیشکه لمر ، سپوږمی په آسمانو کی دي لیکن د آسمان مفهوم ډیر وسیع دی ، په عربي کی کوم شی چی پورته او اوچت وي هغه ته " سماء " آسمان وائي "اريد بالسماء السحاب فان ما علاك سماء" (تفسير بيضاوى شريف ص ٢٦)

د امام راغب په مفردات القرآن کی دي : د هر شي پورتنی حصي ته آسمان ویل کیږي " سماء كل شئ اعلاه " (ص ٢٤٣ ، ٢٤٦) عربی .

د قرآن په ژبه او اصطلاح کی د سما (آسمان) اطلاق د آسمان نه لاندی فضا او وریخ باندی هم کیږي ، په قرآن پاک کی دي : " وانزلنا من السماء ماءً " یعنی مونږ (الله) د آسمان نه اوبه نازل کړي (سورت بقره) او " وانزلنا من السماء ماء طهورا " (سورت فرقان) یعنی مونږ له آسمان نه پاکی اوبه نازل کړي ، او حال دا چی په ظاهر

کې د باران اوبه څڅکې ته له وریځو نه راځي لکه په قرآن پاک کې چې دي : " وانزلنا من المعصرات ماء ثجاجا " (سورت نباء) یعني : مونږ د اوبو نه ډک شوو وریځو نه په شیبو شیبو باران وروو ، پدې ایتو کې وریځ لپاره د " سماء " لفظ راوړی شویدی همدا راز دغه فضا او خلا لپاره هم د سماء لفظ راوړی شویدی د تیر شوي عـ۱ او عـ۲ ایتونو په موجب لمر او سپوږمی هم پدې فضا کې دي پدې وجه ویلی شویدي " جعل فیها سراجا وقمرا منیرا " یعني : مونږ پدې آسمان کې چراغ او روښانه سپوږمی جوړې کړیدي .

په تفسیر حقاني کې دي : السماء (آسمان) په څو معنو کې استعمالیږي ، افق ته هم سما ویل کیږي ، وریځې ته هم " سماء " او آسمان ته هم ، په اصل کې د سماء اطلاق پورته څیز باندې کیږي ، که هغه وریځ وي او یا آسمان ، دلته په " وانزلنا من السماء ماء " کې وریځې مراد دي ځکه چې باران له هغه نه راځي او د آسمان مرادول هم ممکن دي (۸۹\۲) .

د جدید سائنس تحقیق دا دی چې ستوري او سپوږمی وغیره آسمان نه لاندې دي د دې تائید د حضرت عباس رضی الله عنه د روایت نه کیږي چې فرمائي : " ان النجوم قنادیل معلقة بین السماء والارض " یعني بیشکه ستوري د آسمان او دځمکې تر منځ د نور په ځنځیرونو کې تړلی شویدي او دا ځیځیرونه د ملائکو په لاسو کې دي (روح المعاني ۵۰\۱۳) .

د پورتني روایت په نقل کولو سره د روح المعاني صاحب علامه آلوسي بغدادي رحمه الله لیکلي : ظاهره ده چې ستوري وغیره په آسمانو کې ندي لکه څنګه چې د قدیمي فلاسفه وینا ده ، بلکې دا پدې فضا کې ځوړند دي او له همدې نه د جدید سائنس تائید کیږي کوم چې وائي : ستوري وغیره د کشش د طاقت په ذریعه ځوړند دي : " وظاهر هذا ان النجوم لیست فی جرم افلاك كما يقول الفلاسفة المتقدمون بل معلقة فی فضاء ويقرب عنه من وجه قول الفلاسفة المحدثين فانهم يقولون بكونها فی فضاء ايضاً لكن يقول متجاذبة " (روح المعانی ۱۳\۵۰) .

او حضرت مولانا نانوتوي رحمه الله ګلونه وړاندی لیکلي دي چی :
که چیرته ټول ستوري د آسمان نه لاندی ومنو او لمر د عالم مرکز تجویز کړی شي او د آسمان نه شاوخوا ځمکه وغیره متحرک او ګرځیدونکی تجویز کړی شي نو د دوی د (مسلمانانو) هیڅ نقصان نشته او نه د دوی په رأی او مذهب کی څه خلل او نقصان راځي . (حجة الاسلام) .
او حکیم الامت حضرت مولانا تهانوي رحمه الله لیکي : په مسلمانانو کی د ځینو تحقیق دا دی چی لمر او ستوري په آسمان کی خخ شوي ندي بلکی دا په خلاء کی قائم دي او پدی خلاء کی چی د دوی دحرکت مدار دی همدا د دوی فلک دی (فلک الیقین ص ۲۱۱) .
حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائي : فلک " سماء " آسمان دی او د جمهورو رأیه ده چی د آسمان نه لاندی راغونډ شوی فضاء فلک دی او پدیکی سپوږمی ، لمر او ستوري ګردش کوي : " عن ابن عباس رضی الله عنه الفلك السماء والجمهور على ان الفلك موج مكفوف تحت السماء تجرى فيه الشمس والقمر والنجوم " (تفسیر مدارك ۲\۲۲۱\۱۲) .
د قرآن کریم له ځینو آیاتو نه معلومیږي چی سپوږمی وغیره د آسمان نه لاندی حصه کی دي ، په سورت صافات کی دي : " انا زينا السماء بزينة الكواكب " یعنی : بیشکه مونږ نزدی آسمانو ته د ستورو په ذریعه رونق ورکړی دی ، او د حم سجده او د ملک په سورت کی دي : " زينا السماء الدنيا بمصابيح " یعنی : مونږه نزدی آسمان په ستورو باندی ښایسته کړی دی .
پدی آیتونو کی د " السماء الدنیا " لفظ غور طلب دی ، په ظاهره باندی د آسمان نه لاندی حصه یا لاندینی فضاء مراد دی یعنی لکه څنګه چی په چت کی قندیل ځوړند شوی وي ، پدی سره چت ښایسته ښکاري ، همدغسی د آسمان لاندی سپوږمی ، لمر او ستوري ځوړندی دي او پدی سره د آسمان چت ښایسته کیږي ، د سائنس له ترقی نه مسلمانانو ته ویریدل او حیرانیدل ندي پکار ، رشتیا هیڅکله شکست او ماتی نه خوري ، سائنس چی هر څومره ترقي کوي دی سره د اسلامي اعتقادات ، معجزی او کراماتو تائید او تقویت کیږي .

د سلیمان علیه السلام تخت په هوا کی گرځیدل ، د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د مسجد نبوي له منبر نه (د خطبی ورکولو دوران کی د لښکر مشر ساریه ته کوم چی د عراق په محاذ کی د جنگه په میدان کی و) په یا ساریة الجبل اواز کولو سره تنبیه او خبرداری کول ، د قیامت په ورځ د بني آدم د اندامونو گواهي ورکول او د گناهونو اقرار کول . او د دی پشان تصورات او عقائد ،هوائي جهاز (طیاره) . راکټ . وائرلس . تیلي فون ، تیلي وژن وغیره ایجاداتو څخه تائید حاصلیږي ، " تبارك الذی بیده الملك وهو علی كل شيئ قدیر " د رسول الله صلی الله علیه وسلم دمعراج باره کی ځینو مخالفینو استدلال کاو چی د هوائي طبقي پورتنی حصه کی چی کومه خلاء ده پدیکی د هوا نشتوالي په وجه هیڅ کوم ذی روح ژوندی نشي پاتی کیدی ، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم چی د هغه ځای تیر شو نو ژوندی څنګه پاتی شو ؟ اوس مونږ ه وایو خلاء بار [illegible] پورمی ته تلونکی څنګه ژوندی پاتی کیږي ؟

په قرآن شریف کی دي : جنتیان او دوزخیان به یو بل ویني او سره پیژني به او په خپلو کی به سره خبری هم کوي " ونادی اصحب الجنة اصحب النار ان قد وجدنا ما وعدنا ربنا حقا فهل وجدتم ما وعد ربکم حقا قالوا نعم " (سورت اعراف) یعنی : جنتیان به دوزخیانو ته اواز وکړي او وائي به مونږ سره چی زمونږ رب کوم وعده کړی وه هغه مو بالکل رشتیا وموندله ، تاسو سره چی ستاسو رب کوم وعده کړی وه (چی جهنم ډیر د تکلیف ځای دی) نو تاسو هم دغه رشتیا وموندله ؟ هغوی به ووائي چی آو ! د الله او د رسول صلی الله علیه وسلم ټولی خبری مو رشتیا وموندلی ، او همداشان نور سوال و ځواب به هم وي ، په سورت مدثر کی دي : " الا اصحاب الیمین فی جنت یتساءلون عن المجرمین ماسلککم فی سقر قالوا لم نك من المصلین ولم نك نطعم المسکین وکنا نخوض مع الخائضین وکنا نکذب بیوم الدین حتی اتانا الیقین " یعنی خلک به د گنهگارو نه تپوس کوي چی تاسو څه شي دوزخ ته داخل کړئ ؟ هغوی به ووائي چی مونږه لمونځ نه کولو او غریبانانو ته مو خوراک نه ورکولو او د خبرو جوړونکو سره مو خبری جوړولی او دقیامت ورځ مو نه منلو تر دی چی رشتیا خبره (مرگ) راورسید (سورت مدثر) .

د خلکو اعتراض دا و چې د جنت او جهنم تر منځ ډیره زمانه مسافه ده نو یو بل به څنګه وینې او څنګه به پیژني او سوال و ځواب به څنګه کوي ؟ د دی هم ځواب پیدا شو د امریکی صدر خلابازان په سپوږمی باندی کوزیدونکي ولیدل ، وی پیژندل خبری یې ورسره وکړی ، مبارکي یې ورکړه او دعا یې ورته وکړه او په سپوږمی باندی ارمستروڼګ (armstarweng) د صدر شکریه ادا کړه ، او نوری خبری د دنیا مخی ته راغلي دي ، سپوږمی والا آسمان آخري منزل ندی ، دا خو د پورتني عالم ابتدائي افق دی . لدینه پورته اوه آسمانونه دي ، د هر یو تر منځ (۵۰۰) سوه کاله مسافه ده او په اوم آسمان کې جنت دی او دجنت (۱۰۰) درجې دي د هری درجې تر منځ د (۵۰۰) سوه کالو مسافه ده ، یعنی (۵۰۰۰) زره کالو مسافه شوه او بیا پدی باندی عرش عظیم دی ، "سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم"

د ستورو باره کې د حضرت قتاده رضی الله عنه بیان دی چې الله تعالی ستوري دریو کارو لپاره پیدا کړیدي (۱) د آسمان ښایست لپاره (۲) د غیب نه خبری اوریدونکو شیطانانو د شړلو لپاره (۳) د شپې لخوا د مسافرو راهنمائي لپاره .

نو څوک چې لدی دریو فایدو نه علاوه د بلی فایدی مثلاً د غیبي خبرو د حاصلولو کوشش وکړي ، هغه غلطي کوي ، خپل وخت ضایع کوي او کوشش یې بې فایدی کرځي (تعلیقات بخاري) .

پدی ځای کې د حضرت مولانا سید محمد میان صاحب له رسالی " آسمان اور چاند تارے " نه څه مضمون د استفادی په غرض وړاندی کولی شي .

آسمان ، د آسمانونو ترتیب او خپل منځي فاصله :

پخواني او قدیمي فلاسفه و آسمان نه ؤ لیدلی ، بیشکه ستوري یې لیدلی وو او د دوی ګردشونه ، حرکتونه یې محسوس کړي وو ، مثلاً یو حرکت دا دی چې پدیکی ټول ستوري د مشرق نه مغرب او مغرب نه تر مشرقه پوری چکر لګوي ، لدی چکر نه شپه او ورځ پیدا کیږي ، دا د مشرق نه مغرب ته وي ، د بې‌شمیره ستورو یو مرصع او محکم څپر دی ټول ستوري پدیکی نښتی دي ، د دوی خپل کوم حرکت نه معلومیږي البته د شپې او ورځی له حرکت سره دوی هم حرکت کوي ، دوی ته ثوابت (پخپل ځای باندی محکم) وائي ، لدوی نه علاوه اوه ستوري داسی دي چې خپل حرکت هم لري . د چا حرکت پوره یو کال کې ختمیږي ، د چا یوه میاشت کې او د چا لدینه په زیات

وخت کی ، د دوی دا ذاتي حرکتونه مختلفو جهتو کی وي د چا مشرق په طرف او د چا کوم بل طرفته ، او د چا حرکت سیده وي او د چا کوږ دغو اوو ستورو ته " سیارات " وائي ، پدوی کی لمر او سپوږمی هم دي ، د هیئت او د فلسفی استاذانو د خپلو رصدګاهونه هم مشاهده کړیده ، دا اوه سیارات په یوه سطحه باندی ندي ، بلکی یو د بل نه وروسته ، لاندی او بره دي ، او نهایت عجیبه خبره دا ده چی د دوی د حرکت خطونه (کربنی) مقرر دي ، دا کربنی سیده ندي بلکی ګول او دایروي دي د دوی حرکتونه په همدی دایرو کی وي ، لکه ځنګه چی د شپې او ورځ په ترتیب کی فرق نه راځي ، همداشان د دوی په ذاتي حرکتو کی کوم چی په معلومو دایرو کی وي هم څه فرق نه راځي ، ګویا چی دغه ستوري پدی دایرو (مداراتو) کی پابند او نښتي دي ، اوس د فلاسفه یوه ډله خو هغه ده چی همدی ته فلک وائي ، د فلک اصلي معنی "ږیره" دي د دوی په نزد د ستورو د دی دایرو (مدار النجوم) نوم فلک دی کوم چی یو خیالي او فرضي شی دی، فلک کوم جرم او جسم نه لري .

د فلاسفه و بله ډله د افلاکو جرم او جسم هم مني ، د دوی وینا دا ده چی د هری ستوري یو فلک دی لهذا د اوه ستورو اوه افلاک دي ، او بیا په یو فلک کی دننه کم نه کم دوه فلکه نور وي چی د ستورو د حرکت سره خاص تعلق لري ، دیته " تدویر " او ځینی صورتو کی " متمم " ویل کیږي ، او هغه فلک چی سپوږمی پکی ده هغه ګویا ډبل دی د دی پورتني حصی ته زهره ویل کیږي ، هغه فلک چی عطارد پکی دی ، همداشان په فلک الشمس کی څه نور شکمی فلکونه دي پدی طریقه له اوه فلکونه (۲۵) فلکونه جوړیږي ، او د دی اوه افلاک نه پورته اتم فلک دی چی پدیکی ثوابت نختي دي ، مګر چونکی دا ټول افلاک داسی صاف او شفاف دي چی د دوی جرم په نظر نه راځي پدی وجه د اتم فلک ثوابت اول فلک باندی معلومیږي . (تصریح ص ۴ ، ۵)

د اتم آسمان نه بره فلک الافلاک دی یعنی نهم فلک او دا محدود جهان دی اصل حرکت کونکی همدا فلک الافلاک دی ، چونکی ټول افلاک له یو بل سره نښتي دي لهذا دا فلک الافلاک دی ، چونکی ټول افلاک یو بل سره نختي دي لهذا د فلک الافلاک سره باقي اته افلاک هم په یوه شپه او ورځ کی حرکت کوي دا حرکت د لمر پشان مشرق نه مغرب طرف ته وي

د فلاسفه و دغه ډله لاندی باندی (۱۳) کرښې مني کوم چې د پیاز د پوستکو پشان لاندی باندی دي ، د ټولو نه لاندی " ځمکه " ده ، د ده مرکز د پوره عالم مرکز دی او مرکز ثقل دی ، د ځمکې نه بره د اوبو کره ده کوم چې پوره کره نده ، د ځمکې د یوی حصی په پورته کیدو سره د ده کریت ناقص کړي دی ، د اوبو د کری د پاسه د هوا کره ده او د دی د پاسه د " نار " اور کره ده ، د دی څلورو کرو د پاسه اووه کری دي چې افلاک ورته ویل کیږي د دوی د پاسه د " ثوابت " کره او بیا هغه کره چې محیط عالم ده او دیته فلک الافلاک ویل کیږي (مجموعه ۱۳) .

قدیمي فلاسفه ؤ د افلاکو سره‌لهیات هم یوځای کړي رعلة العلل چا ته چې خدای ویل کیږي ، لدینه عقل اول پیدا شوی بیا د عقل اول نه فلک الافلاک او عقل ثاني پیدا شو ، تر دی چې دوی د نهو آسمانو سره لس عقلونه هم مني " عقول عشره " .

او دغه خلک دغه عقول او افلاک قدیم ګني او پدوی کی خرق او التیام محال ګني یعنی نه پدوی کی څه درز راتلی شي او نه خیروالی او نه په دوی کی څه سوري او لاره شته او کله چې پدوی کی څه درز نشي پیدا کیدلی نو د ا لتیام یعنی د جوړولو او د خیروالي د ګنډلو ضرورت هم نه راځي ، د دغه مسلک او مکتب د نظریې مطابق نه په آسمانو کی دروازی شته او نه پکی رفت و آمد کیدای شي ، او پدی وجه دا هم امکان نلري چې کوم جسم اګر که هغه د نبی الانبیاء خیر البشر (محمد صلی الله علیه وسلم) جسم وي بغیر د سورلي او یا د براق پشان سورلی باندی سوریدو سره د کوم آسمان نه تیر شي ،لهذا د دی معراج هم محال ګني .

دغه فلاسفه چې افلاک او آسمانونه یواځی خیالی نه ګني بلکی د دوی لپاره وجود مني د دوی د خیال مطابق دعلم هیئت تعلق اجسامو سره دی ، د فلاسفه و د دی اختلاف په بناء باندی علم هیئت ته هم دوه نومونه ورکولی شي ، (۱) هیئت مجسمه (۲) هیئت غیر مجسمه (شرح مقاصد و شرح چغمني وغیره د اجسامو بحث) .

اوه آسمانونه:

په کلام الله شریف کی دری لفظونه راغلي دي (۱) فلک (۲) سماء (۳) سماوات ، فلک یواځی دوه ځایه ، سماء (۱۲۰) او سماوات (۱۳۰) ځایه (پدوی کی د یو او دوه کمي زیاتي کیدای شي) کوم ځای چې د فلک لفظ راغلی هلته د ربړی او دایروي معنی جوړیږي ، دا " الفلک مجری الکواکب " (المفردات فی لغات القرآن) " الفلک مدار

النجوم " (قاموس) یعنی هیڅ کوم خاص جرم نلري تش یو فرضی دایره چې ستوري پکی حرکت کوي کوم چې د ستورو او سیارو مدار دی ، په قرآن کریم کی اکثر که فلک دوه ځایه راغلی دی ، په سورت انبیاء کی راځي " کل فی فلك یسبحون " او بعینه پدی الفاظو په سورت یسین کی دي " کل فی فلك یسبحون " واجب الاحترام منلی شوی مترجم حضرت مولانا شاه عبدالقادر رحمه الله د سباق په لحاظ دا ترجمه کړیده " ټول په یوه یوه دایره کی ګرځي " (سورت انبیا ء) او " هر یو په یوه یوه دایره کی ګرځي " (سورت یسین) .

آسمان :

د دی اصل معنی اوچته حصه ده ، سماء کل شیئ اعلاه (المفردات) یعنی د هر شي پورتنی حصي ته آسمان ویل کیږي ، سقف کلی شیئ وکل بیت و رواق البیت ، السحاب والمطر (القاموس) یعنی د هر شي چت ته د کور چت ته او برانډی ته "سماء" ویل کیږي او د وریځی او باران په معنی هم راځي (قاموس) چونکی د هر شي پورتنی حصی ته سماء ویل کیږي ،لهذا هغه فضاء چې پورته په نظر راځي دیته هم سماء ویل کیږي او آسمان ته هم سماء ویل کیږي . "قال بعضهم کل سماء بالاضافة الی ما دونها فسماء وبالاضافة الی ما فوقها ارضٌ الا السماء العلیا فانها سماء بلا ارض" د قرآن مجید تقریباً په (۱۲۰) ځایو کی لفظ پدی مختلفو معنی باندی راغلی دی ، یعنی پورتنی فضاء ، وریځ ، باران او چیرته د آسمان په معنی کی راغلی دی .

سماوات :

د لغت په لحاظ د سماء جمع دی او په کوم شي باندی چې د سماء اطلاق کیږي یعنی وریځ ، باران ، چت وغیره هلته د جمع لپاره سماوات هم ویل کیږي ، مګر حقیقت دا دی چې په (۱۳۰) ایتو کی چې السماوات راغلی دی نو په هر ځای کی دا شان عامه معنی مراد نده بلکی یو مخصوص حقیقت دی چې هغه نه پدی لفظ سره تعبیر کولی شي ، کله چې مسلمانانو د یونان فلسفه خپله کړه او دوی د دی استاذان شول نو دوی همدا افلاک سماوات وګرځول ، د سبع سماوات نه مراد هغه آسمان وګرځولو چې اوه

سیاری یکی دي او د اتم او نهم آسمان متعلق یی وویل چی د شریعت په اصطلاح کی دیته عرش او کرسي ویل کیږي (تصریح نمبر ۲) .
مګر حقیقت دا دی چی دا تاویل داسی دی لکه څنګه جدت پسندو چی دا ویلي وو چی د خر عیسی نه مراد ریلوی دی او د جن نه مراد د بیابان او د کلیو جاهل خلک دي .

آسمان او د شریعت نصوص :

په قرآن کریم او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ارشاداتو کی چی څنګه د سماوات (آسمانونه) ذکر راغلی دی لدینه د آسمانونو نوعیت بالکل جدا معلومیږي .
انسان ته چی بهترین وجود " احسن تقویم " ورکړی شویدی فلاسفه اګر که دا یواځی یو " حیوان " مني چی یواځی د فکر او ادراک د قوت په بناء له نورو حیواناتو نه ممتاز دی ، مګر د شریعت نصوصو دی لپاره روحانیت هم منلی دی او لدی عالم (جهان) سره یو بل عالم (جهان) هم منلی دی چی ورته عالم بالا " ملأ اعلی " ویل کیږي ، او د انسان له عالَم بالا سره ډیر ژور تعلق ظاهر کړی دی ، ملائکی د همدی عالم بالا مخلوق دی کوم چی انسان سره اوسي او حفاظت یی هم کوي او د ده هر عمل هم لیکي او ځای په ځای د ده امداد هم کوي ، که انسان ښه کار وکړي نو ملائکی یی قدر کوي او په بدو کارو سره ورنه نفرت کوي وغیره وغیره .
وریځ ، هوا ، ونه او کاني پدی تولو کی یو ثناخوان جوهر شته چی هر وخت د خپل رب تسبیح کوي ، د ملائکو تعلق د دی مادیاتو سره هم شته دوی د الله تعالی په حکم سره وریځی شړي او هواګانی چلوي وغیره .
لکه څنګه چی د انسان او د دی مادي شیانو تعلق ملاء اعلی او ملائکو سره دی د حدیثونو او د قرآن پاک له ایتونو څخه معلومیږي چی د آسمانونو تعلق هم ملاء اعلی سره شته او ډیر زیات تعلق یی دی بلکی د حدیث معراج او دغسی نورو احادیثو او د قرآن حکیم له کنو ایتونو نه دا فهمیږي چی اوه آسمانونه د همدی عالم بالا وجودي حقیقتونه دي ، او په قرآن پاک کی چی کوم قوت سره نه یواځی څو ځلی بلکی تقریباً (۱۲۰) ځلی د " سماوات " ذکر راغلی دی لدینه هم دا اخذ کیدلی شي او فهمیدلی شي چی د ملائک ، عرش ، کرسي ، روح او برزخ وغیره پشان سماوات هم الغیب کی داخل دي یعنی په هغو حقائقو کی داخل دي چی اګر که خپل وجود لري مګر زموږ مشاهده او تجربه ورته نشي رسیدلی ، لیکن زموږ حقیقي ژوندکي یعنی حیات

اخروي او د دی له کامیابی سره دا خاص تعلق لري ،لهذا د دی مثل ضروري دي ، د دی باوجود د کتاب الهي ډیر آیتونه داسی هم شته چی ترینه د آسمانونو نوعیت او د دوی د مخصوص هیئت او حیثیت تصور ثابتیږي ، مثلاً

(۱) (ثم استوی تر دخان) (سورت حم السجده (۱۰) ایت) او بیا د اسمان ته متوجه شو او دا د لوګي پشان و (شاه ولی الله) او بیا په آسمان استوی وکړه او دا لوګی و (شاه عبدالقادر) .

(۲) (وان یرو تر مرکوم) (سورت الطور عـ۴۴ آیت) که چیرته یو تخته د آسمان نه غورځیدونکی ووینی نو وای به چی دا ګني وریځی دي (شاه عبدالقادر) که چیرته ووینی یوه ټوټه له آسمان نه راغورځیدونکی نو وائي به چی دا وریځی دي یو د بل د پاسه (شاه ولی الله) .

(۳) (الم ترو تر سراجا) (سورت نوح عـ۱۴ آیت) ایا تاسو ونه لیدل چی الله تعالی څنګه اوه آسمانونه لاندی باندی جوړ کړیدي او روښانه سپوږمی یی پکی ایښی او بلیدونکی ډیوه لمر یی پکی ایښی دي (شاه عبدالقادر) .

(۴) (الذی خلق تر وهو حسیر) (سورت ملک ۴ ایت) هغه عزیز او غفور خدای چی لاندی باندی اوه آسمانونه جوړ کړیدي ایا د رحمان ذات په مخلوق کی څه فرق ګوري بیا دوباره نظر وکړئ چیرته درز وینی ؟ بیا دوباره نظر وکړئ واپس به راشي تاته ستا نظر رد شوش او ستړي شوي ، (شاه صاحب) .

(۵) (انا زینا تر الکواکب) (سورت صافات ۴ آیت) مونږه نزدی آسمان ته یو رونق او ښایست ورکړی چی ستوري دي (شاه صاحب) .

(٦) (وزینا تر حفیظاً) (سورت حم السجده (۱۲) آیت) او رونق ورکړی مونږ نزدی آسمان ته په چراغو سره (ایضاً) .

(۷) (وجعلنا فی السماء بروجا الخ) (سورت الحجر (۱۴) آیت) او مونږه په آسمان کی برجونه جوړ کړیدي .

(۸) (کیف بنیناها تر فروج) (سورت ق (۴) آیت) څنګه مونږ دی لره جوړ کړي او ښایسته کړي او هیڅ کوم سوری پکی نشته .

(۹) (ابواب السماء) (سورت اعراف (۴۰) آیت) د آسمان دروازی .

(۱۰) (هو الذی جعل الشمس تر الحساب) (سورت یونس (۵) آیت) هغه ذات دی چې لمر يې ځليدونکی او سپوږمۍ يې روښانه پيدا کړيدی او د دوی منزلونه يې مقرر کړي چې د کلونو په شمير او حساب باندی پوهه شي (شاه صاحب).
(۱۱) (والقمر تر يسبحون) (سورت يسين (۳۹، ۴۰) ايتونه)
او د سپوږمۍ لپاره مونږ منزلونه مقرر کړي تر دی چې د زوړ شاخ پشان پاتې شي، نه لمر سپوږمۍ رالاندی کولی شي او نه شپه د ورځی نه مخکی کيدی شي او هر يو پخپل دايره کې ګرځي (شاه صاحب).
(۱۲) (خلق السموات بغير عمد) (سورت لقمان (۱۰) ايت) جوړ کړيدی آسمان بغير د ستنو چې تاسو يې ګورئ (شاه صاحب) يعنی هيڅ په نظر راتلونکی ستن يې ورته ندی ودرولی.
(۱۳) (يمسک السموات) (سورت فاطر (۴۱) ايت) او آسمانونه او ځمکه يې ټينګ کړيدی چې ونه خوځي او که وخوځي نو د الله نه سوا هيڅوک يې نشي راټينګولی.
(۱۴) د سورت رحمن د (۳۷) ايت ترجمه شاه عبدالقادر صاحب داسې کړيده: او کله چې آسمان وچوي او شي د تلچهټ (د تيلو خيري) پشان.
پورتني ذکر شوي ايتونه او حديثونه د دی خبری د ګواهی لپاره کافي دي چې د فلاسفه راجوړ کړي افلاک او د قرآن پاک بيان کړي سماواتو تر منځ ډير لوی فرق دی.
(۱) فلاسفه افلاک قديم ګڼي او قرآن پاک ورته فاني او حادث وايي دا الله تعالی له نيست نه هست کړيدي او کله چې هغه ورځ راشي چې د هغه له هيبت نه ماشومان بوډاګان ګرځي نو دا آسمان به هم ميده ميده کيدو سره ختم شي، (سورت مزمل (۱۰، ۱۴) ايتونه).
(۲) فلاسفه ثوابت په اتم آسمان کی مني او قرآن کريم يواځی اوه آسمانه خودلي دي او ستوري فقط د دنيا آسمان سره متعلق ګرځولي دي (سوره حم السجده).
(۳) فلاسفه اوه سيارات په اوه آسمانو کی نښتي ګڼي، او قرآن کريم لدی سيارو نه يواځی د شمس و قمر ذکر کړی دی او د دی متعلق هم دا دي چې هر يو خپل خپل مدار کی ګرځي او حرکت کوي (سورت يسين او سورت انبياء).
(۴) فلاسفه کوم يو آسمان پوری څنګه رسيدلی شي؟ د دوی نظر هم په آسمانو باندی ندی لګيدلی، دا يواځی د دوی له ځانه جوړول او فلسفی قياس دی چې په آسمانو کی هيڅ لاره او دروازه نشته، مګر الله تعالی يواځی قياس او عقل ته معامله نده پريښی

بلکې ده خپل بنده چې په نوع انساني کې د ټولو نه ریشتینی بنده دی کوم چې د ده دشمن به ورته هم الصادق الامین ویل ، آسمانو ته بوتلو او نه یواځې د اوه آسمانو بلکې د آسمانو څخه هم د اوچتو مقاماتو سیل وکړ او دغه صادق مصدوق د دی ټولو مقاماتو پوره بیداری او هوش مندي او خلاصو سترګو سره مشاهده وکړه (سورت النجم). دی صادق او امین ګواهي ورکړی او په واضح الفاظو سره فرمایلي دي چې سماوات اوه دي او د آسمانو دروازی او پاټکونه شته او څوکیداران پری مقرر دي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې به هر آسمان ته ورسید او دروازه خلاصول وغوښت نو د دغه دروازی څوکیدارو ملائکو به تپوس وکړ " څوک " ؟ د سید الانبیاء د سفر ملګري حضرت جبریل علیه السلام به ځواب ورکړ : " جبریل " بیا به تپوس وکړ چې تاسره څوک دي ؟ جبریل امین به ویل : ماسره محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دی ، څوکیداران : ایا دوی ته دعوت ورکړی شوی دی ؟ جبریل : بیشکه دی دعوت شویدی ، لدی تحقیق نه وروسته په خوش آمدید ویلو سره دروازه خلاصه کړي او بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم او جبریل امین دننه شویدي ، دی صادق امین اول آسمان کې سپوږمۍ نه دي لیدلی بلکې حضرت آدم علیه ا لسلام یی لیدلي او ملاقات یی ورسره کړی هغه ورته ویلی : مرحبا بالنبی الصالح والابن الصالح ، د حضرت آدم علیه السلام ښي او چپ طرف ته د ده ټول اولادونه ولیدل او بیا دغه شان حضرت یحیی ، حضرت عیسی ، حضرت یوسف ، حضرت ادریس ، حضرت هارون ، حضرت موسی او حضرت ابراهیم علیهم السلام سره په جدا جدا آسمانو کې ملاقاتونه کړي دي ، ایا قدیمي فلاسفه خپلو له ځانه جوړ کړو افلاکو کې د دغه مقدسی نظاری صلاحیت ویني ؟

جدید سائینس او آسمان

پدی موقع باندی مونږ ته د پخوانی غلطی دوباره تکرارول هرګز نه دي پکار چې مونږ د قرآن نصوص د جدید سائنس فارمولو او یا د دی تحقیق ته ورپریدو ، د قرآن کریم ایتونه محکم او د تردید او نسخ نه بلند و بالا دي د دی په مقابل کې انساني عقل د تحقیقاتو منزلونه طی کوي او هره ورځ نوی انکشاف کیږي ، اګر که د دی دغه ګواهي هم ډیر پخوانی دی چې نامکمل کیدو باوجود کله چې د شریعت په نصوصو باندی نظر اچوي نو خپل ځان ناقص نه ګني بلکې خپل ځان کامل او مکمل ګنهي او پخپل ګمان په نصوصو باندی دا احسان کوي چې د دی تکذیب و تردید نه کوي بلکې د منشاء مطابق تاویل پکې کوي ، یعنې کومه معنی ورته ورآغوندي ، مګر راتلونکی دور او

وخت فیصله کوي چې هغه همدا دی پخپله د نظر فریب او غلطی وه ، حقیقت بل څه و پدی وخت کی بیا یو حقیقت پسند ته یقین کول لازمیږي چې د کلام الله آیت په هر حال ناقابل تأویل و ترمیم او واجب الاحترام دی .

پدی وخت کی " آسمان " په اړه بحث روان دی ،لهذا د آسمانونو په سلسله کی یو مثال وړاندی کولی شي چې لدینه یو طرف ته د فلسفی او د سائینس د ارتقاء انـدازه کیږي او بل طرف ته د عقل انساني پاتی والی او د پاتی والي سـره د دی د غـرور او د باطل زعم هم اندازه کیږي .

مثال : د قرآن حکیم کوم آیتونه چې پورته بیان شول پدوی کی د ټولو نه اولنی ایت واخلئ ، پدی کی د آسمانو متعلق وائي : " وهي دخان " (هغه لوګی و) کلـه چـې د آسمانونو اصل دخان ښودل شویدی نو په قدرتي طور باندی دا سوال کیږي چې مونږ ته هغه ولي په نظر نه راځـي ؟ مګـر د دی سـوال ځـواب د قرآنـي ایتونـو پـه وړانـدی کیښودو سره ورکول کیږي چې که دخان په نظر راشي نو دا ضـروري نـدی چـې کـوم شی له " دخان " نه جوړ شوی هغه دي هم په نظر راشي .

د قرآن پاک د واضح آیتونو مطابق جنات او شـیاطین د اور نـه پیـدا شـویدي ، (سـورت رحمن (۱۵) ایت ، الحجر (۲۷) ایت وغیرهما) اور مونږ تـه ښکـاري مګـر د دی مخلـوق جنات او شیاطین نه ښکاري ، لدینه علاوه دویم سوال فلسفي دی چـې د دی " دخـان " حقیقت څه دی ؟ که څیرته مونږ د عقل پـه کوتـاهي اعتـراف وکـړو نـو آسـان او سـیده ځواب دا دی چې لکه څنګه مونږ ته د ډیرو حقیقتونو علم نشـته ، تـر دی چـې د خپل حقیقت هم راته علم نشته ، همدا راز مونږ ته د دی " دخان " د حقیقت هم علـم نشـته ، لیکن فلاسفه و پدی ساده او صاف ځواب باندی قناعت ونه کړ دوی د دی " دخان " په حقیقت باندی هم رڼا واچوله لیکن " فکر هر کس بقدر همت او ست " .

د دولسمی عیسوی صدي مشهور اسلامي فیلسـوف امـام فخـر الـدین رازي رحمـه الله د "دخان" متعلق بحث نه وروسته د خلاصې په طور فرمایلي دي : " لا معنی الـــدخان الا اجزاء متفرقة غیر متواصلة عدیمة النور " د دخان مطلب همـدا دی او لدینـه عـلاوه بل هیڅ مطلب نشته چې متفرق اجزاء کوم چې ځپلو کی سره نښتـي او یوځـای شـوي نه وي او رڼا پکی هم نه وي (تفسیر کبیر ۷\۲۵۵) .

تقریباً اته سوه کالو کی سائنس ترقي وکړه ، علامـه طنطـاوي د څلـور ویشتمی عیسـوي پیړۍ د جدید سائنس ماهر دی او د قرآن پاک هر ځـای کـی د ده سـائنس تـر سـترګو کیږي ، فرمایئ "دخان ای مادة غازي نارية ، اشـــبه بالـــدخان او بالســـحاب او السديم" یعنی یو ترقي پذیر او آلوده ماده چی د لوګي سره مشابه وي یـا د وریځـو یـا د ناله ، خړه سره بیا فرمائي : د دی هم یو جهان دی د اوسـني دور پـه جدیـد علـم کـی ورته عالم سدیم ویل کیږي ، او د جدید سائنس ماهرینو دغـه قسـم د (۶۰) زره عـالمونو مشاهده کړیده ، دا تر اوړدی مودی پوری حالت سدیمیه باندی وي بیا هغه د " تکـوین " مراحل طی کوي ، ډیر عالمونه دي چی د " ساخت او وجود " په اوله مرحله کـی دي او ډیر داسی دي چی د تمام او کمال ته نزدی دي خو تر اوسه مکمل شوي نـدي ، او لکه څنګه څمونږ دا نظام شمسي دی چی پدیکی مونږ اوسیږو او موجـود یـو ، دغسـی ډیر زیات شمسي نظامونه دي (د فارس د علماؤ پـه اصـطلاح (۱۸) زره عالمونـه (۱۸ زره جهانه) شاید صحیح دي ، محمد میان) او پـدوی کـی دغسـی سـیاری دي لمـر دی او ځمکی دي (ص ۹۰ ج ۱۹) .

د مزید تفصیل لپاره دی کتاب وکتلی شي .

د قرآن پاک ایت پخپل ځای دی عالم اسلام (۱۴) سوه کالو نه دا پدی شان تلاوت کوي ، لدینه وروسته یو طرف د حضرت رازي تحقیق دی په کوم باندی چی دی تر دی حده ناز کوي او فرمایي " لدینه علاوه د دخان بله کومه معنی کیدلی نشي " او بل طرف تـه د علامه جوهري طنطاوي سـائنس نـواز تحقیـق دی چـی : " اګـر کـه د آسـمان صـحیح صحیح معلومات دوی ته هم نشته مګر بی شمیره عالمونه او جهانونه بنـایي ، پـدی بنـاء عقل مندو " د عقل تعریف کړیدی " د نادانی اعتراف " ابوالشکور بلخي فرمایي :

شـــاید انجـــار سیـــد دانـــش مـــن
کـــه دانـــد همیـــن کـــه نـــادانم

یقیناً چی سلف صالحین عقل منـد او هوښیـاران وو ، دوی د ددی تولـو حقـائقو متعلـق فیصله کړی وه چی دا سوال " کیف " څنګه او په څه طریقه غلط دی ؟ د سلف صـالحینو مسلک نهایت صحیح او پوخ وُ چی قرآن پاک په عربي ژبه کی دی دی پخپلـه څـو څـو خله ویلی دی " بلسان عربی مبین " بس په قرآن پاک کی چـی کـوم الفـاظ دي د دوی

ترجمه هغه کول پکار دي کوم د فصیح او بلیغ عربي په لحاظ سره کیدل پکار دي ، پاتی دا چی څنګه او ولی ؟ د دی علم دی عالم الحقائق ، خالق کائنات ته حواله شي .
" حدیث از مطرب و مے گودراز دهر کمتر جو؛ بحکمت کس نکشودست و نکشاید این معمه را "
مګر څمونږ مطلب دا ندی چی غور وفکر ممنوع دی مطلب دا دی چی غور و فکر باندی اعتماد او همدا حرف آخر ګڼل غلط کار دی .
د خبرو ختمولو نه وړاندی دا بیانول هم ضروري دي چی د کتاب الهدی یعنی د قرآن کریم د استدلال طرز منطقی یا فلسفي ندی ، د کوم څخه چی خاص خاص افراد متأثره کیدلی شي بلکی دا خطیبانه انداز کی استدلال کوي یعنی د دی نظر په ذهنونو باندی وي او کومه خبره چی په ذهنونو کی ناسته وي او داسی ناسته وي ګویا چی دی یی مشاهده کوي ، د دغی خبری په پیش کولو سره د فکر قوت رابیداروي .
د عوامو په ذهن کی دا خبره ناسته ده او دی لره دوی د مشاهدی غوندی یقیني خبره ګڼي چی لمر ، سپوږمی په آسمانو کی دي ، د سورت نوح او د ملک له ذکر شوي ایاتو له اسلوب نه هم همدا ذهن د نظر لاندی دي او که نه ظاهره خبره ده چی کله آسمان په نظر نه راځي نو دا به څنګه معلومه شي چی دا لاندی باندی دي او په دوی کی کوم سوری یا چود نشته ، او لمر سپوږمی په آسمانو کی دي ، مګر چونکی د عوامو ذهن او خیالل همدا دی او دوی دا د مشاهدی پشان یقیني ګڼي ، نو قرآن پاک هم همدغه ذهن مخکی اینبودو سره استدلال کوي .

د شریعت پیروي کولو باوجود مصیبتونه ولی ؟

(۹ سوال) د الله تعالی په فضل و کرم سره زه لمونځ کوم ، د روژی هم پابند یم ، د شرعي منکراتو او منهیاتو څخه هم حتی الامکانِ ځان ساتم مګر بیا هم د رزق د اسبابو برابرولو باوجود په مشکل سره ګزاره کیږي ، دی لپاره یوه مناسب وظیفه ښودلو سره ممنون او مشکور وګرځوئ .
خواب : روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : ځینی ګناه داسی وي چی کفاره یی نه په لمونځ سره کیږي او په روژه سره او نه په حج او عمری سره ، صحابه کرامو عرض وکړ یارسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دغو ګناهونو کفاره په څه سره کیږي ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چی : د رزق په حاصلولو کی چی کوم تکلیف او درد رسیږي پدی سره د هغو کفاره کیږي ،لهذا د پریشانه کید

ضرورت نشته . د ګناه له کارونه ځان ساته ، الله تعالی مشکلات اسانه وي که کیدای شي نو روزانه (۵۰۰) سوه کرته " حسبنا الله و نعم الوکیل " وایه انشاء الله د ټولو غمونو او پریشانیو څخه به نجات حاصل شي . فقط والله اعلم بالصواب .

د " نعل شریف " نقشه د دعا د قبولیت لپاره سرته کیښودل څنګه دي؟

(۱۰ سوال) د دعا د قبولیت لپاره د نعل شریف نقشه په ادب سره سر ته کیښودل او په عاجزی سره الله تعالی ته ویل چې : " ای الله ! د دی نقش په برکت سره زما فلانی حاجت تر سره کړه " او بیا نقشه د سر نه لری کړي او مخ باندی وګرځوي او ښکل کړي ، نو دغسی کول شرعاً څنګه دي ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : بیشکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکی جامی ، قمیص ، لنګ ، جبه او ویښته مبارک ډیر زیات برکتي او قابل تعظیم او زیارت دي ، دغو لره د محبت ، عظمت او حسن عقیدت سره ښکلول ، په سر ایښودل ډیر سعادت او د دعا د قبولیت لپاره زیات مؤثر دي او د صحابه کرامو له تعامل نه هم ثابت دي ، وګورئ فتاوی رحیمیه ګجراتي ۲۵۰\۱۲ ، ۲۷۸) .

او حضرت مولانا خلیل احمد مهاجر مدني لیکي : د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارکی روضی د خاوری هغه حصه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم جسد اطهر او مبارکو اندامونو سره پیوست ده هغه د کعبی شریفی عرش او کرسي نه هم بهتره ده ، (التصدیقات ص ٦) .

مګر دا فضیلت د اصلي اثارو او د سندي تبرکاتو لپاره دی د نقلي نقشی او تصویرونو دا حکم نه دی او د صحابه کرامو له عمل نه هم ثابت ندي ، د خانه کعبی طواف عبادت دی د حجر اسود ښکلول عبادت دی نو ایا د دی د نقشی او تصویرونو هم همدا حکم دی ؟ چیری هم نه ! .

مشهوره واقعه ده چې حضرت معاویه رضی الله عنه د خانه کعبی طواف وکړ نو دوی څلورو واړه کنجونه ښکل کړل ، حضرت ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل : یواځی دوه کنجونه د حجر اسود او د ذی بل اړخ ته دویم کنج (رکن یماني) رسول الله صلی الله علیه وسلم ښکل کړي ؤ ، حضرت معاویه رضی الله عنه پدی وخت کی خو په جذبه کی وفرمایل : " د دی باعظمت کور هیڅ یوه حصه قابل ترک نده (ګویا هر طرف ښکلول

پکار دي) مګر کله چې ابن عباس رضی الله عنه دا وفرمايل : " لقد كان لكم في رسول الله اسوة حسنة " يعنې ستاسو لپاره د رسول الله صلی الله علیه وسلم عمل بهترينه نمونه ده ، نو حضرت معاويه رضی الله عنه ورته تسليم شو او ابن عباس رضی الله عنه ته يې وفرمايل : " بيشکه ستاسو خبره صحيح ده " يعنې د اجر و ثواب او د برکت باعث هغه دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ثابت دي (مسند امام احمد) لدی واقعې نه هم د نعل شريف د نقشي او تصوير مسئله معلومولی شي ، فقط والله اعلم بالصواب .

کوم سړی چې د الله د وجود نه انکار وکړي هغه مسلمان دی یا نه ؟

(۱۱ سوال) يو مسلمان دغه لانديني کلمات ويلي دي " ما د الله تعالی منل پرينبي دي (معاذ الله) څکه کوم خلک چې د الله وجود نه مني هغه ډير خوشحاله شويدي لکه د يورپ قومونه چې د الله تعالی وجود نه مني نو په هوايي جهازونو کې ګرځي او مونږ تر اوسه دين پسی لګيدلی يو " (معاذ الله) هغه پدی خپل بکواس باندی ټينګ دی خلک يې پوهوي نو نه يې مني او دليل پيش کوي نو داسی سړی لپاره په شريعت کې څه حکم دی ؟ وضاحت وکړئ .

ځواب : دا سړی بدعقيده ، ملحد او بی دينه معلوميږي په ده باندی توبه ، تجديد د ايمان او دنکاح لازم دی[1] ، فقط والله اعلم بالصواب .

مسلمانو په مندر کی امداد وکړ پدی سره د هغوی په ایمان کی نقص راځي یا نه ؟

(۱۲ سوال) تیر کال څمونږ پدی ځای کی يو مندر جوړ شوی د دی سنګ بنیاد څمونږ د جومات متولي ايښی ؤ او بل متولي د هغه افتتاح وکړ او دغو دواړو متوليانو د دی

---

[1] رجل قال لآخر از خدايي بترس فقال خدائی كجاست يكفر (فتاوی عالګیری احکام المرتدين ما يتعلق بذات الله الخ ج ۲ ص ۲٦۲) .

مندر په جوړولو کی مالي امداد وکړ او نورو مسلمانانو ته هم د مدد کولو درخواست وکړ او وی ویل چی دوی سره مدد کولو کی هیڅ حرج نشته او پروا نشته ، نو د دوی په درخواست سره مسلمانانو په خوشحالی سره مالي امداد وکړ اوس د څو خبرو وضاحت پکار دی

(۱) پدی کار سره تجدید د ایمان او نکاح ضروري دي یا نه ؟ او د ایمان باقي نه پاتی کیدو په صورت کی تجدید د ایمان و نکاح ضروري دي یا نه ؟ (۲) مندر سره د مسلمانانو مالي امداد کول جائز دي یا نه ؟ (۳) کومو مسلمانانو چی مالي امداد کړی دی د دوی په ایمان کی نقص راځي که نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : په مندر جوړولو کی د مسلمانانو حصه اخستل او مالي امداد کول صحیح نه دي الله تعالی فرمائي : " ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان " (سورت مائده) یعنی دګناه او د زیاتي په کارو کی تعاون مه کوئ ، داسی معلومیږي چی د مروت او د لحاظ په وجه دا کار شوی دی‌لهذا د ایمان څخه د وتلو او د نکاح ماتیدو فتوی نشي ورکولی ، البته د ایمان د کمزوری علامه ده‌لهذا د خپلی غلطی په اعتراف کولو سره د الله تعالی په دربار کی توبه کول پکار دي ،هر قوم ته پکار دي چی خپل خاص مذهبي کارونو او د عبادتګاهونو متعلق کارو کی د نورو قومونو امداد قبول نه کړي ، خاص کر چی کله د دوی په مذهب کی دا کار د دین او ثواب نه دی[1] ، فقط .

د کوهي کنستو لپاره غیر مسلم سره مشوره کول او د هغه په خبره یقین کول :

(۱۳ سوال) ځمونږ د سورا شر د علاقی جاهل مسلمان زمیداران کله چی په ځمکه کی د کوهي کنستلو اراده وکړي نو ددی خبری د تحقیق لپاره چی اوبه به کوم ځای زیاتی وي ؟ یو کافر ته ورځي اوچی کله یی خوا ته ورشي نو هغه ورنه سوال کوي چی د څه لپاره راغلی یی ؟ مسلمان ورته وائي : دکوهي کنستل دي اوبه به کوم ځای کی زیاتی وي ؟ مسلمان دومره ووایئ او نور چپ شي لدینه وروسته هغه کافر د هغه ځمکی پوره پته ...... د هغه محل وقوع او علامات او د کوهي ځای ورته بنائي او مسلمان

---

[1] ــ وبشرائه یوم النیروز لم یکن یشتریه قبل ذلک تعظیما للنیروز لا للاکل والشرب وباهدائه ذلک الیوم للمشرکین ولوبیضته تعظیما لذلک (فتاوی عالګیری ، احکام المرتدین ما یتعلق بتلقین الکفر الخ ج ۲ ص ۲۷۷)

پدی عمل کولو سره کوهی کني ، ایا دغو خبرو لره په رشتیا ګڼلو سره پدی عمل کولی شو ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .
ځواب : دغسی قسم خبری د کافرانو نه پوښتل او یقین پری کول او بیا د دی مطابق عمل کولو سره خوشحالیدل ، کافرانه عمل او مشرکانه عقیده ده لدینه توبه کول پکار دي او که نه د بد انجام او خاتمی خطره ده ، دغسی قسم خبری بالکل په ذهن کی ګرځول ندي پکار . او دیته کمال او کرامت ویل نه دي پکار ، د دجال نه خو لدینه هم زیات عجیبه عجیبه خبری ظاهریږي ، مړي به ژوندي کوي ، او جنت او جهنم هم ورسره وي . خپل منونکي به جنت او نه منونکي به جهنم ته داخلوي . قحط سالي به وي چاسره به غلی دانی نه وي ، یوی دانی ته به محتاج وي ، پداسی حالت کی به باران وروي ، غله به پیدا کوي ،او په ده باندی ایمان راوړونکو ته به غله ورکوي ، پټ او دفن شوی خزانی به د ده تابع وي ، وغیره وغیره ایا د دغو خبرو په وجه هغه برحق ګڼلی کیږي ؟ نه هرګز نه ، بلکی د حدیث له مخی پدی وخت کی چی څوک د دجال خبری ومني هغه کافر کیږي او د ابدي اور مستحق ګرځي ،لهذا آینده دی هغه خوا ته د تلو نه توبه وکړي او نور خلک دی هم منع کړی شي[1] ، فقط والله اعلم .

د هندوانو تهوار (میله) " هولي " کی شریکیدل حرام دي

(۱۴ سوال) څمونږ په شاوخوا ډیرو کلیو کی چی کله د هندوانو " هولي " میله کیږي نو په زیات شمیر کی مسلمانان نر او ښځی د هولي د لمانځلو په وخت هلته ځي او پدی لمانځلو کی عملاً برخه اخلي او د دی موقع ټول رسومات ادا کوي ، ددی شاوخوا چکر لګوي تر دی چی ځینی خلک سجدی پوری هم کوي ، او کله چی صحیح عقیدی والا مسلمان دوی لره منع کوي نو هغوی ځواب ورکوي چی ستاسو څمونږ د اعمالو سره څه کار ؟ تاسو مونږ ته هیڅ مه وایئ ، او نامناسب الفاظ استعمالوي ، نو مونږ ته له دوی سره څه قسم رویه کول پکار دي ، او دوی څه قسم پوهول پکار دي ؟ ایا مونږ له دوی نه بالکل تعلق قطع کړو ؟ تاسو څمونږ راهنمائي وکړئ مهرباني .

---

[1] ــ که چیرته ذکر شوي مسلمانان دی لپاره کافر ته ځي چی د اثارو او علامو په لیدو سره ښودنه کوي چی پدی خای کی اوبه شته او پدی باره کی هغه تجربه لري ، د کهانت وغیره دخل نه وي نو په ورتلو کی څه پروا نشته او عملورباندی کیدلی شي لکه هد هد مرغی ته چی الله تعالی دا صفت ورکړی ؤ چی په ځمکه کی لاندی د اوبو خای به یی ښودلو ، حضرت سلیمان علیه السلام به د هد هد نه دا کار اخستلو .

ځواب : کله چی قبر پرستني او تعزیه داري کی شریکیدل او برخه اخستل جائز ندي نو په هولي کی شریکیدل او عملاً برخه پکی اخستل څنګه جائز کیدی شي ؟ د هولي نه ګیر چاپیره چکر لګول ، سجده کول او ناریل (کوپرا) وغیره وربانده اچول قطعا حرام او مشرکانه کاروونه دي [1]

دا خلک بی تعلیم او دیني علومو نه ناواقف دي او اسلامي تعلیم یی ندی حاصل کړی پدی بناء دوی او د دوی اولادو لپاره د دیني تعلیم بندوبست کول ، د حقه علماؤ وخت په وخت راغوښتل او ورته وعظ نصیحت کول ،د نمونځ عادي جوړول دا د دین لوی خدمت دی او پدی طریقه د دوی اصلاح کیدی شي ، له دوی سره نفرت کولو او تعلق قطع کولو کی د اسلام نه د دوی د وتلو خطره ده‌لهذا په حکمت عملي ، او نرمو خبرو او ښو اخلاقو سره د دوی پوهول او دوی لپاره د دیني علومو بندوبست کول ستاسو خلکو اسلامي فریضه ده ، که ستاسو د کوششونو په وجه د قوم یو سړی په سمه لاره روان کړی شي نو دا به د دین خدمت وي او د نورو لپاره هم سمی لاری ته د راوستو ذریعه ګرځي او دغه دیني کوشش به انشاء الله ستاسو لپاره د آخرت ذخیره جوړیږي ، فقط والله اعلم بالصواب .

د بزرګانو په طفیل سره دعا کول جائز دي مګر مزار باندی حاضریدل ضروري ندي :

(۱۵ سوال) مزار ته تلل او د مزار مخی ته کیناستل همدغه راز د صاحب مزار په طفیل او توسل سره دعا کولی شي یا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : د بزرګانو په طفیل سره دعا غوښتل جائز دي مګر دی لپاره مزار ته حاضریدل ضروري ندي ، دعا به د صاحب د مزار نه نه غواړئ د الله تعالی څخه به غواړئ الله تعالی په هر ځای کی حاضر ناظر دی او موجود دی [2] ، فقط والله اعلم ، ۱۷ رمضان ، ۱۴۰۱ ه .

---

[1] _ وبخروجه الی نیروز لموافقته معهم فیما یفعلون فی ذلك الیوم وبشرائه شیئاً لم یکن یشتریه قبل ذلك تعظیماً للنیروز لا للاکل والشرب الخ (فتاوی عالګیری ، احکام المرتدین ما یتعلق بتلقین الکفر الخ ج ۲ ص ۲۷۷) .

[2] _ قوله لانه لا حق لاخلق علی لخلق قد قال انه لا حق لهم وجوبا علی الله تعالی لکن سبحانه وتعالی جعل لهم حقاً من فضله او یراد بالحق الحرمة والعظمة فیکون من باب الوسیلة وقد قال الله تعالی وابتغو الیه الوسیلة وقد عد من آداب الدعاء التوسل علی ما فی الحصن وجاء فی روایة . اللهم انی اسألك بحق سائلین علیك........

(۱) شرعي تقليد يعنی د ائمو تقليد :

(۲) د تقليد ضرورت او د ائمه اربعه د تقليد په وجوب باندی د امت اتفاق

(۱٦ سوال) پدی مسئله کی مولانا مفتي عبد الرحیم صاحب څه فرمايي : ځمونږ بهروچ ښار کی یو سړی اهل حدیث شویدی او هغه د لمونځ په هر رکعت کی رفع الیدین کوي او په جهري لمونځ کی آمین وائي او ځمونږ حنفي ورونه ورته بدعتي وائي ، نو رفع الیدین کول او په زوره آمین ویل سنت دي یا بدعت ؟ مهرباني وکړئ د محدثینو په قاعده د کتابونو د حوالی سره ځواب راکړئ .

(۲) اهل حدیث ورور وائي چی په لمانځه کی رفع الیدین کول د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د خلفاء راشدینو د سنت څخه ثابت دي او دا مسئله د حنفي مذهب کتاب هدایه اول جلد (۳٦۲) صفحه کی شته چی رسول الله صلی الله علیه وسلم تر آخره پوری رفع الیدین کړیدی او د آمین بالجهر مسئله هم په هدایه اول جلد (۳٦۲) صفحه کی موجود ده ، نو آمین او رفع الیدین کول سنت دي یا بدعت ، مهرباني وکړئ د کتابونو حوالو سره ځواب راکړئ . (له بهروچ نه)

نوټ : له تحقیق نه وروسته معلوم شو چی تپوس کونکی پخپله غیر مقلد جوړ شوی دی پدی وجه ځواب کی همدی مخاطب کړی شویدی .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً وبالله التوفیق : د سوال عبارت بعینه هغه دی کوم چی پورته لیکل شوی دی ، تپوس کونکی تقلید او حنفي مذهب پریښودو سره غیر مقلد (لامذهب) ګرځیدلی دی د علم یی دا حال دی چی (۱۲ ، ۱۳) خطونو سوال کی (۲۰ تر ۲۵) پوری د املاء غلطي لري ، کله چی اردو ژبه کی د ده د علم اندازه دغه ده چی نه صحیح اردو لیکلو باندی پوهیږي او نه لوستلو باندی نو د قرآن وحدیث کتابو باندی څنګه پوهیدلی شي ؟

وقال السبکی یحسن التوسل بالنبی الی ربه الی ان و لم ینکره احد من السلف ولا الخلف الا ابن تیمیه الخ (رد المختار حظر والاباحة ، فصل فی البیع ج ٦ ص ۳۹۷) .

" قیاس کن زگلستان من بهار مرا "

حجة الاسلام امام غزالي فرمايي : " وانما حق العوام ان يؤمنوا ويسلموا ويشتغلوا بعبادتهم ومعايشهم ويتركوا العلم للعلماء فالعاصى لويزنى ويسرق كان خيرا له من ان يتكلم فى العلم فانه من تكلم فى الله وفى دينه من غير اتقان العلم وقع فى الكفر من حيث لايدرى كمن يركب لجة البحر وهو لا يعرف السباحة "

يعنى د عوامو فرض دا دى چى د ايمان او اسلام په راوړلو سره خپل عبادت او روزګار كى مشغول شي او دعلم په خبرو كى مداخله ونكړي دا دى علماؤ ته حواله كړي . عامي سړي لپاره علمي سلسله حجت كول د زنا او غلا نه هم زيات نقصان وركونكى او خطرناک دى ځكه چى كوم سړى چى ديني علومو كى بصيرت او پختګي نلري دى كه چيرته الله تعالى او د ده د دين په مسئلو كى بحث وكړي نو زيات امكان لري چى هغه داسى رأيه خپل كړي چى كفر وي او د ده ورته خيال نه وي چى ده څه زده كړي هغه كفر دى د دى مثال د هغه سړي پشان دى چى لامبو يى زده نه وي او سمندر ته ننوځي . (احياء العلوم ۳\۳۵)

عوامو مسلمانانو ته د شرعي حكم په معلومولو سره هغه باندى عمل كول ضروري دي په باريكاتو كى لګيدل ضروري نه دي ، په حديث كى دي : يو سړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت كى حاضريدو سره عرض وكړ چى يارسول الله (صلى الله عليه وسلم) ماته علمي باريكئ او دقائق وښايه ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ترينه څو تپوسونه وكړى : (۱) تا د الله تعالى معرفت حاصل كړى دى ؟ (۲) تا د الله تعالى خومر حقوق ادا كړيدي ؟ (۳) تا ته د مرګ علم شته ؟ (۴) تا د مرګ تياري كړيدى ؟ په آخر كى رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل : ته لاړ شه اوڵ بنياد محكم كړه او بيا راشه زه به تاته علمي دقائق وښايم (جامع بيان العلم ص ۱۳۳) .

او د رسول الله صلى الله عليه وسلم پيشنګوئى دى : " اتخذو الناس رؤساً جهالاً فسئالوا فافتوا بغير علم فضلوا واضلوا " (مشكواة شريف ص ۳۳ كتاب العلم)

رسول الله صلی الله فرمايي چی (داسی زمانه به راشي چی خلك به جاهلان پیشوایان ویسی او د مسائلو تپوسونه ترینه وکري او هغوی به بغیر د علم نه فتوی ورکړي پدی طریقه هغوی به پخپله هم گمراه کیږي او نور به هم گمراه کړي .

پدی حالاتو کی تقلید او د حقه مذهبونو (حنفي ، شافعي ، مالکي ، حنبلي) پرینسودو سره غیر مقلد (لامذهب) جوړیدل او د خپلو نفسي خواهشاتو پیروي کول او د مجتهدینو تقلید ته باطل او شرک گڼل او حق مذهب ته ناحق ویل او دیني امامانو ته د حدیثو او قرآن په مقابل کی پخپل رای باندی عمل کونکي ویل حرام او موجب د گمراهی دي دغسی خلکو ته خو " اهل حدیث " ویل هم مناسب ندي لکه څنگه چی گمراه فرقی منکرین حدیث ته " اهل قرآن " نوم ورکول مناسب او جائز ندي همداشان د تپوس کونکي خپل ځان ته اهل حدیث ویل خپل ذات او قوم ته دهوکه ورکول او گمراه کول دي د غیر مقلدینو پیشوا مولانا محمد حسین بټالوي په " اشاعة السنة " (۱۱) جلد (۱۰) گڼه او (۲۱۱) صفحه کی لیکي : غیر مجتهد مطلق لپاره د مجتهدینو څخه فرار او د انکار کولو گنجائش نشته او د همدي " اشاعة السنة "(۱۱) جلد (۱۰) گڼه (۵۳) صفحه کی وضاحت کوي :

د (۲۵) کالو له تجربی نه مونږ ته دا خبره معلومه شویده : کوم خلك چی په بی علمی سره د مجتهد مطلق او د تقلید تارکین جوړیږي هغه بالاخره اسلام سره خدای پاماني کوي پدوی کی ځینی عیسایان کیږي او ځینی لامذهب چی د کوم دین او مذهب پابند نه پاتی کیږي ، او د شریعت له احکامو نه فسق او خروج خو د دی آزادی (غیر مقلدیت) یوه ادنی کرشمه ده ، لدی فاسقانو څخه ځینی خو په ښکاره جمعه ، جماعت او لمونځ روژه پریدي ، د سود او شراب نه پرهیز نه کوي ، او ځینی چی د کوم دنیاوي مصلحت په وجه ظاهري فسق ته ځان وساتي هغه په پټ فسق کی اخته وي ، په ناجائز طور سره ښځی په نکاح کی گیروي ، د کفر ، ارتداد او د فسق اسباب په دنیا کی نور هم زیات دي ، مگر د دیندارو د بی دینه کیدو ډیر لوی سبب دا هم دی چی هغه د کم علمی باوجود تقلید پریدي ، (بحواله سبیل الرشاد ص ۱۰ ، او کلمة ا لفصل ۱۰ ، او تقلید ائمه ص ۱٦ ، ۱۷) مولانا اسماعیل سنبهلي .

همدا شان د اهل حدیث د فرقی مجدد جناب نواب صدیق حسن خان بهوپالي صاحب د خپل جماعت اهل حدیث متعلق لیکـي : " فقد نبت فی هذا الزمان فرقة ذات سمعة ورياء تدعى انفسها اهل الحديث والقرآن والعمل والعرفان " (الحطـــة فی ذکـــر صحاح الستة ص ٦٧ ، ٦٨) . یعنی په دی زمانه کي یوه شهرت ریاکاره ډله ظـاهره شویده چی د هر قسم خامي باوجود په قرآن او حدیث باندی د علم و عمل دعوه کـوي او حال دا چی دوی د علم و عمل او معرفت سره لری تعلق هم نلـري ، وړانـدی د دی مضمون لاندی لیکي :

" فيا للعجب اين يسمعون أنفسهم الموحدين المخلصين وغيرهم بالمشركين وهـــم أشد الناس تعصباً وغلواً فی الدين " یعنی ډیـر د تعجب خبـره ده چـی غـیر مقلـدین څنګه ځان ته خالص موحدین وائي او مقلدینو ته (د ائمه و د تقلید په وجـه) مشـرک او بدعتیان وائي او حال دا چی غیر مقلدین پخپله د ټولو خلکـو نـه زیـات متعصـب او پـه دین کی غلو کونکي دي ، او بیا د دی مضمون په آخر کـی لیکـي : " فما هذا دين الا فتنة في الارض وفساد كبير " یعنی دا طریقه (کوم چی د غیر مقلدینو ده) هـیڅ دیـن ندی دا خو په ځمکه کی فتنه او لوی فساد دی (بحواله تقلید ائمه ص ۱۷ ، ۱۸) .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله په عقد الجید کی لیکي :

"باب تأكيد الأخذ بمذاهب الأربعة والتشديد فی تركها والخروج عنها : اعلـــم ان فی الأخذ بهذه المذاهب الأربعة مصلحة عظيمة وفی الاعراض عنها كلها مفســـدة كبيرة".

ترجمه : دریم باب د دی څلورو مذهبونو د اختیارولو د تاکیـد او د دوی د پریښـودو او ورنه باهر وتلو نه د سخت ممانعت په بیان کی دی ، پوهـ شه چی پدی څلورو مـذهبونو اختیارولو کی لوی مصلحت دی او لدی ټولو نه په اعراض او مخ اړولو کی لویه خرابـي ده (عقد الجید مع سلک مروارید ص ۳۱) .

او پدی کتاب کی دوی لیکي : " وثانياً قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اتبعــوا السواد الأعظم ، ولما اندرست المذاهب الحقة الاهذه الاربعة كان اتباعها اتباعــاً

للسواد الأعظم " ترجمه : او د مذهب د پابندي دویمه وجه دا ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : د سواد اعظم یعنی د لوی ډلی او جماعت پیروي وکړئ ، او څرنګه لدی څلورو مذاهبو نه علاوه نور حق مذهبونه پاتی نشول نو د دوی پیروي کول د لوی جماعت پیروي کول دي او له دوی نه باهر وتل د لوی جماعت څخه باهر وتل دي (چې پدی کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم له هدایت او تاکیدي ارشاد نه خلاف ورزي لازمیږي) (عقدالجید مع سلک مروارید ص ۳۳) .

وګورئ ! حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله د مذاهب اربعه مقلدین سواد اعظم ګني او عامي غیر مقلد د سواد اعظم نه خارج بنائي ، پدی بناء کوم خلک چې د ائمه اربعه څخه د کوم امام تقلید نه کوي هغه د بی مهاره اوښ پشان دی او په حقیقت کی هغه د نفساني خواهشاتو پیروي کونکی دی او حال دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک فرمان دی : " اتبعوا السواد الاعظم " (مشکواة شریف باب الاعتصام بالکتاب والسنة ص ۳۰ ، مجمع بحار الانوار ۳\۱٤۳) .

په بل حدیث کی دي : " علیکم بالجماعة " یعنی په تاسو باندی لازم دي چې جماعت سره وابسته پاتی شئ (مشکواة شریف ص ۳۱) .

دریم حدیث : " ان الله لایجمع امتی علی ضلالة " یعنی الله تعالی زما امت په ضلالت او ګمراهی باندی نه جمع (متفق) کوي (مشکواة شریف ص ۳۰) .

څلورم حدیث : " لن تجتمع امتی علی الضلالة "[1] ترجمه : زما د امت (علماء او صالحان) هیڅکله هم په ګمراهی باندی نه متفق کیږي .

پنځم حدیث : " وید الله علی الجماعة ومن شذ شذ فی النار " (یعنی په کومه مسئله کی چې د مسلمانانو تر منځ اختلاف وشي نو کوم طرف ته چې د علماؤ او صالحانو اکثریت وي هغوی سره یوځای شئ ځکه چې) په جماعت باندی د الله تعالی لاس دی یعنی د ده مدد شامل حال وي او څوک چې لدوی نه جدا پاتی شي (د یوې

[1] ـ قال السخاوی : وبالجملة فهو حدیث مشهور المتن ذو اسانید کثیرة وشواهد متعددة فی المرفوع وغیره . المقاصد الحسنة ص ٤٦ .

نیمی ځختی بیل جماعت حوړ کړي) هغه بـه جـهنم کی یواځـی غورځـولی کیـږي ، (مشکـواة شـریف ص ۳۰) .

شپږم حدیث : " ان الشیطان ذئب الانسان کذئب الغـنم یأخـذ الشـاذة و القاصیة والناحیة وایاکم والشعاب وعلیکم بالجماعة والعامة " شـیطان د انسـانانو لیوه دی لکه څنګه چی د بزو لیوه وي (او دی) داسی بیزي ماتوي چی د خپلی رمـی نه جدا شي او یا په څریدو څریدو لری لاړی شي او یا د غفلت له وجی کناره پاتی شـي ...... (همدا شان تاسو هم د خپل جماعت څخه جدا کیـدو نـه ځـان وسـاتئ) او عـام جماعت (سواد اعظم) کی خپل ځان شامل وساتئ او که نه هلاکیږئ (مشکواة شـریف ص ۳۱) .

اوم حدیث : " من فارق الجماعة شبرا فقد خلع ربقة الاسلام عن عنقه " یعنـی څا چی یوه لویشت برابر هم له جماعت نه جدائي اختیار کړه (یعنی څو مسئلو کـی لـږ وخت لپاره هم له دوی نه جدائي اختیار کړي) نو بیشکه هغه د خپلی غاړی نه د اسلام رسی وویستله (مشکواة شریف ص ۳۱) .

اتم حديث : " اثنان خير من واحد وثلاثة خير من اثنين واربعة خير من ثلاثة فعليكم بالجماعة " الخ . يعنى دوه له يو نه بهتر دي او درى له دوونه بهتر دي او ځلور له دريو نه بهتر دي (كله چي دا فضيلت دى) نو له جماعت سره لازم او يوځـاى شئ (يعنى پدوى كى شامل شئ) ځكه چي الله تعالى زما امت پـه هـدايت بانـدى متفق ساتي . (فوائد العوائد ص ۱۲۲) .

نهم حديث : " من خرج من الطاعة وفارق الجماعة مات ميتـــةً جاهليـــة " (نسائى عن ابى هريرة) .

لسم حديث : " مارآه المسلمون حسناً فهو عند الله حسن " (أحمد فى كتـــاب السنة بحواله المقاصد الحسنة ص ۳٦۸) .

حضرت شاه ولى الله محدث دهلوي رحمه الله كـوم چـى د خپـل دور د اوچتـى پـاى محدث ، بى مثال فقيه ، زبردست اصولي ، جامع المعقول والمنقـول او مجتهـد وُ چاتـه چى د غير مقلدينو پيشوا مولانا صديق حسـن خـان صـاحب هـم رئـيس المجتهـدين او سردار منلو او دده باره كى ليكي : " اگر وجود او در صدر اول در زمانه ماضى بود امام الائمه وتاج المجتهدين شمرده مى شود " .

ترجمه : كه چيرته د شاه صاحب وجود په اوله زمانـه كـى واى نـو د امامـانو امـام او د مجتهدينو سردار به حسابيدلو ، دومره د لوى درجي عالم تقليد باره كى څه وايئ ؟ هغه وكورئ : " لان الناس لم يزالوامن زمن الصحابة الى ان ظهرت المـــذاهب الأربعـة يقلدون من اتفق من العلماء من غير نكير من احد يعتبر انكاره ولو كان ذلـك باطلا لانكره " ترجمه : ځكه چي د صحابه كرامـو لـه وخـت نـه د مـذاهب اربعه تر ظاهريدو پورى د خلكو همدا دستور پاتى شوى چي كوم مجتهد عالم به پيدا شو د هغه تقليد به يى كولو پدى باندى هيڅ يو معتبر شخص انكـار نـدى كـړى كـه چيرتـه تقليد باطل واى نو د دى حضراتو (صحابه و تابعين) به ضرور انكار كړى وُ (عقـد الجيـد مع سلك مرواريد ص ۲۹) .

همداراز دوى دامام بغوى قول د تائيد په طور نقل كوي : " ويجب على من لم يجمع هذا الشرائط تقليده فيما يعن له من الحوادث " ترجمه : او هغـه سـړي بانـدى چي

ددی شرائطو (یعنی د اجتهاد شرائطو) جامع نه وي په ده باندی د کوم مجتهد تقلید واجب دی په هغوی حوادثو (مسائلو) کی چی ورته پیش شي ، (عقد الجید ص ۹) .
او فرمايي " وفی ذلك (ای التقلید) من المصالح مالا يخفی لاسیماً فی هذه الایام التی قصرت فیها الهمم جداً وآشربت النفوس الهوی واعجب کل ذی رأی برأیه "

ترجمه : او پدی کی (یعنی مذاهب اربعه کی د یو چا تقلید کولو کی) ډیر زیات مصلحتونه دي چی پټ ندي خاص طور پدی زمانه کی چی همتونه ډیر زیات سست شویدي او نفسونو ته نفساني خواهشات ننوتی دي او هر د رأیی خاوند خپلی رأیی باندی ناز کوي (حجة الله البالغة مترجم ۱\۲٦۱ الفرق بین اهل الحدیث واصحب الرأی) .
او فرمايي : " وبعد المأتين ظهرت فيهم التمذهب للمجتهدين باعیانهم وقل من كان لایعتمد علی مذهب مجتهد بعینه وكان هذا هو الواجب فی ذلك الزمان " .
او د دویمی پیری نه وروسته خلکو کی د متعین مجتهد پیروي (یعنی تقلید شخصي) رواج شروع شو او ډیرکم خلک داسی وو چی د کوم خاص مجتهد مذهب باندی به یی اعتماد نه لرلو (یعنی عام طور تقلید شخصي رواج شو) او همدا طریقه هغه وخت کی رواج وه (انصاف مع ترجمه کشاف ص ۵۹) .
او فرمايي : " وهذه المذاهب الأربعة المدونة المحررة قد اجتمعت الأمة او من یعتدبها منها علی جواز تقلیدها الی یومنا هذا " او دا مذهب اربعه کوم چی مدون او مرتب شو یدی ټول امت او یا د امت معتمد حضراتو د دی څلورو مشهورو مذاهبو دتقلید په جواز باندی اجماع کړیده (او دا اجماع) تر ننه پوری باقي ده ، د دی مخالفت جائز ندی بلکی موجب د ګمراهی دی ، (حجة الله البالغة ۱\۳٦۱ فصل فی مسائل ضلت فیها الاقدام) او فرمايي : " وبالجملة فالتمذهب للمجتهدين سراً الهمه الله تعالی العلماء جمعهم علیه من حیث یشعرون او لایشعرون " ترجمه : حاصل دا چی دوی مجتهدینو (امام ابو حنیفه ، امام مالک ، امام شافعي ، امام احمد بن حنبل) دمذهب پابندي (یعنی تقلید شخصي) یو راز دی چی الله تعالی د علماؤ په زړه کی الهام کړی

دی او پدی باندی یی دوی متفق کړیدی ، دوی ته معلوم وی او یانه وي ، (انصاف عربي ص ۴۷ ، انصاف مع کشاف ص ٦٣) او فرمايي : " انسان جاهل فی بلاد الهند وبلاد ماوراء النهر وليس هناك عالم شافعي ولامالكی ولاحنبلی ولاكتاب من كتب هذه المذاهب وجب عليه ان يقلد لمذهب ابی حنيفة ويحرم عليه ان يخرج من مذهبه لأنه حينئذ يخلع من عنقه ربقة الشريعة ويبقى سدىً مهملاً " . ترجمه : د هندوستان او ما وراء النهر په ښارو کی يو جاهل انسان وي (چی پدی ځايو کی زياتره په حنفي مذهب باندی عمل کوي) او دلته هيڅ مالکي ، شافعي او حنبلي عالم نه وي او نه د دی مذهبونو کوم کتاب وي نو پدی وخت کی پدی سړي باندی واجب دي چی يواځی د امام ابو حنيفه د مذهب پيروي وکړي (تقليد وکړي) او د حنفي مذهب پريښولورباندی حرام دي ځکه چی په دی صورت کی د شريعت پړي د خپل غاړی نه ويستل دي او مهمل او بيکاره جوړيدل دي (انصاف عربي ص ۵۳ مع ترجمه کشاف ص ۷۰ ، ۷۱) .

حضرت شاه صاحب د مجتهد کيدو باوجود د رسول الله صلی الله عليه وسلم له طرفه تقليد کولو باندی مامور کړی شويدی او د تقليد له دايری نه د وتلو ممانعت کړی شوی، لکه چی دوی په فيوض الحرمين کی ليکي : " واستفدت منه صلی الله عليه وسلم ثلثة أمور خلاف ماكان عندی وما كانت طبعی تميل اليه أشد ميل فصارت هذا الاستفادة من براهين الحق تعالى عليّ .... الى قوله ...... وثانيهما الوصاة بالتقليد بهذه المذاهب الأربعة لا اخرج منها الخ " ترجمه : ماته د رسول الله صلی الله عليه وسلم له طرفه داسی خبری حاصلی شويدي چی زما فکر ورسره اول کی موافق نه و او دزړه ميلان می ورته بالکل نه وُ ، دغه استفاده په ما باندی د الله تعالی دليل او برهان جوړ شو لدی دريو خبرو نه دويمه خبره دا وه چی رسول الله صلی الله عليه وسلم ماته وصيت و فرمايلو چی زه د مذاهب اربعه و تقليد وکړم او له دوی نه باهر ونه خم ، (فيوض الحرمين ص ٦٤ ، ٦٥ مطبوعه کتاب خانه رحيميه ديوبند) .

او فرمايي : " وعرفنی رسول الله صلی الله عليه وسلم ان فی المذاهب الحنفی طريقة انيقةً اوفق الطرق بالسنة المعروفة التی جمعت ونقحت فی زمان البخاری واصحابه "

یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته وښودل چې په مذهب کې هغه بهتره طریقه ده چې د نورو طریقو په نسبت هغه مشهور سنت سره زیاته موافقه ده د کومې تدوین او تنقیح چې د امام بخاري رحمه الله او د ده د ملګرو په زمانه کې شوېدی. (فیوض الحرمین ص ۳۸)

د حضرت شاه صاحب رحمه الله د ذکر شوي فرموداتو خلاصه دا ده :

(۱) د صحابه وُ او تابعینو په مبارکو زمانو کې د نفس تقلید رواج او دستور بلااختلاف جاري او ساري وُ .

(۲) د مذاهب اربعه وُ (حنفي ، مالکي ، شافعي او حنبلي) تابعداري د سواد اعظم تابعداري دی (کوم چې د حدیث له مخې واجب دی) او د مذاهب اربعه و له دایرې نه وتل د سواد اعظم نه وتل دي (کوم چې ګمراه کونکی دی) .

(۳) د دویمې پیړی نه وروسته شخصي تقلید (د څلورو مذهبونو څخه بواځې د یو مذهب تقلید) شروع شویدی .

(۴) د څلورو مذهبونو څخه د یو مذهب تقلید یعنی تقلید شخصي د الله تعالی له طرفه یو الهامي راز دی .

(۵) د څلورو مذهبونو په تقلید باندی د امت اجماع ده .

(٦) په غیر مجتهد باندی تقلید واجب دی .

(۷) په شخصي تقلید کی دیني مصلحتونه او فایدی دي .

(۸) ماته د مذاهب اربعه و په دایره کی د اوسیدو وصیت رسول الله صلی الله علیه وسلم کړیدی .

(۹) حنفي مذهب د سنت موافق دی د دی د ګواهي پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم کړی دی .

(۱۰) عوام (یعنی غیر مجتهد) لپاره د تقلید پریښودل حرام دي بلکی د اسلام له دایرې نه د وتلو مقدم ده (چې د دی اعتراف پخپله د دوی د جماعت پیشوا مولانا محمد حسین بټالوي کړی دی کوم چې وړاندی ذکر شو " تلك عشرة كاملة ") .

د غیر مقلدینو د دوکه ورکول سره عوام پدې غلط فهمی کی مبتلا دي چې محدثین د دوی له طبقې سره خاص دي (یعنی غیر مقلدین وو) او دوی په څلورو مذهبونو کی د کوم یو پابند نه وُ ، حال دا چې دا خبره بالکل غلطه ده ټول لوی محدثین (غیر د یو څو کسانو نه) مقلدین وو مثلاً وګورئ :

امام بخاري مجتهد كيدو باوجود د صحيح قول مطابق مقلد ؤ او شافعي ؤ ، د غير مقلدينو پيشوا جناب نواب صديق حسن خان بهوپالي خپل كتاب " الحطة فى ذكر صحاح الستة " كى ليكي : امام ابو عاصم رحمه الله امام بخاري رحمه الله د شوافعو په جماعت كى ذكر كړى دى . " وقد ذكره أبو عاصم فى طبقات اصحابنا الشافعية نقلاً عن السبكى " او د همدى كتاب (١٢٧) صفحه (٦) فصل كى د امام نسائي متعلق ليكي : " كان أحد اعلام الدين واركان الحديث امام اهل عصره ومقدمهم بين اصحاب الحديث وجرحه وتعديله معتبر بين العلماء وكان شافعى المذهب " يعنى امام نسائي د دين له غرونو څخه لوى غر ، د حديث د اركانو څخه يو ركن ، د خپلى زمانى امام او د محدثينو پيشوا ؤ د دوى د جرح و تعديل د علماؤ په نزد معتبر دى او شافعي مذهب ؤ (الحطه ص ١٢٧) .

د امام ابوداؤد په باره كى ليكي : " فقيل حنبلى وقيل شافعى " امام ابوداؤد د حديث او د علل حديث حافظ، تقوى و پرهيزګاري ، علم و فقه ، صلاح و اتقان كى عالى مقام لري ، اختلاف يواځى پديكى دى چى دى شافعي مذهب ؤ كه حنبلي مذهب ؤ ؟ ځينى ورته حنبلي وائي او ځينى شافعي (الحطه فى ذكر صحاح السته ص ١٣٥) لدينه علاوه امام مسلم ، امام ترمذي ، امام بيهقي ، امام دار قطني ، امام ابن ماجه رحمهم الله دا ټول مقلدين وو او د صحيح قول مطابق شافعي مذهب وو ، محدث يحيى بن معين ، محدث يحى بن سعيد القطان ، محدث يحيى بن ابي زائده ، محدث وكيع بن جراح ، امام طحاوي ، امام زيلعي رحمه الله دا ټول مقلدين وو او حنفي مذهب وو ، علامه ذهبي ، ابن تيميه ، ابن قيم جوزي ، شيخ عبدالقادر جيلاني دا حنبلي وو .

ايا دغو لويو محدثينواو غټو عالمانو ته دا نه ؤ معلوم چى تقليد شرك او بدعت او حرام دى ، حنفي ، مالكي ، شافعي او حنبلي جوړيدل ناجائز او بدعت دى ، غرض دا چى د يو څو كسانو نه علاوه (داؤد ظاهري ، ابن حزم وغيره) ټول محدثين ، علماء ، مشائخ عارفينو د ائمه اربعه و تقليد كړى دى ، يواځى په هندوستان كى وګورئ چى څومره لوى علماء ، مشائخ عظام او اولياء الله تير شويدي دا ټول د تقليد پابند وو او تقريباً ټول د امام ابوحنيفه رحمه الله مقلدين وو ، مثلاً شيخ علي متقي صاحب د كنزالعمال المتوفي ٩٧٥هـ ، شيخ عبدالاول جونپوري صاحب د فيض الباري شرح بخاري ، شيخ

عبدالوهاب ، برهانپوري متوفي ۱۰۰۱ھ ، شیخ محمد طاهر پټني گجراتي صاحب د مجمع بحار متوفي ۹۸۷ھ ، محدث ملاجیون صدیقي متوفي ۱۱۳۰ھ ، شیخ عبدالحق محدث دهلوي صاحب د اشعت اللمعات متوفي ۱۰۵۲ھ بیا د دوی په اولاد کی محدث شیخ نور الحق صاحب د تیسیر القاري فارسي شرح بخاري متوفي ۱۰۷۳ھ ، محدث شیخ فخر الدین رازي شارح بخاري او شارح د حصن حصین ، شیخ الاسلام محدث شیخ سلام الله شارح د مؤطا مسمی به محلی متوفي ۱۲۲۹ھ ، شاه عبدالرحیم محدث دهلوي ، شاه ولی الله محدث دهلوي متوفي ۱۱۷٦ھ ، شاه عبدالعزیز متوفي ۱۲۳۹ھ ، شاه عبدالقادر محدث او مفسرقرآن دهلوي متوفي ۱۲۳۲ھ ، شاه عبدالغني محدث دهلوي متوفي ۱۲۹٦ھ ، شاه اسحاق محدث دهلوي متوفي ۱۲٦۲ھ ، شاه اسماعیل شهید متوفي ۱۲۹٦ھ ، شاه قطب الدین صاحب د مظاهر حق متوفي ۱۲۸۹ھ ، شاه رفیع الدین محدث دهلوي متوفي ۱۲۳۳ھ ، شاه محمد یعقوب محدث دهلوي متوفي ۱۲۸۲ھ ، قاضي محب الله بهاري متوفي ۱۱۱۹ھ چی دوی په ۱۱۰۹ھ کی د اصول فقه مشهور کتاب مسلم الثبوت تصنیف کړیدی ، محدث کبیر قاضي ثناء الله پاني پتي متوفي ۱۲۲۵ھ ، الشیخ الاسلام العلامه نور الدین احمد آبادي گجراتي حنفي صاحب ، د نور القادري شرح بخاري متوفي ۱۱۵۵ھ ، شیخ وجیه الدین علوي گجراتي حنفي متوفي ۹۹۸ھ ، محدث مفتي عبدالکریم نهر واني گجراتي صاحب د نهر الجاري شرح بخاري متوفي ۱۰۱۴ھ ، الشیخ المحدث محی الدین ، عبدالقادر احمد آبادي گجراتي متوفي ۱۰۳۸ھ ، الشیخ المحدث خیر الدین بن محمد زاهد السورتي متوفي ۱۲۰٦ھ ، بحرالعلوم علامه عبدالعلي لکهنوي صاحب د شرح مسلم الثبوت وغیره متوفي ۱۲۲۵ھ ، جامع المعقول والمنقول ابوالحسنات علامه عبدالحی لکهنوي صاحب تصانیف کثیره متوفي ۱۳۰۴ھ ، محدث مولانا احمد علي سهارنپوري محشي د بخاري متوفي ۱۲۹۷ھ ، متکلم اسلام مولانا محمد قاسم نانوتوي باني دار العلوم دیوبند متوفي ۱۲۹۸ھ ، فقیه لاثاني محدث کبیر عارف بالله مولانا رشید احمد گنگوهي متوفي ۱۳۲۳ھ ، مولانا محمد یعقوب نانوتوي مجددي متوفي ۱۳۰۲ھ ، محدث مولانا فخر الحسن گنگوهي متوفي ۱۳۱۷ھ ، شیخ الهند حضرت مولانا محمود حسن دیوبندي متوفي ۱۳۹۹ھ ، المحدث الکبیر امام العصر علامه شاه انور کشمیري متوفي ۱۳۵۲ھ ، محدث مولانا خلیل احمد مهاجر مدني صاحب د بذل المجهود شرح ابي داؤد متوفي ۱۳۴٦ھ

، محدث مولانا شبير احمد عثماني صاحب د فتح الملهم شرح صحيح مسلم متوفي ۱۳٦۹ھ وغیره وغیره .

د سندھ علماء :

محدث شيخ ابوالحسن سندھي متوفي ۱۱۸۷ھ ، شيخ هاشم سندھي ، ابو الطيب سندھي متوفي ۱۱۴۰ھ ، شيخ محمد معين سندھي متوفي ۱۱۸۰ھ ، شيخ محمد عابد سندھي متوفي ۱۲۵۷ھ ، شيخ حيات سندھي متوفي ۱۱٦۳ھ رحمهم الله وغیره کومو چي په صحاح سته او د حديثو په کتابو باندی حواشي ليکلي دي او په مدينه منوره کی دحديثو درس کړی دی .

د هند اولياء :

امام رباني شيخ سيد احمد مجدد الف ثاني نقشبندي متوفي ۹۷۱ھ ، عارف بالله محدث مرزا محدث مظهر جان جانان متوفي ۱۱۹۵ھ ، د اولياء هند سرتاج خواجه معين الدين چشتي (تاريخ وفات کی څو قوله دي ٦۴۲ھ ، ٦۴۳ھ ، ٦۴٦ھ ، ٦۴۷ھ) خواجه قطب الدين بختيار کاکي متوفي ٦۳۳ھ یا ٦۳۴ھ ، خواجه فريد الدين گنج شکر متوفي ٦٦۴ھ یا ٦٦۸ھ ، خواجه نظام الدين اولياء متوفي ۷۳۵ھ ، خواجه علاو الدين صابر کليري متوفي ٦۹۰ھ وغيره وغيره په زرگونو محدثين ، مفسرين ، فقها او مشائخ مقلدين تير شويدي تفصيل لپاره دی نزهة الخواطر ، حدائق حنيفيه او د انور الباري د مقدمی دويم حصه تذکره محدثين وکتلی شي .

د ائمه اربعه و تقليد او په ائمه اربعه کی د تقليد منحصر کيدل او دجمهور اهل سنت والجماعت په مذاهب اربعه و کی جمع کيدل د الله تعالی عظيم نعمت دی ، په هر زمانه کی محدثينو او حق علماء د دی تصريح کړی ده چی : څوک د تقليد نه منکر شو او غير مقلد جوړيدو سره بی مهاره اوښ پشان ژوند تيرول شروع کړي او خپلو خواهشاتو باندی عمل کوي هغه د اهل بدعت څخه دی داهل سنت څخه ندی ، شيعه گان دخلورو ائمه د تقليد نه منکر دي او څلورو مذهبونو ته بدعت وائي همداشان د دوی په نقش باندی غير مقلدين هم روان شوي او تقليد ته شرک و بدعت وايي (دا غير مقلدين په نورو مسائلو کی هم د شيعه گانو او د روافضو هم فکره دي مثلاً روافض د صحابه کِرام معيار حق نه گني همدا شان غير مقلدين هم صحابه معيار حق نه مني ، روافض روافض په يو مجلس کی دری طلاقه واقع کيدل نه مني همدا شان غير

مقلدین هم یو مجلس کی دری طلاقه واقع کیدل نه مني ، روافض (٢٠) رکعته تراویحو ته بدعت وائي نو غیر مقلدین هم (٢٠) رکعته تراویحو ته بدعت عمري وائي ، روافض د جمعی په ورځ اول اذان ته بدعت وائي دغه شان دیته غیر مقلدین هم بدعت عثماني وائي . حضرت عمر فاروق رضی الله عنه د خپل خلافت په زمانه کښی د ښځو آزادي او بی احتیاطي ولید نو د صحابه کرامو په مشوره ښځی یی په جومات کی لمونځ کولو نه منع کړی ، حضرت عائشی صدیقی رضی الله عنها وفرمایل : که چیرته رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو دغه حالت لیدلی وای نو هغه صلی الله علیه وسلم به پخپله هم منع کړی وای . دغه فیصله شیعه او روافض نه مني.همدا شان غیر مقلدین یی هم نه مني ، والله اعلم) .

غرض دا چی د شیعه ګانو او یو څو غیر مقلدین عالمانو نه بغیر نور ټول علماء تقلید ضروري ګڼي ، او هر یو پخپلو کتابو کی پدی باندی بحث کړیدی ، لکه څرنګه چی د مسلم الثبوت په شرح کی دي : " بل يجب عليهم اتباع الذين سبروا ای تعمقوا وبوبوا ای اوردو ابو اباً لكل مسئلة عليحدة فهذ بوا مسئلة كل باب ونقحوا كل مسئلة عن غيرها وجمعوا بينهما بجامع وفرقوا بفارق وعللوا ای او ردوا لكل مسئلة علته وفصلوا تفصيلاً وعليه بنى ابن الصلاح منع تقليد ، غير الائمة الاربعة الامام الهمام امام الائمة امامنا الكوفى رحمه الله والامام مالك رحمه الله ، والامام الشافعى رحمه الله ، والامام احمد رحمهم الله تعالى وجزاهم عنا احسن الجزاء لان ذالك المذكور لم يدر فى غيرهم " .

ترجمه : بلکی په دی عوامو باندی د دی حضراتو پیروي او اتباع واجب دی چا چی د ژور نظر نه کار اخستی ، ابواب یی قائم کړي او هره مسئله پخپل مناسب باب کی درج کړی ده او د هری مسئلی تنقیح او چاڼ کړی دی ، جمع کړی او جدا کړیدی (یعنی هره مسئله یی جمع کړی ده او هره مسئله یی د بلی نه جدا کړی ده او د هری مسئلی علت یی بیان کړیدی او پوره پوره تفصیل یی کړی دی ، دا خبره تفصیلي طور سره د صحابه کرامو په اقوالو کی نشته ، پدی وجه عوامو لپاره عمل کول مشکل ګرځي او په غلطی کی پریوځي ، نو بناء پدی د اصول حدیث واضع ، ممتاز محدث علامه ابن صلاح رحمه الله د ائمه اربعه و نه علاوه د نورو تقلید منع کړی دی چی دغه ذکر شوي

کارونه د مذاهب اربعه و نه علاوه په بل کوم مذهب کی موجود نه دي ، الله تعالى دى د غو څلورو امامانو ته څمونږ د ټولو له طرفه بهترين اجير او او جزاء ورکړي . (فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت للعلامه بحر العلوم متوفي ۱۲۲۵ھ ص ٦٢٩) .

علامه ابن نجيم مصري متوفي ۹۷۰ھ په " الاشباه والنظائر " کی ليکي : " وما خالف الائمة الاربعة فهو مخالف للاجماع " يعني د کوم سړي کومه فيصله چې د ائمه اربعه و نه خلاف وه هغه د اجماع خلاف ده (پدی وجه قابل قبول نشي کيدلی) (ص ۱۳۱) .

حافظ د حديث علامه ابن همام رحمه الله متوفي ۸٦۱ھ په " التحرير في اصول الفقه " کی تصريح کړيدي چې : " وعلى هذا ما ذكر بعض المتؤخرين منع تقليد غير الاربعة لانضباط مذاهبهم وتقليد مسائلهم وتخصيص عمومها ولم يدر مثله فى غيرهم الآن لانقراض اتباعهم وهو صحيح " يعني په همدی بناء باندی ځينو متأخرينو دا ذکر کړي چې يواځې دڅلورو امامانو تقليد به کيږي نه د نورو ائمه و ځکه چې د څلورو امامانو مذهبونه مکمل منضبط شويدي او پدی مذهبو کی مسائل ليکل شويدي او په نورو مذهبونو کی دا شی نشته او د دوی پيروان هم ختم شويدي او تقليد صرف پدی څلورو امامانو کی منحصر کيدل صحيح دی ، (التحرير ص ۵۵۲) .

د اورنګزيب عالمګير استاذ علامه ، زبردست فقيه ، اصولي ، جامع المعقول والمنقول شيخ احمد المعروف به ملاجيون صديقي متوفي ۱۱۳۰ھ په " تفسيرات احمديه " کی ليکي : " قد وقع الاجماع على ان الاتباع انما يجوز للاربع ، الى قوله وكذا لا يجوز الاتباع لمن حدث مجتهداً مخالفاً لهم " يعني پدی باندی اجماع شوی ده چې اتباع (تقليد) يواځې ائمه اربعه و جائز دی پدی بناء کوم مجتهد (که پدی زمانه کی) نوی پيدا شو او د ده قول لدی ائمه اربعه و نه مخالف وُ نو دهغه اتباع هم جائز ندی .
(تفسيرات احمديه ص ۳۳٦ مطبوعه کتب خانه رحيميه ديو بند)

او څو کرښې وروسته مزيد تفصيل کوي او ليکي : " والانصاف ان انحصار المذاهب فى الاربعة واتباعهم فضل الهى وقبولية من عندالله لامجال فيه للتوجيهات والادلة " يعني د انصاف خبره دا ده چې په څلورو کی د مذاهبو منحصر کيدل او د همدی څلورو مذهبونو پيروي کول فضل الهي دی او د الله له طرفه قبوليت دی پديکی د

دلائلو او د توجیهاتو لپاره حاجت نشته دی ، (تفسیرات احمدیه ص ۳۳۶ ، و داود وسلیمن اذا یحکمان فی الحرث ، د ایت لاندی ، سورت انبیاء) .

او مشهور محدث ، مفسر و فقیه قاضی ثناء الله پانی پتی متوفی ۱۲۲۵ھ په " تفسیر مظهری " کی لیکی : " فان اهل السنة والجماعة قد افترق بعد القرون الثلثة او الاربعة علی اربعة مذاهب ولم یبق فی فروع المسائل سوی هذه المذاهب الاربعة فقد انعقد الاجماع المرکب علی بطلان قول من یخالف کلهم وقد قال الله تعالی : یبتغ غیر سبیل المؤمنین نوله ما تولی ونصله جهنم " یعنی دریمی او خلورمی پیری نه وروسته فروعی مسائلو کی اهل سنت والجماعت په خلورو مذهبونو کی پاتی کیدو سره کوم پنځم مذهب ندی پاتی نو ګویا پدی باندی اجماع شوه چی کوم قول لدی خلورو نه خلاف وي هغه باطل دی ، او د الله تعالی فرمان دی : او کوم سړی چی د مؤمنانو (اهل سنت والجماعت) لاره پریږدي او بله لاره باندی روان شي نو مونږه دی لره کوم طرف ته چی ځی پریږدو او جهنم ته یی داخلوو (تفسیر مظهری ۶۴/۲) سورت آل عمران "اولا یتخذ بعضنا بعضاً ارباباً من دون الله" ایت لاندی) .

امام ابراهیم سرخسی مالکی سرعی په " الفتوحات الوهبیة شرح اربعین النوویة " کی لیکی : " اما فیما بعد ذلک کما قال ابن الصلاح فلا یجوز تقلید غیر الائمة الاربعة مالک وابی حنیفة والشافعی واحمد ، لان هؤلاء عرفت قواعد مذهبهم و استقرت احکامها وخدمها تابعوهم وحرروها فرعاً وحکماً حکما "

یعنی لدی زمانی نه وروسته (د صحابه له دور نه بعد) لکه څنګه چی ابن صلاح هم فرمایلي دي د ائمه اربعه و (امام مالک ، امام ابو حنیفه ، امام شافعي ، اما احمد بن حنبل) نه علاوه د بل چا تقلید جائز نه دي څکه چی دوی ائمه اربعه و د مذهبونو قواعد معروف دي او احکام یی مستقر شویدي او د دی حضراتو خادمانو وروسته د دوی نه د دی مذهبونو خدمت کړیدی تحقیق او چاڼ یی کړیدی) او ټول احکام یی فرعاً فرعاً لیکلي دي او د هر یو حکم یی هم بیان کړیدی ، (الفتوحات الوهبیه ص ۱۹۹) .

محدث ابن حجر مکي متوفي ۸۵۲ھ په " فتح المبین فی شرح الاربعین " کی لیکي :

" اما فی زماننا فقال ائمتنا لایجوز تقلید غیر الائمة الاربعة الشافعی ومالک و ابی حنیفة واحمد رضوان الله علیهم اجمعین " یعنی زمونږ په زمانه کی د ائمه و او مشائخو همدا قول دی چی د څلورو امامانو (مالک ، شافعي ، ابوحنیفه ، احمد) رحمهم الله تقلید جائز دی له دوی نه سوا د بل امام جائز نه دی (ص ۱۹٦) .

سلطان المشائخ حضرت خواجه نظام الدین اولیاء دهلوي رحمه الله په " راحة القلوب " کتاب کی لیکلي چی : حضرت خواجه سیدالعابدین ، زبدة العارفین ، فرید الحق والشرع شکرګنج رحمه الله د ٦۰۰ھ کال د ذوالحجه د میاشتی (۱۱) نیټه باندی فرمایلي دي چی دا څلور واړه مذهبونه برحق دي لیکن یقین کول پکار دي چی د امام اعظم مذهب په ټولو کی افضل او نور مذهبونه ترینه وروسته دي او امام ابوحنیفه افضل المتقدمین دی او الحمد لله چی د ده په مذهب یو (بحواله حدائق حنیفه ص ۱۰۴) .

علامه جلال الدین محلي په " شرح جمع الجوامع " کی لیکي : ((یجب علی العاصی و غیره ممن لم یبلغ مرتبة الاجتهاد التزام مذهب معین من مذاهب المجتهدین)) یعنی په عامي اوپه هغه غیر عامي باندی چی داجتهاد درجی ته نه وي رسیدلي واجب دی چی دمجتهدینو له مذهبونو څخه یو معین مذهب دعمل کولو لپاره په ځان لازم کړی ،
(په حواله دنور الهدایة ترجمه دشرح الوقایة ص۱۰ مقدمه .)

دمسلم شارح شیخ محی الدین نووي رحمه الله په ((روضة الطالبین)) کی لیکي:
((اما الاجتهاد المطلق فقالوا اختتم بالائمة الأربعة حتی او جبوا تقلید واحد من هؤلاء علی امته ونقل امام الحرمین الاجماع علیه)) یعنی داجتهاد مطلق باره کي علماء فرمایي چی په ائمة اربعه و باندی ختم شویدی تردی چی دی ټولو مقتدر او محققینو علماو لدی څلورو امامانو نه دیو امام تقلید په امت باندی واجب ګرځولی دی او امام الحرمین پدی باندی اجماع نقل کړی دی (په حواله دنور الهدایه ص۱۰)

په ((نهایة المراد شرح مقدمه ابن عماد)) کی دي : ((وفی زماننا هذا قد انحصرت صحة التقلید فی هذه المذاهب الاربعة (الی قوله) ولا یجوز الیوم تقلید غیر الأئمة

الأربعة في القضاء ولا افتاء)) يعني زمونږ پدی زمانه کی تقليد پدی څلورو مذهبو کی منحصر شویدی او اوس دڅلورو امامانو څخه علاوه دبل کوم امام تقليد جائز ندی نه قاضي ته اختيارشته چی لدی مذهبونه پرته فيصله وکړي او نه مفتي ته جائز دی چی دڅلورو مذهبونو په خلاف فتوی ورکړی ، (په حواله دنور الهداية ترجمه شرح الوقايه ص۱۰)

امام عبدالوهاب شعراني په ((ميزان الشريعة الكبرى)) کی ليکي : ((وكان سيدى الخواص رحمه الله تعالى اذا سأله انسان عن التقليد بمذهب معين الأن هل هو واجب ام لايقول له يجب عليك التقليد بمذهب ما دامت لم تصل الى شهود على الشريعة الأولى من الوقوع في الضلال وعليه عمل الناس اليوم)) يعني زما سردار علی خواص رحمه الله نه به چی تپوس وشو چی پدی وخت کی دیو معین مذهب تقليد واجب دی او که نه ؟ نو ده به فرمایل : تا باندی د معین مذهب تقليد واجب دی څو پوری چی تا ته کمال ولایت و نظر ، کشف و شهود نه د اجتهاد مرتبه نه وي حاصله شوی تر دی وخته پوری د معین امام د تقليد له دايری نه قدم باهر ونه باسی (چی دا د گمراهی موجب دی) او په همدی باندی اوس د خلکو عمل دی (ميزان كبرى) .

مشهور فقيه د قرآن او حديث ماهر سيد احمد طحطاوي متوفي ۱۳۳۳ه ليکي : " فعليكم يا معشر المؤمنين باتباع الفرقة الناجية المسماة باهل السنة والجماعة فان نصرة الله في موافقتهم وخذلانه وسخطه ومقته في مخالفتهم وهذه الطائفة الناجية قد اجتمعت اليوم في المذاهب الاربعة هم الحنفيون والمالكيون والشافعيون والحنبليون ومن كان خارجاً من هذه المذاهب الاربعة في ذلك الزمان فهو من اهل البدعة والنار " .

يعنی ای مسلمانانو ! تاسو باندی د نجات موندونکی فرقی کوم چی د اهل سنت والجماعت په نوم باندی مشهوره ده پيروي کول واجب دي خکه چی د الله تعالى مدد اهل سنت والجماعت سره په موافقت کولو کی دی او د اهل سنت والجماعت په مخالفت کولو کی د الله تعالى د غضب او ناراضتيا سبب جوړيدل دي (الله تعالى دی حفاظت نصيب کړي) او دا نجات موندونکی ډله (يعنی اهل سنت والجماعت) نن

پدی خلورو مذهبونو کی جمع شوی، ده او هغه حنفي ، مالکي ، شافعي او حنبلي دي او څوک چی پدی زمانه کی لدی خلورو مذهبونو نه خارج دی هغه اهل بدعت او اهل نار څخه دی . (اهل سنت کی داخل نه دی) (طحطاوي علی الدر المختار ۱۵۳\۴ کتاب الذبائح) .

حضرت شاه اسحاق محدث دهلوي رحمه الله فرمایی :

(سوال) " شصت ویکم " مذاهب اربعه بدعت حسنه اندیا سیئه ، کدام سیئه ؟

خواب اتباع مسائل مذاهب اربعه بدعت نیست نه سیئه نه حسنه بلکه اتباع آنها سنت است .... الخ (مأته مسائل ص ۹۲ ، ۹۳) .

ترجمه : (سوال) (٦١) مذاهب اربعه په بدعت حسنه کی داخل دي یا بدعت سیئه کی کی بدعت سیئه وي نو کوم قسم بدعت سیئه کی ؟

خواب : د مذاهب اربعه و د مسائلو پیروي کول نه بدعت حسنه دي او نه بدعت سیئه بلکی د مذاهب اربعه و د مسائلو پیروي سنت دي ، پدی وجه په مذاهب اربعه و کی چی کوم اختلاف دی دغه اختلافات یا خو پخپله صحابه کرامو کی موجود وو (او ائمه اربعه د دوی پیروان دي نو څکه پدوی کی هم اختلاف راغلی) او د صحابه کرامو تعلق د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دی : " اصحابي کالنجوم فبایهم اقتدیتم اهتدیتم " یعنی زما صحابه د ستورو پشان دي تاسو چی د هر یو پیروي وکړي هدایت به بیا مومي او په مذاهب اربعه و کی اختلاف د قیاس او حجت له اختلاف نه پیدا شوی (او دا خو منلی شوی چی) قیاس له نص نه ثابت دی (نو په قیاس باندی عمل کول بعینه د نص اتباع دی ، او همداراز په مذاهب اربعه و کی اختلاف د حدیث د ظاهري الفاظو او د حدیث په استنباط باندی هم دی څوک ظاهر د حدیث قابل عمل گنبي او څینی د حدیث استنباط باندی عمل کوي لکه څنګه چی بخاري او مسلم وغیره کی یو حدیث راځي : کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم بنوقریظه طرف ته صحابه کرام استول نو دا حکم یی وکړ چی هیڅوک دی د بنو قریظه څخه علاوه بل خای کی د مازیګر لمونځ ونه کړي ، څینو صحابه کرامو په لاره کی پدی بناء د مازیګر لمونځ ادا کړ چی لدی تاکید نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم مقصد دا و چی هلته په رسیدو کی تاخیر ونه کړي ، نه دا چی لمونځ د خپل وخت نه وروسته کړی شي ، او څینو صحابه کرامو د حدیث په ظاهري الفاظو عمل وکړ او په لاره کی یی لمونځ ونه

کړ، لیکن کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا قصه معلومه شوه نوپدې یې خفګان ښکاره نه کړو (نو معلومه شوه) چې دواړه عمله صحیح وو ، د مذاهب اربعه و د اختلاف صورت هم دغه شان دی نو بدعت به څنګه شي ؟ (امداد المسائل ترجمه مأته مسائل ص ۱۰۱ ، ۱۰۲) .

او د یو سوال په ځواب کې لیکي :

(سوال ٦٢) مقلد ایشان را بدعتي گویند یا نه ؟

ځواب : هرگز مقلد ایشان را بدعتي نخواهند گفت زیرا که تقلید ایشان تقلید حدیث شریف است باعتبار الظاهر او الباطن پس متبع حدیث رابدعتي گفتن ضلال و موجب نکال است (مأته مسائل ص ۹۳

ترجمه : (سوال) د مذاهب اربعه و مقلدینو ته بدعتي ویل کیږي یا نه ؟

ځواب : د مذاهب اربعه و مقلدینو ته بدعتي نشي ویل کیدی ځکه چې د مذاهب اربعه و تقلید بعینه د حدیث د ظاهر و باطن تقلید دی او د حدیثو متبع ته بدعتي ویل ګمراهي او بدبختي ده (امداد المسائل ترجمه مأته مسائل ص ۱۰۲) .

امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله لیکي : بے شائبه تکلف و تعصب گفته میشود که نورانیت این مذهب حنفي بنظر کشفي در رنگ دریاۓ عظیم می نماید و سائر مذهب و رنگ خیاض وجدال بنظر می درآیندو بظاهر هم که ملاحظه نموده می آید سواد اعظم از اهل السلام متابعان ابی حنیفه اند علیهم الرضوان واین مذهب باوجود کثرت متابعان در اصول فروع از سائر مذاهب متمیز است و دراستنباط طریق علیحده دار دواین معنی مبنی از حقیقت است عجب معامله است امام ابو حنیفه رحمه الله در تقلید سنت از همه پیش قدم ا ست و احادیث مرسل رادر رنگ احادیث مسند شایان متابعت میدا ندو برآرائي خود مقدم میدارد و هچنین قول صحابه رابواسطه شرف صحبت خیر البشر علیه وعلیهم الصلواة والسلام بر رای خود مقدم میدا ردو دیگران نهچنین اند مع ذلک مخالفان او اصاحب راۓ میدانندو الفاظ که مبنی از سوۓ ادب اند باو منتسب می ساز ند باوجود آنکه همه کمال عمل و وفورورع و تقوی او معترف اندد حضرت حق سبحانه ، وتعالی ایشان راتوفیق دها د که از راس دین و ریئس اسلام از کارنه نمایندو سواد اعظم اسلام را اید انکند یریدون ان یطفؤ نور الله بافواههم . جماعت کی ا ین کابر دین را اصحاب راۓ میدانندا گراین اعتقاد دارند که ایشانان براۓ خود حکم می

کردند و متابعت کتاب وسنت نمی نمودند پس سواد اعظم از اهل ا سلام بزعم فاسد ایشان ضال و متبدع باشند بلکه از جرگه اهل اسلام بیرون بودند این اعتقاد نکند مگر جاهلے که از جهل خود بے خبر است یا زندیقي که مقصودش ابطال شطر دین است ناقصي چند احادیث چند رایاد گرفته اندو احکام شریعت رامنحصر دران ساخته مدرای معلوم خوورانفي می نمایندو آنچه نزد ایشان ثابت نه شده متفي می سازند . چون آن کرمے که درسنگے نهان است زمین و آسمان او همان است ، وای هزاروای از تعصبهاے بارد ایشان واز نظر هاے فاسد ایشان (مکتوبات امام رباني ج ۲ ص ۱۰۷ ، ۱۰۸ مکتوب عـ۵۵ فارسي) .

ترجمه : بغیر د تکلف او تعصب نه ویل کیږي چې ددی حنفي مذهب نورانیت د کشفي په نظر کې د لوی دریاب پشان ښکاري او نور ټول مذهبونه د حوضونو او نهرونو پشان ښکاري او په ظاهر کې هم کله چې ورته وکتلی شي نو د اهل اسلام سواد اعظم یعنې ډیر خلک د امام ابو حنیفه رحمه الله پیروان دي دا مذهب باوجود د زیاتو پیروانو په اصولو او فروعو کې د نورو ټولو مذهبونو څخه جدا دی او په استنباط کې د دی ځانته طریقه ده او دا معنی د حقیقت نښاندهي کوي ، ډیره د تعجب خبره ده چې امام ابو حنیفه د سنت په تابعداری کې د ټولو نه وړاندی دی تر دی چې مرسل حدیثونه هم د مسند حدیثونو پشان د متابعت لائق ګڼي او پخپل رأی باندی مقدم ګڼي او همداشان د صحابه کرامو قول هم د حضرت خیرالبشر علیه السلام د صحبت د شرف په وجه خپل رأی باندی مقدم ګڼي او د نورو دا حال ندی ، بیا هم مخالفین ورته صاحب رأی وائي او ډیر د بی ادبی الفاظ ورته منسوبوي او حال دا چې ټول خلک د ده د کمال علم ، ورع و تقوی اقرار کوي ، الله تعالی دی دوی ته توفیق ورکړي چې د دین د سردار او د اسلام د رئیس څخه انکار ونه کړي او د اسلام سواد اعظم ته تکلیف ونه رسوي " یریدون ان یطفؤا نور الله بأفواههم " (یعنی دا خلک د الله نور د خپلو خولو په پوکو سره مړ کول غواړي) هغه خلک (غیر مقلدین) کوم چې د دین د غو بزرګانو (امام ابو حنیفه ، امام مالک ، امام شافعي ، امام احمد) ته صاحب رأی وایي که یې دا عقیده وي چې دغه بزرګان یواځې خپلی رأی باندی عمل کوي او د قرآن و سنت پیروي پریدي نو د دوی د فاسد خیال مطابق د اسلام سواد اعظم ګمراه او بدعتي بلکې د اسلام له دایرې نه باهر دی دغسی عقیده هغه بی وقوف او جاهل لرلی شي

چې د خپل جهالت نه ناخبر وي او يا هغه زنديق چې د هغه مقصد دا دی چې د اسلام نيمه حصه باطل شي دغو څو ناقصانو يو څو حديثونه ياد کړي او د شريعت ټول احکام په همدغو کی منحصر او موقوف کوي او د خپلو معلوماتو نه سوا نور ټول نفي کوي او کوم شی چې د دوی په نزد ثابت شوی ندی (يعنی د دوی له علم نه ښاهر دی) د هغه انکار کوي (بيت) هغه چينجي چې کاڼي کی پټ دي هماغه د ده ځمکه او آسمان دی يعنی دا خيال کوي چې همدا ځما ځمکه او آسمان دی (او خيال کوي چې يواځې همدومره دنيا ده) او حال دا چې اصل ځمکه او آسمان خو هغه ليدلی نده ، دغسی قسم خلک بی ځايه تعصب او فاسدو خيالو کی مبتلا کيږي (ترجمه مکتوبات امام رباني ۱۷۸\۲ ، ۱۷۹ مکتوا نمبر ۱۰۰) .

حضرت شاه محمد هدايت علی نقشبندي مجددي حنفي جيپوري رحمه الله ليکي :

" د شريعت د ائمه و تقليد پر هغه چا باندی واجب ندی کوم چې په علم تفسير ، فقه او حديث کی کامل وي او مرتبه د اجتهاد او استنباط د مسائلو باندی قادر وي ، د ناسخ منسوخ او د عربو له محاورې نه واقف وي که دومره استعداد ونه لري نو د ائمه و تقليد پری واجب دی ، او که دا ټول (علوم) هغه کی موجود وي او بيا هم د ائمه و تقليد کوي نو احسن دي ، ليکن پدی وخت کی ګورو چې علم تفسير ، حديث ، فقه او اصول خو څه کوی قرآن شريف يا حديث شريف هم بلا اعراب (زير ، زور او پيش) صحيح نشي لوستلی د مسائلو د استنباط عقل او پوهه خو ډيره لری خبره ده ليکن د شريعت د امامانو تقليد نه کوي او تقليد ته شرک وائي د دوی په عقل باندی پرده راغلی ده ، پدی نه پوهيږي چې په هندوستان کی د علم تفسير ، حديث ، فقه او د اصولو پيشوا شاه عبد الحق محدث دهلوي ، شاه ولی الله ، شاه عبدالعزيز وغيره مخزن علوم کيدو باوجود ټول حنفيان دي ، نو ايا د اوسنی زمانې علماء په علم ، فهم او تقوی کی زيات دي ؟ (نه) هرګز نه ، ځوک چې د ائمه مقلد ته مشرک وائي ليکن جاهلان خپل مقلد جوړوي ، زياتره خلک کوم چې په اردو هم نه پوهيږي هغوی دا وائي چې مونږ اهل حديث يو ، يعنی غير مقلد ، که له دوی څخه دا سوال وکړی شي چې ايا تاسو چې خپل ځان ته عامل باالحديث وايئ دا ټول مسائل مو د قرآن او حديث نه اخذ کړيدي او يا د کوم مولوي صاحب نه په اوريدو سره عمل پری کوئ ؟ نو هغوی به دا وائي چې فلان مولوي صاحب نه په اوريدو سره عملورباندی کوو نو بيا دا تقليد نه شو نور څه شی شو ؟ (در لاثاني ۶۱\۲ ، ۶۲) .

همداراز دوی په " احسن التقویم " کی لیکي : " د ائمه و مجتهدینو رحمهم الله تقلید په هغه چا باندی واجب دی چی د علم عربي ، تفسیر ، حدیث ، فقه ، اصول ، استنباط د مسائلو او عربو له محاوری ، او د ناسخ او منسوخ له علم نه پوره واقف نه وي او علمي تبحر ونه لري د همدی لپاره د الله تعالی حکم دی : ((فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لاتعلمون)) او کوم سړی چی لدی ذکر شوي علومو نه ناواقف وي او یا پکی کامل نه وي هغه باندی د دین د ائمه و تقلید واجب دی او پدی علومو د کامل کیدو ناوجود که بیا هم تقلید کوي نو احسن دی ، پدی وروسته زمانه کی په ټولو دیني علومو کی کامل ذات حضرت شاه عبدالحق محدث دهلوي ، حضرت شاه ولی الله ، حضرت شاه عبد العزیز ، حضرت مجدد الف ثاني ، حضرت مرزا مظهر جان جانان شهید ، حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي وغیرهم رحمهم الله وو ، څمونږ پدی زمانه کی د دوی په مقابل کی هیڅ یو عالم علمي تبحر کی د دوی عشر عشیر هم ندی ، او نه کوم عالم که د هری ډلی وي د دوی مقابله خو څه کوی خپل ځان ته نصف یا دریمه حصه هم نشي ویلی ، او که څوک وائي نو مسلمانان به ورته لیونی یا " انا خیر منه " (د ابلیس لعین مقوله ده) ویونکی ورور به ضرور وګڼي ، لیکن دا ټول بزرګان حنفي دي چی د دوی له کتابو نه د دوی حنفي توب ثابت دی ، دا زمونږ بدقسمتي ده چی په مسلمانانو کی خینی خینی پدی علومو کی منتهی خو څه کوی مبتدی هم ندي لیکن د ائمه محتهدینو تقلید ته بد وائي ، لیکن څوک چی د خپلو تحقیقاتو په اتمام کی ناتمام حبری زده کړي دي پدی خبرو کی نورو مسلمانانو لره خپل مقلد جوړولو لپاره تیار دی، به بین تفاوت راه از کجاست تابکجا " (احسن التقویم ص ۱۳۷ ، ۱۳۸) .

حضرت علامه عبدالحق حقاني (صاحب د تفسیر حقاني) رحمه الله پخپل معرکة الآراء کتاب " عقائد الاسلام " کی لیکي : " دویم : که چیرته هر څوک پدی مسائلو خپل خپل رأیه داخل کړي نو په دین کی به یو عظیم فساد جوړ او پیدا شي ، صحابه کرامو به د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوسونه کول او بیا کله چی وروسته نوي نوي واقعات پیدا شولی او قرون ثلاثه برابر شو او په دین کی فتنه او فساد شروع شو نو پدی وخت کی دغو بزرګانو په قرآن او حدیث کی تحقیق کولو سره فقه ترتیب کړه او جزئی مسائل یی پخپل موقع باندی ولیکل نو د هغی زمانی نه تر اوسه پوری ټول امت په

جزئي مسائلو د همدغو څلورو تقلید کړی ، اوس چې څوک نوی لاره وباسي نو هغه سواد اعظم پریږدي ، افسوس چې ځیني دوستان نن صبا عوام په فتنه کې اچوي او په مجتهدینو او خصوصاً امام ابو حنیفه رحمه الله باندی طعن کوي چې د ده اقوال له احادیثو نه مخالف او بې سنده دي او حال دا چې دا طعن بالکل غلط دی ، پدی چې د ده هیڅ یوه خبره او قول مخالف او بی سند ندی ، او که چیرته هغه سند تاته ملاو نه شي هغه ستا قصور دی ، د ده د اجتهاد د قبولیت دا لوی دلیل دی چې الله تعالی له زرو پیړیو څخه زیات تر نه پوری په مسلمانانو کې ساتلی دی ، که دا تقلید ګمراهي وای نو نعوذ بالله امت به ګمراه حسابیدلو نو بیا د دی امت بهتر والی او څومره قدری فضایل چې په قرآن او حدیث کی راغلي دا ټول به غلطیدل " (عقائد الاسلام ص ۱۱۲ ، ۱۱۳) .

او دوی په " شرح سفر السعادت " کی لیکي : " خانهٔ دین چهار است هر که راهي ازیں راها و دری ازین درها اختیار نموده براهی دیگر رفتن و دری دیگر گرفتن عبث وبیهوده باشد و کارخانه عمل را از ضبط وربط بیرون افکندن واز راه مصلحت بیرون افتادن است " یعنی د دین څلور کورونه دي څوک چې لدی لارو نه کومه لاره او لدی دروازو نه کومه دروازه اختیار کړي نو د هغه دویمه لاره او دویم دروازه اختیارول بیهوده او عبث دی او د عمل کارخانه د مضبوطی او استقامت نه لری کول او د مصلحت نه باهر وتل دي . (شرح سفر السعادت ص ۲۱) .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله د اهل حدیثو باره کی لیکي : " فاما هذه الطبقة الذين هم اهل الحديث والأثر فان الاكثرين منهم انما كدهم الروايات، و جمع الطرق وطلب الغريب والشاذ من الحديث الذي اكثره موضوع او مقلوب لا يراعون المتون ولا يتفهمون المعانی ولايستنبطون سرها ولا يستخرجون ركازها وفقهها وربما عابوا الفقهاء وتناولوهم بالطعن وادعوا عليهم مخالفة السنن ولايعلمون انهم عن مبلغ ما اوتوه من العلم قاصرون وبسوء القول فيهم الآثمون "

ترجمه : د اهل حدیث او اثر دا حال دی چې ددوی د زیاترو کوشش یواځی د روایتونو بیانول او د سندونو جمع کول او پدی احادیثو کې د غریب او د شاذ تلاش

کول دي چې د دی زیاتره حصه یې موضوعي او یا مقارب دي دا خلاف نه د حدیث د الفاظ لحاظ کوي او نه یې په معانیو باندی پوهیږي او نه د مسائلو استنباط کوي او نه د دی خزانی او فقه راویستلی شي ، او اکثر وخت په فقهاو باندی عیب لګوي او طعن ورباندی کوي او په دوی باندی د حدیثو او سننو د مخالفت دعوی کوي (او الزام لګوي) او حال دا چې دوی پدی نه پوهیږي چې څومره علم الله تعالی فقهاؤ ته ورکړی دی دوی پخپله دوی له حصول نه پاتی او قاصر دي ، او فقهاو ته په بدرد ویلو سره ګنهګاریږي (انصاف مع ترجمه کشاف ص ۵۳) .

د شرعي مسائلو د فهم لپاره یواځې د حدیثو یادول کافي ندي

د شرعي مسائلو او فقهي احکامو باندی پوهیدو لپاره یواځې د حدیثو یادول او جمود علی الظاهر کافي نه دی ، له فقه او اصول فقه نه واقفیت او د تفقه فی الدین حصول هم نهایت ضروري دی ، د دی له حاصلولو نه بغیر اصل حقیقت ته رسیدل ممکن ندي ، کوم خلکو چې د قرآن او حدیث په ظاهر باندی جمود او اکتفاء کړی د عالم او محدث کیدو باوجود په شرعي احکامو کې داسی قسم فتاوی او مسائل ورنه نقل شویدي کوم چې ظاهر البطلان دي ، د دی یو څو نمونی وګورئ :

(۱) د حدیث مشهور کتاب په کنزالعمال کې یو روایت دی چې ترجمه یې دا ده "حضرت مجاهد فرمایي : یوه ورځ زه ، عطاء ، طاوس او عکرمه ناست وو او حضرت ابن عباس رضی الله عنه لمونځ کولو یو سړی راغی او د مسئلې تپوس یې وکړ چې کله زه واړه بولی کوم نو ماء دافق (یعنی مني) راوځي ایا پدی باندی غسل واجب ګرځي؟ مونږه وویل : هغه ماء دافق وځي کوم چې بچې تری پیدا کیږي ؟ وی ویل : آو نو مونږ ورته وویل چې بیا خو غسل واجب دی ، هغه سړی د انا لله په ویلو سره لاړو ، حضرت ابن عباس رضی الله عنه زر زر لمونځ نه فارغ شو او عکرمه ته وویل هغه سړي ته آواز وکړه کله چې هغه راغی نو اول یې له مونږ نه تپوس وکړ ایا تاسو ورته د قرآن نه فتوی ورکړی ؟ مونږه وویل نه ؟ وی فرمایل : د حدیث نه مو ورکړی ؟ مونږه وویل : نه ، وی فرمایل د صحابه کرامو له اقوالو نه مو ورکړی ؟مونږه وویل نه ، بیا یې وویل : آخر تاسو د چا په قول فتوی ورکړه ؟ مونږ ورته وویل : له خپلې رأی نه ، د دی په اوریدو سره یې وفرمایل : " ولذلك یقول رسول الله صلی الله علیه وسلم فقیه واحد اشد علی الشیطان من الف عابد " یعنی پدی بناء رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

یو فقیه په شیطان باندی له زرو عابدانو ځخه هم زیات سخت دی ، بیا یی له هغه تپوس کونکي نه تپوس وکړ چې د ورو بولو نه وروسته چې کوم شي راځي د دی د وتلو په وخت کی ستا په زړه کی شهوت یعنی د ښځی خواهش وي ؟ وی ویل نه ، بیا یی وویل په عضو تناسل (اندام مخصوصه) کی استرخا (سستیا) وي ، وی ویل نه ، نو وی فرمایل پدی صورت کی ستا لپاره اودس کافي دی ، انتهی ، (کنزالعمال ۱۱۸\۵) .
محققین علماء لیکي : کله چې ابن عباس رضی الله عنه ولید چې له ماء دافق له لفظ نه دغه محدثین دوکه شوي دي او یواځې د ظاهري معنی په اعتبار سره دوی فتوی ورکړی ده او د غسل په علت باندی یی غور ندی کړی نو پوه شو چې پدوی کی فقیه نشته که فقیه وای د غسل د علت تشخیص به یی ضروري کولو ، او بیا یی چې کله ولیدل د غسل د علت یعنی دخروج منی لوازم ندی موجود پدی وجه یی فتوی ورکړه چې هغه منی ندی‌لهذا غسل هم واجب نه دی ، لدینه ظاهریږي چې د فقیه کوم تعریف او مدح چې حدیث کی راغلی دی د دی اعلی درجه پوه او تحقیق پکار دی ، او مجاهد ، عطاء ، طاوس او عکرمه پشان اکابر محدثین (کوم چې تقریباً د ټولو محدثینو استاذان او شیوخو په سلسله کی شامل دي) فقیه ونه ګڼل پدی وجه چې دوی د علت تشخیص ونه کړ ، او په کمال افسوس سره یی وفرمایل : پدی بناء باندی (چې فقیه او پوه خلک ډیر کم وي او فتوی لپاره ظاهري نصوص کافي ګڼي) رسول الله صلی الله علیه وسلم د فقیه تعریف وکړ چې دشیطان په مقابل کی یو فقیه د زرو عابدانو نه هم زیات دی ځکه چې د شیطان اصلي مقصد همدا دی چې خلکو باندی خلاف شرع کار وکړي او عابد بی‌چاره په عبادت کی دومره فرصت چیرته لري چې د نصوصو په معانیو او د اجتهاد په مواقع باندی غور او فکر کولو سره پخپله داسی حکم ورکړي چې د الله او د رسول صلی الله علیه وسلم له حکم سره مطابق وي ، لکه چې محدثینو ته د اسانیدو د ضبط او د رجالو د تحقیق او دحدیث نورو فنونو کی مشغولیدو سره د دی له سره نوبت نه راځي . دا خو خاص د فقیه کار دی چې په هره مسئله کی ټول ایتونه او حدیثونه نظر لاندی نیولو سره خپل طبیعت او وقار نه کار واخلي او پدیکی له زیات تحقیق او پلټنه کولو سره د دی کوشش کوي چې د شارع غرض څه دی ؟ چا څه ویلي دي . " هر مردی و هر کاری " (حقیقة الفقه ۹\۱ مطبوعه حیدر آباد) .

(۲) علامه ابن جوزي په تلبيس ابليس کی وائي " روی عن رسول الله صلی الله عليه وسلم نهی ان يسقی الرجل ماءه زرع غيره فقال جماعة ممن حضر قد كنا اذا فضل ماء فی بساتيننا سرحناه الی جيراننا نحن نستغفر الله فما فهم القاری ولا السامع ولا شعر وان المراد وطی الحبالی من السبايا "

يعنی ځينو محدثينو دا روايت بيان کړ چی رسول الله صلی الله عليه وسلم لدی خبری نه منع کړي چی سړی دی خپلو اوبو سره د بل چا پټی او فصل اوبه کړي ، د مجلس له موجودو کسانو نه يوی ډلی وويلی چی ډير ځلی داسی شويدي چی کله به ځمونږه اوبه په باغ کی زياتی شوی نو هغه به مو د خپل ګاونډي باغ ته واړولی اوس مونږه لدی خپل کار نه توبه کوو .... او حال دا چی د دی حديث مقصد دا دی چی حاملی وينځی دی وطی نه کړی شي ، مګر پدی باندی نه استاذ پوه شوی او نه د مجلس په حاضرينو کی د چا فکر دی طرف ته شويدی ، دا د عدم تفقه نتيجه ده .
(تلبيس ابليس ص ١٦٦)

(۳) علامه جوزي خپل کتاب کی د علامه خطابي قول نقل کوي : " قال الخطابي وكان بعض مشائخنا يروی الحديث عن النبی صلی الله عليه وسلم نهی عن ا لحلق قبل الصلوة يوم الجمعة باسكان اللام قال واخبرنی انه بقی اربعين سنة لايحلق رأسه قبل الصلوة قال فقلت له ، انما هو الحلق جمع حلقة وانما كره الاجتماع قبل الصلوة للعلم والمذاكرة وامر ان يشتغل بالصلواة وينصت للخطبة فقال قد فرجت عنی "

يعنی يو شيخ دا حديث بيان کړ چی رسول الله صلی الله عليه وسلم لدی خبری نه منع کړی دی چی د جمعی په ورځ له لمانځه نه وړاندی حجامت وکړی شي يعنی ويښته کل کړی شي او بيا يی وويل : پدی حديث باندی عمل کولو سره له (۴۰) کالو نه له جمعی نه وړاندی سر می ندی کل کړی ، علامه خطابي فرمايي : ما ورته وويل حضرت حلق په سکون د لام ندی بلکی په فتح د لام او په کسری د (حا) سره دی چی د حلقی جمع دی او دحديث مطلب دا دی چی د جمعی نه وړاندی د علم او مذاکری حلقی جوړول صحيح نه دي ځکه چی دا د لمونځ کولو او د خطبی اوريدو وخت دی د دی

په اوریدو سره هغه شیخ ډیر زیات خوشحال شو او وی ویل : تا خو راته ډیره آساني وکړه (تلبیس ابلیس ص ١٦٦).

(۴) یو خالص محدث حدیث بیان کړی " نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یتخذ الروح عرضا " او د حدیث تشریح یی داسی وکړ چی رسول الله صلی الله علیه وسلم لدینه منع کړی چی د هوا لپاره کړکی عرضاً (په پلنوالي) پریښودل یعنی جوړ کړل شي ، او حال دا چی د حدیث مطلب دا ندی په حدیث کی لفظ د روح په پیش د "را" سره دی او محدث صاحب په زور د "را" سره خیال کړی او عرضاً یی په عین مهمله باندی لوستلی او پورتنی نتیجه یی تری اخستی ده حال دا چی د حدیث مطلب دا دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم لدی خبری نه منع کړی چی کوم ذی روح حیوان په ټرلو سره د تیر (ټوپک وغیره) نښه جوړ کړی شي ، دا د فقه فی الدین د نه حاصلیدو نتیجه ده ، (مقدمه مسلم شریف ۱۸\۱ ، ۱۵۳\۲).

(۵) په کشف بزودي کی لیکلي دي : د یو محدث عادت وُ چی د استنجاء نه وروسته به یی وتر کول کله چی ترینه د دی وجه وپوښتل شوه نو دلیل یی دا پیش کړ چی په حدیث کی راځي : " من استجمر فلیوتر " یعنی څوک چی استنجاء وکړي نو وروسته دی وتر ادا کړي او حال دا چی د حدیث مطلب دا دی چی د استنجاء لپاره کومی لوټي وغیره استعمالیږي نو هغه دی وتر یعنی طاق وي یعنی دری یا پنځه یا اووه .
پدی بناء رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا کړیده : " نضر الله عبداً سمع مقالتی وحفظها ووعاها واداها فرب حامل فقه غیر فقیه ورب حامل فقه الی من هو افقه منه " یعنی الله تعالی دی هغه بنده تروتازه ولري چی زما حدیث واوري او بیا یی یاد کړي او د هغه حفاظت وکړي او بیا یی نورو ته ورسوي ځکه چی ډیر ځلی چاته چی حدیث رسول کیږي هغه لدینه زیات فقیه دی (مشکواة شریف ص ۳۵).

(٦) د غیر مقلدینو پیشوا علامه داوُد ظاهري د "لایبولن احدکم فی الماء الدائم" (یعنی په تاسو کی دی څوک په ولاړو اوبو کی کی بولی نه کوي) په ظاهر باندی عمل کولو سره دا فتوی ورکړی چی په ولاړو اوبو کی خو بولی کول منع دی او اوبه پلیتیږي لیکن که څوک یو جدا لوښي کی بولي وکړي او هغه په اوبو کی واړوي نو اوبه نه پلیتیږي او همداشان که څوک د اوبو په غاړه بولی وکړي او بولي په بهیدو سره اوبو سره ګډ شي بیا هم اوبه نه پلیتیږي ځکه چی په حدیث کی یواځی په ولاړو اوبو کی د

بولو نه منع شویدی او پدی دواړو صورتونو کی په ولاړو اوبو کی بولی ندي کړي لهذا اوبه ناپاکی ندي ، امام نووي د مسلم په شرح کی د علامه داؤد ظاهري د دغـی فتـوی نقل کولو نه وروسته فرمـایي : " هذه من اقبح ما نقل عنه فی الجمود علی الظاهر " د داؤد ظاهري د " جمود علی الظاهر " له غلطومسئلو نه یوه مسئله دغه فتـوی ده (نـووي شرح مسلم ۱۳۸\۱ ، فضل الباري شرح البخاري ۷۲\۲) .

(۷) د غیر مقلدینو دویم پیشوا حافظ ابن حزم (کوم چی لوی محـدث ، مفسـر او مـتکلم دی) د قرآن کـریم د ((واذا ضربتم فی الأرض فلیس علیکم جناح ان تقصروا من الصلوٰة)) یعنی : کله چی تاسو سفر کوئ نو پدی کی څه ګناه نشته چـی تاسـو لمـونځ قصر کړئ (سورت نساء) د دی آیت ظاهر ته په کتو سره ویلـي دي چـی د سـفر مـوده هیڅ شی نشته که د خپل کور نه یواځی د یو میل په ارادی سره هـم لاړ شـي نـو قصر دی ادا کړي په (المحلی) کی پدی مسئله بانـدی ډیـر زور ورکـړی او دوی دا خیـال ندی کړی چی بیا خو څومره خلک چی جماعت ته لمونځ لپاره ځي نـو ټـول بـه قصر کوي ځکه چی یواځی فی الارض پری صادقیږي ، په آیت کی خو د یـو میـل او د نـیم میل هم تعین نشته دی (فضل الباري شرح بخاري ۷۳\۲ مطبوعه پاکستان) .

(۸) د اوسنی زمانی د غیر مقلدینو شیخ الاسلام او محدث مولانا عبـدالجلیل سـامرودي صاحب پخپل یوه رساله " اظهار حقیقـت از آینـه حقیقـت " کـی د درمختـار او د شامي حواله ورکولو سره لیکي : د احنافو په نزد چارپائي سـره د روژې پـه حالـت کـی وطـي کولو سره روژه نه ماتیږي ، انزال شوی وي او یا نه وي بلکی غسل هم نه لازمیـږي ، پـه درمختار کـی دي : " اذا ادخل ذکره فی بهیمة او میتة من غیر انـزال ، ۲۰۳\۲ مصري قدیم ، نقل فی البحر وکذا الزیلعي وغیره الاجماع علی عدم الفساد مـع انزال ص ۱۶ " . د درمختار او د شامي د عبارتو مفهوم معلومولو نه بغیر لیکلي دي (۱) روژه نه ماتیږي (۲) انزال وي او که نه وي (۳) بلکی غسل هم نـه لازمیـږي ، او حـال دا چی ذکر شوي دری واړه دعوی بالکل غلط او د جهالت او کج فهمي واضح ثبـوت دی ، د درمختار او د شامي د عبارت له سره دا مطلب نه دی ، پدی بناء د مسئلی د مکمـل تفصیل او د وضاحت لپاره دی د فتاوی رحیمیه (۷) جلد (۲۴۲) صـفحه وګـورئ ، د غیر مقلدینو شیخ الاسلام کله چی د درمختار او شامي په آسان عبارت باندی له پوهیـدو نـه

قاصر دی نو قرآن و حدیث او تفسیر باندی به څه پوهـ شي ؟ د دوی شیخ الاسلام ، علامه او محدث دا حالت وي نو د نورو به څه حالت وي ؟

سامرودي صاحب په عبارت لیکلو کی خیانت کړی او هغه دا چی چارپائي سره وطـي کولو کی انزال وشي نو په اتفاق سره روژه ماتیږي او غسل هـم لازمیږي د شامي او درمختار د دواړو عبارت دا دی : " او ادخل في بهیمة او میتة من غیر انزال قــال في الشامیة تحت قوله من غیر انزال ، اما به فعلیه القضا کما سیأتي " (شامي بـــاب مایفسد الصوم ومالایفسده ۲\۳۹۹) .

دویم صورت دا دی چی خپله شرمګاه استعمال نه کړي بلکـی د چارپـای شـرمګاه تـه لاس ولګوي او یا چارپای ښکل کړي او انزال وشي نو پدی صورت کی روژه نه ماتیږي ، سامرودي صاحب د دویم صورت حکم اول صورت سره لګولی دی پدی طریقه یی یو بل خیانت هم کړیدی چی د هغه تفصیل په مفسدات صوم کی لیکلی کیږي .

قیـاس کـــن زګــلستان مـــن بـــهار مــــرا

یوه لطیفه راته یاده شوه ، یو نیم فارسي دان یوځل خپل دوست د دشـمن پـه لاس پـه وهلو ولید نو ورغی او د خپل دوست لاسونه یی ونیول نو پدی وجه هغـه د خپـل ځـان دفاع ونشو کړئ او دشمن د موقع نه کار واخست دومره یی ووهلو چی حالـت یی ورتـه خراب کړ یو سړي چی دغه حالت ولید نو وي ویل : تا دا بیهوده حرکت ولی وکـړ چـی د خپل دوست د لاسونو په نیولو سره دیورباندی ښـه ووهلـو ، هغـه نـیم فارسـي دان وویل چی تا ګلستان کی د شیخ سعدي نصیحت ندی لوستی چی : ع

دوست آن دانـم کـه ګیرد دوسـت دوسـت

در پــریشان حـــالـــي و درمـــــانـــــدګي

یعنی رشتونی دوست هغه دی چی خپل دوست په تکلیف او پریشانی کـی ووینـي نـو د هغه لاسونه ونیسي ، هغه سړي ورته وویل (الله تعالی دی درباندی رحم وکـړي) د دی مطلب خو دا دی چی کله دوست په پریشانی او تکلیفف کی ووینی نو د هغـه مرسـته او مدد وکړئ او د تکلیف نه یی خلاص کړئ نه دا چی د هغه د لاسونو په نیولو سـره بـل باندی ښه ووهئ ، او لکه څنګه مرزا مظهر جان جانان خپل یو خادم ته حکم وکړ چـی د اوبو کوزه راواخله مګر د ملا نه یی ونیسه (د هغـه مـراد خـو دا وُ چـی د کـوزی مـلا ونیسه او غاړه یی مه نیسه چی چیری مات نشي) مګر ناپوهه خادم داسی وکړل چی په

یو لاس سره کوزه له غاړی نه ونیوله او په بل سره یی خپل ملا ونیوه مرزا صاحب چی دا نامعقول حرکت ولید نو په سر یی درد شو ځکه چی ډیر لطیف الطبع او باریک مزاجه و ، دا دی د کلام په ظاهر باندی د عمل کولو او دعقل او پوهی نه د کار نه اخستو آفت او مصیبت ،او همدا حالت د دی زمانی د اهل حدیثوو (غیر مقلدینو) هم دی ، په علم کی ناقص او فهم کی دین نه وړانده او د تفقه فی الدین له نعمت عظمی نه محروم ، د دی نقصانونو او کمیو باوجود ګډوډ یو څو حدیثونه یادولو سره د پوره مجتهد کیدو دعوی کوي پدی هم اکتفاء نه کوي بلکی یو قدم نور هم وړاندی تلو سره د سلف صالحینو ، ائمه دین او حضرات مجتهدین امام ابوحنیفه وغیره ته د قرآن و حدیث نه ناواقف او د قرآن و حدیث په مقابل کی خپل رأی باندی عمل کونکی وائي ، او مطلقاً د رأی او اجتهاد بدي بیانوي او حال دا چی د رأی دوه قسمونه دي ، یوه هغه رأیه ده چی د نص په مقابل کی وي لکه د ابلیس رأیه چی وه " خلقتنی من نار وخلقته من طین " (سورف اعراف (۱۲) ایت) .

یعنی زه دی له اور نه پیدا کړی یم او دا (آدم علیه السلام) د خاوری نه ، او اور افضل دی او د دی پورته کیدل طبعاً اوچت طرفته کیږي ، او خاوره ادنی ده او دوی تیتیدل طبعاً ښکته او لاندی طرف ته وي ، نو افضل او عالي به مفضول او سافل ته څنګه سجده وکړي دا د ابلیس رأیه وه چی د الله تعالی د حکم په مقابل کی وه دا خو بغیر د شک او شبهی نه مذموم او خام دی ، او بله رأیه هغه ده چی د نص په مقابل کی نه بلکی هغه د نص مراد او مطلب واضح کولو لپاره استعمال کړی شي د مذموم نه بلکی محمود دی لکه څنګه چی د بنو قریظه په واقعه کی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : " لایصلین احدکم الا فی بنی قریظة " په تاسو کی دی هیڅوک د مازیګر لمونځ د بنوقریظه نه علاوه بل ځای کی نه کوي ، په لاره کی چی کله صحابه کرامو ولیدل د مازیګر وخت ختمیږي نو صحابه کرام دوه ډلی شوی ، یوی ډلی په ظاهري الفاظو باندی عمل کولو سره په لاره د مازیګر لمونځ کولو نه انکار وکړ او هلته ته رسیدو سره یی د مازیګر لمونځ وکړ ، او دویمی ډلی وویلی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصل مقصد دا دی چی خومره کیدی شي تیز لاړ شئ تر دی چی د مازیګر لمونځ په لاره کی رانشي بلکی منزل مقصود ته ورسي دا مقصد نه دی چی په هر صورت لمونځ هلته وکړئ اګر که قضاء هم شي دا اجتهاد یی وکړ او په لاره کی یی

لمونځ ادا کړ ، او بیا وروسته یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دا واقعه بیان کړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅوک ملامت نه کړ ، لدې واقعې نه معلومیږي چې یوې ډلې خپلې رأی باندې عمل وکړ څو دغه رأیه د نص خلاف او مقابل کې نه وه بلکې د نص مقصد او مراد واضح کولو لپاره استعمال کړی شوې وه پدې وجه مذموم ونه ګرځولی شوه او رسول الله صلی الله علیه وسلم هم رد وباندې ونه کړ ، او د علامه ابن قیم رحمه الله په قول دا د فقهاؤ ډله وه .

د دین مدار دوه شیانو باندې دی :

د دین مدار دوه شیانو باندې دی (۱) صحیح نقل (روایت) او (۲) فهم صحیح (در ایت)لهذا دیو داسې جماعت ضرورت دی چې د شریعت (قرآن و حدیث) د الفاظو محافظ وي او بیا دغه الفاظ فقهاؤ ته ورسوي دا د محدثینو . ماعت دی او د یو بل داسې جماعت هم ضرورت دی چې دشریعت اصول او فروع ، کلیات او جزئیاتو د غرض او مقاصدو تشریح او وضاحت وکړي او د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د کلام صحیح صحیح مراد امت ته وښائي ، دا د فقهاؤ او د مجتهدینو جماعت دی د صحابه کرامو په دور کې هم دغه دواړه ډلې وې ، د غیر مقلدینو محقق علامه ابن قیم جوزي رحمه الله لیکي .

. تبلیغ دوه قسمونه دی : یو د الفاظو تبلیغ او بل د مراد او معنی تبلیغ پدې وجه د امت علماء په دوه قسم شویدي ، یو قسم د حدیث حافظان چې دحدیث الفاظ یې یاد کړي دي او چاپ کړیدي صحیح او موضوع یې جدا جدا کړي دا حضرات د امت امامان او مقتدایان دي او د اسلام سورلی دي دغو بزرګانو د دین د یادګارونو او د اسلام کلاګانو حفاظت کړی او د شریعت نهرونه یې د خرابیدو څخه ساتلي دي ، او دویم قسم د اسلام د فقهاؤ او مفتیانو صاحبانو دی (د همدوی په فتاواؤ باندې د امت دار ومدار دی) دغه ډله د اجتهاد و استنباط ، د حلال او حرام د قواعدو مرتب کولو لپاره خاص ده ، په ځمکه کې فقهاء کرام داسې دي لکه په آسمان کې روښانه ستوري ، د دوی په ذریعه په شپه کې لار غلط کوونکو ته لاره پیدا کیږي او د همدوی په ذریعه مشکل مسائل حل کیږي ، او خلکو باندې د فقهاؤ تابعداري د مور او پلار له تابعدارۍ نه هم زیات ضروري دی لکه څنګه چې قرآن کې د الله ارشاد دی : " یاایها الذین امنوا

اطيعوا الله واطيعوا الرسول واولى الامر منكم " اى ايمان والاو ! د الله تعالى تعابداري وكړئ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم تابعداري وكړئ او د اولى الامر (فقهاء كرام وغيره) تابعداري وكړئ يعنى د قرآن وسنت چى كوم مطلب او مراد دغه حضرات بيان كړي په هغه باندى عمل كوئ (اعلام الموقعين ١\٩١) .

تفقه فى الدين د الله تعالى يو لوى نعمت دى ، الله تعالى دغه نعمت خپلو خاصو بندګانو ته وركوي ، د رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمان دى : " من يرد الله به خيرا يفقه فى الدين " الله تعالى چى چاته د نيكى اراده وكړي هغه ته ددين پوهه وركوي (مشكواة كتاب العلم ص ٣٢) . او الهي فرمان دى : " يؤت الحكمة من يشاء ومن يؤت الحكمة فقد اوتى خيرا كثيراً " ددين فهم (يعنى علم فقه او تفقه فى الدين) چى چاته وغواړي وركوي او (حقيقت دا دى) چى چاته ددين فهم حاصل شي هغه ته ډير لوى فهم حاصل شي هغه ته ډير لوى خير حاصل شو (ترجمه بيان القرآن سورت آل عمران ، تفسيرات احمديه ص ١١٨) .

چاته چى دا نعمت (د دين فهم او تفقه فى الدين) حاصل شي هغه په صحيح طريقه د خلكو لاربنونه كوي او خلكو ته مشكل مسائل حل كوي ، او امت د شيطاني جالونواو مكرونو څخه بچ كولو سره په سمه لاره روانوي ، پدى وجه يو فقيه نه شيطان ډير زيات ويره كوي ، لكه حديث كى راځي : " فقيه واحد أشد على الشيطان من الف عابدٍ " په شيطان باندى يو فقيه عالم د زرو عابدانو څخه هم زيات سخت وي (مشكواة شريف كتاب العلم عن ابن عباس رضى الله عنه ص ٣٤) . غير مقلدين چى د تفقه فى الدين له نعمت څخه محروم دي دوى هم له فقيه نه ويريږي او دا خپل دشمن ګڼي او د فقه او فقيه د نيست و نابود كيدو ارزو كوي ، د غير مقلدينو شيخ الاسلام مولانا عبدالجليل سامرودي صاحب په " بوى غلين " كى ليكي : " كه چيرته په دنيا كى اصول فقه او د فقه وجود نه واى نو نن ورځ به د كوم آريه سماج او د نورو مذاهبو له پيدا كيدو نه وړاندى هيڅكله فرقه بندي نه واى " ، او ليكي : " كه چيرته تاسو خلك د الله تعالى طرفداري كوئ نو بيا د ټولو مذهبي كتابونو څخه لاس په سر شئ " او ليكي : " په كتاب و سنت باندى كه يو عادل او عامل بادشاه واى او بيا هغه د فقه او د نورو مذاهبو ټول

کتابونه د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه پشان په خندق کی دفن کړی وای او یا سوخولی وای هلته به نو بیا د کتاب و سنت هغه نشر و اشاعت کیدی شوه " .
د دشمنی سبب د علم فقه له قدر او قیمت نه ناواقفیت دی ، مشهور دي چی "والجاهل لاهل العلم أعداء" یعنی جاهلان د اهل علمو دشمنان وي ، او حال دا چی د فقه او فقیه په حدیث کی زیات فضیلتونه بیان کړی شویدي لکه حدیث (۱) " لکل شئ عماد وعماد الدین الفقه " د هر شي لپاره ستنی وي او د دین ستنه فقه ده (بیهقي ، دار قطني) او د فتاوی سراجیه ص ۱۵۸ ، کتاب الفواید) .
(۲) " عن ابی هریرة رضی الله عنه الناس معادن کمعادن الذهب والفضة خیارهم فی الجاهلیة خیارهم فی الاسلام اذا فقهوا " روا مسلم (مشکواة شریف کتاب العلم ص ۳۲) یعنی خلک د سرو او د سپینو زرو کان پشان دي او کوم خلک چی د جاهلیت په زمانه کی د کریم الاخلاق کیدو په وجه باندی مقتدا او پیشوا او ښه وو هغه په اسلام کی هم ښه دي کله چی فقه فی الدین حاصل کړي (یعنی احکام علی وجه البصیرت وپیژني او د فروعاتو د استنباط قوت ولري) .
په یو بل حدیث کی دي : " عن معاویه رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من یرد الله به خیرا یفقه فی الدین " متفق علیه ، د حضرت معاویه رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : چاته چی الله تعالی د خیر اراده وکړي نو هغه ته په دین کی فقاهت نصیب کوي یعنی هغه لره فقیه فی الدین جوړوي . دا حدیث بخاري او مسلم روایت کړیدی (په حواله د مشکواة ص۳۲) .
د حضرت علي کرم الله وجهه فرمان دی : " انما مثل الفقهاء کمثل الاکف " بیشکه د فقهاؤ مثال د ورغوي دی یعنی څنګه چی انسان ورغوي ته محتاج دی همداشان خلک فقه او فقیه ته محتاج دی (مفید المفتي ص ۹) .
او یو بل حدیث کی دي : " مجلس فقه خیر من عبادة ستین سنة " د فقه یو مجلس (یا د فقه په درس کی شاملیدل) د (۶۰) کالو عبادت نه بهتر دي (رواه الطبراني فی معجم الکبیر) .

د فقیه فی الدین د عظمت اندازه لدینه ولګوئ چي یو خاص موقع باندی رسول الله صلی الله علیه وسلم حضرت ابن عباس رضي الله عنه ته داسي دعا کړې : " اللّهم فقهه فی الدین وعلمه التأویل " یاالله! ابن عباس رضی الله عنه ته د دین پوهه او علم تفسیر ورنصیب کړی (ترجمان السنه ۲۵۸\۴) .

فهم حدیث د فقهاؤ حصه ده د تش محدث کار ندی بلکی زیات وخت د تفقه فی الدین له حصول نه بغیر تش حدیث زده کول په فتنه او د لوی نه په لوی غلطی کی د واقع کیدو سبب جوړیږي چی د دی مثالونه مو پورته ملاحظه کړل ، امام مسلم خپل مشهور کتاب په صحیح مسلم کی د حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت نقل کوي " ما انت بمحدث قوماً حدیثاً لاتبلغه عقولهم الا کان لبعضهم فتنة " یعنی کله چی ته خلکو ته داسی حدیث بیانوی چی د هغه په مطلب باندی د خلکو عقل و فهم نشي رسیدلی نو دا حدیث به ځینو خلکو لپاره ضرور د فتنی سبب جوړیږي (مسلم شریف ۱\٦ مقدمه کتاب مسلم)

امام ترمذي رحمه الله په ترمذي شریف کی فیصله کوي " وکذلك قال الفقهاء وهم اعلم بمعانی الحدیث " همداشان فقهاؤ کرامو فرمایلي دي او همدوی حضرات د حدیث په مراد او مقصد باندی له ټولو نه زیات پوهیدونکي دي (ترمذي شریف ۱۱۸\۱) .

د امیر المؤمنین فی الحدیث امام بخاري او د امام مسلم استاذ امام سفیان بن عیینه فرمایي : " الحدیث مضللة الا للفقهاء " (تفقه فی الدین نه بغیر) حدیث ګمراه کونکی دی غیر د فقهاؤ نه ، یعنی چاته چی فقه فی الدین حاصل نه وي هغه د حدیث صحیح مراد ته نشي رسیدلی او دخپلی ناقصی رأی نه ګډوډ مطلب اخلي او ګمراه کیږي ، وګورئ شیعه ګان ، روافض ، خوارج ، معتزله ، قادیاني او نور باطلی فرقی هم د قرآن او حدیث نه استدلال کوي مګر ګمراه دي .

امیر المؤمنین حضرت علی کرم الله وجهه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کی عرض وکړ چی که چیرته څه حادثه پیښه شي او د دی صریحی حکم پیدا نشي نو څه وکړم ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : " شاوروا الفقهاء العابدین ولا تمضوا فیه رأی خاصة " رواه الطبراني فی معجمه الا وسط . ورجاله موثقون من

اهل الصحیح معارف السنن شرح ترمذی للشیخ محمد یوسف بنوری رحمه الله ج ۳ ص ۲٦٥ یعنی د فقهاؤ او د عابدینو څخه (چې دوی د کمال ولایت او په نظر د کشف او شهود سره د اجتهاد مرتبه حاصل شوي) مشوره وکړئ.

حاصل د کلام دا چې د فقهاؤ د رهبري او د دوی له مسلک نه خلاف چې کوم قدم اوچت شي هغه به غلط وي، پدی بناء باندی غیر مقلدین د تراویحو په (۲۰) رکعتو او د طلاق په مسئله کې تیندکونه خوري.

په قرآن پاک کې هم د تفقه فی الدین د حاصلولو امر دی: " فلولا نفر من کل فرقة منهم طائفة لیتفقهوا فی الدین " نو داسې ولې نه کوي چې د دوی د هری لوی ډلې نه یوه وړه ډله (جهاد) ته لاړ شي تر څو دا پاتی خلک د دین پوهه حاصله کړي (سورت توبه).

او په حدیث کې دي: " عن ابی سعید الخدری قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الناس لکم تبع وان رجالاً یأتونکم من اقطار الأرض یتفقهون فی الدین فاذا اتوکم فاستوصوا بهم خیراً " (رواه ترمذي) رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي (ای زما صحابه و) خلک ستاسو تابع دي له ډیرو لرو علاقو نه تفقه فی الدین حاصلولو لپاره تاسو ته به راځي، کله چې درته راشي نو ورسره نرمي، محبت او نیکه رویه کوئ دا زما نصیحت دی تاسو ته (مشکوای شریف ص ۳۴ کتاب العلم، فصل ثاني).

ډیر د غور او فکر کولو مقام دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته د هغو خلکو سره د نرمي او د محبت معامله کولو وصیت کړی کوم چې د تفقه فی الدین حاصلولو لپاره راځي او غیر مقلدین فقه او فقیه سره د نفرت اظهار کوي او د فقه د کتابونو د سوځولو او د دفن کولو ترغیب ورکوي (معاذالله) او حال دا چې څوک حقیقي محدث وي د هغه شان به دا وي چې د فقیه به ډیر قدر او احترام کوي او محبت به ورسره ساتي، د دی هم یو دوه نمونی وګورئ:

(۱) امام اعمش رحمه الله چې مشهور محدث دی او د جلیل القدر محدثینو لکه امام شعبه، امام سفیان ثوري، امام سفیان عیینه، امام ابوحنیفه وغیرو استاذ او شیخ دی، اتفاقا د امام اعمش رحمه الله په خدمت کې یوه مسئله وړاندی کړی شوه او دوی

سمدستي بغیر د تردد نه وفرمایل : " انما یحسن جواب هذا النعمان بن ثابت واظنه انه بورك فی العلم " یعنی د دی مسئلی ځواب امام ابوحنیفه په مبنه طریقه ورکولی شي او زما ګمان دی چی ده په علم کی خداداد برکت دی (الخیرات الحسان ص ۳۱) .

(۲) د امام اعمش رحمه الله یو بله واقعه ده ، د عبدالله بن عمرو بیان دی چی زه د امام اعمش رحمه الله په مجلس کی وم پدی مجلس کی امام ابوحنیفه رحمه الله هم تشریف درلود یو سړي د امام اعمش رحمه الله نه د یوی مسئلی تپوس وکړ دوی چپ او خاموش پاتی شول او بیا یی امام ابوحنیفه طرف ته متوجه شو او وی ویل : د دی مسئلی څه ځواب دی ؟ دوی ورته تسلي بخش ځواب ورکړ ، امام اعمش رحمه الله ورته په تعجب سره تپوس وکړ چی دا مسئله دی د کوم حدیث نه مستنبط کړی دی ؟ ځواب یی ورته ورکړ د هغه حدیث نه کوم چی تا راته پخپل سند سره بیان کړی وُ د هغه حدیث نه دا مسئله راوځي امام اعمش رحمه الله د دی خبری په اوریدو سره بی اختیاره وویل : " نحن الصیادلة وانتم الأطباء " یعنی مونږه (د محدثینو ډله) عطار یعنی دوا فرشان یو او تاسی (فقهاء) طبیبان یئ ، مونږ یواځی حدیث یادوو ، صحیح او ضعیف پیژنو لیکن لدی حدیثونو نه احکام راویستل او استنباط کول ستاسو (یعنی د فقهاوْ) کار دی لکه څنګه چی عطار سره هر قسم دوایانی او بوټی جمع وي ، اصلي او نقلي پیژني ، لیکن د دوایانو څه خاصیت دی ، او فائدی یی څه دي ، د استعمال طریقه یی څه ده پدی ټولو خبرو باندی طبیبان پوهیږي نه عطاران (دوا فروشان) همداشان محدثین حدیثونه یادوي لیکن د احکام استنباط ورنه فقهاء کوي ، نو کوم فرق چی طبیبانو او عطارانو کی دی همدا فرق محدثینو او فقهاوْ کی دی (کتاب جامع بیان العلم وفضله ۱\۱۳۱ ، الخیرات الحسان ص ٦۱) .

(۳) همداسی یوه بله واقعه ده ، امام ابویوسف فرمایي یوځل امام اعمش رانه په تنهایئ کی د یوی مسئلی پوښتنه وکړه ، ما ورته ځواب ورکړ ، په خوشحالیدو سره یی وفرمایل : " من این قلت هذا یایعقوب ؟ " ای یعقوب ! (د امام ابویوسف نوم دی) دا مسئله دی څنګه معلومه کړه ؟ ماورته وویل : " بالحدیث الذی حدثتنی انت ثم حدثته " یعنی د هغه حدیث نه چی تا ماته بیان کړی او بیا ما دوی ته ته بیان کړی ، " فقال لی

یایعقوب انی لاحفظ هذا الحدیث من قبل ان یجمع ابواك ما عرفت تأویله الی الآن " وی ویل ای یعقوب ! دا حدیث ماته له هغه وخت نه یاد دی چی ستا مور و پلار لاسره جمع شوي هم نه وو لیکن تر اوسه پوری د دی حدیث په مقصد باندی نه ومه پوهه شوی (کتاب جامع بیان العلم وفضله ص ۱۳۱) (العلم والعلماء ص ۲۲۵) .

د امام اعمش نه د اوچتی درجی محدث امام عامر شعبی رحمه الله (کوم چی جلیل القدر تابعي دی او د (۵۰۰) صحابه کرامو سره یی زیارت نصیب شویدی) فرمایي : " انا لسنا بالفقهاء ولکننا سمعنا الحدیث فرویناه للفقهاء " مونږه (یعنی محدثین) فقیه او مجتهد نه یو ، مونږ خو حدیثونه آورو (او یادوو) او بیا یی فقهاوٗ ته بیانوو (تذکرة الحفاظ) تاسو ولیدل د محدثینو خو دا شان دی چی د فقهاوٗ د فضیلت بی تکلفه اعتراف کوي او د ضرورت په وخت کی ورته رجوع هم کوي لیکن د دی زمانی " اهل حدیث " چی د عربیت سره نابلده او د فهم و بصیرت نه په میلونو لری د مشکواة شریف ، مؤطا امام مالک وغیره د حدیثو د کتابونو اردو ترجمه په کتو سره د حدیث دانی دعوی کوي ، او هدایت یافته ائمه و ته د قرآن و حدیث په خلاف عمل کونکي وائي اوخپل ځانته له دوی نه افضل او لوی محدث وائي ، " انا لله وانا الیه راجعون " پدی موقع شاعر ښه ویلي دي :

انــــقلاب چـــمن دهـــر کـی دیکهی تــکمـیل
آج قـــارون بهی کــــه دیــتا هے حــاتم کـــو بخیل
بـــوحـــنیفه کـــو کـــهے طـــفیل دبـــستان جـــاهل
مـــه تـــابـــان کـــو دکـــهانے لـــگی مشعـــل قـــندیل
حـــسن یـــوسف مـــین بـــتانے لـگا آبرص سو عیب
لگ گئی چیونتی کـو پــر کـــهنے لــگی هیچ هے فیل
شـــرک ، تـــوحیـــد کـــو کـــهنے لگے اهـــل تثلیث
لـــوح مـــحفوظ کـــو کـــهتی هـــے مـحرف انجیل
ســادی مـــوسی عـــمران کـــو کــــهے جـــادوگر
شیـــخ کـــی کـــرتے هـین اسـکول کـے بچے تـجهیل
اســـپ تـــازی شـــده مـــجروح بـــزیر پـالان !
طـــــوق زریـــن هے گـــدهے کے لئے عـزت کی دلیل

یعنی د زمانی پدی چمن کی انقلاب ته وګوره چی نن قارون هم حاتم ته بخیل وائي ، ابوحنیفه ته د مکتب ماشوم جاهل وائي او د قندیل شمع څوارلسمی سپوږمی تـه ځـان بنائي ، ابرص (برګی) هم د یوسف علیه السلام په حسن کی عیبونه لګـوي ، میږی تـه وزر وشو نو هاتي ته یی هیڅ وویل ، عیسایان هم توحید ته شـرک وائـي ،او انجیـل هـم لوح محفوظ ته محرف وائي ،اوساده او بیوقوف هم موسی علیه السلام ته جادوګر وائـي ، او شیخ ته هم د اسکول ماشومان جاهل وائي ، تازي اسپه د پالان لاندی زخمي شـوه نو څکه زرین طوق (پټی) د خره په غاړه زینت جوړ شوی .

د غیر مقلدینو د دغه تعصب او جهالت اعتراف د دوی مقتدا او پیشوا هم کوي لکه چـی د دوی یو پیشوا قاضي عبدالوهاب خانپوري خپل کتـاب " التوحید والسنة فی رد اهل الالحاد والبدعة " (٢٦٢) صفحه کی لیکي : " نو د دی زمانی پـه دروغـه اهـل حـدیث ، مبتدعین ، د سلف صالحینو کوم چی د ماجاء به الرسـول لـه حقیقـت نـه جاهـل دي د دوی په مفتو کی د شیعه ګانو او د روافضو وارث او خلیفه ګان جوړ شـوي ، لکـه څنګـه چی شیعه ګان د ملحدینو او زندیقانو او د منافقانو د حمایـت لپـاره دروازه او لاره جـوړ شوی او د دی غیر مقلدینو حـال هـم بـالکل شیعه ګـانو پـشان دی " (پــه حوالـه د تقلید ائمه ص ١٨) .

و همدا شان مشهور اهل حدیث مولانا وحید الزمان لیکي : " اهل حدیث گویا چې د امام ابوحنیفه او د امام شافعي تقلید ته حرام وائي لیکن د ابن تیمیه ، ابن قیم ، شوکاني او د نواب صدیق حسن خان صاحب وړوند تقلید کوي " (اسرار اللغه ص ۲۴ پاره اتم)

پدې صورت حال کې ځمونږ غیر مقلدین وړونو ته مناسب دا دي چې نفسي خواهشاتو پسې عمل پرېښولو سره د ائمه مجتهدینو تقلید وکړي ، حضرت شیخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله فرمايي : " خانهٔ دین این چهار ست وهر که راهے ازین راهها ئے ودرے ازین درهائے ا ختیار نموده براه دیگر رفتن ودر دیگر گرفتن عبث ویاوه باشد " یعنی د دین کورونه څلور دي (یعنی څلور مذهبونه) کوم سړی چې د دی لارو نه علاوه بله لاره او ددی دروازو نه سیوا بله کومه دروازه اختیار کړي نو هغه به بیکاره او عبث وي . (شرح سفر السعادت ص ۲۱) .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي فرمايي : " وبالجمله این چهارم امام اند که عالم را علم اشیان احاطه کرده است امام ابوحنیفه ، امام مالک ، امام شافعي ، امام احمد " یعنی دا څلور امامان داسې دي چې د دوی علم ټوله دنیا راپیره کړې ده او د دوی امام ابوحنیفه ، امام مالک ، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله دي (شرح مؤطا ص٦)

شیخ فرید الدین عطار رحمه الله د ائمه اربعه و باره کی فرمايي : ع

آن امامان که کردند اجتهاد
رحمت حق برروان جمله باد
بوحنیفه بود امام با صفا
آن سراج امتان مصطفی
باد فضل حق قرین جان او
شاد باد ارواح شاگردان او
صاحبش بویوسف قاضي شده
وز محمد ذوالمنن راضي شده
شافعي ادریس مسالک بازفر
یافت ذیشان دین احمد زیب وفر
احمد حنبل که بود او مرد حق
درهمه چیز ازهمه برده سبق

روح شان در صدر جنت شاد باد
قصر دین از علم شان آباد باد

پورته ذکر شوي فارسي اشعارو چا په اردو کی داسی ترجمه کړیده :

مجتهد دین کے جو گزرے هین امام
روح پر سب کے هو رحمت صبح وشام
بوحنیفه تھے امام باصفا
شمع جمله امتان مصطفی
جان پراس کی خدا کا فضل هو
خوش کرلے حق اس کے هر شاگرد کو
یوسف اس کا همنشین قاضی هوا
اور محمد سے خدا راضی هوا
تھے زفر ، مالک ، امام شافعی
جن سے زینت دین احمد(ص) کو ملی
احمد حنبل که تھے وه مرد حق
لے گئے هر علم مین سب سے سبق
روح ان سب کی جنان مین شاد باد
علم سے ان کے ، دین کا محل آباد

یعنی ددین مجتهدین امامان چی وو ، د ټولو په روحونو باندی دی همیشه رحمتونه وي .

امام ابو حیفه چی ډیر مخلص امام و ، او دامت محمدي لپاره چراغ و .

په ده دی دالله تعالی رحمتونه وي او دده دشاګردانو روحونه دی الله تعالی خوشحه کړی ملګری ابو یوسف قاضي شو او دامام محمد نه الله تعالی راضي شو .

اوبل امام زفر ، مالک او شافعي وو چی دمحمد صلی الله علیه وسلم دین وربانډی ښایسته و او امام احمد مرد حق و چی په علم کی دهر چانه وړاندی و .

ددوی ټولو روحونه دی الله تعالی په جنت کی خوشحاله کړي ، او ددین مانی د پرېږ ودانه لري .

۱_ دتقلید حیثیت او ثبوت یې _
۲_ په تقلید شخصي کی دتقلید منحصر کیدل _
۳_ په تقلید باندی داعتراضاتو جوابونه_

ددین اصل دعوت دادی چی یواځې دالله تعالی عبادت وکړی شي تردی پورې چی درسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت او تابعداري هم ځکه واجب دی چی دی صلی الله علیه وسلم پخپل قول او فعل سره د الهي احکامو ترجماني کوي چی کوم شئ حلال دی او کوم شی حرام ، څه شئ جائز دی او څه شی ناجائز ، پدی ټولو معاملو کی تابعداري خو یواځې دالله تعالی کوي مګر چونکې رسول الله صلی الله علیه وسلم ددی معاملو مبلغ او رسونکی دی نو پدی وجه درسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت اوپیروي کولې شي ، او درسول الله صلی الله علیه وسلم پیروي په حقیقت کی دالله تعالی پیروي ده ، دالله تعالی فرمان دی : (من یطع الرسول اطاع الله)لهذا دشریعت په ټولو معاملو کی یواځې دالله تعالی اودده درسول اطاعت ضروري دی او کوم سړی چی دالله او درسول الله نه سیوا دکوم بل چا لپاره داطاعت کولو قائل وي او هغه مستقبل بالذات مطاع (قابل داطاعت) وګنې ، دایقیناً چی بد دی ،لهذا هر مسلمان لپاره ضروري دی چی دقرآن او حدیث داحکامو لحاظ او پیروي وکړي ،

په قرآن وحدیث کې ځینی احکام داسې دي چی دقرآني آیتونو او صحیح حدیثو نو نه صراحتاً ثابت دی او پدوی کی ظاهراً کوم تعارض نه دی ، دغه قسم احکام او مسائلو ته (منصوصي) وایي لیکن ځیني احکام داسی دي چی یو اندازه ابهام او اجمال او ځیني حدیثونه او آیتونه داسې دي چی دڅو معنی ګانو احتمال لري ځیني محکم دي او ځیني متشابه ، څه مشترک دي او څه مؤول ، او څه احکام داسې دي چی په ظاهر کې دقران کریم کوم بل آیت او یا کوم بل حدیث سره متعارض ښکاري مثلاً په قران پاک کی دي (والمطلقات یتربصن بأنفسهن ثلثة قرؤ؟) یعنی طلاقې شوی ښځې دی دردریو قروء تیریدو پورې انتظار وکړي .

لفظ د(قرو) په عربي ژبه کې حیض او طهر دواړو معنو کی استعمالیږي پدی موقع کی داشک پیداکیږي چی دطلاقی شوی ښځې عدت دریو حیضونو په راتلو باندی ختمیږي

او یادریو طهرونو (دپاکي دزمانی) په ختمیدو باندی پوره کیږي ، او همداشان په حدیث کې دي :

((من کان له امام فقراءة الامام له قراءة (ابن ماجه)))

یعنی دچاچی امام وي نو دامام قرأت هغه لپاره کافي دی اوپه بل حدیث کې هم دغه شان دي : ((انما جعل الامام لیؤتم به فاذاکبر فکبروا واذا قرأ فانصتوا (مسلم شریف ۱/ ۱۷٤) یعنی امام دی لپاره جوړ شویدی چی دده اقتداء وکړې شي کله چې دی تکبیر ووایي نو تاسو هم تکبیر ووایي او چی کله قرئت کوي نو بیا خاموش اوسی ، ددی په مقابل کی بل حدیث دی :

((لا صلواة لمن لم یقر أ بفاتحة الکتاب)) (بخاري ۱/ ۱۰۴) یعنی څوک چې سورت فاتحه ونه وایي هغه لمونځ نه کیږي ، نور هم ډیر مثالونه دي چې په ظاهر کې یو حدیث دبل حدیث معارض معلومیږي او لدینه علاوه بی شمیره مسائل داسې دي چې دقران او حدیث نه صراحتاً نه ثابتیږي په هغو کې داجتهاد او داستنباط ضرورت وي پداسې موقع باندی عمل کوونکو ته دامشکل او اشتباه پیداکیږي چی کوم یو باندی عمل وکړي او کومه لاره غوره کړي ، ددی شک لرې کولو او دصحیح مسئلې پیژندلو یو صورت خو دادی چی انسان پخپل فهم او بصیرت باندی اعتماد کولو سره پخپله څه فیصله وکړي او بیا ورباندی عمل وکړي ، او دویم صورت دادی چی دا قسم معاملو کې پخپله دفیصلې کولو په ځای داوګوري چی دقرآن او حدیث دغو ارشاداتو په باره کې زمونږ دجلیل القدر اسلافو (صحابه ، تابعین او تبع تابعین) (کوم چی درسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک زمانه کی او یا ددی نزدی زمانه کې وو چی ددوی متعلق دنبوت په ژبه دافیصله ده خیر القرون قرنی ثم الذین یلونهم ثم الذین یلونهم او کوم چی په قران او حدیث باندی له مونږ نه زیات ماهر او په فهم او بصیرت اعلی وپه تقوی او طهارت کی اوچت ، اوپه حافظه او ذکاوت کی پورته وو) څه رایه ده ؟ هغه باندی عمل وکړي ، پداسی اشتباهي موقع کی غوره خبره داده چی لکه څنګه چی مونږ خپلو دنیاوي معاملو کې دفن دماهرینو په مشورو باندی عمل کوو ، که بیماران شو ډاکتر ته خو که په عدالت او کچهوری کی څه مقدمه وي نو وکیل نیسو ، که کور جوړوو نو دانجنیر خدمات ترلاسه کوو وغیره وغیره ، او څه چی هغوی راته ووایي په

وړاندی یې دتسلم سر ټیټوو او منو یې او ورسره حجت او دلیل بازي نه کوو ، همدا شان په دیني معاملو کې چې دډغو مقدس ترین خطراتو په فهم او بصیرت باندی اعتماد کولو سره لدې ائمه و مجتهدینو څخه دکوم یو په قول باندی عمل وکړو دغه عمل کولو ته په اصطلاح کی تقلید ویل کیږي ، دتقلید حیثیت یواځې همدا دی چې تقلید کوونکی دخپل امام تقلید پدې خیال باندی کوي چې هغه په حقیقت کی په قرآن او حدیث باندی عمل کوي او دصاحب شریعت پیروي کوي او ګویا چې داتصور او خیال کوي چې ((امام)) دده او دصاحب شریعت ترمنځ واسطه دی ، دمثال په طور باندی لکه څنګه چې دجماعت په لمانځه کی کله چې جماعت لوی وي او دامام آواز لری ولاړ مقتدیان نه آوري نو پدې وخت کی یو تکبیر کوونکی مقررولې شي او دغه مکبر دامام اقتداء کولو سره په او چت آواز تکبیر ویلو باندی دامام نقل وحرکت ، د رکوع او سجدی اطلاع وروستی صفونو ته نقل کوي او وروستي صفونو والا داتصور کوي چې مونږ فقط دامام اقتداء او پیروي کوو او ده پسې لمونځ کوو اګرکه رکوع او سجده دمکبر په اواز باندی کوو او پخپله مکبر هم داګڼي چې زه پخپله امام نه یم بلکې زما اودټول جماعت امام صرف یو دی او ټول دده اقتداء کوي زه خو یواځې دامام نقل وحرکت اطلاع ورکوم ، بالکل همداتصور دلته هم دی دمقلد تصور همدادی چې زه خاص دالله اودرسول اطاعت او پیروي کوم ((اما)) په منځ کی دمکبر په منزله ګنم او مستقل بالذات مطاع (قابل پیروي) نه ګنم مستقل بالذات مطاع خو یواځی صاحب شریعت ګني.

خلاصه داچې دذکر شوي مشکل په موقع باندی یو صورت خودادې چې انسان د اسلافو په عقل وفهم او بصیرت باندی اعتماد وکړي او ددوی اتباع وکړي او دویم صورت دادی چې پدغو مجتهدینو کی په یو باندی هم اعتماد ونکړي او پخپل ناقص فهم باندی اعتماد کولو سره خپلې فیصلې باندی عمل وکړي مګر پدی وخت کی دصاحب شریعت اتباع او پیروي نه کیږي بلکې دخپل خواهش به وي او هغه پدی طریقه باندی چې خپله خو مجتهدندی چې دافیصله وکړي چې کوم یو آیت او حدیث ناسخ دی او کوم یو آیت د حدیث منسوخ دی ، کوم یو راجح او کوم یو مرجوح دی وغیره وغیره ، پدی وجه هغه به له خپل خواهش نه زړه ته پر خوښ څیز باندی عمل کوي ،لهذا اتباع دنفسي خواهش کیږي نه دشریعت ، او دانسان ګمراه کولو لپاره دشیطان داکامیابه حربه او طریقه ده چې انسان دنفسي خواهشاتو بنده جوړشي او

عمل ورباندی وکړي ، پدی ذریعه شیطان د انسان په زړه باندی تسلط پیداکوي او بیا په انساني بدن کی دغسې سرایت کوي لکه زهر ، او دادانسان دین لپاره ډیر خطرناک دی ، په قرآن پاک کی هم الله تعالی په نفسي خواهشاتو باندی دچلیدونکو ډیر مذمت کړی دی او یو ځای کی دادخسیس ترین حیوان (سپی) سره تشبیه کړی دی : (ولکنه اخلد الی الأرض واتبع هواه فمثله کمثل الکلب) (سورت اعراف)

یعنی هغه دنیا طرف ته مائل شو او دخپلو نفساني خواهشاتو پیروي وکړو نو دهغه حالت دسپي پشان شو ، او یو ځای کی خواهش پرست د پت پرست قائم مقام گرځولې شویدی : (افرأیت من اتخذ الهه هواه واضله الله علی علم وختم علی سمعه وقلبه وجعل علی بصره غشاوة) ایا تا دهغه سړي حالت لیدلی چاچی خپل نفساني خواهشات خپل معبود جوړ کړیدی او الله تعالی هغه دعلم باوجود گمراه کړی او الله تعالی دهغه په غوږونو او زړه باندی مهر لګولی اوپه سترګو یې پرده غوړولی ده (سورت جاثیه) په نفساني خواهشاتو باندی دعمل کېږو په وجه الله تعالی هغه گمراه کوي او په غوږونو او زړه باندی مهر لګوي نو بیا دهغه زړه ته صحیح خبره نه داخلیږي او نیغې لارې طرف ته دهغه زړه میلان کوي او بیا هغه دګمراهي په کنده کی غورځیږي ،

یو ځای ارشاد دی : (افمن کان علی بینة من ربه کمن زین له سوء عمله واتبعوا اهواء هم) نو څوک چی دخپل پروردګار په واضحه لاره باندی وي ایا دوی دهغه چاپشان کیدی شي چی هغوی ته خپله بدعملي بنایسته کړی شوې وي او دخپلو نفسي خواهشاتو پسې روان وي (سورت محمد) یعنې یوه ډله چی دخپل پروردګار په واضحه لاره روان وي او بله ډله دخپلو نفساني خواهشاتو باندی عمل کوي دادواړه ډلې یو شان نشي کیدلې او لنی ډله کامیابه ده او دویمه ډله ناکامه .

دنفساني خواهش مذمت لدینه زیات نو رڅه کیدی شي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هم خبردارې شویدی چی تاسو دهغه خلکو تابعداري مه کوئ کوم چی د خپلو نفساني خواهشاتو دپسې روان دی ، ارشاد دی : (ولئن اتبعت أهواء هم من بعد ماجاءك من العلم انك اذا لمن الظالمین) (سورت بقرة) یعنې : او که چبرته ته ددوی دخواهشاتو پیروي وکړی (او هغه هم) تاته دعلم (یعنی وحی) راتلو نه وروسته نو یقیناً ته به (معاذ الله) له ظالمانو څخه وشمیرل شی ، او همدا راز ارشاد دی :

(ولا تبتع أهواء هم عماجاءك من الحق) (سورت مائده) اوداکوم رشتوني کتاب چې تاته ملاو شوئ دی لدینه په ارې کیدو سره د دوی په خواهشاتو باندی عمل مه کوه ، او همدا راز ارشاد دی: (وان احکم بینهم بما انزل الله ولاتتبع أهواءهم واحذرهم ان یفتنوك عن بعض ما انزل الله الیك) (سورت مائده) یعنی : او مونږ (مکرراً) حکم کوو چې ته دوی خپل منځي معاملو کی د دغه لیږل شوي کتاب مطابق فیصله کوه او د دوی خواهشاتو باندی عمل مه کوه او له دوی نه (د دوی له خبرو نه) احتیاط کوه چې دوی تا د الله تعالی د لیږلی شوي حکم نه بی لاری نه کړي ، او همدا راز ارشاد دی : (ثم جعلناك علی شریعة من الأمر فاتبعها ولاتتبع اهواء الذین لایعلمون) (سورت جاثیه) یعنی : او بیا مونږ ته د دین په یوه خاصه طریقه باندی ګرځولی یی ته په همدی طریقه باندی روان اوسه او د دی جاهلانو خواهش پسی مه ځه .

په یو ځای کی رسول الله صلی الله علیه وسلم لره مخاطب ګرځولو سره پوره امت تـه دا پیغام ورکړی شویدی چې د نفساني خواهشاتو له پیروی نه ځان وساتئ او که نه تا به الله تعالی له لاری نه واړوي ، فرمایي : (ولا تتبع الهوی فیضلك عن سبیل الله) (سورت ص) یعنی : او د نفساني خواهشاتو پیروي مه کوه (که اوس وکړی) نو هغه به تا د الله تعالی لاری نه خطا کړي ، یو ځای کی ارشاد دی : (فان لم یستجیبوا لك فاعلم انما یتبعون أهواءهم) یعنی که چیرته هغوی ستا له اطاعت نه انکار وکړي نو یقین وکړه چې هغوی یواځې د خپلو خواهشاتو پیروي کوي ، پدی آیت کی دا ښودل شوي دي چې کوم خلک د وحي مطابق عمل ونه کړي نو هغوی د " اتباع هوی " (د خپلو خواهشاتو بندګان) دي او ځوک چې خپل خبری پسی ځي هغه د ټولو نه زیات ګمراه وي ، ځکه چې د الله تعالی ارشاد دی : (ومن اضل ممن اتبع هواه بغیر هدی من الله) (سورت قصص) او د هغه سړي نه زیات ګمراه ځوک دی ، کوم چې د خپلو نفسي خواهشاتو پسی روان وي بغیر د دینه چې د الله تعالی له طرفه کوم دلیل ورسره وي الحمد لله چې مقلدین د وحي اتباع کوي او غیر مقلدین د هوی اتباع کوي یعنی د نفسي خواهشاتو پیروي کونکي دي ، پدی چې مقلدین په ذکر شوي مشکل کی د

صحابه کرامو او د سلف صالحینو په فهم و بصیرت باندی اعتماد کوي او د دوی پیروي کوي او غیر مقلدین حضرات باوجود د دی چی عالم او مجتهدین ندي د ناسخ او منسوخ وغیره وغیره امورو نه ناواقف دي بیا هم د دی حضراتو په فهم و بصیرت او عقل باندی اعتماد نه کوي او دخپلو خواهشاتو مطابق فیصله او عمل کوي .

د رسو الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : ((لایؤمن احدکم حتی یکون هواه تبعا لما جئت به)) یعنی په تاسو کی څوک تر هغه وخته پوری کامل مؤمن نشي جوړیدی څو پوری چی د هغه ټول خواهشات زما د راوړي شریعب تابع نشي (مشکواۃ شریف ص ۴۲)

او یو حدیث کی ارشاد دی : " وانه سیخرج فی امتی اقوام تتجاری بهم تلك الأهواء کما یتجاری الکلب لصاحبه لایبقی منه عرق ولا مفصل الا دخله " یعنی زما په امت کی به آینده داسی خلک پیدا شي چی خواهشات به پکی داسی ننوتي وي لکه لیونی سپی چی څوک وخوري نو د هغه سړي په جسم کی هیڅ یو رګ او بند داسی پاتی نشي چی هغه ته د سپي زهر نه وي رسیدلي (مشکواۃ شریف ص ۳۰) .

که پدی حدیث کی غور وکړی شي نو دوه خبری به معلومی شي یوه دا چی څوک چی سپی وخوري د هغه رګ رګ ته زهر رسیږي چی د هغه د هلاکت سبب جوړیږي ، او دویم خبره دا ده چی که چیرته دا مریض یو تندرست انسان سره یوځای شي د هغه هم دغه حالت کیږي ، نفسي خواهش پسی د تلونکي انسان هم دغه حال وي اول پخپله د ده ایمان خطره کی پریوځي او څوک چی د دغه سړي ملګرتیا او صحبت اختیار کړي د هغه هم دیني نقصان کیږي .

نفساني خواهشات د دوزخ څلور دیوالونه پدی باندی عمل کوي لدی دیوالونه اوړیدل ګویا په دوزخ کي داخلیدل دي لکه چی د صحیحینو روایت دی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایي :

" حفت الجنة بالمکاره وحفت النار بالشهوات " یعنی د جنت ګیرچاپیره د مشکلاتو او تکلیفونو او د جهنم (دوزخ) ګیر چاپیره د شهوتونو څلور دیوالونه درول شویدي ، لهذا خپلو خواهشاتو باندی عمل کول د دغه دیوال نه اوړیدل او جهنم ته داخلیدل دي .

حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمايي : " أنتم اليوم فى زمان الهوى فيه تابع للعلم وسيأتى عليكم زمان يكون العلم فيه تابعاً للهوى " (احياء العلوم ۱\۸٦)

يعني : نن تاسو پدسي زمانه کی يئ چي پدی کی نفسي خواهشات د علم تابع دی او په تاسو باندی به داسی زمانه راشي چي په هغه کی به علم د نفسي خواهشاتو تابع وي (مذاق العارفين ترجمه احياء العلوم الدين ۱\۹۳) .

مشهور بزرگ شيخ ابوعمر زجاجي (د حضرت جنيد بغدادي شاگرد) فرمايي : " كان الناس فى الجاهلية يتبعون ما تستحسنه عقولهم وطبائعهم فجاء النبى صلى الله عليه وسلم فردهم الى الشريعة والاتباع فالعقل الصحيح الذى يستحسن ما يستحسنه الشرع ويستقبح ما يستقبح " يعنى د اسلام نه وراندی خلكو پداسی خبرو باندی عمل كولو چی د دوی عقل او طبيعت به نبه گنلی ، رسول الله صلى الله عليه وسلم په راتلو سره دوی د شريعت او پيروي طرفته وگرځول اوس صحيح عقل او سليم فهم هغه دی چی داسی شيان نبه وگني كوم چی شريعت يی نبه وگني ، او هغه شيان بد وگنبي كوم چی شريعت يی بد وگني . (كتاب الاعتصام ۱\٦۷) .

امام شاطبي فرمايي : " الشريعة موضوعة لاخراج المكلف عن داعية هواه " د شريعت د وضع كولو غرض او هدف همدا دی چی مكلف (انسان) په خواهشاتو باندی له عمل كولو نه راوگرځوي يعنی د خواهشاتو بنده جوړيدو په ځای د الله تعالى بنده جوړ كړي (الاعتصام) .

پيران پير شيخ عبدالقادر جيلانـي فرمايي : " ليس الشرك عبادة الاصنام فحسب بل هو متابعتك هواك " يعنی شرک يواځی د بت پرستی نوم ندی بلكی دا هم شرک دی چی ته د خپل نفس پيروي وكړی ، شيخ پدی خپل ملفوظ كـی د "افريت من اتخذ إلهه هواه" تفسير كړی دی (فتوح الغيب ص ۲۱ مقاله نمبر ۷) .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي فرمايي : " اعلم ان النفس مجبولة على اتباع الشهوات لاتزال على ذلك الا أن يبهرها نور الايمان " يعنی خبردار چی د نفس

فطرت دا دی چی دی د خواهشاتو پیروي کوي تر دی چی دایمان نور پکی داخل شي . (حجة الله البالغة ۲\۳۰٦) .

حضرت ذوالنون مصري فرمایي : " انما دخل الفساد على الخلق من ستة اشياء : ضعف النية بعمل الآخرة والثاني صارت أبدانهم مهيئة لشهواتهم والثالث غلبهم طول الامل مع قصر الاجل والرابع اثر وارضاء لمخلوقين على رضاء الله والخامس تبعوا اهواءهم ونبذوا سنة نبيهم صلى الله عليه وسلم والسادس جعلوا زلات السلف حجة لانفسهم ودفنوا اكثر مناقبهم " .

یعنی د شپږو څیزونو په وجه په مخلوق کی فساد راغلی دی (۱) د آخرت متعلق اعمالو کی د نیت کمزوري (۲) د دوی بدنونه د شهوتونو پوره کولو لپاره آله جوړیدل (۳) اوږده اسیدونه پری غالب شوي او حال دا چی ژوند ډیر زیات مختصر دی (۴) د مخلوق راضی کولو ته د الله تعالی په راضي کولو باندی ترجیح ورکول (۵) د خپلو خواهشاتو پیروي کول او د خپل نبی صلی الله علیه وسلم سنت شاته غورځول (٦) د اسلافو لغزشونه د خپلو ناوړه عملونو لپاره دلیل جوړول او د هغوی مناقب (کوم چی قابل عمل وُ) پریښودل (کتاب الاعتصام ۱\٦۴ ، ٦۵) .

حاصل د خبری دا چی په خواهشاتو باندی د عمل کولو مذمت نه قرآن او حدیث ډک دی او علماء کرامو هم د دی زیات مذمت کړیدی ، پدی وجه انسان لپاره بهتر او د نجات لاره همدا ده چی د خپل ځان نه د فیصلی کولو په ځای د هدایت یافته ائمه وُ په تقوی و طهارت او د دوی خداداد فهم و بصیرت باندی اعتماد کولو سره د څلورو امامانو څخه (چی د دوی په تقلید باندی د امت اجماع ده) د کوم یو تقلید وکړي پدیکی دیني مصلحت او نجات پټ دی . د حضرت شاه ولی الله رحمه الله په ارشاد باندی غور وکړئ : " اعلم ان فى الأخذ بهذه المذاهب الأربع مصلحة عظيمة وفى الأعراض عن كلها مفسدة كبيرة " یعنی پدی پوهیدل پکار دي چی د دی څلور مذهبونو په اختیارلو کی لوی مصلحت دی او لدی ټولو نه په انکار کی لوی فساد دی (عقد الجید ص ۳۱) .

او فرمايي " وثانياً قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اتبعوا السواد الاعظم ولما اندرست المذاهب الحقة الا هذه الاربعة كان اتباعها اتباعاً للسواد الاعظم " د مذهب د پابندی دویمه وجه دا ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : "واتبعوا السواد الاعظم" یعنی د سواد اعظم پیروي وکړئ چونکه د دی څلورو مذهبونو نه علاوه نور حق مذهبونه باقي پاتی نشول پدی وجه د دوی پیروي کول د سواد اعظم (لوی ډلی) پیروي کول دي او له دوی نه خارجیدل د سواد اعظم نه خارجیدل دي (عقد الجيد ص ۳۱) .

حضرت سید احمد شهید بریلوي قدس سره فرمايي : " دراعمال اتباع مذاهب اربعه که رائج در تمام اهل اسلام است خوب است " په ټولو اعمالو کی د څلورو مذهبونو پیروي کوم چی په ټولو مسلمانانو کی رائج دي ډیر بهتر او ښه عمل دی (صراط مستقیم فارسي) .

لهذا که څوک په صحیح طریقی سره د شریعت اتباع کول غواړي او د نفسي خواهشاتو له لعنت نه محفوظ اوسیدل غواړي نو بیا دی لدی څلورو مذهبونو څخه د کوم یو پیروي وکړي او خاص کر پدی د فتنو د ډکه زمانه کی د کوم باره کی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : " ثم يفشوا الكذب " یعنی د خیرالقرون نه وروسته به دروغ زیات شي که په سره سینه غور وکړی شي نو واضح به شي چی تقلید یو فطري کار دی او یو قدرتي لازمی ضرورت دی کوم چی انسان سره د سورتي پشان لګیدلی وي ، څمونږ غیر مقلدین وروڼه هم ورنه بی نیازه ندي د دوی په کور کی واړه ماشومان د مشرانو په لیدو سره لمونځ کوي او نور اعمال کوي او د دوی د کور ښځی محدثانی او عالمانی نه دي د سړو نه په تپوس تپوس عمل کوي ، دغه به تپوس تپوس عمل لره بد نه ګڼي دیته شرک و کفر او بدعت نه وائي او یو معمولي صنعت او حرفت کی هم تقلید نه بغیر کار نه کیږي ، د طب او ډاکټري په مطالعه کولو سره انسان حکیم او ډاکټر نه جوړیږي که داسی سړی کلینک پرانیزي نو دیته مجرم ویل کیږي او څوک چی ورباندی علاج کوي هغه لوی نادان او جاهل ګڼل کیږي ، مشهور متل دی چی نیم حکیم خطره جان او نیم ملا خطره ایمان ، په هر حال د دنیا په هر کار کی د تقلید ضرورت مخی ته راځي ، لیکن د دین په معامله کی د حدیث د یو څو کتابونو ترجمی په لیدلو سره خپل خان ته د قرآن و حدیث د علومو ماهر ګڼل او هدایت یافته امامانو او

اسلافو باندی بدگماني کول او د دوی په شان کي بدزباني او گستاخي کول او د دوی تقلید ته شرک و بدعت ویل او په خپل ناقص فهم و عقل باندی اعتماد کول او نفساني خواهشاتو پیروي کول عین توحید گنل د کوم ځای انصاف دی " بزین عقل و دانش بیا ید گریست " که چیرته ځمونږه غیر مقلدین ورونه ضد او عناد پریدي او دیانتداری، سنجیدگی او په سړه سینی سره غور وکړي نو بیا هیڅ وجه نشته چي د عدم تقلید په عقیدی باندی کلک ودریږي .

نفس تقلید له قرآن او حدیث نه ثابت دي :

او د نفس تقلید جواز بلکی وجوب د قرآن و حدیث نه ثابت دی مونږ دلته یو څو ایتونه او حدیثونه وړاندی کوو :

(۱) قرآن مجید کی دي : " فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لاتعلمون " یعنی که چیرته تاسو نه پوهیږئ نو بیا د علماؤ نه تپوس وکړئ .

(۲) " اولئك الذین هداهم الله فبهداهم اقتده " دا حضرات داسی وو چی الله تعالی ورته هدایت کړی وُ تاسو هم د دوی په طریقه باندی لاړ شئ (سورت الانعام)

(۳) " یاایها الذین امنوا اطیعوا الله واطیعوا الرسول واولی الامر منکم " ای مؤمنانو ! د الله تابعداري وکړئ او د رسول (صلی الله علیه وسلم) تابعداري وکړئ او د اولو الامرَ ، په اولو الامر کی ائمه مجتهدین خصوصاً ائمه اربعه داخل دي .

(۴) " ولو ردوه الی الرسول والی اولی الامر منهم لعلمه الذین یستنطبونه منــــهم " یعنی که چیرته دی خلکو دا خبره رسول صلی الله علیه وسلم او اولی الامر ته حواله کړی وای نو کوم خلک چی د فقه او د استنباط خاوندان دي نو دوی به په پوهیدو او معلومولو سره دوی هم پوهه کړي وای چی کوم شی قابل د عمل دی ؟ او کوم یو ناقابل عمل ؟ لدی آیت نه هم صراحتاً د ائمه مجتهدینو د پیروي ثبوت حاصلیږي .

(۵) " فلو لانفر کل فرقة منهم طائفة لیتفقهوا فی الدین ولینذروا قومهم اذا رجعوا الیهم لعلهم یحذرون " یعنی د هری فرقی نه یوه ډله ولی نه وځي ترڅو فقه فی الدین حاصل کړي او چی کله واپس شي نو خپل قوم هوښیار او بیدار یی کړي تر څو دوی د دیني خبرو په اوریدو سره د الله تعالی له نافرمانی نه ځان وساتي (سورت توبه) .

(۶) " وجعلنا هم ائمة یهدون بامرنا لما صبروا و کانوا بایتنا یوقنـــون " یعنـی : مونږ پدوی کی پیشوایان جوړ کړل کومو به چی خلک څمونږ پـه لاره بانـدی روانـول کلـه چی دوی صبر وکړو او څمونږ په ایتونو یی پوره یقین کولو . (سورت الم سجده)

(۷) " اتبع سبیل من اناب الی " د هـغه سړي په لاره روان شـه چـا چـی ماتـه رجـوع کړی ده .

(۸) " یاایها الذین امنوا اتقوا الله وکونوا مع الصادقین " یعنی : ای مؤمنـانو ! لـه الله تعالی نه وویریږئ او د صادقانو ملګري شئ . (سورت توبه)

پدی ټولو آیتونو کی د اتباع او د تقلید تاکید کړی شویدی او لـدی آیتونـو نـه د تقلیـد مطلق ثبوت کیږي ، اوس پدی سلسله کی یوڅو حدیثونه وګورئ :

(۱) ((عن حذیفه رضی الله عنه قال قال رسول الله صـــلی الله علیـــه وســـلم انی لاادری ما بقائی فیکم فاقتدوا بالذین من بغدی ابی بکر و عمر)) حذیفه رضی الله عنه فرمایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : ما ته نـدي معلـوم چـی څـو پوری به په تاسو کی ژوندی یم ،لهذا مانه وروسته دغو دوو کسانو یعنـی ابـوبکر او عمـر رضی الله عنهما اقتداء وکړئ (مشکواة شریف ص ٥٦٠ باب مناقب ابی بکر و عمر) .

(۲) ((علیکم بسنتی الخلفاء الراشدین المهدیین الخ)) یعنی تاسو زما پـه سـنتو او زمـا دخلفاء راشدینو په سنتو باندی عمل وکړئ (مشکواة شریف ص ۳۰ ، الاعتصـــام بالکتاب والسنة) .

(۳) ((عن معاذ بن جبل رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم لما بعثه الی الیمن قال کیف تقضی اذا عرض لك قضا قال اقضی بکتاب الله قال فـــان لم تجد فی کتاب الله قال بسنة رسول الله صلی الله علیه وسلم قال فان لم تجد فی سنة رسول الله صلی الله علیه وسلم قال اجتهد برائی ولا آلو فضرب رسول الله صلی الله علیه وسلم علی صدره وقال الحمد لله الذي وفق رسول رسول الله صلی الله علیه وسلم لما یرضی به رسول الله (صلی الله علیه وســـلم))) یعنـی : د حضـرت معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روایت دی : کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم زه

یمن ته د قاضي په حیثیت ایږلم نو تپوس یې رانه وکړو چې کله کومه مسئله درته وړاندې شي نو څنګه فیصله به کوې؟ ما عرض وکړ د الله په کتاب به فیصله کوم، وی فرمایل که هغه مسئله په کتاب الله کې نه وي؟ عرض مې وکړ د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په سنت به فیصله کوم، وی فرمایل: که هغه مسئله پدې کې هم پیدا نه کړې؟ عرض مې وکړ بیا به اجتهاد او استنباط کولو سره پخپله رأیه باندې فیصله کوم او د دې مسئلې د حکم په لټه کې به هیڅ قسم کمی نه کوم، حضرت معاذ رضی الله عنه فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم زما پدې خواب باندې (له ډیرې خوشحالۍ نه) خپل مبارک لاس زما په سینه باندې ووهلو او وی فرمایل: د الله تعالی شکر دی چې ده خپل رسول (صلی الله علیه وسلم) قاصد ته د دې خبرې توفیق ورکړ چې په هغه باندې د الله رسول (صلی الله علیه وسلم) راضي او خوشحاله شي (مشکواة شریف باب العمل فی القضاء والخوف منه ص ۳۲۴) (ابوداؤد شریف اجتهاد الرائی والقضاء ص ۱۴۹).

د حضرت معاذ رضی الله عنه لدې حدیث نه څو خبرې ثابتیږي:

(۱) ډیر مسائل داسې شته چې په قرآن او حدیث کې د هغه حکم منصوص نه دی یعنې صراحتاً ذکر ندی.

(۲) په غیر نصوص مسایلو کې پخپل رأی او اجتهاد سره فیصله کول مستحسن دي او دا د الله او د ده د رسول صلی الله علیه وسلم عین مرضی مطابق دي.

(۳) رأی او اجتهاد د حق تعالی یو نعمت دی چې پدې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم الحمد لله فرمایلي او د ډیرې خوشحالۍ نه یې حضرت معاذ رضی الله عنه په سینه باندې ووهلو دا اشاره ده دې طرف ته چې د نبوت د علومو فیض او برکات فقیه او مجتهد سره وي.

(۴) حضرت معاذ رضی الله عنه د یمن قاضي جوړولو سره لیږل کیږي د مسائلو د حل کولو او د معاملو صفا کولو لپاره تعلیم ورکولی شي وجه ظاهره ده چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پدې باندې پوهیږي چې اهل یمن خپل درپیش مسائل او معاملاتو کې حضرت معاذ رضی الله عنه ته رجوع کوي او د ده اتباع او تقلید به کوي، پدې حدیث کې چې صحیح غور و فکر وشي نو دتقلید حقیقت او د دې ثبوت او جواز واضح او ښکاره طور سره ثابتیږي.

(۵) " العلماء ورثة الانبياء " رواه احمد و ا بوداؤد والترمذي (مشكواة شريف ص ۳۴ كتاب العلم) يعنی علماء د انبياء كرامو وارثان دي نو لكه څنګه چي د انبياؤ اتباع فرض او لازم دی همداشان د انبياؤ د وارثانو (علماء كرامو) اتباع هم لازم او ضروري دی ، د انبياؤ ميراث علم دی د علماؤ اتباع او اقتداء پدی وجه فرض دی چي دوی د علم شريعت وارث او حاملين دي .

(۶) " كانت بنو اسرائيل تسوسهم الانبياء كلما هلك نبی خلفه نبی وانه لانبی بعدی وسيكون خلفاء فيكثرون " (مسلم باب وجوب الوفاء ببيعة الخليفة الاول فالاول ج ۲ ص ۱۲۶) .

يعنی د بني اسرائيلو سياست او حكومت به انبياؤ كرامو كولو چي يو نبي به فوت شو بل نبي به راتلو او خبردار مانه وروسته هيڅ يو نبي نشته البته مانه وروسته به خليفه ګان وي او زيات به وي (يعنی زما په ژوند كی په تاسو باندی زما تابعداري ضروري ده او مانه وروسته زما د خليفه ګانو اتباع ضروری دی) (معارف القرآن مفتي محمد شفيع صاحب ۱۸۵\۱) .

پورتني ذكر شوي ايتونو او حديثونو نه د مطلق تقليد ثبوت كيږي ، بيا د دی تقليد دوه صورتونه دي يو خو دا دی چي د تقليد لپاره د كوم خاص امام او مجتهد تعين ونكړی شي كله د يو امام مسلک اختيار كړی شي او كله د بل امام په قول باندی عمل وكړی شي ديته تقليد مطلق وائي ، او دويم صورت دا دی چي د تقليد لپاره يو امام او مجتهد معين كړی شي او په هره مسئله كی د هغه پيروي وكړی شي ، ديته تقليد شخصي وايي

د صحابه كرامو او تابعينو پ زمانه كی د تقليد پدی دواړو صورتونو باندی عمل شويدی او په زياته اندازه د دی ثبوت كيږي ، لكه څنګه چي پدغه مبارکه زمانه كی دا خبره بالكل عامه وه چي كوم حضرات فقيه نه وو هغو به د فقهاء صحابه كرامو او تابعينو نه په تپوس تپوس عمل كولو او د سائل په ځواب كی چي مجيب به كوم حكم بيانولو نو مع دليل او بلا دليل سائل به ورباندی عمل كولو او د عدم دليل په صورت كی به سائل د دليل مطالبه نه كولو ، حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي فرمايي : " د صحابه كرامو نه واخله د مذاهب اربعه و تر ظهوره پوری همدا دستور او رواج وُ چي كوم عالم او مجتهد به پيدا شو نو د هغه تقليد به يی كولو هيڅ يو معتبر او مستند شخص بدی

باندی انکار نه دی کړی که دا تقلید باطل وای نو هغه حضراتو به ورباندی ضرور انکار کړی وُ " (عقد الجید ص ۲۹ مترجم) .

د حضرت شاه صاحب لدی فرمان نه د صحابه کرامو او تابعینو له زمانی نه د مطلق تقلید ثبوت واضح طور سره کیږي ، لکه څنګه چې په دغو حضراتو کی د مطلق تقلید رواج وُ همداشان ځینو حضراتو به تقلید شخصي باندی هم عمل کولو لکه چې اهل مکه و به په اختلافي مسئلو کی د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه قول ته ترجیح ورکولو او عمل به یې ورباندی کولو او اهل مدینه و د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه په قول باندی عمل کولو او اهل کوفه و به د عبد الله بن مسعود رضی الله عنه فتوی ته ترجیح ورکول او پیروي به یې کولو .

(۱) بخاري ، مسلم او ابوداؤد کی دي : د حضرت ابوموسی اشعري رضي الله عنه نه د یوی مسئلی پوښتنه وکړی شوه او بیا همدا مسئله د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه وپوښتلی شوه ، د ابن مسعود رضی الله عنه ځواب د حضرت موسی اشعري رضی الله عنه د ځواب نه مخالف وُ کله چې ابوموسی أشعري رضی الله عنه پدی خبر شو نو پوه شو چې د حضرت ابن مسعود رضي الله عنه ځواب او فتوی صحیح ده نو وی فرمایل " لاتسألوني مادام هذا الحبر فيكم " یعنی څو پوری چې دا متبحر عالِم (یعنی ابن مسعود رضی الله عنه) په تاسو کی موجود وي ټول مسائل له هم ده نه تپوس کوئ او دی چې کوم فتوی او ځواب درکړئ په هغه باندی عمل کوئ او له مانه تپوس مه کوئ ، د همدی نوم تقلید شخصي دی د کوم ثبوت چې لدی روایت نه واضح طور باندی کیږي (مشکواة شریف ص ۲٦۴)[1] .

[1] ـ سوال : د ا بوموسی اشعري نه چا تپوس وکړ : که څوک مړ شي او له هغه نه یوه لور ، یوه لمسی او یوه خور پاتی شي نو میراث به څنګه تقسیمیږي ؟ ځواب : نیمائي حصه لور او نیمائي خور ته او لمسی محروم ګرځي ، هغه سړي همدا مسئله د ابن مسعود رضی الله عنه نه وپوښتله او وی ویل چې ابوموسی اشعري رضی الله عنه را ته داسی ځواب راکړی دی ، ابن مسعود رضی الله عنه وفرمایل : زه خو هغه فیصله کوم ، کومه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم کړی ده یعنی لور ته نیمائي او لمسی ته شپږمه او باقي خور ته ورکول کیږي ، هغه سائل بیا ابو موسی اشعري ته ورغی او د ابن مسعود رضی الله عنه صاحب ځواب یې ورته بیان کړ نو ابوموسی اشعري رضی الله عنه وفرمایل : " لاتسألوني مادام هذا الحبر فيكم " بخاري باب میراث ابنة ابن مع ابنته ۲\۹۹۷ .

(۲) په صحیح بخاري شریف کی د حضرت عکرمه رضی الله عنه روایت دی : " ان اهل المدینة سألوا ابن عباس عن امرأة طافت ثم حاضت قال لهم تنفر قالوا لانأخذ بقولك وندع قول زید " (بخاری ۲۳۷\۱ کتاب الحج باب اذا حاضت المرأة بعد ما افاضت) . یعنی اهل مدینه وُ د عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه د هغی ښځی باره کی تپوس وکړ د کومی چی فرض طواف نه وروسته حیض راشي (چی دا اوس د طواف وداع نه بغیر واپس تللی شي یا نه ؟) ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل چی هغه د طواف وداع نه بغیر واپس تلی شي ، اهل مدینه و وویل : مونږه ستا په قول (فتوی) باندی عمل کولو سره د زید بن ثابت قول (فتوی) نه پریدو . (بخاري شریف).

لدینه معلوم شو چی اهل مدینه و د زید بن ثابت تقلید شخصي کولو ، د دی روایت پدی جمله باندی " لانأخذ بقولك وندع قول زید " غور وکړئ ، کله چی مدینی والاوُ ابن عباس رضی الله عنه ته دا خبره وکړه نو ابن عباس رضی الله عنه پدی باندی انکار ونه کړ چی تاسو د اتباع او اقتداء لپاره (یعنی تقلید لپاره) د یو معین شخص لازمولو سره د شرک ، بدعت او د گناه ارتکاب کوئ ، که تقلید شخصي ناجائز او حرام وای نو ابن عباس رضی الله عنه صاحب بهورباندی ضرور رد کړی وای .
(۳) حضرت ابن عباس رضی الله عنه مجتهد وُ خو ده به فرمایل : کله چی د حضرت علي کرم الله وجهه فتوی موجودی وي نو بیا د کوم بل چا فتوی ته ضرورت نشته (کلمة الفضل ص ۱۹) .

(۴) د حضرت معاذ رضی الله عنه یمن ته د قاضي جوړولو او هلته د لیږلو روایت وړاندی تفصیل سره ذکر شو او دا د تقلید شخصي او د اجتهاد واضح او ښکاره ثبوت دی ، دلته د موقع په مناسبت د دی روایت یو اړخ ته لږ نظر وکړئ هغه دا چی رسول اکرم یمن والاو لپاره د خپلو فقهاوُ صحابه کرامو نه یواځی حضرت معاذ رضی الله عنه یمن ته ولیږه او دا یی حاکم ، قاضي او معلم جوړ کړ او یمن والاوُ باندی یی دا لازم کړ چی د همدی تابعداري وکړئ او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت معاذ رضی الله عنه ته یواځی د قرآن و سنت نه بلکی د ضرورت پیدا کیدو په صورت کی د قیاس او اجتهاد مطابق د فتوی ورکولو اجازت هم ورکړ د دی مقصد ندینه سیواء بل شه کیدای شي

چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم یمن والاو ته د ده د تقلید شخصي کولو اجازت ورکړ بلکې دا یې وربانډی لازم وګرځولو .

(۵) څو پوری چې سالم بن عبدالله ژوندی ؤ امام نافع فتوی نده ورکړی (تذکرة الحفاظ ۱\۹۸) .

معلومیږي چې د امام نافع په زمانه کې خلکو د سالم بن عبدالله شخصي تقلید کولو او دا هم مشهوره ده چې د تابعینو په دور کې د فقهاؤ سبعه و په فتوو بانډی به عمل کیدو . د دغو روایتونو ته په کتو سره دا فیصله کول مشکل نده چې د صحابه کرامو او تابعینو په دور کې تقلید مطلق او تقلید شخصي د دواړو رواج و مګر دا خیال بایـد وکړی شي چې هغه د خیر القرون زمانه وه په خلکو کې دینداري او خدا ترسي غالب ؤ دوی له ګنو کسانو څخه تپوسونه یا څو اتفاقي طور سره وو او یا پدی مقصد سره وو چې د چا قول زیات محتاط وي په هغه بانډی عمل کوو ، پدی بناء پدغه زمانه کې مطلق تقلید او تقلید شخصي دواړو بانډی عمل کیدلو او بیا هرڅومره چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له زمانی څخه لری والي کیدو او د الله تعالی خوف او د شرعي احکامو عظمت په زړونو کې په کمیدو شو او خلکو بانډی مفاد پرستي په غالبیدو شو نو د امت نبض شناس علماؤ د زخمي رګ په نیولو سره تقلید یې په تقلید شخصي کې منحصر کړ او تدریجاً دی طرف ته د علماؤ میلان شروع شو او په مروج تقلید شخصي بانډی د امت اجماع وشوه که داسی نه وای شوي او شرعي احکام به د لوبو شیان جوړیدل او هر یو به خپل خپل مطلب او خواهش مطابق عمل کولو ، حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي فرمایي : " وبعد المأتين ظهر فيهم التمذهب للمجتهدين اعيانهم وقل من كان لايعتمد على مذهب مجتهد بعينه وكان هو الواجب فى ذالك الزمان " . یعنی د هجري دویمی پیړی نه وروسته په خلکو کی د معین مجتهد پیروي او تقلید رواج شوی او ډیر کم خلک داسی وو چې د کوم خاص مجتهد په مذهب بانډی به یې اعتماد نه کولو او په هغه زمانه کی دا کار ضروري ؤ (انصاف ص ۴۴) .

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د تقلید شخصي په ضروري او لازمي کیدو باره کی لیکي : " اګر که فی نفسه دا هم جائز دي چې د مختلفو خلکو اتباع وشي مثلاً د یو شیخ یوه مسئله وپوښتله شي او د کومه بل شیخ کوم بله مسئله وپوښتله شي نو پدی طریقه د ګنو پیروي هم فی نفسه جائز دي او د سلفو همدا حال ؤ

چې کله به یې د امام ابوحنیفه نه تپوس وکړو او کله به د اوزاعي نـه ، او د سلفو دغـه حالت ته په کتو سره نن هم د خلکو دا لالچ او شوق کيږي ، نو فـی نفسه خـو دا جـائز دي مګر د يو عارض له وجې ممنوع شوي دي پدی بانـدی پوهيـدو لپـاره يـوه مقدمـه واوري او هغه دا چې د غلبې حالت ته اعتبار وي نو د غالـب حالـت پـه اعتبـار سـره د نني او هغه وخت تر منځ دا فرق دی چې د هغه وخت په خلکو کې دينداري غالـب وُ هغو له مختلفو خلکو نه تپوس کول يا خو به اتفاقي طور سره و او يا پدی مقصد چـې د کوم يو په قول کې زيات احتياط وي په هغه عمل وکړی شـي نـو کـه اوس هـم هغـه شان دينداري وای نو د تقليد لپاره به د يو خاص کول او معين کول ضروري نـه وُ مګـر اوس خو هغه حالت ندی پاتی او څنګه به پاتی شي ؟ په حديث کې دي : " ثم يفشـــو الکذب " يعنی د خير القرون نه وروسته به دروغ خوريږي او زياتيږي او دخلکـو حالـت به بدليږي ، نو څومره چې دخيرالقرون لرې والی راځي همـدومره بـه د خلکـو حالـت خرابيږي اوس خو دا حالت دی چې عام طور غرض پرستي غالـب دی اوس د مختلفـو خلکو نه پدی غرض تپوس کولی شي چې په کوم يو کـی خپـل غـرض او مقصـد پـوره کيږي په هغه باندی عمل وشي ـ الی قوله ـ علامه شامي دلته يو حکايت ليکلي چې يـو فقيه يو محدث ته د هغه د لور سره نکاح کولو پيغام ورکړ هغه ورته وويل پدی شرط بـه درسره د لور نکاح کوم چې رفع اليدين ، او آمين بالجهر وکړی هغه فقيه دا شرط منظور کړ او نکاح وشو ، دغه واقعه يو بزرګ ته بيان کړی شوه هغه بزرګ د دی په اوريـدو سـره سر ښکته کړ او د لږ سوچ نه وروسته وفرمايل : ماته د هغه کس د ايمان بربادیـدو خطـره ده پدی وجه که چيرته هغه يو کار سنت منلو سره کولـو بغـير د دينـه چـې د ده رأيـه د کوم شرعي دليل سره بدل شوي وی ، د ه صرف دنيا لپاره هغه پريښود ، د خلکو د دنيـا طلبی دا حالت شوی پداسی وخت کی که چيرته تقليد شخصي نـه وي نـو بيـا بـه هـر مذهب کی چې د خپل مطلب او مقصد صورت پيدا شي هغه بـه اختيـاروي ، مـثلاً کـه چيرته د اودس کولو نه وروسته د هغه وينه وځي نو اوس د امام ابوحنيفه په مذهب کـی اودس مات شو او د امام شافعي په مذهب ندی مات شوی نو دلته به هغه سـړی د امـام شافعي مذهب اختياروي او بيا هغه خپلی ښځی ته لاس ولګوي نو اوس د امام شـافعي په مذهب اودس مات شو او د ابوحنيفه په مذهب نه ماتيږي نو دلته به د امام ابوحنيفـه مذهب اختياروي او حال دا چې پدی صورت کی د هيڅ يو امام په نـزد بانـدی د دی

اودس ندی پاتی شوی د امام ابوحنیفه په نزد خو د وینې راوتو په وجه مات شوی او د امام شافعي په نزد نځی ته د لاس لګولو په وجه ، مګر دا سړی به د هیڅ پروا نه کوي دی خو د هر یو امام په مذهب کی خپل مقصد راوباسي او کوم چی د ده له مقصد نه خلاف وي هغه نه مني نو دین خو نه پاتی کیږي بلکی غرض او نفس پرستي به پاتی شي نو ځمونږ او د سلفو تر منځ دا فرق دی ، هغوی ته د تقلید شخصي ضرورت نه وُ ځکه چی دیانت داري غالب وُ او د سهولت او د غرض طالب نه وو په خلاف ځمونږ نه چی په مونږ کی غرض پرستي غالب دی مونږ د سهولت او د غرض بندګان یو پدی وجه مونږ ته د دی ضرورت دی چی د کوم خاص شخص تقلید وکړو ، مونږ تقلید شخصي فی نفسه واجب یا فرض نه ګڼو بلکی دا وایو چی تقلید شخصي کی د دین انتظام کیږي او په ترک تقلید کی بی انتظامي کیږي نو په تقلید کی راحت هم شته او د نفس حفاظت هم (اشرف الجواب دویمه حصه د (۸۹_۹٦) صفحی ملخص) .

علامه ابن تیمیه رحمه الله هم تقلید شخصي ضروري ګڼي او لیکي : " فی وقت یقلدون من یفسد النکاح وفی وقت یقلدون من یصححه بحسب الغرض والهوی ومثل هذا لایجوز " (فتاوی ابن تیمیه ۲٤٠\۱۲) . یعنی خلک کله د هغه امام تقلید کوي چی نکاح فاسد ګرځوي او کله د هغه امام چی نکاح صحیح ګرځوي ، او دا د خپل غرض او خواهش مطابق ، او داسی عمل کول اتفاقاً ناجائز دي .

غیر مقلدین د شیخ عبدالوهاب نجدي هم مسلک او هم عقیده ګڼل کیږي لیکن دا نام نهاد اهل حدیث له ده نه هم دوه قدمه وړاندي دي ، شیخ د ائمه اربعه و د تقلید په جواز باندی قائل دی او فرمایي چی مونږ حنبلي مذهب یو لکه چی دی لیکي :

" فنحن ولله الحمد متبعون لامبتدعون علی مذهب الامام احمد بن حنبل " مونږه الحمد لله د سلفو ائمه و متبع یو کومه نوی طریقه او بدعت پیدا کونکي نه یو مونږه د امام احمد بن حنبل رحمه الله په مذهب یو (محمد بن عبدالوهاب للعلامه احمد عبدالغفور عطار طبع بیروت ص ۱۷٤،۱۷۵)

په یو بل مکتوب کی دی لیکي : " انی ......ولله الحمد متبع ولست بمبتدع عقیدتی و دینی الذی ادین الله به الخ " زه .... الحمد لله د ائمه سلفو متبع یم ، مبتدع او په دین کی نوی خبره پیدا کونکی نه یم زما عقیده او زما دین کوم چی زه د الله تعالی د

دین په حیثیت باندی اختیار کړی هغه د اهل سنت والجماعت هغه طریقه ده کوم چی د است ائمه اربعه و او د دوی د پیروانو مسلک او طریقه ده (محمد بن عبدالوهاب ص ۱۷۴، ۱۷۵)

د ده ځوی شیخ عبدالله پخپل یوه رساله کی د خپل او د خپل والد د مسلک وضاحت کوي او لیکي " په اصول دین (یعنی ایمانیاتو او اعتقادیاتو) کی ځمونږ مسلک د اهل سنت والجماعت مسلک دی او ځمونږه طریقه د ائمه سلفو طریقه ده او په فروعو (یعنی فقهي مسائلو کی مونږ د امام احمد بن حنبل په مذهب یو او څوک چی د دی څلورو امامانو څخه د هر یو تقلید کوي مونږ ورباندی انکار نه کوو " (الهدیة السنیة ص ۳۸،۳۹)

د پورتني حوالی د حضرت مولانا محمد منظور نعماني مدظله د یو تازه تصنیف د "شیخ محمد بن عبدالوهاب کے خلاف پروپیګنډه" نه اخستل شویدي.

د علامه ابن تیمیه او د شیخ محمد بن عبدالوهاب نجدي علمي مرتبه چي ځمونږ غیر مقلدین ورونه هم مني، تاسو پورتني کرښو کی د دی دواړو حضراتو اقوال او افکار وکتلی لدینه واضحه کیږي چی د دغو حضراتو په نزد هم تقلید ګناه او یا شرک ندی بلکی دوی هم د دی په ضروري کیدو باندی قائل دي، او دا غیر مقلدین د هدایت یافته ائمه و تقلید ته حرام، شرک، بدعت او ګناه وائي لکه چی د غیر مقلدینو کتاب د " فقه محمدي (صلی الله علیه وسلم) " په ابتداء کی لیکي : "د الله تعالی په زرګونو شکر دی چی مونږه یی پخپل فضل وکرم سره د حنفي، مالکي، شافعي، حنبلي د مذهبونو له تقلید نه په کوم کی چی یو جهان اخته دی او د قرآن آیت ((اتخذوا احبارهم ورهبانهم ارباباً من دون الله)) او د عدي بن حاتم د حدیث مطابق " چی الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مخالف د چا حکم منل شرک دی" شرک نه ساتلي یو" (فقه محمدي (صلی الله علیه وسلم) و طریقه احمدیه ص ۴)

صاحب د فقه محمدي، حنفي، شافعي، مالکي او حنبلي مذهبونو تقلید ته شرک ویلي دي او په دلیل کی یی قرآني آیت " اتخذوا احبارهم ورهبانهم ارباباً من دون الله " او د عدي بن حاتم حدیث بغیر د پوهی نه نقل کړیدی او حال دا چی آیت د یهودو نصاراو سره تعلق لري چی دوی د خپلو علماؤ او پیشوایانو نه خدای جوړ کړی وو او دا پدی طریقه چی د دوی په شریعت کی ځینی حرام شیان د دوی علماؤ او مذهبي

شرانو حلال کړي وو . پداسی حال کی چی دا شیان د دوی په مذهب کی په نص صریح سره حرام وو او لدینه وړاندی د دی شیانو د حرمت عقیده یی هم لرله مګر د پادریانو په حلالولو سره حلال وګڼل ،دغه شان یهودو د خپلو علماؤ متعلق همدا عقیده لرله دا صورت خو یقیناً مذموم او شرک دی کله چی دا آیت " اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله " نازل شو نو حضرت عدي بن حاتم رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس وکړ چی د (یهودو نصاراو) خو د خپلو علماؤ عبادت نه کولو نو ارباباً من دون الله څنګه شول ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل " انهم لم یکونوا یعبدونهم ولکنهم کانوا اذا احلوا شیئاً استحلوه واذا حرموا علیهم شیئا حرموه " یعنی بیشکه هغوی د دوی عبادت خو نه کولو لیکن هغوی (علماؤ) به چی کوم څیز حلالولو دی خلکو به هغه حلال ګڼلو او کوم څیز چی به یی حرامولو هغه یی حرام ګڼلو (ترمذي وغیره) .

لدی تقریر نه یو خبره واضحه شوه چی مقلدین په فقهي احکامو کی د ائمه مجتهدینو دفتاواؤ تقلید او اتباع خو کوي مګر د دوی او د یهود و نصاراؤ د خباثت تر منځ واضح فرق دی هغه دا چی یهود و نصاری په تحلیل او تحریم کی د احبارو او د رهبانو لپاره مستقل اختیار ثابتولو ګویا چی دوی یی قانون سازان ګڼل او مقلدین د ائمه مجتهدینو لپاره ذره برابر هم تشریعي اختیار نه ثابتوي اصل حکم د الله تعالی ګڼي او د " ان الحکم الا لله " والا عقیده ساتي ، البته د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیان چونکی قطعي دلیل دی د الله تعالی له طرفه د شیانو د حلال او حراموالي باندی ، پدی وجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع کوي ، اوس پاتی شو د تقلید مسئله نو د دی حیثیت (لکه څنګه چی د تیر شویو پاڼو نه واضح شوي) یواځی دومره دی چی مونږ ائمه حضرات د قانون شارحین ګڼو او د دوی په فهم و بصیرت باندی اعتماد کوو نه دا چی دوی قانون سازان وګرځوو پدی وجه د دی تقلید د یهودو او نصاری له تقلید سره هیڅ مناسبت نلري ، او د هدایت یافته ائمه و د تقلید مذمت سره د دی آیت کریم نه هرګز نه ثابتیږي .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي ، دی مسئلی باره کی یوه واضحه او قطعي خبره لیکلی ده چی اصل حکم خو د الله تعالی دی او د کوم تحلیل او تحریم نسبت چی

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کیږي د دی معنی دا دی چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم قول د الله تعالی تحلیل او تحریم لپاره قطعي علامت دی او د دی تحلیل او تحریم ائمه مجتهدینو ته د نسبت کولو مطلب دی چی دا حضرات د شارع علیه الصلوٰة والسلام نه روایت کوي او یا د هغه د کلام نه استنباط کوي

" واما نسبة التحليل والتحريم الى النبي صلى الله عليه وسلم فبمعنى ان قوله صلى الله عليه وسلم امارة قطيعة لتحليل الله وتحريمه واما نسبتها الى مجتهدين من امته فبمعنى روايتهم ذلك عن الشرع من نص الشارع او استنباط من كلامه " (حجة الله البالغة مع ترجمه نعمة الله السابغة ۱۲۷\۱ باب اقسام الشرك) .

د غیر مقلدینو څو اشکالونه او ځوابونه یی :

اول اشکال : د دی حضراتو یو اشکال دا دی چی د فقه مسائل او اسلامي احکام د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په دور نبوت کی مدون او جمع شوي نه وُ دا وروسته پیدا شوي پدی وجه دا بدعت سئیه دی ، دا اعتراض سراسر د دوی د جهالت او د ناواقفیت علامه ده ، قرآن پاک هم د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کی یواځی نه و جمع شوی ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه وروسته د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په دور خلافت کی د عمر فاروق رضی الله عنه په مشوره جمع کړی شوی چی دی لپاره ابتداء کی ابوبکر صدیق رضی الله عنه تیار نه وُ او فرمایل به یی : " كيف تفعل شيئاً لم يفعل رسول الله صلى الله عليه وسلم " یعنی کوم کار چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ندی کړی هغه ته څنګه کولی شی ؟ عمر فاروق رضی الله عنه وفرمایل : " هذا والله خير " په الله تعالی قسم چی دا کار خامخا ښه دی د دی دواړو حضراتو تر منځ بحث او ګفتګو کیدو تر دی چی الله تعالی د صدیق اکبر رضی الله عنه پدی باره شرح صدر وکړ او دی مبارک او اهم کار لپاره تیار شو ، پخپله د صدیق اکبر رضی الله عنه بیان دی : " فلم يزل عمر يراجعني حتى شرح الله صدري لذلك ورأيت في ذلك الذي رأى عمر " یعنی عمرفاروق رضی الله عنه راته بار بار دا خبره کوله تر دی چی الله تعالی زما هم دی کار لپاره شرح صدر وفرمایلو او پدی باره زما

رأیه هم د عمر فاروق رضي الله عنه له رأی سره موافق شوه . او بیا یی کاتب وحي حضرت زید بن حارث رضي الله عنه پدی خدمت باندی مأمور وګرځولو او د قرآن جمع کولو حکم یی ورنه وکړ او دوی هم همدا سوال وکړ چي " کیف تفعل شیئاً لم یفعله رسول الله صلی الله علیه وسلم " تاسو حضرات هغه کار څنګه کولی شئ کوم چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ندی کړی ، حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ورته مصلحت بیان کړ تر دی چي الله تبارک و تعالی د ده زړه ته هم دا خبره وغوړځوله او دی هم دی کار لپاره تیار شو ، حضرت زید رضي الله عنه فرمایي : " فلم یزل ابی‌بکر یراجعنی حتی شرح الله صدری للذی شرح له صدر ابی بکر و عمر " یعنی ابوبکر راته بار بار دا خبره کوله تر دی چي الله تعالی زما سینه هم هغه کار لپاره کولاوه کړه د کوم لپاره چي د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما سینه کولاوه کړی وه ، لدینه وروسته حضرت زید بن حارث رضي الله عنه نهایت زحمت او پوره احتیاط سره دا خدمت سرته ورسوله او د قرآن کریم نسخه یی مرتبه کړه ، که چیرته په فقهي مسائلو او احکامو باندی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته د مدون او جمع کیدو اعتراض دی او دینه بدعت او ناجائز ویل کیږي نو د جمع قرآن متعلق به څه وائي ؟

د احادیثو تدوین هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه وروسته شویدی او د احادیثو کتابونه مرتب شویدي ، بخاري ، مسلم ، ترمذي ، ابوداؤد ، نسائي ، ابن ماجه وغیره ټول کتابونه وروسته تصنیف کړی شویدي دیته به هم بدعت ویل کیږي ؟ او اعتراض به وربانډی کیږي ؟ او د احادیثو له کتابونو څخه به استفاده ترک کولی شي ؟ حقیقت دا دی چي نه د فقه مدون کیدل بدعت دی او نه د احادیثو د کتابونو مرتب کیدل بدعت دی او نه د قرآن پاک جمع کولو ته بدعت ویل کیږي څکه چي هری نوی خبری ته بدعت ویل د جاهلانو او د عقل نه محرومو خلکو کار دی ، هر نوی کار او هره نوی خبره ممنوعه بدعت نه وي بلکی کوم عمل چي " فی الدین " یعنی په دین کی د زیادت او کمي په طور وي او هغه دین وګرځول شي او د عبادت وغیره دیني کارونو پشان د ثواب آخرت او رضاء الهي ذریعه ګڼلو سره وکړی شي پداسی حال کی چي په شریعت کی ددی هیڅ دلیل نه وي نه په قرآن او حدیث کی او نه په قیاس او اجتهاد کی " لکه د اخترونو په لمونځونو کی د اذان او د اقامت اضافه کول " دا خو

بدعت دی او کوم نوی کار چی " للدین " وي یعنی د دین استحکام او مضبوطتیا او د دیني مقاصدو د تکمیل او تحصیل لپاره دی دیته بدعت ممنوعه نشي ویل کیدی ، لکه د قرآن پاک د جمع کولو مسئله اویه قرآن پاک د اعراب لګولو مسئله ، د احادیثو د کتابونو تالیف او د دوی شروح لیکل او د دغو کتابونو ته صحیح بخاري ، صحیح مسلم وغیره نوم ورکول دغه ټولو کارونو ته بدعت نه ویل کیږي ، همدا شان د فقه احکام مدون او مرتب کول او د مذاهب اربعه و تعین او دوی ته د حنفي ، مالکي ، شافعي او حنبلي نومونه اینودل ، دیته هم بدعت نشي ویل کیدی دغه ذکر شوي ټول کارونه د للدین کیدو په وجه مستحب بلکی ضروري دي ، که چیرته قرآن پاک جمع شوی نه وای او حدیثونه د کتابونو په صورت کی مرتب شوی نه وای نو نن به شاید امت سره د احادیثو دغه معتبره ذخیره نه وای همدا شان که چیرته د فقه تدوین او دخلورو مذهبونو تعین نه وای شوی نو نن به خلک د خواهشاتو غلامان او بندګان وای دا خو د ا لله تعالی فضل دی چی د علماؤ په زړه کی یی د دی خبری الهام وکړ چی دوی ضرورت محسوسولو سره د فقه تدوین وکړ او د دی په برکت سره خلکو ته د شریعت په احکامو باندی عمل کول آسان شو لکه چی شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله فرمایي : " وبالجملة فالتمذهب للمجتهدين سرٌ الهمه الله تعالى العلماء وجمعهم من حيث يشعرون اولا يشعرون " یعنی حاصل دا چی (د دی مجتهدینو صاحب مذهب جوړیدل) او بیا د خلکو دغو لره اختیارول یو راز دی چی الله تعالی د علماؤ په زړه کی اچولی او دوی یی پدی تقلید باندی جمع کړیدي که دوی پدی راز باندی پوهه وي او یا نه وي (انصاف ص ٤٧) او لیکي : " اعلم ان فی الاخذ بهذه المذاهب الاربعة مصلحة عظيمة وفی الاعراض عنها كلها مفسدة كبيرة " یعنی پدی باندی پوهیدل پکار دي چی د خلورو مذهبونو په اختیارولو کی لوی مصلحت دی او لدی ټولو نه په اعراض کولو کی لوی فساد دی (عقدالجید ص ۳۱) .

دویم اشکال : د دوی یو اعتراض دا هم دی چی مجتهدین خو ډیر دي نو دا څه وجه ده چی تقلید پدی خلورو کی منحصر شوی ، ایا په قرآن او حدیث کی د دی برحق کیدو باندی تصریح شوی دی ؟

دا خلک داسی بی خایه اعتراضاتو سره د خلکو د خطا کولو ناکام کوشش کوي ، بخاري ، مسلم ، ابوداؤد او ترمذي وغیره د احادیثو معتبر کتابونه دي ایا د قرآن په کوم

آیت او یا کوم حدیث کی د دغو د معتبر کیدو وضاحت راغلی دی ؟ د دی کتابونو د معتبر او د صحیح کیدو سند دا دی چی د امت د علماؤ او صلحاؤ له طرفه دغو ته تلقی بالقبول حاصل دی او تلقی بالقبول د یو خیز د صحیح او متعبر کیدو ډیر قوي او مضبوط دلیل او سند دی ، حجة الاسلام حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي فرمایي : " اتفاق سلف و توارث ایشان اصل عظیم است در فقه " یعنی د سلفو اتفاق او د دوی توارث په فقه کی عظیم اصل دی (ازالة الخفاء مطبع بریلی ص ۸۵) .

څلور ولی پاتی شول دری او یا پنځه ولی جوړ نشول د دی سیده ځواب دا دی چی پنځه مذهبونه وای بیا به هم همدا سوال کیدو چی پنځه ولی شول ؟ په څلورو کی منحصر کیدل د دی مصلحت خو الله تعالی ته ښه معلوم دي ، لیکن په ظاهري طور باندی نن خومره تفصیل سره د هر باب او د هر فصل مسائل د کتاب الطهارت نه واخله تر کتاب الفرائض پوری د څلورو امامانو په مذهب کی مدون او جمع شویدي ، د دی نه علاوه د کوم بل مجتهد مسائل مدون او جمع شوي ندي ، خال خال د دغو بزرگانو مسائل او اقوال د څلورو مذهبونو په کتابو کی پیدا کیږي ، نو کله چی دا صورتحال دی نو د ائمه اربعه په پریښودو سره د کوم بل چا تقلید په څه طریقه وکړی شي ؟ پدی وجه امت تقلید پدی څلور ائمه و کی منحصر کړیدی ، شیخ احمد المعروف په ملاجیون رحمه الله په تفسیرات احمدیه کی لیکي " والانصاف ان انحصار المذاهب فی الاربعة واتباعهم فضل الهی وقبولیة من عند الله لامجال فیه للتوجیهات والادلة " یعنی د انصاف خبره دا ده چی د مذهبونو په دی څلورو کی منحصر کیدل او د همدی څلورو پیروي کول د الله تعالی فضل دی او منجانب الله قبولیت دی پدیکی د دلائلو او توجیهاتو هیڅ ضرورت نشته (تفسیرات احمدیه ص ۳۴۶) .

او دا حقیقت دی چی دی څلورو امامانو ته الله تعالی د قرآن و حدیث تفصیلي علم ، درایت او د استنباط پوره مهارت ورکړی دی ، حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله فرمایي : " بالجملة این چار امام اند که عالم را علم ایشان احاطه کرده است امام ابو حنیفه ، امام مالک ، امام شافعي ، امام احمد " یعنی دا څلور امامان داسی دي چی د دوی علم ټول جهان راګیر کړیدی او دا څلور امامان ، ابوحنیفه ، مالک ، شافعي او امام احمد دي (شرح مؤطا ص ٦) .

او د دی مصلحت الله تعالی ته ښه معلوم دی چې د څلورو په عدد کې څه داسې خصوصیت دی چې ډیر شیان د څلورو په عدد کې مشهور دي ، وګورئ انبیاء او رسولان ډیر دي ، مګر جلیل القدر انبیاء څلور دي (١) حضرت محمد صلی الله علیه وسلم (٢) حضرت ابراهیم علیه السلام (٣) حضرت موسی علیه السلام (۴) حضرت عیسی علیه السلام ، اسماني کتابونه ډیر نازل شوي دي خو څلور پکې ډیرې مشهورې دي (١) قرآن مجید (٢) تورات (٣) زبور (۴) انجیل ، ملائکې بې شمیره دي مګر جلیل القدر ملائکې څلور دي (١) حضرت جبریل علیه السلام (٢) حضرت میکائیل علیه السلام (٣) حضرت عزرائیل علیه السلام (۴) حضرت اسرافیل علیه السلام ، صحابه کرام ډیر دي مګر څلور د ډیرو خصوصیاتو مالکان دي ، (١) حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه (٢) حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه (٣) حضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه (۴) حضرت علي بن طالب رضی الله عنه ، صوفیان او مشائخ د طریقت ډیر دي مګر څلور سلسلې ډیر مشهور دي (١) چشتیه (٢) نقشبندیه (٣) قادریه (۴) سهر وردیه ، د الله تعالی د قدرت نښې ډیرې دي مګر په سورت غاشیه کې الله تعالی څلور څیزونه پیش کړیدي (اوښ ، آسمان ، غرونه ، ځمکه) فرمایي : " افلا ینظرون الی الابل کیف خلقت ○ والی السماء کیف رفعت ○ والی الجبال کیف نصبت ○ والی الارض کیف سطحت ○ " یعنې ایا دا خلک اوښ ته نه ګوري چې څنګه عجیب طور سره پیدا کړی شویدی او آسما ته نه ګوري چې څنګه اوچت کړی شویدی او غرونو ته نه ګوری چې څنګه ودرولی شویدي او ځمکی ته نه ګوری چې څنګه غوړولی شویده. (سورت غاشیه)

همدا شان که په مجتهدینو کې څلور مشهور شول نو پدیکې د اعتراض څه خبره ده ؟...

لهذا پدی څلورو کې د یو اتباع او پیروي کولو کې ځمونږ نجات نغښتی دی ، پیران پیر شیخ عبدالقادر جیلاني حنبلي مذهب و او ده به دا آرزو کولو چې الله تعالی دی مونږه د امام احمد په مذهب باندی قائم وساتي او د حشر په میدان کې مو د دوی په ډله کې یوځای کړي ، په غنیة الطالبین کې دي : " اماتنا علی مذهبه اصلاً و فرعاً و حشرنا فی زمرته " یعنی الله تعالی دی مونږه اصلاً (یعنې اعتقاداً) او فرعاً د ده په مذهب تر آخره (مرګ) پورې قایم لري او د ده په ډله کې ځمونږ حشر وکړي (غنیة الطالبین ص ٦٨٩ عربي) .

خلاصه د خبرې دا چې که مجتهدین ډیر وو مګر چې د نورو مذهبونه مدون نه شول یواځې دا څلور مدون او مرتب شول پدی وجه ددی څلورو څخه د یو پیروي کول ضروري دي ، حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي فرمايي " ولما اندرست المذاهب الحقة الا هذه الاربعة كان اتباعها اتباعاً للسواد الأعظم والخروج عنها خروجا عن السواد الاعظم " یعنی کله چې د دی څلورو نه علاوه نور ټول حق مذهبونه ختم شول نو د همدی څلورو مذهبونو اتباع د سواد اعظم اتباع ده او لدوی څخه وتل د سواد اعظم نه وتل دي د کوم چې په حدیث کې ممانعت شویدی (عقد الجید ص ٣١) او لیکي : " وليس مذهب في هذه الأزمنة المتأخرة بهذا الصفة الاهذا المذاهب الاربعة " یعنی پدی آخري زمانه کې پدی صفت (چې د هرې شعبې مسایل پکی وي) یواځی دا څلور مذهبونه دي .

دريم اشکال : د غیر مقلدینو یو اعتراض دا هم دی چې قرآن یو او رسول صلی الله علیه وسلم یو دی نو بیا د ائمه اربعه و تر منځ په مسائلو کی اختلاف ولی دی ؟ د دی اختلاف په وجه انسان په تشویش کی پریوځي چی کوم یو حق دی او کوم باندی عمل وکړي ؟

خواب دا دی چی د قرآن و حدیث اولین مخاطب صحابه کرام وو دوی براه راست د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نه فیض یافته وو پدی وجه دغه حضرات د قرآن و حدیث په صحیح مراد باندی پوهیدلی شي لهذا دغو حضراتو چی فرمایلي دي هغه زمونږ لپاره معیار او د لاری مشال دی ، او د قرآن و رسول صلی الله علیه وسلم یو کیدو باوجود هم د صحابه کرامو تر منځ په ډیر مسائلو کی اختلاف وُ ، ائمه اربعه و چونکی له همدی حضراتو او د دوی له فیض یافته حضراتو یعنی تابعینو په فهم او بصیرت باندی اعتماد کړیدی او د همدوی اقوال او مذاهب یی اختیار کړیدي پدی وجه په ائمه اربعه و کی هم د مسائلو اختلاف پیدا شویدی ، او د صحابه کرامو د خپل منځي اختلاف متعلق په حدیث کی دي : " سألت ربي عن اختلف اصحابي ...... الخ "

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایي ما د خپل رب نه د خپلو ملګرو د اختلاف باره کی تپوس وکړ الله تعالی د وحي په ذریعه راته راوښودل چی ای محمد صلی الله علیه وسلم ! ستا صحابه ماته داسی دي لکه د آسمان ستوري چی ځینی د ځینو نه زیات

روښانه دي ، مګر زما په تولو کې ضرور شته ، کوم سړي چې ستا د صحابه کرامو د مختلفو مسلکونو څخه يو مسلک اختيار کړي هغه زما په نزد هدايت يافته دی (مشکوٰة شريف ص ٥٥٤ باب مناقب الصحابة) او دا اختلاف چې د اخلاص په بناء شويدی نو پدی وجه مذموم ندی بلکې غوره او باعث د رحمت دی لکه چې په حديث پاک کې چې کوم اختلاف ته رحمت ويل شويدي ددی صحيح مصداق همدا د صحابه وُ او د ائمه اختلاف دی ، د صحابه کرامو دخپل منځي اختلاف بی شمير مثالونه د حديث په کتابونو کی ليدل کيږي ، حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي د صحابه کرامو د اختلاف څو مثالونه ذکر کوي او فرمايي : " وقد كان في الصحابة والتابعين و من بعدهم من يقرأ البسملة ومن لايقرأ .... الخ " يعنی په صحابه کرامو او تابعينو او د دوی نه په وروسته زمانه کی ځينی داسی وو چې په لمانځه کی بسم الله په زوره ويل او ځينو په زوره نه ويل او ځينو د سحر په لمانځه کی دعاء قنوت ويلو او ځينو نه ويلو ، ځينو په ښکر لګولو او د پۍ نه وينی راوتلو او قی کولو سره اودس کولو او ځينو به نه کولو او دا يی ناقض الوضوء نه ګڼل ، ځينو خلکو په مس د ذکر او ښځو ته په شهوت سره لاس لګولو ته ناقض د وضوء ويل او اودس به يی کولو او ځينو به نه کولو ، ځينو خلکو به په اور باندی پوخ شوي شيانو خوړلو نه وروسته اودس کولو او ځينو به نه کولو ، ځينو به د اوښ د غوښی خوړلو نه وروسته اودس کولو او ځينو به نه کولو (حجة الله البالغة مترجم ٣٧٦\١ باب اختلاف الصحابة في الاحكام كثير)

شيخ الحديث حضرت مولانا محمد ذکريا رحمه الله په " الاعتدال في مراتب الرجال " کې د صحابه کرامو د خپل منځي اختلاف څو مثالونه ښايي :

(١) شرمګاه ته لاس لګولو سره د حضرت عمر رضی الله عنه په نزد اودس ماتيږي او د حضرت علي او حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنهما په نزد نه ماتيږي

(٢) د سمندر په اوبو سره اودس کول د جمهورو صحابه و په نزد جائز دی او د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه په نزد باندی مکروه دی

(٣) د جمعی په ورځ خوشبويی استعمالول د جمهورو صحابه کرامو په نزد باندی مستحب دی او د حضرت ابوهريره رضی الله عنه په نزد واجب دی .

(۴) د حضرت عمر او حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما په نزد د ژونـدو خلکـو پ
ژړا سره مړي ته عذاب ورکول کیږي او حضرت عائشه رضی الله عنها په سختی سر
لدینه انکار کوي .

(۵) امام زهري رحمه الله وایي چی د حضرت عبدالله بن عباس او د حضرت ابـوهري
رضی الله عنهما تر منځ اختلاف و چی د رمضان د روژو قضاء مسلسل پکار دی او
جدا جدا نیول هم جائز دي

(٦) په صحابه کرامو کی د یوی لوی ډلي مذهب و چی په اور پـوخ شـوی څیـز خوړ
سره اودس ماتیږي پدوی کی حضرت انس رضی الله عنـه ، ابـوهریره رضـی الله عنـ
عبدالله بن عمر رضی الله عنهما او حضرت عائشه رضی الله عنها وغیرهم هـم شـامل د
لیکن د خلفاء راشدینو او دجمهورو صحابه کرامو مـذهب دا دی چـی پـدی اودس ن
ماتیږي .

(۷) د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما مذهب دا دی چی په تیمم کی تر څنګل
پوری لاس ګرځول ضروري دي او د حضرت علی کرم الله وجهـه مـذهب دا دی چـ
مړوندو پوری کافي دی .

(۸) د حضرت عبدالله بن عمر او د حضرت انـس رضـی الله عنهمـا مـذهب دی چـی
لمونځ ګذار مخی ته د خر په تیریدو سره لمونځ ماتیږي او د حضرت عثمـان او حضر
علي رضی الله عنهما مذهب دی چی نه ماتیږي .

(۹) که چیرته یواخی دوه مقتـدیان وي نـو د صحابه کرمـو پـه نـزد امـام بایـد مخکې
ودریږي د حضرت عبدالله بن مسعود رضـی الله عنـه مـذهب دی چـی د دی دواړو
منځ ودریدل پکار دي .

(۱۰) مسلم روایت کړیدی چی عبدالله بن عمر رضـی الله عنـه بـه ښځـو تـه د غسـل
وخت کی حکم کولو چی د سر ویښته (کوڅی) پرانیزي دا خبـره چـی حضـرت عائش
رضی الله عنها واوریده نو وی فرمایل : ابن عمر ته تعجب دی چی ښځو تـه د کوڅـو
پرانستلو حکم کوي دوی ته د سر کلولو حکم ولی نه ورکوي یقیناً ما او رسول الله صلی
الله علیه وسلم به یو لوښي کی غسل کولو او مابه لدینه زیات بل څه نه کول چی په سر
به می دری حلی اوبه اړولی (حجة الله البالغة ۲۲۳/۱ بـاب اذا لم یصلـه الحدیث
اصلا)

) د جمهورو مسلک دا دی چی په طواف کی رمل (پهلواني) کول سنت دی او
الله بن عباس رضی الله عنه فرمايي : دا رسول الله صلی الله علیه وسلم اتفاقي طور
دی د یو عارض په وجه سره کړي ؤ او هغه دا چی مشرکانو ویلي ؤ چی مسلمانان د
ینی ګرمئ کمزوري کړیدي ، او دا رمل (پهلواني) سنت ندی (حجة الله البالغة
اختلف فی النظر الی الحديث)

هم بی شمیره مسئلی دي چی په هغو کی د صحابه کرامو تر منځ اختلاف موجود
ی د ترمذي شریف مطالعه کونکی د دی خبری اندازه ښه کولی شي .
صحابه کرامو تر منځ د اختلاف اسباب حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه
په حجة الله البالغة کی په ډیر تفصیل سره بیان کړیدي ، د اختلاف د اسبابو
بولو نه وروسته هغه لیکي : " وبالجملة فاختلف مذاهب اصحاب النبی صلی الله
یه وسلم وأخذ عنهم التابعون کذلك کلّ اخذ ما تیسر له .... الخ " یعنی :
صل د کلام دا چی پدی اسبابو سره د صحابه کرامو مذهبونه مختلف شوي وو او له
ی څخه تابعینو پداسی طریقه اخذ وکړ چی په کومه طریقه چاته توفیق ورکړی شو ،
بعینو چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم حدیث او د صحابه کرامو کوم مذهب
وریدو نو هغه یی زده کړ او ځان پوه کړ او څو پوری چی کیدی شوه مختلف کارونه
راجمع کړل او ځینو اقوالو ته یی په نورو باندی ترجیح ورکړه او ځینی یی ضعیف
ګڼل اګر که هغه د لویو صحابه کرامو څخه نقل ؤ ، لکه چی د حضرت عمر او د ابن
معود رضی الله عنهما مذهب دی چی د جنب لپاره تیمم جائز نه ګڼي ، کله چی د
مار او د عمران بن حصین وغیره حدیثونه مشهور شو نو هغوی ته دا مسلک ضعیف
ښوم شو ، همداشان په تابعینو کی د هر یو عالم مذهب د ده د خیال او فکر مطابق
جوړ شوی او بیا هر ښار کی یو امام جوړ شو لکه په مدینه کی سعید بن مسیب او سالم
ن عبدالله بن عمر اود دوی نه وروسته همدی مدینه کی امام زهري ، قاضي یحیی بن
سعید او ربیعه بن عبدالرحمن پیدا شول ، او په مکه کی عطاء بن ابی رباح ؤ او کوفه
ی ابراهیم نخعي او شعبي وو او بصره کی حسن بصري ؤ ، او یمن کی طاوس بن
کیسان ؤ او په شام کی مکحول ؤ نو الله تعالی د ډیرو خلکو زړونه د دوی د علومو
پېروان او عقیدت مند کړل او په ډیری خوشحالی سره ورنه حدیث ، د صحابه کرامو
فتواګانی او اقوال او پخپله د دوی مذهبونه او تحقیقونه یی حاصل کړل او مسائل یی

ورنه وپوښتل د ټولو معاملو مرجع وګرځیدل ، سعید ابن مسیب او ابراهیم نخعي او د دوی هم مرتبه خلکو د فقه ټول ابواب مرتب کړل او د هر باب متعلق دوی سره هغه اصول او قواعد وُ کوم چې دوی د خپلو اسلافو نه حاصل کړي وو.

د سعید ابن مسیب او د ده د ملګرو مذهب دا وُ چې فقه کې د حرمینو علماء د ټولو نه زیات پاخه دي او د دوی د مذهب بنیاد د عبدالله بن عمر ، عائشه او د عبدالله بن عباس رضی الله عنهم فتوی او د مدینې د قاضیانو فیصلې دي دوی دا ټول علوم د خپل امکان ترحده یوځای کړي او بیا یې د تحقیق په نظر کتلي دي په کومو مسئلو کې چې د مدینې علماؤ اتفاق لیدلی هغه یې ښه محکم طور سره اختیار کړي دي ...... او کوم مسائل چې د دوی په نزد مختلف فیه وو پدوی کې قوي او راجح اختیار کړي د دوی په نزد د راجح کیدو وجه یا خو دا ده چې اکثرو علماؤ دیته میلان کړی او یا د قوي قیاس سره موافق وو او یا د قرآن و حدیث نه په صریح ډول مستنبط شوي وو او یا داسې قسم کول بل څه وجه وه او کله به چې دوی خپلو محفوظاتو کې د مسئلې ځواب ونه موندو نو هغه به یې د دوی له کلام نه حاصل کړ او د قرآن و حدیث د اشارې او اقتضاء تلاش او لټه وکړ ، پدې وجه دوی سره په هر باب کې ډیر زیات مسائل جمع شول ، د ابراهیم او د ده د شاګردانو رأیه دا وه چې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه او د ده شاګردان په فقه کې د ټولو نه زیات قابل اعتماد دي ، لکه څنګه چې علقمه مسروق . ته ویلي وُ چې د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه زیات معتمد فقیه څوک نشته او امام ابوحنیفه امام اوزاعي ته ویلي وُ چې ابراهیم د سالم نه زیات فقیه دی او که عبدالله بن عمر رضی الله عنه کې د صحابي توب فضیلت نه وای نو ما به ویلي وُ چې علقمه د ابن عمر نه زیات فقیه دی او عبدالله بن مسعود رضی الله عنه خو عبدالله بن مسعود دی ، او د امام ابوحنیفه د مذهب اصل د عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فتوی ، د حضرت علي رضی الله عنه فیصلې او قاضي شریح او د کوفې نورو قاضیانو فتوی دي . نو په دوی کې امام ابوحنیفه رحمه الله حتی الامکان فقهي مسائل جمع کړي او لکه څنګه چې د اهل مدینې له اثارونه د مدینې علماؤ تخریج کړی وُ همدا شان د اهل کوفې له اثارونه نه د دوی تحریج د مسائلو کړی ، او د هر باب متعلق فقهي مسائل مرتب شول ، او حضرت سعید بن مسیب د مدینې د فقهاؤ ژبه وه او ده ته د حضرت عمر فیصلې او د حضرت ابوهریره حدیثونه د ټولو نه زیات یاد وو ، او ابراهیم د کوفې د فقهاؤ ژبه وه نو کله چې به دې دواړو څه خبره وکړه او چا طرف ته یې

منسوبه نه کړه نو هغه به اکثره صراحتاً یا کنایتاً او یا په کومه بله طریقه سلف صالحینو کي یو ته منسوب کیده ، نو د مدیني او د کوفي فقهاؤ پدی دواړو باندی اتفاق کړی او له دوی څخه يي د علم په ذریعه نور مسائل راویستلي دي (حجة الله البالغة مع ترجمه نعمة الله السابغة ص ۳۲۵_۳۲۸ ، باب اختلاف مذاهب اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم ، باب مذاهب التابعین باب الروایة عن الصحابة ، باب تحفة اهل الحرمین ، باب فقهاء الصحابة والتابعین ، باب اختلاف الصحابة والتابعین فی الفروع اول جلد) .

د ائمه و د خپل منځي اختلاف نوری هم ډیری وجهی دي چی حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي په "حجة الله البالغة" او مولانا زکریا صاحب په "اختلاف الائمة" او " الاعتدال فی مراتب الرجال " وغیره کي تفصیل سره بیان کړیدی ، پدی وجه د ائمه و د خپل منځي اختلاف په وجه په تشویش کی واقع کیدو او د شکونو او شبهاتو پیدا کولو او د اعتراض کولو لپاره د جواز هیڅ وجه نشته ، علامه شعراني د ائمه و خپل منځي اختلاف متعلق لیکي : " زما محترمه! که چیرته ته د انصاف په نظر وګوری نو دا حقیقت به درته واضح او ښکاره شي چی ائمه اربعه او د دوی مقلدین ټول په ټوله د هدایت په لاره وو ، او لدینه وروسته د کوم یو امام په کوم مقلد باندی د اعتراض خیال نه وي ، پدی وجه چی دا خبره ذهن کی کیني چی د ائمه اربعه و مذاهب په شریعت مطهره کی داخل وو او د دوی مختلف اقوال امت لپاره رحمت جوړیدو سره نازل شویدي ، الله تبارک وتعالی چی علیم او حکیم دی د دی د مصلحت تقاضی همدا وه . که چیرته الله تبارک وتعالی ته دا خوښ نه وای نو دا به یي هم داسی حرام کړي وای لکه څنګه چی په اصل دین کی اختلاف ممنوع ګرځولی دی ، زما وروه هسی نه چی تاباندی دا اشتباه وشي چی ته د ائمه و فروعي اختلاف د اصولي اختلاف مشابه او د ده په حکم کی وګڼی چی پدی وجه ستا قدم د هلاکت میدان ته داخل شي ، رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د دی امت فرعي اختلاف رحمت ګرځولی دی ، الخ (له اختلاف الائمه ۳۳ ، ۳۴ صفحی نه) .

د اکابرو علماؤ په نظر کی د ائمه و د اختلاف وجه دا ده ، مگر د تعجب خبره دا ده چی غیر مقلدین په ائمه باندی خو دا اعتراض کوي چی الله یو ، رسول صلی الله علیه وسلم یو او قرآن پاک یو بیا په مسائلو کی اختلاف ولی ؟ او حال دا چی د دوی د علماؤ تر منځ په ډیرو مسائلو کی اختلاف دی ، چی هر څه یو دي نو بیا په تاسو کی دا اختلاف ولی دی ؟

د غیر مقلدین علماؤ د خپل منځي اختلاف یو څو مثالونه وګورئ :

(۱) علامه شوکاني او نواب صدیق حسن خان غیر مقلدین د دی قائل دي چی په لمانځه کی ستر د عورت شرط ندی او مولوي وحیدالزمان صاحب غیر مقلد د دی قائل دی چی ستر د عورت په لمانځه کی شرط دی او د دینه بغیر لمونځ نه کیږي (هدیة المهدی) .

(۲) د نواب صدیق حسن خان غیر مقلد په قول مؤذن ته اجرت ورکول جائز ندي (بدور الأهلة ص ٤٦) او مولوي وحیدالزمان غیر مقلد وائي : " پدی وخت کی د اجرت اخستو په جواز کی هیڅ شک نشته " (هدیة المهدی ص ۸۷)

(۳) د مولوي وحیدالزمان غیر مقلد په نزد باندی د مؤذن مذکر کیدل شرط دي (هدیة المهدی) او د نواب صدیق حسن خان غیر مقلد په نزد شرط ندي بلکی د ښځو او د سړو یو حکم دی (بدور الأهلة ص ٤٦) .

(۴) نواب صدیق حسن خان غیر مقلد وائي چی اذان واجب دی (بدور الاهلة ص ٤٦) او مولوي وحیدالزمان غیر مقلد وائي چی سنت دی (هدیة المهدی ص ۴٦) .

(۵) د مولوي وحیدالزمان غیر مقلد په نزد د رنډی (فاحشی) خرچه آمدن حرامه ده د ده دعوت خوړل صحیح ندي او دی سره معامله کول هم درست نه دي چی دوی په اسرار اللغة لسمه پاره (۱۵٦) صفحه کی د دی تصریح کړیده او د مولوي عبدالله صاحب غازي پوري غیر مقلد په نزد باندی حلاله ده او توبه یی ذریعه ده

(٦) د مولوي وحیدالزمان غیر مقلد په نزد بیمار باندی د قرآن و حدیث نه رقیه کول (دمول) درست دي او د نورو غیر مقلدینو په نزد باندی ناجائز دي (اسرار اللغة لسمه پاره ص ۱۱۸) .

(۷) مولوي وحیدالزمان غیر مقلد وایي که چیرته چا د مواقیت نه مخکی احرام وتړلو نو جائز دی (هدیة المهدی ۹٦\٦) او نواب صدیق حسن خان صاحب غیر مقلد وائي چی جائز ندي (بدور الاهلة (۱۳۹) صفحه) .

(۸) نواب صاحب فرمایي چی په وطی سره حج نه باطلیږي (بدور الاهلة (۱۴۱) صفحه) او مولوي وحیدالزمان غیر مقلد وائي چی باطلیږي او راتلونکی کال به اعاده (دوباره) کوي (هدیة المهدة ۲۱۱\٦) .

(۹) مولوي بشیر قنوجي وایي چی په تراویحو کی د ختم په ورځ دری ځلی سورت اخلاص ویل بدعت دي او ده به حافظ منع کولو او مولوي وحیدالزمان وائي چی بدعت ندی (اسرار اللغة پاره خلورم صفحه ۴٦) .

(۱۰) نواب صدیق حسن خان صاحب وائي چی اذان په وخت پکار دی د وخت نه مخکی جائز ندی ، او د حضرت بلال رضی الله عنه اذان به د شپی د ایقاظ نائم او د ارجاع قائم لپاره کیدلو نه د سحر لمانځه لپاره (بدور الاهلة ص ۴۷) لیکن د مولوي وحیدالزمان غیر مقلد رایه دا ده چی د سحر لمانځه لپاره دوه اذانونه پکار دي لکه چی په اسرار اللغة کی تصریح شویده (هدیة المهدی ص ٦۴) .

(۱۱) مولوي وحیدالزمان غیر مقلد وایي : هسی د طبیعت د تفریح لپاره ګانی او سندری مختلف فیه دي او د اختر ، واده او د خوشحالی په رسمونو کی په قول راجح کی جائز بلکی مستحب دي (اسرار اللغة اتمه پاره ٨٦ صفحه) او نواب صدیق حسن خان صاحب غیر مقلد وایي چی مزامیر وغیره حرام دي (بدور الاهلة ۵۱۳ صفحه) .

(۱۲) مولوي وحیدالزمان غیر مقلد وایي چی د جنازی په لمانځه کی صحیح دا دي چی فاتحه جهراً (یعنی په اوچت آواز سره) ولوستلی شي (هدیة المهدی ۲۲۱ صفحه)

او نواب صدیق حسن خان صاحب غیر مقلد فرمایي چې جهراً ثابت دي او ورو ویل مستحب دي (بدور الأهلة ٦٢ صفحه) .

(۱۳) نور الحسن غیر مقلد وایي د زنا لور سره نکاح جائز دی (عرف الجاری ۱۱۲ صفحه) لیکن عبدالجلي صاحب سامرودی غیر مقلد وایي چې جائز نه دي ځکه چې په صحاح سته و کې د دی ذکر نشته (العذاب المهین ۵۲ صفحه) .

(۱۴) مولوي وحیدالزمان اهل حدیث وایي چې د تجارت په مال کی زکات واجب ندی (بدور الاهلة ۱۰۲ صفحه) او مولوي عبدالجلیل غیر مقلد وایي چې د تجارت په مال کی د عامو اهل حدیثو په نزد زکات واجب دی (العذاب المهین ۲۸ ، ۲۹ صفحی) .

(۱۵) مولوي وحیدالزمان اهل حدیث وایي نن صبا په مروجه مولود باندی انکار جائز ندی (هدیة المهدی ۱۱۸ صفحه) لیکن مولوي ثناء الله اهل حدیث وایي چې بدعت دی (اهل حدیث کا مذهب ۳۴ صفحه) .

(۱٦) د نواب صدیق حسن خان اهل حدیث په نزد د سرو او سپینو زرو په ګانو کی زکات واجب نه دی (بدور الاهلة ۱۰۱ صفحه) لیکن مولوي وحیدالزمان غیر مقلد وایي د دلیل په اعتبار سره وجوب قوي دی (هدیة المهدی ۵ ، ٦ صفحه) .

(۱۷) نواب صدیق حسن خان اهل حدیث وایي : قبلهٔ دین مدد وکړه ، کعبه ایمان مدد وکړه ، ابن قیم مدد وکړه ، قاضي شوکاني مدد وکړه (دا وینا جائز ده) (هدیة المهدی ۲۳\۱) او (نفح الطیب ص ۴۷) لیکن مولوي ثناء الله امرتسري دیته شرک وایي (اهل حدیث کا مذهب ۷_۱۲ صفحی پوری) .

(۱۸) نواب صدیق حسن خان اهل حدیث قبله او کعبه لیکل جائز ګڼي لکه چې (۱۷) نمبر عبارت د دی شاهد دی لیکن مولوي عبدالجلیل غیر مقلد دیته ناجائز وایي (العذاب المهین ص ۱۰۰) .

(۱۹) داؤد ظاهري وایي چې د غسل نه وروسته اودس کول پکار دي او مولوي وحیدالزمان وایي چې ندي کول پکار (هدیة المهدی ۲۲ صفحه) .

(۲۰) مولوي عبدالجلیل سامرودي غیر مقلد وایي چې مقیم پسې د مسافر لمونځ جائز دی (العذاب المهین ۷۱ صفحه) لیکن علي حسن خان غیر مقلد وایي چې هرګز به

اقتداء نه کوي که مجبوري وي نو په آخري دوه رکعتو کـې دی شـریک شـي (البنیـان المرصوص ۱٦۳ صفحه) .

(۲۱) نورالحسن غیر مقلد وایي چې موتی وهل جائز دی (عـرف الجـاری ۲۱۴ صـفحه) لیکن مولوي عبدالجلیل صاحب غیر مقلد وایي چې موتی وهـل جـائز نـدی (العـذاب المهین ۵۳ صفحه) .

(۲۲) موولوي وحیدالزمان غیر مقلد فرمایي چې غیر الله تـه آواز کـول مطلقـاً جـائز دي (هدیة المهدی ۲۳ صفحه) او مولوي ثناء الله دیته شرک وایي (اهـل حـدیث کـا مـذهب ۱۹ صفحه) .

(۲۳) مولوي وحیدالزمان غیر مقلد وایي چې پـه غسـل کـې د بـدن مـږل مسـتحب دي (هدیة المهدی ۲۱ صفحه) او نواب صاحب اهل حدیث وایـي چـې واجـب دي (بـدور الاهلة ۳۱ صفحه) .

(۲۴) مولوي وحیدالزمان غیر مقلد وایي چې د جنازې په لمانځه کـې د څلـورو اړ پنځـو نه زیات تکبیرونه ویل جائز دي (هدیـة المهـدی ۲۱۷ صـفحه) او نـواب صـاحب اهـل حدیث وایي چې د څلـوړو تکبیرونـو څخـه قصـداً کـم او زیـاتول بـدعت دی (بـدور الاهـلة ۹۱ صفحه) .

څلورم اشکال : د غیر مقلدینو همدیته ورته یـو اعتـراض دا هـم دی چـې څلـوم مذهبه څنګه حق کیدی شي څکه چې حق متعـدد نـه وي صرف یـو وي لهـذا د ټولـو خبری غلطی دي او بهتره دا ده چې د تقلید رسی له غاړی نه په ویستو سره براه راسـت قرآن او حدیث باندی د خپل فهم او پوهی مطابق عمل وکړی شي .

ځواب دا دی چې د څلورو واړو مذهبونو مأخذ او مرجع یو دی پدی وجه ټـول فاسـق ګڼل ګویا قرآن و حدیث موجب د ګمراهی او ضـلالت ګرځـول دي (معـاذ الله) پـدی وجه دا خیال بالکل ګمراه کـونکی دی ، د کعبـې څلـور طرفـه دي (مشـرق ، مغـرب ، شمال او جنوب) او پدی څلورو طرفونو کی اوسیدونکی خلک د خپل خپـل جهـت پـه اعتبار سره کعبی ته مخ کولو سره لمونځ کوي د هر یو طرف د بل طرف پـه اعتبـار سـره مخالف دی مګر ددی باوجود د ټولو لمونځ صحیح کیږي وجه دا ده چې طرفونـه اګـر

که مختلف دي مگر د ټولو مرکز یو کعبه ده ، همداشان د مروجه خلورو مذهبونو مرجع او مأخذ فقط یو دی دا ټول په قرآن و حدیث باندی عمل کوي پدی وجه خلور واړه مذهبو ته حق وایو فرق صرف دا دی چی یو امام د یو محتمل المعانی آیت نه یوه معنی لره په قرائنو او شواهدو سره راجح وګرځوي او عمل پری وکړي او بل امام دغه معنی مرجوح وګرځوي او عمل پری نه کوي همداشان هغه حدیثونه چی په ظاهر کی متعارض دي یو امام د خپل تحقیق او تفشیش او قواعدو او ضوابط مطابق یو حدیث ته په ترجیح ورکولو سره د خپلی مسئلی بنیاد ګرځوي او عمل پری کوي او بل امام همدغه حدیث د خپلو اصولو او قواعدو او خپل تحقیق او اجتهاد سره مرجوح ګرځوي او د خپلی مسئلی بنیاد ګرځوي ، کله یو امام د حدیث په ظاهري الفاظو باندی عمل کوي او بل امام د نورو نصوصو ته په کتو سره د حدیث مقصد او مراد ته د رسیدو کوشش کوي او پدی مراد باندی عمل کوي وغیره وغیره او د دی مثالونه د صحابه کرامو په تعامل کی هم پیدا کیږي .

(۱) بخاري شریف کی د عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د بنوقریظه و په واقعه کی صحابه و ته وفرمایل : " لایصلین احدکم الاّ فی بنی قریظة " یعنی په تاسو کی هیڅوک د مازیګر لمونځ د بنو قریظه نه علاوه بل ځای ونه کړي ، په لاره کی د مازیګر وخت شو د صحابه کرامو رأیی مختلفی شوی ، یوی ډلي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک فرمان ظاهري الفاظو باندی عمل کولو سره وویل چی مونږه په لاره کی د مازیګر لمونځ نه کوو ، او ځینو حضراتو وویل چی مونږ خو همدلته لمونځ کوو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مقصد دا ؤ چی زر تر زره بنوقریظه ته ځان ورسول شي ، په هر حال هر یو د خپل فهم او اجتهاد مطابق لمونځ وکړ وروسته دا واقعه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته وړاندی کړی شوه دوی صلی الله علیه وسلم په یو باندی هم نکیر ونه کړ او نه یی څوک ملامت کړ (بخاری شریف ص ۵۹۱ باب مرجع النبی صلی الله علیه وسلم من الاحزاب ومخرجه الی بنی قریظة ومحاصرتهم ایاهم) .

پدی ذکر شوی واقعه کی یو ډلی د حدیث په ظاهري الفاظو باندی عمل کولو سره لمونځ ونه کړ او بلی ډلی اجتهاد وکړ او وروسته د حدیث کوم مقصد چی د دوی په فهم

کی راغی هغه باندې یې عمل وکړ او لمونځ یې ادا کړ ، او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم کوم یو ته غلط ونه ویل د ټولو لمونځ یې صحیح وګرځول .
(۲) نسائي د حضرت طارق رضی الله عنه نه روایت کړیدی چې یو سړی جنب شوی ؤ او د اوبو د نیشتوالي په وجه نه یې غسل وکړ او نه تیمم او نه یې لمونځ وکړ او وروسته د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خدمت کی حاضرېدو سره خپله قصه بیان کړه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه دا عمل صحیح وګرځولو ، بل یو صحابي ته همداسې واقعه پیش شوه هغه په تیمم سره لمونځ وکړ او خدمت اقدس کی حاضرېدو سره خپل عمل بیان کړ رسول الله صلی الله علیه وسلم د ده دا عمل هم تائید کړ (نسایي فیمن لم یجد الماء ولاالصعید ۱\٦۲) .
غور وکړئ دواړو حضراتو خپل خپل اجتهاد باندې عمل وکړ او په ظاهر کی دواړو عملونو کی تضاد دی مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅ یو ته غلط ونه ویل ، همدا حال د څلورو ائمه و دی .
او لکه څنګه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم هدایت دی چې په توره شپه کی یا ځنګل کی کله د قبلې پته نه لګي نو هغه باندې واجب دي چې فکر وکړي او کوم طرف ته چې د قبلې غالب ګمان راشي هغه طرف ته مخ کولو سره لمونځ وکړي ، پدې باره کی د نصب الرأیه (۱\۳۰۷) د تحري احادیث وګورئ ، اوس څو کسان دي او ټولو خپل خپل فکر مطابق څلورو طرفونو ته مخ کولو سره لمونځ وکړي نو د اختلاف باوجود د حدیث له مخې د ټولو لمونځ صحیح دی ، همدا حال د څلورو امامانو دی چې ټول قرآن او حدیث ته په نظر کولو سره اجتهاد کوي که په کومه مسئله کی اختلاف وشي نو چونکې مأخذ او مرجع یو دی پدی وجه د ټولو عمل ته صحیح ویل کیږي البته حق ته به یواځې د یو امام رسیدل کیږي مګر عندالله به ټول ماجور وي البته مصیب ته به دوه ثواب ملاویږي یو د کوشش او بل حق ته د رسیدو او مخطی ته به یو اجر ملاویږي د کوشش کولو ، په صحیحینو کی حدیث دی " اذا احکم الحـــاکم فاجتهد فاصاب فله اجران واذا اجتهد فاخطاء فله اجر واحد ." (مسلم باب بیان اجر الحاکم اذا اجتهد فاصاب او اخطاء ۲\۷٦) . یعنی کله چې یو شرعي حاکم په کوشش سره فیصله کوي او صحیح فیصله وکړي نو هغه ته دوه اجر ملاویږي او چې کوشش وکړي او حق ته ونه رسي نو هغه ته یو اجر ملاویږي ، ظاهره خبره ده چې

ثواب ملاویدل لږ وي یا ډیر وي عندالله د قبولیت دلیل دی‌لهذا څلور واړه مذهبه عندالله مقبول دي او حق کوم یو ته حاصل دی ؟ د دی علم الله تعالی سره دی لیکن هر یو امام د اصابت حق کوشش کړی دی پدی وجه د هر یو څانته په حق ویل صحیح دي ، والله اعلم .

پنځم اشکال : د دوی یو بی ځایه اعتراض دا هم دی چی کله څلور واړه مذهبه حق دي نو بیا د یو پابند اوسیدل ولی ضروري دي ؟

د دی ځواب تیر شوی پاڼو کی د تقلید د ثبوت په ضمن کی تفصیلي تیر شویدی ، مختصر دا چی که چیرته یو سړي ته دا اجازت وشي چی کله غواړي د عمل لپاره دی د یو امام قول اختیار کړي او بل ځل دی دکوم بل چا په قول باندی عمل وکړي نو پدی صورت کی د شریعت د احکامو پابندي نه کیږي د نفس پیروي به وي او د ده نفس چی به څه شی خوښ کړي په هغه باندی به عمل کوي او د شریعت مسائل به د ماشومانو د لوبو شیان جوړ شي ، مثلاً په اجتهادي مسئلو کی که یو کال د امام شافعي پیروي وکړي او چیندخ وغیره ته حلال ووایي او وخوري او بیا وروسته پدی مسئله کی د امام شافعي پیروي پریدي او د امام ابوحنیفه مقلد جوړیدو سره چیندخ وغیره ته حرام ووایي نو د دی آیت مصداق به وګرځي چی " یحلونه عاماً ویحرمونه عاماً " یو کال به کافرو حلال کړو او بل کال به حرام کړو دوی هم پدی شان سره خلط ملط شروع کړي دی خلط ملط ته د شریعت په اصطلاح کی " تلفیق " وایي او تلفیق د جمهور محققینو په نزد د ذکر شوي ایت مطابق حرام دی ..... علاوه لدینه کله چی اجتهادي اختلافي مسائلو کی څو ورځی د امام شافعي په مذهب عمل وکړ نو ده سره د دی د حق کیدو څه دلیل او شرعي حجت وي ؟ او لدینه وروسته چی دا یی پریښود او بل مسلک یی اختیار کړ نو کوم مسلک یی چی پریښود پدیکی څه نقصان وُ ؟ او دعلم د نشتوالي باوجود د دی په باطل کیدو باندی کوم یو شرعي دلیل قائم کړ ؟ که د کوم سړي په پوهیدو سره مذهب تبدیل کړی دی نو دا تقلید دی د پنځم مذهب چی د دی په حقوالي باندی هیڅ شرعي دلیل ندی موجود او همدا صورت دین نه د لوبو خیز جوړول دي پدی وجه تول امت د یو مذهب پابندي (یعنی تقلید شخصي) ضروري ګرځولي دي ، والله اعلم بالصواب .

(۱) امام الائمه حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله :

(۲) د فقه د تدوین ضرورت :

(۳) په پاک وهند کی د حنفي مذهب رواج :

امام الائمه ، سراج الامت ، سید الفقهاء والمجتهدین ، حافظ حدیث ، حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله د اعلی درجه مجتهد ، محدث ، ثقه ، صدوق ، زاهد ، عارف ، خاشع او تقوی دار وُ . د ده په مناقبو او فضائلو کی لوی محدثین ، حنفي ، مالکي ، شافعي او حنبلي علماء رطب اللسان دي او په زرګونو رسالی یی پری لیکلي دي : مثلاً ابن حجر هیثمي مکی " الخیرات الحسان فی مناقب الامام اعظم ابی حنیفه النعمان " او موفق بن احمد مکي " مناقب الامام الاعظم " او ابن البزار الکردري " مناقب الامام الاعظم " او " عقود الجمان " د حافظ محمد بن یوسف صالحي شافعي او " تبیض الصحیفه " د علامه سیوطي او " الانتصار الامام الائمه الانصار " د علامه سبط ابن الجوزی ، او " اخبار ابی حنیفه و اصحابه " د ابو عبدالله حسین بن علي حمیري وغیره وغیره تالیفات تفصیل لپاره د " حدائق حنیفه (۸۱ _ ۸۳) صحفی وکتل شي په ائمه و کی " امام اعظم " د ده لقب وُ ،د علماوُ او د محدثینو ډیر لوی تعداد کی د ده منونکي پاتی شوي دي او د امت محمدي صلی الله علیه وسلم نیمائي زیاته حصه اوس ده پسی روان دي ، دوی د صحابه کرامو په زمانه کی پیدا شوي ، د تقوی و پرهیزګاری ، جود و سخا ، علم و فضل جمله کمالات په ده کی موجود وو ، د ده اصلی وطن کوفه دی چی په هغه وخت کی د حدیثو د ټولو نه لوی مرکز وُ ولی چی په کوفه کی په زرګونو صحابه کرام اوسیدل له زرو نه زیات فقهاوُ پیدا شوي چی په دوی کی تقریباً یو نیم سل صحابه کرام وو او د عبدالله بن مسعود او ابوهریره رضی الله عنهما پشان جلیل القدر صحابه کرام هلته اوسیدل ، په کوفه کی د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه څلور زرو نه زیات او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه اته سوو نه زیات شاګردان وو ، د امام صاحب تعلیم و تربیت دومره لوی علمي مرکز کی شوی دی او د حرمینو له علماوُ څخه هم برابر استفاده کړی ده .

د امام صاحب متعلق د حدیث بشارت :

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی د ابوهریره رضی الله عنه روایت دی چی : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم " لوکان الایمان عند الثریا لیذهب به رجل من فارس او قال من ابناء فارس حتی یتناوله " (مسلم ٢\٣١٢ باب فضل الناس ، بخاري ص ٧٢٧ تفسیر سورت الجمعه باب قوله آخرین منهم لما یلحقوا بهم) .

یعنی که چیرته ایمان د ثریا (ستوري) سره هم وای د فارس یو سړي به دهغه ځای نه حاصل کړی وای .

علامه شامي د ابو نعیم په روایت له ابوهریره نه او د شیرازي نه په روایت له قیس ابن سعد بن عباده نه د حدیث دا الفاظ نقل کړیدي : " ان النبی صلی الله علیه وسلم قال لوکان العلم معلقاً بالثریا لتناوله رجال من ابناء فارس او قال لتناوله قوم من ابناء فارس " رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایي : که چیرته علم ثریا کی هم معلق وی نو دا به د فارس قوم څه خلک ضرور حاصلوي (شامي ١\٤٩ مقدمه شامي) .

او د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه په معجم طبرانـي کی داسی روایت دی : که چیرته دین ثریا کی معلق وی نو دی لره د فارس څه خلک به ضرور حاصلوي .

د دغو حدیثونو متعلق کوم بخاري ، مسلم او نورو محدثینو روایت کړیدی ، علامه جلال الدین سیوطي رحمه اله فرمایي : د دی احادیثو صحیح مصداق امام ابوحنیفه رحمه الله دی ، د علامه سیوطي د دی قول متعلق د ده یو شاګرد فرمایي : " ماجزم به شیخنا من أن اباحنیفه هو المراد من هذا الحدیث ظاهر لاشك فیه لانه لم یبلغ من ابناء فارس فی العلم مبلغه " یعنی کومه خبره چی زمونږ شیخ علامه سیوطي کړیده چی د دی حدیث مصداق امام ابوحنیفه رحمه الله دی بالکل صحیح ده ځکه چی د فارس له زامنو څخه هیڅ عالم امام ابوحنیفه رحمه الله پشان علم نه لري (شامي ١\٤٩ مقدمه شامي) .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي هم د دی حدیث مصدق امام ابوحنیفه رحمه الله ګرځولی دی (مکتوبات شاه ولی الله ، مکتوب یولسم ص ۱۷۷ مطبع مطلع العلوم مراد آباد) .

صاحب د غاية الاوطار فرمايي : " په یقین سره معلوم شو چې د صحیحینو د دغه حدیث " لوكان العلم (اولايمان) عند الثريا لناله رجال من فارس " صحیح محمل (مصداق) امام اعظم او د ده ملګري دي ځکه چې په اهل فارس کې له دوی نه زيات څوک عالم ، عالي فهم او د قیق بین وو نو د امام صاحب لپاره دا ډیر عظیم الشان بشارت او فضیلت دی (غاية الاوطار ترجمه درمختار ١\٢٣) .

امام صاحب تابعي وو :

د ده تابعي کیدل مشهور او مسلم ، علامه ابن حجر هیثمي مکي په " الخيرات الحسان " کی لیکلي چې دوی د لویو تابعینو څخه وو " وفي فتاوى شيخ الامام ابن حجر انه ادرك جماعة من الصحابة كانوا بالكوفة بعد مولده بها سنة ثمانين فهو من طبقة التابعين ولم يثبت ذلك لأحد من ائمة الامصار المعاصرين له كالا وزاعى بالشام والحماد بالبصرة والثورى بالكوفة ومالك بالمدينة الشريفة والليث بن سعد بمصر انتهى وحينئذ فهو من اعيان التابعين .... الخ " يعنی د شيخ الاسلام علامه ابن حجر په فتاوی کی دي : دوی (یعنی امام ابوحنیفه) په کال (۸۰) هجري کی د پیدائش نه وروسته کوفه کی چې دلته د صحابه کرامو یوه ډله اوسیده لیدلی دي پدی وجه دوی په تابعینو کی شمیرلی شي او دا شرف د ده همعصر ائمه و کی چاته هم حاصل ندی لکه په شام کی امام اوزاعي وُ او بصره کی امام حماد وُ او کوفه کی امام ثوري وُ او مدینه منوره کی امام مالک وُ ا و په مصر کی امام لیث بن سعد رحمهم اله وو پدی بناء دوی د لویو تابعینو څخه دي (الخيرات الحسان الفصل السادس ص ٦) .

دده د ثقه ، صدوق ، جید الحفظ او تعدیل او توثیق متعلق د فن لوی ناقدینو او محدثینو ډیر خه بیان کړیدي د موقع په مناسب د څو لویو محدثینو (کوم چې خپل خپل زمانه کی مشهور محدثین او د جرح و تعدیل امامان وو) بیانونه نقل کوو :

(١) سید الحفاظ امام یحیی بن معین متوفي ٢٣٣ھ :

دوی مشهور محدث ، بزرګ او په فن د رجالو کی متبحر عالم وُ د امام بخاري وغیره استاذ دی د ده متعلق امام بخاري فرمايي : ما خپل ځان د یحیی بن معین نه سیوا د چا په وړاندی حقیر نه دی ګڼلی ، ده د امام ا بوحنیفه رحمه الله په اعلی درجه کی تعدیل او توثیق کړیدی یو ځل د ده نه د امام ابوحنیفه رحمه الله متعلق تپوس وشو نو وی فرمایل : " ثقة مأمون ما سمعت احداً ضعفه " یعنی دی ثقه دي او په حدیث کی مامون وُ او ما د هیڅ یو محدث نه دده ضعیف کول ندي اوریدلي (عمدة القاری شرح صحیح بخاری ٦٦\١٣) او فرمایل به یی " القرأة عندی قرأة حمزة والفقه ابی حنيفة " یعنی زما په نزد په قرئتونو کی د حمزه قرئت او په فقه کی د ابوحنیفه فقه عمده او بهتر دی (الخیرات الحسان ص ٢١) .

(٢) امام نقد رجال یحیی بن سعید قطان متوفی ١٩٨ھ :

لوی محدث او د فن رجال له ماهرینو څخه دی ، امام احمد رحمه الله او علی بن مدیني رحمه الله وغیره یی شاګردان دي او دمازیګر نه تر ماښامه پوری چی د دوی د درس وخت و په درس کی په ادب سره اوریدو باندی د ده نه د حدیثو تحقیق کولو ، امام قطان د دی فضل و کمال باوجود د امام ابوحنیفه رحمه ا لله د درس په حلقه کی به اکثر شریک وُ او د ده په شاګردی باندی به یی فخر کولو او ده په اکثرو مسائلو کی د امام صاحب تقلید کړیدی د صحاح په ټولو کتابو کی د ده روایات موجود دي دی د امام صاحب متعلق فرمایي :

(١) " ما سمعنا احسن من رأی ابی حنیفة ومن ثم كان يذهب فی الفتوی الی قوله " یعنی مونږ د امام ابوحنیفه رحمه الله نه زیات ښوک صاحب الرأی ندی لیدلی او پدی بناء باندی دی د ده په قول باندی فتوی ورکولو (الخیرا الحسان ص ٣١) .

(٢) " جالسنا والله اباحنيفة وسمعنا منه وكنت والله اذا نظرت اليه عرفت فی وجهه انه ليتقی الله عزوجل " یعنی چی مونږ د امام ابوحنیفه په مجلسو کی ناست یو او استفاده مو ورنه کړیده او قسم چی کله می هم د ده مخ ته کتلي دي نو مابه یقین کولو چی دی د الله تعالی نه مکمل خوف او خشیت باندی موصوف دی (موفق ١٩١\١) .

(۳) " لیس للناس غیر ابی حنیفة فی مسائل تنوهم قال وکان فی اول المرة لم یکن کل ذاك ثم استعجل امره بعد ذلك وعظم "یعنی خلکو ته چی کومې مسئلې پیداکیږي ددی دحل کولو لپاره دامام ابو حنیفه نه علاوه بل څوک نشته په ابتداء کی دامام ابو حنیفه کمالات زیات ښکاره نه وو بیا په یو ځل ډیر په تیزۍ سره دده قدر ، منزلت او عظمت په ترقي او زیاتیدو شو (موفق ۲/ ۴۵)

(۳) امیر المؤمنین فی الحدیث حضرت عبدالله بن مبارک متوفی ۱۸۱ھ

دوی دلویو امامانو څخه دی او دفن حدیث لوی رکن دی دیحیی بن معین او دامام احمد بن حنبل وغیره دلویو محدثینو استاذ دی ، امام بخاري رحمه الله دټولو نه اول دعبدالله بن مبارک کتابونه یادکړي وو ، او دی په اتفاق سره امیر المؤمنین فی الحدیث منلی شویدی په بخاري او مسلم کی دده بی شمیره روایتو نه ذکر دي ، دی دامام ابو حنیفه رحمه الله دخصوصي شاګردانو څخه دی ، کله چی دامام صاحب په خدمت کی حاضر شو نو دده له کامل علم نه دومره متاثر شو چی دعمر ترپایه پورې ورنه جدانشو ، او دامام صاحب په شاګردۍ به یې فخر کولو ، ده دامام ابو حنیفه رحمه الله ډیرو صرحیو الفاظو کی مدح او تعدیل وتوثیق کړی او فرمایلي دي :

(۱) " کان احفظ لاحادیث رسول الله صلی الله علیه وسل وسمع من الامام الکثیر وکان یحث الناس علی اتباعه قال کنا نختلف الی مشائخ الحجاز والعراق فلم یکن مجلس اعظلم برکة ولا اکثر نفعاً من مجلس الامام "یعنی امام ابو حنیفه رحمه الله درسول الله صلی الله علیه وسلم دحدیثو لوی حافظ و ، او ما دامام صاحب نه ډیر احادیث اوریدلي دي ، او ده به خلک دامام صاحب پیروي ته رابلل او ترغیب یې ورکولو او فرمایل به یې چی مونږ دحجاز او دعراق دمشائخو مجلسونو ته تلی راغلي یو

لیکن دامام صاحب دمجلس نه زیات بابرکت او فایده من بل مجلس نـدی لیدلی ،
(مناقب کردری ۱/ ۱۰۳)

(۲) " قال اخلتفت الی لبلاد فلم اعلم باصول الحلال والحرام حتی لقیته " یعنی زه دعلم په طلب کې ډیرو ښارونو ته تللی یم لیکن دامام ابو حنیفه سره دملاقات نه ا وړاندی دحلال او حرامو په اصولو باندی نه یم واقف شوی . (کردرې ۱/ ۱۰۳)

(۳) " جالست الناس فلم أراحداً اعلم بالفتوی منه " یعنی زه دعلماو په مجلس کی ناست یم لیکن دامام صاحبِ نه زیات دفتوی ورکولوقابل می بل څوک ندی لیدلی.

(۴) " لولا مخالفة الافراط ماقدمت علیه أحداً من العلماء "یعنی کـه چیرتـه ماتـه د خلکو له طرفه دافراط دالزام لګولو خطره نه وای نو مابه امام صاحب بانـدی هـیڅ یـو عالم نه وای وړاندې کړی ، (کردری ۱/ ۱۰۳)

(۵) " غلب علی الناس بالحفظ والفقه والعلم والصیانة والدیانة وشدة الورع " یعنی امام صاحب پخپل حفظ فقه ، علم ، احتیاط او دیانت کی اوپه اعلی درجـه تقـوی کـی په ټولو غالب و ، (جامع بیان العلم وفضله په حواله دتقلید ایمه ص۱۱۳)

(٦) " کان افقه الناس مارأیت افقه منه " یعنی امام ابو حنیفه دټولو خلکو نه لوی فقیه و مادده نه لوی فقیه نه دی لیدلی . (الخیرات الحسان ص۲۹)

(۷) " ان احتیج للرأی فرأی مالك وسفیان وابی حنیفة وهو افقهم و احسـنهم وارقهم فطنة واغومهم علی الفقه "یعنی کـه چیرتـه درای ضروري وي نـو دمالـک ، سفیان او دابو حنیفه رائې اخستل پکار دي او ابو حنیفه پدی ټولو کې زیات فقیـه دی او دده پوهه پدی ټولو کی په کې زیات باریک او ژور دی . (خـیرات حسـان ص۲۹ فصـل نمبر ۱۳)

(۸) " لیس احدٌ احق ان یقتدی به من ابی حنیفة لانه کان اماماً تقیاً ورعاً عالماً فقیهاً کشف العلم کشفا لم یکشفه احد ببصره وفهمه وفطنه "یعنی امـام ابـو حنیفـه نـه زیات داقتداء لائق بل څوک نشته ځکه چی هغه امام متقي ، خدا ترس ، عالم او فیـه و ، علم یې پخپل بصیرت ، عقل او پوهې سره داسې کشف کړچی هیڅـا نـدی کـړی ، (الخیرات الحسان ص۲۹ فصل نمبر ۱۳)

(۴) امام اعمش كوفی متوفی ۱۴۸ ھ

په يو قول دكوفی جليل القدر محدث ، فقيه او تابعي و ، او دمحديثينو شيخ الشيوخ دی ، سره ددينه چی دی دامام صاحب په استاذانو کې دی مګر دامام صاحب دتفقه او اجتهاد لوی مدح او ستاینه کوونکي و ، يو ځل څه مسئله پيښه شوه نو بې تکلفه يې وفرمايل : ددی مسئلې بهتر جواب صرف ابو حيفه ورکولې شي او بيايي وفرمايل : " واظن انه بورك فی العلم "يعنی زماپه خيال الله تعالی دده په علم کې لوی برکت اچولی دی ، (الخيرات الحسان ص۳۱)

(۲) يو ځل يې امام صاحب سره څو مسئلو کې بحث وکړ او امام صاحب جوابونه ورکړل او دده ډير خوښ شول او تپوس يې وکړ : داجواب تاپه کوم دليل ورکړ؟ امام صاحب جواب ورکړ دهغه حديث نه چی له تانه مې اوريدلی دی امام اعمش پدی سره نور حيران شو او ويې فرمايل : بس کافي دی تاخو کمال وکړ ماچی درته په سلو ورځو کې کوم احاديث بيان کړي وو هغه تاراته په يو ساعت کی واورول ، زه خو نه وم پوهه چی ته پدی احاديثو باندی عمل کوی ، او ويې وفرمايل : " يامعشر الفقها ، انتم الاطباء ونحن الصيادلة "يعنی ای دفقهاو ډلی ! واقعي مونږ خلک خو صرف عطار (دوا فروش) يو او تاسو طبيبان يې . (حيرات حسان ص ٦۱ فصل نمبر ۳۰)

(۵) امير المؤمنين فی الحديث شعبة بن حجاج متوفی ۱٦۰ ھ.

دصحابه کرامو داعلی راويانو څخه دی ، سفيان ثوري به ده ته امير المؤمنين فی الحديث ويل حضرت شعبه دامام صاحب سره خاص تعلق لرلو ، په موفق کی دي :

(۱)" كان شعبة اذا سئل عن ابی حنيفة اطنب فی مدحه وكان يهدی اليه فی كل عام طرفة "يعنی کله چی به دامام شعبه څخه دامام صاحب متعلق تپوس وشو نو دامام صاحب به زيات تعريف او توصيف کولو او هرکال به يي امام صاحب ته نوی تحفه ليږله (موفق ۲/ ۴٦)

(۲) کله چی ده ته دامام صاحب دوفات خبر ورسيد نو انا لله يي وويل او وی فرمايل : " طفئی عن الكوفة نور العلم اماانهم لايرون مثله ابداً "يعنی نن دکوفی دعلم ډيوه مړه شوه ترقيامته پوری به دده مثل پيدانشي (الخيرات الحسان ص٦۲ فصل۳۲)

(٦) امام حدیث علی بن مدیني متوفی ۲۳۴ ھ :

نوموړ د فن دومره لوی امام دی چی د ده شاګردي امام بخاري ، ابوداوٗد او علامه ذهبي پشان لویو محدثینو کړی ده ، لوی لوی محدثین د ده صفتونه کوي ، دی د امام ابوحنیفه رحمه الله متعلق فرمایي : " ابوحنیفه روی عنه الثوری وابن المبارك وحماد بن زید و هشام و وکیع وعباد بن العوام وجعفر بن میمون وهو ثقة لابأس بـه یعنی د امام ابوحنیفه څخه سفیان ثوري ، ابن مبارک ، حماد بن زید ، هشام ، وکیع ، عباد بن عوام اوجعفر بن میمون (چی دا ټول د محدثینو پیشوایان او د صحاح سته و ائمه دي) حدیث روایت کړی دی او دی ثقه دی (یعنی امام ابوحنیفه کی دجرح و تعدیل د اصولو له مخی ، هیڅ کوم عیب نشته) (الخیرات الحسان ص ٦٧) .

(٧) دحدیثو امام سفیان ثوري رحمه الله متوفی ١٦١ھ :

دی نهایت عظیم مرتبی والا شخص دی د خپلی زمانی د لوی درجی محدث وٗ خطیب لیکلي دي چی د ده په امامت ، پختګي ، ضبط ، حفظ ، معرفت ، زهد و تقوی باندی دَ علماوٗ اتفاق دی ، د امام صاحب هم عصر دی او د ده ډیر صفت کونکی دی امام صاحب هم د ده قدردان وٗ او زیات تعریف به یی کولو ، دی د امام ابوحنیفه متعلق فرمایي : (١) " کان والله شدید الاخذ للعلم ذاباً عن المحارم لایأخذ الا بما صح عنه علیه السلام شدید المعرفة بالناسخ والمنسوخ وکان یطلب احادیث الثقات والاخیر من فعل النبي علیه الصلوات والسلام " یعنی : قسم په الله چی امام ابو حنیفه دعلم په حاصلولو کې ډیر قوي او دمنکراتو منع کونکی و ، هغه حدیث به یې اخستو چی درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه به صحیح ثابت و او دناسخ ومنسوخ په پیژندو کی ډیر زیات ماهر و او ده به دقابل اعتماد حضراتو روایتونه او درسول الله صلی الله علیه وسلم په آخري عمل تحقیق او تالاش کولو ، (کردری ٢/ ١٠، خیرات حسان ص٣٠)

(٢) " عن محمد بن المنتشر الصنعاني قال کنت اختلف الیهما فاذا جئت لأبي حنیفة قال لی من این اقبلت قلت من عند سفیان فیقول جئت من عند رجل لعو کان علقمة والأسود حیسین لاحتاجا الیه واذا أتیت سفیان قال جئت من أین ؟ قلت

جئت من عند ابی حنیفة قال جئت من عند افقه الارض " یعنـی محمـد بـن منتشر صنعاني فرمایي : چې زه به امام ابو حنیفه او سفیان ثوري خواته تلم راتلم کله چـې بـه ابو حنیفه خواته لاړم نو تپوس به وکړ دکوم ځـای نـه راغلـی ؟ مابـه ویـل د سفیان لـه خوانه نوهغه به راته ویل ، ته دداسې شخص له خوانـه راغلـی یې چـې کـه علقمـه او اسود هم موجود وای نو دوی به هم و رته محتاج وو او کله چې به سـفیان خواتـه لاړم نو هغه به رانه تپوس وکړ دکوم ځای نه راغلی ؟ مابه ویـل دأبـو حنیفـه لـه خوانـه ، نـو فرمایل به یې چې ته دداسې کس له خوانه راغلی یې چې په مخ دځمکـه بانـدی دده پشان څوک فقیه نشته .(کردری ۲/ ۱۱)

(۳) " کان الثوری اذا سئل عن مسئلة دقیقة لقول ماکان أحد یحسن ان یتکلم ف هذا الامر الارجل قدحسد ناه ثم لیسئل اصحاب ابی حنیفة مـــایقول صـــاحبکم فیحفظ الجواب ثم یفتي" یعنی کله چې به دسفیان ثوري نه کومه دقیقه مسئله وپـوښتلې شوه نو فرمایل به یې : پدی مسئله کې هیڅوک بهتر تقریر لشي کولې سیوادهغه شـخص نه چې مونږ ورباندی حسد کولو (یعنی امام ابو حنیفه) بیـا بـه یـې دامـام صـاحب لـه شاگردانو څخه تپوس وکړ چې پدې مسئله کې ستاسـو اسـتاذ څـه وایـي . او هغـوی بـه جواب ورکړ نو هغه به یې یاد کړ او ددی موافق به یې فتوی ورکړه .(موفق ۲/ ۱۴)

(۸) مشهور محدث یزید بن هارون متوفی ۲۰٦ هـ.

دخپلې زمانې محدث او ثقه و ، دامام اعظم ، امام [illegible] او دسفیان ثوري شاگرد دی او دیحیی بن معین ، علي بن مدیني وغیره شیوخو استاد دی دشاگردانو یـې شـمیر نشـته ، یو وخت کی (۷۰۰۰) اوزره جوړیدل ، [illegible] (۴۰) کـالو پـورې دماسـخوتن پـه اودس سـره دسحر مونځ کړیدی (په حواله [illegible] انوار البـاري ص،۸۰ مقدمـه حصـه اول) دی دامـام صاحب متعلق فرمایي :

(۱)" کتبت عن [illegible] الف شیخ حملت عنهم العلم فما رأیت والله فیهم اشد ورعاً من ابی حنیفة ولا احفظ لـ[illegible] " یعنی ما دزرو استادانو نه علم حاصل کړی لـیکن پـه الله قسم چې [illegible] دابو حنیفه نه زیات متقي او رښتونی بل څوک نه دی لیدلی (موفق ۱/ ۱۹۵)

(۲) " أنبأ محمد بن مسعد ان سمعت من حضر يزيد بن هارون وعنده يحيى بن معين و على بن المديني واحمد بن حنبل وزهير بن حرب وجماعة اخرون اذ جاءه مستفت فسأل عن مسئلة قال فقال له يزيد اذهب الى اهل العلم قال فقال له ابن المديني اليس اهل العلم والحديث عندك قال : اهل العلم اصحاب أبي حنيفة وانتم صيادلة" يعنی : يو ورځ ديزيد بن هارون په مجلس کی يحيى بن معين او امام احمد وغيره موجود وو يو سړی راغی او دمسئلې تپوس يی وکړ ده وفرمايل : اهل علمو ته ورشه او تپوس ترينه وکړه ، على بن مديني ورته وويل ايا تاسره اهل علم ندي ناست ؟ ويې فرمايل اهل علم خو دابو حنيفه اصحاب دي تاسو خو عطار (دوا فروشان) يې (موفق ۲/ ۴۷)

(۳) " وسئل متى يحل للرجل ان يفتى فقال اذا كان مثل ابى حنيفة .... الخ " يعنی يو چاورته تپوس وکړ چی يوعالم څه وخت دفتوی ورکولو قابل ګرځي ؟ ويې فرمايل چی کله دابو حنيفه پشان شي ، چاورته وويل : تاسو خو عجيبه خبره کوئ ويې فرمايل هو بلکې لدينه هم زيات ددی تعريف پکار دی ، ما دده نه څوک لوی عالم ، فقيه او پرهيز ګار ندی ليدلی ، مايوه ورځ دی ديو سړي دروازې مخې ته په لمر کې ناست وليد ماورته عرض وکړ تاسو دديوال سوری ته کينئ ، ويې فرمايل : ددی کور والا باندی زما څه قرض دی پدی وجه دده دکور سوري ته کيناستل راته خوښ ندي . يزيد بن هارون ددی واقعې په بيانولو سره وفرمايل : " وایّ ورع اكبر من هذا "راته وښايي چی لدينه زيات نور تقوی او پرهيز ګاري کيدی شي ؟ (موفق ۱/ ۱۹۱).

(۹) امام وكيع بن جراح متوفى ۱۹۷ ھ:

دامام شافعي، امام احمد او داصحاب سته و له لويو استاذانو څخه دی په امام صاحب باندی به يې ډير زيات حسن ظن لرلو او دده به يې ډير زيات تعريف کولو يو ځل دده په مجلس کی يوحديث پيش شو چی دهغه مضمون ډير مشکل و دی ودريد او يو سړ اسويلي يې وکړ او ويې فرمايل : اوس په ندامت باندی څه فايده ، هغه شيخ يعنې ابو حنيفه چيرته دی چی دا اشکال يې حل کړی وای ؟ : " انه قد وقع يوماً حديث فيه

غموض فوقف و تنفس الصعداء وقال لاتنفع الندامة ابن الشيخ فيفرج عنـــا " (کردری ۱/۹۷)

(۲) مابل داسې خوک ندی لیدلی چی دامام ابو حنیفه نه زیـات فقیـه او پـه ښـه طریقـه لمونځ کوونکی وي ، (حدائق حنیفه ص۷۸)

(۱۰) حافظ حدیث امام ابو یوسف متوفی ۱۸۲ هـ:

امام ابو یوسف په علم حدیث کې دامام احمد، علی بن مدیني ، یحیی بن معـین وغـیره داکابرو محدثینو استاذ دی داتول دامام بخاري وغیره محـدیثینو اسـتاذان دي ، امـام ابو یوسف دامام ابو حنیفـه مشـهورو شـاگردانو څخـه دی، دی دامـام صـاحب متعلـق فرمایي :

(۱) " کان هو أبصره بالحدیث الصحیح منی " یعنی امام صاحب له ما څخه دصـحیح احادیثو په پیژندلو کی زیات ماهر او پوه و (الخیرات الحسان ص٦١ فصل نمبر ۱۳)

(۲) " قال عصام بن یوسف قلت لابي یوسف رحمه الله اجتمع الناس علی انـــه لا یتقدمك احد فی المعرفة والفقه فقال مامعرفتي عند معرفة ابن حنیفه الا کنهر صغیر عند نهر الضرات " یعنی عصام بن یوسف وایي : چی ما امام ابـو یـو سـف تـه وویـل: دوخت عالمان پدی متفق دي چی په حدیث او فقه کی له تانه او چت عـالم نشته ، نـو ویې فرمایل : زما علم دامام صاحب دعلم په مقابـل کـی ډیـر کـم دی داسـې دی لکـه دفرات سیند په مقبال کی یو وړوکی نهر (ویاله) (متوفی ۲/ ۴۲)

(۱۱) امام مالک متوفی ۱۷۹ هـ :

یو ځل امام شافعي صاحب دامام مالک صاحب نه دخو محدثینو په باره کی تپوس وکـړ امام مالک صاحب ورته دهغوی حالات بیان کړل : او بیا یې دامام ابو حنیفه په باره کې تپوس وکړ نو ویې وفرمایل : (سبحان الله لَم ارمثله) سبحان الله هغه عجیبه سړی و قسـم په الله چي ما دده پشان بل خـوک نـــــدی لیدلـــــې : (الخـیرات الحسـان ص۲۹ فصل نمبر ۱۳)

(۱۲) امام شافعي رحمه الله متوفی ۲۰۴ ھ :

فرمايي : " الناس عيال فی الفقه علی ابي حنيفه ما رأيت ای علمت احداً افقه منه " يعنی په فقه کی ټول خلک دابو حنيفه عيال دی ځکه چی ماددی څخه زيات فقيه بل څوک ندی‌ليدلی .

(۲) " من لم ينظر فی کتبه لم يتبحر فی العلم ولا يتفقه " يعنی څوک چی د امام ابو حنيفه کتابونه ونه ګوري هغه نه ژور علم والا جوړيږي او نه فقيه جوړيږي .

(خيرات حسان ص۲۹ فصل نمبر ۱۳)

(۱۳) امام احمد بن حنبل رحمه الله متوفی ۲۴۱ ھ :

فرمايي : " انه من اهل الورع والزهد وايثار الاخرة بمحل لا يدرکه احد الخ " يعنی امام ابو حنيفه په علم وتقوی ، زهد او داخرت په غوره کولو کی هغه درجې ته رسيدلې و چی بل څوک ورته ندی رسيدلی .(الخيرات الحسان ص ۳۰ فصل نمبر ۱۳ ، شامی ۱/ ٥٦)

(۱۴) د حديثو امام مسعر بن کدام رحمه الله :

دصحاح سته دائمه و له استاذانو څخه دی او دمحدثينو پيشوا دده د جلالت قدر اعتراف شيخ المحدثين امير المؤمنين فی الحديث حضرت عبدالله بن مبارک کړيدی دسفيان ثوري او دسفيان بن عيينه له استاذانو څخه دی ددومره لوړ شان باوجود به امام ابو حنيفه نه استفاده کوله ، دعبدالله بن مبارک بيان دی : " رأيت مسعرافی حلقة ابی حنيفة يسئله ويستفيد منه "يعنی ما مسعر دامام ابو حنيفه ددرس په حلقه کی وليد چی ده به له هغه نه تپوسونه کول او استفاده به يې ورنه کوله ، دخيرات حسان ۲۹ دی دامام ابو حنيفه متعلق ارشاد فرمايي :

(۱) کوم سړی چی د خپل ځان او د الله تعالی تر منځ امام ابوحنيفه رحمه الله وسيله وګرځوي او د ده د مذهب پيروي وکړي نو زه اميد لرم چی هغه ته به هيڅ خطره او

خوف نه وي او بیا یی دا اشعار وویـل : " حسبی من الخیرات ما اعددته یوم القیامـــة فی رضی الرحمان دین النبی محمد (صلی الله علیه وسلم) خیر الوری ثم اعتقادی مذهب النعمان " (حدائق ص ۷۹) .

(۲) " مر مسعر بن کدام بأبی حنیفه واصحابه فوجدهم قد ارتفعت اصواتهم فاقام ملياً ثم قال هؤلاء افضل من الشهداء العباد والمجتهدین هؤلاء یجهدون فی احیــاء سنة محمد صلی الله علیه وسلم ویجهدون فی اخراج الجهال من جهلهم الخ "

یعنی : یو ځل مسعر بن کدام د ابوحنیفه او د ده د ملګرو په مجلس باندی تـیر شـو ویی لیدل چی د فقهی مسائلو مذاکری کیږي او ښه اوچت آواز سره بحثونه کیږي لـږ وخـت ورته ودریدو او غور یی ورته اینبی ؤ او بیا یی وفرمایل : دا خلک له شهیدانو ، عابـدینو او تهجد ګذارو نه غوره دي دا خلک د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت ژوندي کـوي او جاهلان له جهالت څخه راوباسي (موفق ۲۴۹\۱) .

(۱۵) مشهور محدث امام اوزاعي متوفي ۱۵۷ھ :

نوموړی جلیل القدر محدث ، فقیه او مجتهد ؤ یو ځل امام اوزاعي عبـدالله بـن مبارک ته وویل: " من هذا المبتدع الذی خرج بالکوفة یکنی ابـــا حنیفــه " یعنـی دا کـوم بدعتي په کوفه کی پیدا شویدی چی کنیت یی ابوحنیفه دی ؟ ابن مبارک فرمـایي : ما ورته څه ځواب ورنکړ او وروسته می د امام صاحب خاص خاص مسئلی ورتـه وښـودلی ، کله چی ده دغه مسئلی ولیدلی او ولوستلی چی دا مسائل نعمان بـن ثابـت تـه منسـوب دي نووی فرمایل : " من هذا ؟ " یعنی دا نعمان بن ثابت څوک دی ؟ ما ورتـه وویـل : یو شیخ دی چی عراق کی می ورسره ملاقـات شـویدی " قال هذا نبیل من المشـــائخ اذهب فاستکثر منه " وی فرمایـل : دا خـو لـه مشائخو نـه ډیـر قابـل قـدر شخصـیت معلومیږي ته لاړ شه له هغه نه زیات علم حاصل کړه : " قلت هذا ابوحنیفة الذی نهیت عنه ". ما ورته وویل دا هماغه ابوحنیفه دی چی زه دی ورنه منع کولم، بیا امام اوزاعـي او امام صاحب ابوحنیفه په مکه مکرمه کی یوځای شول او ځینـو مسـائلو کـی یی سـره ګفتګو وشو امام ابوحنیفه د هغو مسائلو ډیر بهترین انداز کی تشریح وکـړ او چـی دواړه

سره جدا شول نو امام اوزاعي ابن مبارک ته وفرمايل : " غبطت الرجل بكثرة علمه ووفور عقله واستغفر الله تعالى لقد كنت في غلط ظاهر الزم الرجل فانه بخلاف ما بلغني عنه " يعنی ما د دی سړي په کثرت علم او کمال عقل بانـدی غبطه وکـړه ، او د ده باره کی چی می څه ويلي دي د الله تعالی نه د هغی معافي غواړم پـدی بـاره کـی زه په ښکاره غلطي کی وم ، زه د ده ملګرتيا اختيار کړه او بالکل ورنه جـدا نشـی ځکـه ماته چی د ده په باره کی څه رسيدلي وُ هغه بالکـل غلـط وُ (الخـيرات الحسـان ص ۳۰ فصل نمبر ۱۳ ، مناقب کردری ۱\۳۹) .

(۱٦) محدث کبیر مکی بن ابراهیم متوفی ۲۱۵ھ :

نوموړی جليل القدر حافظ حديث او فقيه دی د امام بخاري ، ابـن معـين وغـيره اسـتاذ دی ، دی فرمايي : " كان ابوحنيفه اعلم اهل زمانه " يعنی امـام ابوحنيفـه د خپلـی زمانی د ټولو نه لوی عالم وُ (الخيرات الحسان ص ۲۹) .

(۱۷) مشهور محدث شقيق بلخي متوفی ۱۹۴ھ :

نوموړی لوی عالِم ، محدث ، زاهد ، عارف او متوکل وُ ، دی فرمايي : " امام ابـو حنيفـه اعلم الناس ، اورع الناس ، اعبدالناس ، اكرم الناس او په دين کی ډير احتيـاط کـونکی وُ (حدائق حنيفه ص ۷٦) .

علاوه له دی نه په سوونو محدثينو د امام ابوحنيفه تعريف ، توثيق او تعـديل کـړی دی او ده ته يی حـافظ حـديث او فقيـه نبيـل فرمـايلي دي ، ا و د ده جلالـت شـان لدينـه ظاهريږي چی ډی د بې شميره لويـو محـدثينو شيخ او اسـتاذ دی او د صـحاح سـته وُ مصنفين (امام بخاري ، امام مسلم وغيره) د امام ابوحنيفـه د شـاګردانو شـاګردان دي، چا څه ښه ويلي دي :

امـام اعـظم کے شاګردون کے هـین شاګرد بـهی ارشـد
بـخاری ، شــافعي ، مسـلم نسائي ، ترمذی ، احمد

د دی مناقبو باوجود هم که چيرته څوک متعصب او سپين سترګی امام ابوحنيفـه بانـدی جرح کوي او ضعيف ورته وايـي او د ده روايتونـه قابـل د احتجـاج ونـه ګڼـي او يـا دا ووايي چی ده ته يواځی (۱۴) يا (۱۷) حديثونه ياد وو نو له هغه نه به زيات متعصـب او د عقل ړوند او د حقائقو نه منکر څوک وي ؟

حضرت عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمایي : یو ځل امام ابوحنیفه خوب ولید چې دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم مرقد شریف کنې او د ده صلی الله علیه وسلم مبارک او پاک هډوکي جمع کوي ، امام صاحب د خوب تعبیر معلوملو لپاره یو سړی امام ابن سیرین ته ولیږلو امام المعبرین چې کله خوب واورید نو تپوس یې وکړ چې د دی خوب لیدونکی څوک دی ؟ خو هغه سړي ځواب ورنکړ ؟ او بیا یې د خوب د تعبیر تپوس وکړ . هغه بیا دا تپوس وکړ چې د دی لیدونکی څوک دی ؟ هغه چپ شو او نوم یې ونه ښود ، چې دریم ځل یې د خوب د تعبیر درخواست وکړ نو امام ابن سیرین رحمه الله تعبیر بیان کړ چې : " صاحب هذه الرؤیا یبرز علماً لم یسبقه احد الیه ممن قبله " یعنې د دی خوب لیدوکی به علم دومره واضح کړي (یعنې جمع کړي) چې د ده نه وړاندې دغه شان هیچا نه وي کړی (له دی نه د علم فقه تدوین او د قرآن و سنت د علومو جمع کولو طرف ته اشاره دی) په مرقات المفاتیح کې دي : " رأى أبي حنیفه فی النوم کأنه ینبش قبر النبی صلی الله علیه وسلم فبعث من سأل محمد بن سیرین فقال من صاحب هذه الرؤیا ولم یجب عنها ثم سأله الثانیة فقال مثل ذلك ثم سأله الثالثة فقال صاحب هذا الرؤیا یبرز علماً لم یسبقه احد " (مرقات المفاتیح ۲۸\۱ مقدمه مرقات مطبوعه ملتان) .

شیخ علی بن عثمان هجویري لاهوري (داتا گنج بخش) متوفی ۴۶۵ھ چې دی د هند او پاک په لویو اولیاوٌ کې شمیرلی شي د تصوف د مشهور و معروف کتاب " کشف المحجوب " مصنف دی او حنفي مذهب وٌ ، امام ابوحنیفه سره یې خاص محبت او عقیدت لرلو او ده ته به یې " امام امامان و مقتداء سنیان شرف فقهاء وعز العلماء " ویلو ، دی د امام ابوحنیفه او حنفي مذهب متعلق خپل یو دلچسپ خوب بیانوي او لیکي : من که علی بن عثمان الجلابی ام وفقنی الله بدمشق شام بودم بر سر گور مؤذن رسول خدا صلی الله علیه وسلم خفته خودرا بمکه دیدم اندر خواب که پیغمبر صلی الله علیه وسلم ازباب بنی شیبه اندر آمده پیرے رادربر گرفته چنانکه اطفال رادربر گیرند بشفقتے من پیش دویدم بردست و پالیش بوسه دادم ودر تعجب بودم که آن کیست وآن حالت چیست ؟ وے بر باطن و اندیشه من مشرف شده مراگفت این امام تو واهل دیار تست یعنی ابوحنیفه مرا به این خواب امید بزرگاست وبااهل دیار خود هم و درست گشت

ازین خواب مرا که وے یکے ازانان بوده است که از اوصاف طبع فانی بودند باحکام شرعی باقی وبدان قائم چنانچه برنده وے پیغمبر صلی الله علیه وسلم بوده است واگروے خودرفتی باقی الصفت بودے وباقی الصفت یا مخطی بودیا مصیب چون برنده و پیغامبر صلی الله علیه وسلم بود فانی الصفت باشد ببقاءِ صفت پیغمبر صلی الله علیه وسلم وچون بر پیغمبر صلی الله علیه وسلم خطا صورت نگیر و برآنکه بدو قائم بود ، نیز صورت نگیرد داین رمز لطیف است.

یعنی : زه علی بن عثمان جلابي يم الله تعالی دی راته توفیق راکړي ، د شام په دمشق ښار کی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د مؤذن حضرت بلال رضی الله عنه د مزار سره طرف ته ویده وم خوب می ولید چی مکه معظمه کی یم او رسول الله صلی الله علیه وسلم د باب بنی شیبه نه راننوځي اولکه څنګه چی ځوک یو ماشوم په مینه باندی په غیږ کی ونیسي ، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم یو بوډا سړی په غیږ کی رانیولی دی ، زه په منډه رسول الله صلی الله علیه وسلم خوا ته ورغلم او لاسونه ، پښی می ورته ښکل کړی او حیران وم چی دا څوک دی ؟ او دا څه حالت دی ؟ رسول اکرم صلی الله علیه وسلم زما د زړه په تشویش باندی پوهه شو نو ارشاد یی وفرمایلو چی دا سړی ستا او ستا د قوم امام دی یعنی ابوحنیفه ، پدی خوب سره ماته د خپل ځان او د خپل قوم په حق کی ډیر امیدونه پیدا شول او ماته پدی خوب سره دا هم معلومه شوه چی امام ابوحنیفه د هغه خلکو څخه دی کوم چی د خپلو ذات او صفاتو نه فانی شوي او صرف د شریعت احکامو لپاره باقی دی ځکه چی د دی حامل رسول الله صلی الله علیه وسلم و ، که چیرته ما دی په تلو کی لیدلی وای نو معلوم شوی به وای چی دی باقی الصفات دی ، او باقی الصفات لپاره د خطاء او ثواب دواړه امکان لري لیکن څرنګه چی ما دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په غیږ کی ولید نو لدینه معلوم شو چی د ده ذاتی وجود فاني شویدی او اوس چی د ده کوم وجود پاتی دی هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وجود سره قائم دی او چونکی د رسول الله صلی الله علیه وسلم لپاره هیڅ قسم د خطاء امکان نشته نو پدی وجه د چا وجود چی په ده کی فانی شوی هغه هم د خطاء له امکان نه پاک دی (یاد دی وي) چی دا یو باریک رمز دی [1].

---

[1] ـ کشف المحجوب ص ۱۳۱ طبع سمر قند او ص ۸٦ طبع ۳ لاهور ۱۳۹۸ھ ، په حواله د ماهنامه الفرقان (۴۸) جلد ، شماره ۱۰ ، ۱۱ اکتوبر و نومبر ۱۹۸۰ء ص ۴۷ ، ۴۸ او تصوف اسلام ، مولانا عبدالماجد دریا بادی ص ۴٦ ، ۴۷ .

د فقه د تدوین ضرورت :

څو پورې چې دنیا کې صحابه کرام رضی الله عنهم اوسیدل په دوی کې چې کوم حضرات فقیه او مجتهد وُ او د افتاء کار به یې کولو هغوی په ټول اسلامي حکومت کې خواره شوي وو او نوي پیښ شوي مسائل به یې حل کولې په ۱۱۰هـ کې کله چې د صحابه کرامو د ډلې آخري فرد حضرت ابوالطفیل رضی الله عنه لدې دنیا نه تشریف یوړ نو وروسته د دیني احکامو د نشر و اشاعت مستقل کار د دوی شاګردانو (یعنی تابعینو) شروع کړ ، پدې وخت کې اوه ځایونه داسې وو چې د نبوي علومو مرکزونه وو او هلته دار الافتاء ګانې قائم وې پدې ځایونو کې لوی لوی جید تابعین موجود وو ، هغه اوه ځایونه دا وو : (۱) مدینه منوره (۲) مکه معظمه (۳) کوفه (۴) بصره (۵) دمشق (۶) شام (۷) مصر یمن ،کوفه کې ډیر ډیر خصوصیات موجود وو ، په زرګونه صحابه کرام هلته اوسیدلي وو د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه په زرګونه شاګردان دلته موجود وو ، پدې وجه کوفه د علم حدیث او د فقه کې د خلکو لوی مرجع او مرکز جوړ شوی وُ د ۱۲۰هـ کال نه مخکې امام ابوحنیفه د کوفي مشهور محدث او فقیه امام حماد رحمه الله د درسي حلقي یو ممتاز طالب علم وُ د امام حماد د رحلت نه وروسته د هغه د درس ګاه جانشین او یو مستقل معلم او مفتي شو ، امام صاحب نهایت هوښیار ، فهیم او متفکر وُ ده چې د عالَم په اطرافو نظر واچولو نو وې لیدل چې د زماني او د حالاتو د اختلاف په وجه یو پیړۍ کې په عالَم کې ډیر څه تغیر او تبدیلي راغلي او په راتلونکي زمانو او دورونو کې هم نشي ودریدلی ، یو طرف د حدیثو د واضعینو (دروغ حدیث جوړونکي) فتنه پورته شوی او بل طرف ته نورو فتنو هم سر اوچت کړی دی او دوی دا هم ولیدل چې اوس علم یوځای او د یو سړي سره ندی بلکې دا د دنیا په اطرافو کې خور شویدی پدې وجه دوی ته دا فکر پیدا شو چې که چیرته دا علم یوځای نه کړی شي نو دا به ضائع شي او همدا راز د امام صاحب په نظر کې دا خبره هم وه چې د نن نه وړاندې چې کوم افراد وو هغه اوس نشته زمانه په تیزۍ سره د انحطاط په طرف روانه ده لهذا نن چې د علم کوم اوچت هستیانی موجود دي له دوی نه استفاده کول پکار دي او دغه علم له یوځای کې راجمع کول ضروري دي او تر قیامته پورې راتلونکو نسلونو لپاره داسې یو دستور العمل او قانو جوړول پکار دي چې دوی لپاره د ژوند په هره شعبه کې راهنما او مشعل وي او د ټولو شیانو رعایت

پکی شوی وي ، د دغو اسبابو په بناء باندی امام ابوحنیفه رحمه الله د فقه د تدوین کار شروع کړ

د فقه د تدوین کیفیت :

د دی اهم کار تر سره کولو لپاره دوی د خپلو زرګونو شاګردانو څخه څلویښت ماهرین منتخب کړل او یوه کمیټي یې جوړه کړه چې د دوی اسماء ګرامي دا دي :

(۱) امام زفر رحمه الله متوفی ۱۵۸ھ .

(۲) امام مالک بن مغول متوفي ۱۵۹ھ .

(۳) امام داوٗد طائي متوفي ۱٦۰ھ .

(۴) امام مندل بن علي متوفي ۱٦۸ھ .

(۵) امام نضر بن عبدالکریم متوفي ۱٦۹ھ .

(٦) امام عمرو بن میمون متوفي ۱۷۱ھ .

(۷) امام حبان بن علي متوفي ۱۷۳ھ .

(۸) امام ابوعصمه متوفي ۱۷۳ھ .

(۹) امام زهیر بن معاویه متوفي ۱۷۳ھ .

(۱۰) امام قاسم بن معین متوفي ۱۷۵ھ .

(۱۱) امام حماد بن امام الاعظم متوفي ۱۷٦ھ .

(۱۲) امام هیاج بن بسطام متوفي ۱۷۷ھ .

(۱۳) امام شریک بن عبدالله متوفي ۱۷۸ھ .

(۱۴) امام عافیه بن یزید متوفي ۱۸۰ھ .

(۱۵) امام عبدالله بن مبارک متوفي ۱۸۱ھ .

(۱٦) امام ابو یوسف متوفي ۱۸۲ھ .

(۱۷) امام محمد بن نوح متوفي ۱۸۲ھ .

(۱۸) امام هشیم بن بشیر السلمی متوفي ۱۸۳ھ .

(۱۹) امام ابوسعید یحیی بن ذکریا متوفي ۱۸۴ھ .

(۲۰) امام فضیل بن عیاض متوفی ۱۸۷ھ .

(۲۱) امام اسد بن عمرو متوفي ۱۸۸ھ .

(۲۲) امام محمد بن الحسن متوفي ۱۸۹ھ .

(۲۳) امام علي بن مسهر متوفي ۱۸۹ھ .

(۲۴) امام یوسف بن خالد متوفي ۱۸۹ھ .
(۲۵) امام عبدالله بن ادریس متوفي ۱۹۲ھ .
(۲٦) امام فضل بن موسی متوفي ۱۹۲ھ .
(۲۷) امام علي بن طبیان متوفي ۱۹۲ھ .
(۲۸) امام حفص بن غیاث متوفي ۱۹۴ھ .
(۲۹) امام وکیع بن جراح متوفي ۱۹۷ھ .
(۳۰) امام هشام بن یوسف متوفي ۱۹۷ھ .
(۳۱) امام یحیی بن سعید القطان متوفي ۱۹۸ھ .
(۳۲) امام شعیب بن اسحاق متوفي ۱۹۸ھ .
(۳۳) امام ابوحفص بن عبدالرحمان متوفي ۱۹۹ھ .
(۳۴) امام ابومطیع بلخي متوفي ۱۹۹ھ .
(۳۵) امام خالد بن سلیمان متوفي ۱۹۹ھ .
(۳٦) امام عبدالحمید متوفي ۲۰۳ھ .
(۳۷) امام حسن بن زیاد متوفي ۲۰۴ھ .
(۳۸) امام ابو عاصم النبیل متوفي ۲۱۲ھ .
(۳۹) امام مکي بن ابراهیم متوفي ۲۱۵ھ .
(۴۰) امام حماد بن دلیل متوفي ۲۱۵ھ .

دا ټول حضرات درجه د اجتهاد ته رسیدلی وو او بیا د دی څلویښتو حضراتو نه جملی نه د لس دولسو حضراتو یو بیل او جدا مجلس و چی د دی ارکان امام ابویوسف ، امام زفر ، داؤد طائي ، یوسف بن خالد ، یحیی بن زکریا زائده ، امام محمد ، عبدالله بن مبارک او پخپله امام ابوحنیفه رحمهم الله وو[1] (الجواهر المضیئه ۱۴۱\۱ په حواله د امام اعظم ابوحنیفه ص ۱۷۸) .

د تدوین فقه د دی مجلس متعلق د امام شافعي استاد او مشهور محدث امام وکیع بن جراح فرمایي : د امام ابوحنیفه په کار کی به غلطي څنګه پاتی کیده پداسی حال کی چی ده سره ابویوسف ، حفص بن غیاث ، حبان او مندل پشان ماهرین د حدیث ملګري وو او د لغت و عربیت ماهر قاسم بن معین یعنی عبدالرحمن بن عبدالله ابن مسعود

[1]_ امانی الاحبار ، الجواهر المضیئه په حواله د امام الاعظم ابوحنیفه ص ۱۸۳ ، ۱۸۴ مصنف مفتی عزیز الرحمن مد ظله .

رضی الله عنه پشان ورسره وُ ، او داوُد بن نصیر طائي ، فضیل بن عیاض په خیر د زهد او تقوی خاوندان موجود وولهذا د چا د کار ملګري او هم مجلس چې داسې خلک وي هغه غلطي نشي کولی ځکه چې د غلطي په صورت کې صحیح خبری طرف ته واپس کونکي خلک موجود وي (جامع المسانید ص ۳۳ په حواله د امام اعظم ابوحنیفه ص ۱۷۸) .

امام ابوحنیفه رحمه الله د مسایلو د استنباط دا طریقه وه چې اول کتاب الله(قرآن) او بیا نبوي سنت او بیا د صحابه کرامو آثار او لدینه وروسته قیاس ، د احادیثو باره کې د امام صاحب نظر ډیر ژور وُ ، ده به د حدیث قوت ، ضعف ، مشهور ، ا حاد نه علاوه دیته هم کتلې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند آخري عمل څه وُ ، او د مسائلو په استنباط کې امام صاحب پداسې جزئیاتو باندی به هم بحث کولو چې تر اوسه به لاپیدا شوي نه وو ، پدی وجه امام صاحب د تدوین فقه په مجلس کې په هغه ټولو مسائلو باندی بحث وکړو چې د هغو د پیدا کیدو امکان وُ د ده ګیر چاپیره به د شاګردانو ډله وه او هر سړي ته به د حدیثو ، آثارو اجماع او قیاس په رڼا کې ازادانه توګه د بحث او مباحثی موقع ورکول کیدو او د امام صاحب په وړاندی به ټولو خپل خپل دلائل بیانول او په بحث کې به ډیر ځلې د دوی آواز هم اوچتیدلو او د بحث په دوران کې پخپله د امام صاحب سره هم (چې د ټولو منلی شوی شیخ او استاذ وُ) ځینو حضراتو اختلاف کولو او تر دی پوری به یې ورته ویلې چې ته په فلانی دلیل کې خطاء شوی یې ، ځینی اجنبی خلکو به امام صاحب ته ویل چې تاسو دومره بی باکی سره خبری کونکي ولی نه منع کوئ ؟ نو امام صاحب به فرمایل چې ما پخپله ورته ازادي ورکړی دی او دوی می دی سره عادی او اموخته کړي دي چې د چا رعب لاندی رانشي او د هر چا حتی زما په دلائلو کې هم نکته چیني وکړي تر څو صحیح خبره بالکل واضح مخی ته راشي په هر حال ده به پدی طریقه جزئیات وړاندی کول او خوابونه به یې حاصلول که چیرته د ټولو ځواب یو وُ نو هغه مسئله به سمدستی لیکله او که نه د بحث سلسله به جاري پاتی کیدله او چې آخر کې به کومه فیصله وشوه هغه یې ولیکله ، کله کله به په یو مسئله باندی میاشتی تیریدلې او چې کله به خبره زیاته ... شوه نو آخر کې به امام صاحب د صدر مجلس په حیث باندی تقریر شروع کړ او تو... به په ډیر توجه سره د امام صاحب فرمودات اوریدل او ده به داسی محکمه فیصله کوله چې ټولو به منله او کله به داسی هم کیده چې ځینی حضرات به پخپلې

رائی باندی قائم پاتی کیدل نو پدی صورت کی به د ټولو اقوال لیکل کیدل ، تقریباً د (۲۲) کالو په موده کی امام صاحب اسلامي قانون (فقه) مدون کړ ، دا کتابونـه د کتـب ابی حنیفه په نوم سـره مشـهور شـول ، دا مجموعـه د (۸۴) زرو دفعـاتو (مـادو) بانـدی مشتمل وه چی پدی کی (۴۸) زره مسائل عبـاداتو متعلـق وو او بـاقی (۴۵) زره مسـائل د معاملاتو او عقوباتو متعلق وو (له امام اعظم ابوحنیفه ملخص ، مؤلف حضرت مفتي عزیـز الرحمن بجنوري مدظله ، او انوار الباري شرح بخاري د حضرت مولانا سید احمـد رضـا صاحب بجنوري دامت برکاتهم) .

د امام صاحب دا مدون شوی قانون هغه وخت کی ټولو علمـاؤ او د ریاسـت والیـانو تـه پکار شو په عدالتو (محاکمو) کـی سـرکاري طـور سـره داخـل کـړی شـو او د همـدی مطابق فیصلی شروع شوی ، یحیی بن آدم فرمـایي : " قضی بـــه الخلفـــاء والائمـــة والحکام واستقر علیه الامر " یعنی خلفاء او ائمه وُ به د امـام صـاحب د مـدون کـړی فقه مطابق فیصلی کولی ، نو آخر په همدی باندی عمل در آمد شروع شو (موفق ۴۱\۲) .

وقال محمد بن اسحاق الندیم فی " الفهر ست " والعلم براً وبحراً وشرقاً وغرباً بعداً وقرباً تدوینه رضی الله عنه " یعنی په بحر و بر ، مشرق او غرب ، لری او نـزدی پـه هـر خای کی علم د امام ابوحنیفه د تدوین ثمره او نتیجه ده (په حواله د فقه اهـل العـراق وحدیثهم للعلامه زاهد کوثري رحمه الله متوفي ۱۳۷۱ھ ص ۵۷) .

" وقال بعض الائمة لم یظهر لاحد من ائمة الاسلام المشهورین مثل ما ظهـــر لابی حنیفة من الاصحاب والتلامیز ولم ینتفع العلماء وجمیع الناس بمثل ما انتفعوا بـــه وبأصحابه فی تفسیر الاحادیث المشبهة والمسائل المستنبطة و النـــوازل والقضـــاء والاحکام " .

یعنی د اسلام د مشهورو امام څخه کوم یو امام ته دومره زیات ملګري او شاګردان نـدي نصیب شوي لکه څومره چی امام ابوحنیفه ته نصیب شوي ، او علماؤ او نورو خلکو تـه د مشکلو حدیثونو په تشریح او د مسائلو په استنباط او تخریج او د احکـامو پـه سلسله کـی چی څومره د امام ابوحنیفه او د ده له شاګردانو نه فایده اخستی دومره د کوم بـل چـا نه نده اخستی (الخیرات الحسان په حواله د فقه اهل العراق و حدیثهم ص ۵۷) .

د پخوا زمانې څخه تر ننه پورې د امت يوه زياته برخه د حنفي مذهب پيروان پاتې شوی دی لکه چې محدث حافظ ابن اثير جزري شافعي د جامع الأصول په مقدمه کې ليکي : " لو لم يكن لله سر خفي لما كان شطر هذه الامة من اقدم عهد الى يومنا هذا يعبدون الله سبحانه على مذهب الامام الجليل (اى ابى حنيفه) " يعنى پديکی د الله تعالىيو پټ راز دی چې دوی امت لـه نيمايي نـه زياتـه برخـه د پخوا زمانى څخه تر ننه پورى د امام اعظم پـه طريقـه د الله تعالى عبادت کـوي (يعنى د حنفي مسلک پيروان دي) (په حواله د فقه اهل العراق و حديثهم ص ۵۷) .

محدث ملا علي قاري رحمه الله فرمايي : " وبالجملة فابتاعه اكثر من اتبـاع جميـع الائمهة من علماء الامة كما ان اتباع النبى صلى الله عليه وسلم اكثر من اتبـاع سائر الانبياء وقد ورد انهم ثلثا اهل الجنة والحنيفة ايضاً تجى ثلثى المؤمنين " يعنى حاصل د کلام دا چې د امام ابوحنيفه پيروان د نورو امامانو لـه پيروانـو نـه زيـات دي لکه څنګه چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم پيروان د نورو انبياؤ لـه پيروانـو څخـه ډير زيات دي لکه چې په حديث کـې دي چـې د جنتيـانو دوه ثلثـه ۲\۳ د رسـول الله صلى الله عليه وسلم د امت دي ، همدا راز د امت محمدى صلى الله عليـه وسـلم دوه ثلثه ۲\۳ حنفي مذهب دى (مرقات المفـاتيح شـرح مشـكواة المصـابيح ۲۷\۱ ، تـذكرة الامام الاعظم ابى حنيفه ، مطبوعه ملتان ، پاكستان) .

امام ابوحنيفه او د ده پيروانو ته د مغفرت بشارت هـم ورکـړی شـوی پـه " مناقـب امـام اعظم د علامه کردری " کـې دي : " واستدخل الكعبة فقام على رجله وقرأ نصـف السبع المثانى ثم قام على رجله الاخرى وختم النصف المثانى وقال يا رب ماعرفتك حق المعرفة وما عبدتك حق العبادة فهب لى بنقصان الخدمة كمال المعرفة فنـودى من زاوية البيت فاحسنت المعرفة وخدمت فاخلصت الخدمة غفرنا لك ولمن كان على مذهبك الى قيام الساعة " .

يعنى امام ابوحنيفه کله چې حج ته تشريف يوړلو نو کعبى شريفى تـه داخـل شـو او په يوه پښه باندى ودريدو سره نيم قرآن پاک او په بله پښه ودريدو سره پاتى نيمايي قرآن پاک ختم کړ او دعا يې وکړ چې اې ربه لکه څنګه چې ستا معرفت حق دى هغسې مې

ونه پیژندلی او ښکه چې ستا د عبادت حق دی هغسې عبادت مې ونه کړ ، ماته د ناقص خدمت په طفیل خپل کامل معرفت نصیب کړی ، د کعبې شریفې له یوه کنج نه اواز راغی چې تاته ډیر ښه معرفت حاصل دی او تا خالص عبادت کړیدی مونږ تاته او ستا د مذهب پیروانو ته مغفرت وکړ (کردري ۱۱\۵۵) .

حاصل ده کلام دا چې د امت مرحومه یو لویه حصه په مذهب حنفي باندی عمل کوي او په هند و پاک کې چې کوم وخت نه اسلام راغلی دی او مسلمان غازیانو او مجاهدینو فتح کړیدی له هغه وخت نه په هند و پاک کې حنفي مذهب رواج شوی ، د امیرانو حاکمانو نه تر عامو خلکو پورې ټول مقلد او خاص طور حنفیان ؤ ، مولانا عبدالرشید نعماني د کراچي د جامع اسلامیه عربیه استاذ خپل یو مضمون کې لیکي چې خلاصه یې دا ده : " تاسو د هند ټولو فاتحانو او غازیانو تاریخ او د دوی حالاتو ته وګورئ ، د محمود غزنوي رحمه الله نه واخله ته اورنګزیب عالمګیر بلکې سید احمد شهید بریلوي رحمه الله پورې یو هم غیر حنفي فاتح او غازي نه پیدا کیږي په هغه زمانه کې عوام او خواص ټول په ټوله د عقیدې او عمل په لحاظ سره د حنفي مذهب پیروان وو لکه چې د کشمیر باره کې د محمد بن قاسم فرشته الفاظ دي : رعایای آن ملک کلهم اجمعین حنفي مذهب اند (تاریخ فرشته ص ۳۲۷ طبع نومکشور) .

(یعنې د هغه ملک ټول اوسیدونکي حنفي وو) " او لدینه وړاندی د تاریخ رشیدي په حواله نقل کوي : " مرزا حیدر درکتاب رشیدی نوشته که مردم کشمیر تمام حنفي مذهب بوده اند " (تاریخ فرشته ص ۳۳٦) .

یعنې په تاریخ رشیدي کې مرزا حیدر لیکلي دي چې د کشمیر خلک د حنفي مذهب پیروان دي ، او حضرت مجدد الف ثاني د مغل فرمان روا (حاکم) باره کې لیکي : سلطان وقت خود را حنفي می ګیرد واز اهل سنت میدانند" یعنې بادشاه د وخت ځپله اهل سنت او حنفي دی.. او شیخ عبدالحق محدث دهلوي په " تحصیل التعریف في الفقه والتصوف " کې لیکي : " واهل الروم وماوراء الهند حنفیون " یعنې رومیان او هندوستانیان ټول حنفي دي .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوی رحمه الله فرمایي : " روزی درحدیث " لو کان الدین عند الثریا لناله رجال او رجل من هؤلاء یعنی اهل فارس وفی روایة لناله رجال من هؤلاء " بلا شک مذاکره می کردم ، فقیر ګفت امام ابوحنیفه درین حکم

داخل است که خدا تعالی علم فقه رابردست وی شائع ساخت وجمع از اهل اسلام رابان فقه مهذب گردانید خصوصاً در عصر متاخر که ذی دولت همین مذهب است وبس ، و درجمیع بلدان وجمیع اقالیم بادشاهان حنفي اند وقضاه و اکثر مدرسان واکثر عوام حنفي "

یعنی یوه ورځ پدی حدیث کی مونږ گفتگو کوله چی که چیرته دین ثریا ستوری سره هم وي نو دی لره به د اهل فارس څه کسان او یا له دوی نه یو کس ضرور حاصلوي او په یو روایت کی بغیر د شک نه د هؤلاء لفظ راغلی دی ، فقیر (یعنی حضرت شاه ولی الله) وویل چی امام ابوحنیفه پدی حکم کی داخل دی چی الله تعالی علم فقه د ده په لاس باندی خو کړ او د اهل اسلام یوی ډلی ته د دی فقه په ذریعه بنایسته کړي خاص طور پدی وروستی دور کی صرف همدا مذهب د دولت خاوند دی په ټولو ښارونو او ملکونو کی بادشاهان حنفي دي ، قاضیان او زیاتره مدرسین او عوام حنفي دي (کلمات طیبات مکتوب حضرت شاه ولی لله مکتوب یازدهم طبع مطلع العلوم مراد آباد ۱۳۰۸ه) او دوی په تفهیمات الهیه کی لیکي : " وجمهور الملوك وعامة البلدان متمذهبين بمذهب ابي حنيفة " یعنی عام بادشاهان او د ملکونو ټول اوسیدونکي د امام ابوحنیفه دمذهب پیروان دي .

(تفهیمان الهیه ۱\۲۱۲ شائع کرده مجلس علمی ډابیل ۱۳۵۵ه)

یو طرف هندوستان ته د فاتحانو او غازیانو راتګ شروع شو او له دوی سره سره د هند سرزمین د سلوک او طریقت د مشائخو په راتګ سره مشرف شو په غزنوي دور کی د دی بزرګانو د راتګ دا اهتمام وُ چی یو طرف ته د حضرت جسین زنجاني رحمه الله جنازه د لاهور نه وتله او بل خوا ته حضرت هجویري صاحب د کشف المحجوب راننوته ، او د غوریانو په دور کی کله چی دهلي د دی ځای د حاکمانو دار الخلافه وګرځیده نو د دی حضراتو په راتګ کی اضافه والی راغی ، د سهر وردیه مشائخ ، د فردوسیه شیوخ ، د قادریه بزرګان او چشتیه حضرات د ټولو د راتګ سلسله شروع شوه ؛ د دی حضراتو په راتګ سره د اخلاص رڼا وځلیده او په کفرزار هند کی اسلام دومره ترقي وکړه چی د هندوستان هغه اوسیدونکي چی خپل ځانونه یې پاک او سوچه ګڼل چی د دوی په نزد باندی د نورو مذهب قبلول خو ډیره غټه خبره ده هغه سره لاس ملاوول هم نه غوښتل نو ورو ورو پخپل طبیعت یعنی رضا او رغبت سره اسلام کی داخل شول او نن چی پر

هندوستان و پاکستان و بنګله دیش کې د الله تعالی په فضل او کرم سره دمسلمانانو تعداد او شمیر تقریباً (۲۵) کروړه دی دا ټول د همدغو بزرګانو د کوششونو نتیجه او د دوی د اخلاص برکت دی ، دا مشائخ ټول په ټوله حنفي وُ او د دوی مریدان هم حنفي وو لکه چې د پورتنو کرښو نه معلوم شو .

دا وُ په هندوستان کې د اسلام او د حنفي مذهب د شمعې د بلیدو مختصر داستان او بیا پدې ملک باندې دوه وختونه داسې هم راغلل چې په هغه کې دا ویره وه چې د اسلام دغه روښانه شمع کوم چې غازیانو په خپلو وینو او عارفانو په خپلو مجاهدو سره تر اوسه بله ساتلې وه چیرته د دشمنانو په لاس مړه نشي ، یو د اکبري دور الحاد چې دوی بد اثر حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله پخپل باطني ترتیب او شیخ عبدالحق محدث دهلوي نور الله مرقده د خپل علمي جدوجهد په ذریعه باندې ختم کړ ، جزاهم الله خیرا الجزاء عنا وعن سائر المسلمین ، او دویم د انګریزانو دور او خاص طور د ۱۲۰۲ھ کال هنګامه چې په دې سره پدې ملک کې د مسلمانانو اقتدار بالکل ختم شو او هر لوري ته د مسلمانانو وینې وبهولې شوې ، قسماقسم فتنو سر اوچت کړ ، لامذهب (یعنی غیر مقلدین) نیچریت او قادیانیت پیدا شول او بدعتیانو زور پیدا کړ او دهري خوا نه په اسلام او مسلمانانو باندې مصیبتونه راغلل ، لیکن حق تعالی ته اوس پدې ملک کې د اسلام باقي پاتې کیدل منظور وُ ، د دهلي له عربک کالج څخه دوه طالبان ووتل چې د دوی علمي تربیت د وخت شیخ حاجي امداد الله فاروقي مهاجر مکي رحمه الله وکړ ، لدې دوه طالبانو څخه زما مراد حضرت محدث ګنګوهي مولانا رشید احمد او حضرت متکلم اسلام مولانا محمد قاسم نانوتوي دی ، قدرت لدې دواړو نه کار اخستل غوښتل نو د وخت په تیریدو سره دوی دواړه په زړونو کې دا غوښتنه او تقاضا پیدا شوه چې د داسې یو درسګاه بنیاد کیښودلی شي چې پدې انحطاط اوبریوتي دور کې د مسلمانانو د دیني علومو د نشر و اشاعت او د دوی د علمي او دیني تربیت مرکز وي نو هغه وچې د دیوبند پشان ګمنام کلي کې د چهته جومات د انار د ونې لاندې د دارالعلوم بنیاد کیښولی شو ، پدې درسګاه سره د حدیث ، تفسیر ، فقه او دحنفي مذهب څنګه ترقي او پرمختګ وشو هغه ټولو ته ښکاره او اظهر من الشمس دی او لدې علمي چمن نه د زرګونو په تعداد کې علماء او مشائخ پیدا شول ، دا یو داسې حقیقت دی چې انکار ترې نشي کیدلی (له الفرقان میاشتی د اکتوبر ، نومبر ۱۹۸۰ء ګنې نه په لږ تغیر سره) .

غرض دا چې د (۱۳) پيړۍ په آخر کې د هند مسلمانانو وحدت ته چې کوم لويه خطره او فتنه د غير مقلديت (لامذهبيت) د طوفان په وجه پيدا شوې وه د دې د پيشرفت مخه د هغه دور علماء حق د انتهائي کوششونو په وجه ونيوله شوه د دې فتنې (يعنې د غير مقلديت) اثر د گجرات خاورې ته هم ورسيد او د سوات ضلع يوه کلي " سامردو " کې يو غير مقلد " مولانا محمد سامردوي " په نوم پيدا شو او د غير مقلديت نشر او اشاعت يې شروع کړ او په خلکو کې د فتنې په پورته کولو سره د دوی اتحاد ته نقصان ورسولو او د حنفي علماؤ او عوامو ته پخپلو دل آزارو خبرو سره تکليف رسول شروع او رنګارنګ دعوې او چيلنجونه يې شروع کړل نو بالآخره د دوی علامه ابومحمد عبدالحق حقاني (صاحب د تفسير حقاني) سره د ډابيل (ضلع سوات ، ګجرات) په مقام باندې د ۱۳۰۳ھ دجمادی الاول په اوم تاريخ د جمعې په ورځ يوه مناظره وشوه او دويم مناظره په سوات کې د جمادی الاول په اتم تاريخ د ۱۳۰۳ھ کال له خياب مولانا علي عيد روس داستانه مبارک د جومات په چمن کې وشوه ، دا دواړه مناظرې جناب محمد ابراهيم صاحب پوليس پټيل (چې د دوی د ډابيل د مناظرې سرکاري بندوبست کړی وُ) چاپ کړې مونږ سره محفوظ دي ، مولانا محمد سواتي صاحب به د مناظرې چيلنج ورکولو او دعوه به يې کوله چې چا د خپلې مور پی څکلي وي نو ماسره دې بحث او ګفتګو وکړي ، دِ چا څه مجال دی چې زما مخې ته راشي ، او کله به په ښکاره دا دعوه کوله چې زما مقابلې ته هرګز څوک نشي راتلای ، رادشي په هر علم کې چې غواړي بحث دې وکړي ، کلي والا لدې دعوو نه پريشانه وو نو په مجبوری سره کله چې حنفيانو د دوی چيلنج قبول کړ او د مناظرې دعوت يې ورکړ نو بيا يې ليت و لعل (چون چنان) کول شروع کړل او بهانې جوړول يې غوښتل مګر دوی خپلې چالاکې کې کامياب نشول او په ډير مشکل سره مناظرې ته تيار شول ، د مناظرې د طريقې باره کې د دې چاپ شوې مناظرې په ديباچه (مقدمه) کې دي :

" د ډابيل پوليس پټيل صاحب د خپلې ډلې او سرکار (حکومت) نه ضروري بندوبست وکړ او مولوي سامرودي صاحب ته يې خبر وليږلو چې تشريف راوړي ستا دغه وينا چې څوک څه مجال لري ماسره بحث مباحثه وکړي " د دې رښتيا او دروغ به معلوم شي که رښتيا وی نو ستا طريقه به اختيار کړو او که نه نو بيا تاسو توبه وباسئ او حق دين ته رجوع وکړئ او حنفي مذهب اختيار کړئ او پوره مقلد جوړ شئ تر څو څمونږ او ستاسو جوړه وشي او فساد بند شي ، غرض دا چې تر درې ورځو پورې رانغی او ليت و لعل يې

کول ، د خوی مقدمه یی وه (دا یی هسی بهانه کوله) هغه هم بند شو او دا عذر یی هم پاتی نشو ، آخر یو خو کسان سامرود ته لاړل او په یوه طریقه سره یی قائل کړ چی حضرت مخکی مو خه ویل او اوس خه کوئ ، مونږه چیری هم ستا عذر نه قبلوو ، تاسو په دین کی فساد پیدا کړی او اوس حیلی او بهانی کوئ ایا صداقت همدیته وایي ؟ نو آخر مجبور شو او د راتلو نه بغیر بله کومه لاره ورته پاتی نشوه ، حاصل دا چی د جمعی په ورځ د ډابیل په کلي کی د جناب عالي میان جمال الدین صاحب عثماني په جومات کی بحث شروع شو د نهو بجو نه تر دولسو بجو پوری بحث وشو او هلته د لسو کلیو خلک حاضر وو او د سوات ، راندیر ، بریاو اود نوساري نه هم یو خو صاحبان راغلي وو د دی ټولو حضراتو په وړاندی چی کوم کوم سوال و ځواب د دواړو خواو نه وشو هغه ټول لیکل شوی او بیا د مولوي عبدالحق صاحب او مولوي محمد صاحب سامرودي دستخطونه او د پټیل صاحب وغیره د خو معتمدینو ګواهي وربانـدی درج شویدي تر څو کوم یو انکار ونه کړي او جناب مولوي عبدالحق صاحب به د بحث په دوران کی محتسبانه انداز کی مسکی کیدو سره فرمایل : مولانا لږ په سوچ او فکر سره ځواب راکوه چی دا ټول لیکل کیدو سره د علماؤ تر نظره تیریږي او زه خو یواځی ستاسو د فساد ختمولو لپاره راغلی یم - الی قوله - حاصل د کلام آخر کی دا شو چی مولوي سامرودي صاحب " د دلیل تعریف څه دی ؟ " د دی خبری ځواب ورنکړی شو لس پنځلس منټه فکر نه وروسته وویل : مولانا صاحب نن مو معاف کړه او لږ وخت راکړه چی کتاب وګورم بیا به درته ځواب درکړم او دغه مباحثه صبا د سوات په ښار کی مقرر کړئ ، جناب مولوي عبدالحق صاحب د ده په انتظار کی دری ورځی وخت ضائع کړی ؤ او بیا وروسته د جمعی لمانځه ته وتلو اراده یی وه مګر د دی باوجود د کریمانه اخلاقو په وجه قبول کړ او مجلس ختم شو ، او جناب مولانا مخدومي مکرمي مولوي عبدالرشید صاحب خطبه لوستلو سره د جمعی لمونځ ادا کړ او وروسته د هفتی په ورځ د ماسپښین لمانځه نه وروسته د مولانا و سیدنا علی عیدروس صاحب داستانه مبارک د جومات په صحن کی ګفتګو شروع شو پدی مجلس کی اندازتاً څلور پنځه زره خلک راټول شوي وو چی پدی جمله کی جناب عالي معظم و مکرم حضرت سید علوي صاحب دام ظلهم او جناب مولانا محمد صاحب ابن مولوي اسماعیل صاحب او جناب مولانا محمد کاظم صاحب ابن مولوي محمد اشرف صاحب ، جناب مولانا سلیمان صوفي صاحب لاجپوري وغیره اکثر اهل علم و سادات کرام او محترم ښاریانو سلمهم

الله تشريف راوړى و او د سوات فوجدار جناب غلام نبي صاحب هم د مجلس انتظام او بندوبست لپاره موجود و غرض دا چې دغه ټولو محترمو حضراتو ټول ګفتګو واوريدلو او ټول د دى شاهد دي نو بيا هم د كتاب د كتلو د دعوى او وعدى باوجود د دليل خواب او تعريف يې ونه كړى شو او هو هو او هان هان نه بغير هيڅ جوړ نشو ، هغه دعوه خوب او خيال وګرځيده او صدق و كذب ظاهر شو ، آخر كې جناب مولوي عبدالحق صاحب د ټول اهل مجلس په وړاندى وفرمايل : مولانا صاحب كه نه پوهيږي نو اقرار ولى نه كوي او هسى بى فايدى خبرى خله كوي ، خير ما معاف كړى ، اوس زه د دى اهل مجلس په وړاندى په علمي تقرير او په نقلي او عقلي دلايلو سره دمذهب واحد التزام او وجوب ثابتوم ليكن انصاف به كوئ او په غور سره واورئ د دى خبرى سره جناب مولانا عبدالحق صاحب يوى او يوى نيمى ګهنټى (ساعت) پورى علمي بحث او نقلي او عقلي دلائل يې بيان كړل او د مجلس ټلو خلكو له خوا ورته د آفرين او صد آفرين آوازونه راتلل خصوصاً زياتره د كلي خلكو دلامذهبيت نه توبه وكړه او په سر ستركو د تقليد قائل او منونكي شول او حنفي مذهب يې قبول كړ الله تعالى دى ورنه قبول كړي او نورو ته دى هم د توبى توفيق وركړي مګر مولوي سامرودي صاحب آخر انصاف ونه كړ او پوهه نشو ، بلكى په غصه كيدو سره يې نامناسبى خبرى وكړى پدى باندى مولوي عبدالحق صاحب صبر او سكوت اختيار كړو _ الخ .

پورته ذكر شوي اقتباس نه ظاهر شو چې مولوي محمد سامرودي صاحب په مناظره كې بالكل لاځوابه شو خو خپل شكست يې تسليم نه كړ ليكن د همدى مناظرى اثر وګنئ چې دى بيا وروسته د غير مقلديت نه د زړه نه توبه تائب شو او دهغه زمانى مشهور او معروف كامل ولي ، بلند پايه ، عارف بالله ، فنا في الله حضرت شيخ پير موسى تركسيرى رحمه الله خدمت ته حاضر شو او بيعت يې ورسره وكړ او د شيخ عقيدت يې په زړه كې داسى پريوت چې وروسته بيا ټول عمر د ده شو او د خپل شيخ په مدح كې يوه عربي قصيده وليكله چې دغه قصيده په " كرامات موسويه " (چې پديكى د شيخ پير موسى چې سوانح او كمالات وكرامات ذكر دي او امام اهل سنت حضرت مولانا عبدالشكور صاحب لكهنوي تاليف دى) شائع شوى ده د دغه كرامات موسويه په ديباچه كې ليكي " د قصيدى مصنف مخكى غير مقلد و او په عدم تقليد كې نهايت غالي او متعصب و صوفياء كرامو سره خو هسى هم سخت نفرت كولو لكه څنګه چې پدى فرقه كې عام دى د خپل جماعت امام او مقتداء و مرجع و مګر د حضرت ولى مرشد (پير جي موسى

جی) د فضائلو او کمالاتو شور او غلغله چی کله د ده تر غوږو شو او ازلی سعادت د ده مرسته او ملګرتیا وکړ نو په زړه کی یی دا خواهش پیدا شو چی لاړ شم په خپل سترګو وګورم چی د دی غلغلی (شور) حقیقت څه دی او کوم شی چی ده تر اوسه پوری مستبعد او مستکره ګڼلو د دی حقیقت څه دی ؟ نو هغه ؤ چی پخپله حاضر شو چی وی لیدل نو حقیقت یی د اوریدلی شوي نه هم څو چنده زیات وموند لکه څنګه چی ده پخپله قصیده کی لیکلي دي :

قد کنت من بعد سمعت صفاته فوجدتها اضعاف وصف فخام

یعنی ما د لری نه د ده صفتونه اوریدلي وو نو ما د ده صفات د اکابرو نه څو چنده زیات وموندل .

ورأیته علماً دلیلاً حجةً ولسالکی المنهاج خیر امامٍ

یعنی ما دي د الله تعالی نشاني ، راهنما او حجت او د طریقت پیروانو لپاره بهترین پیشوا اولید .

د حارق العادت شیانو مشاهده یی وکړه او لدی جملی نه دا چی حضرت ولی مرشد کشف وربانډی قبول کړ او داسی نور ، مختصر دا هغه انکار او نفرت چی د اولیاء الله سره د ده په زړه کی پټ و هغه په مینه او محبت بدل شو او بی اختیاره زړه یی دی طرف ته مایل شو د حضرت ولی مرشد په حلقه د فیض کی داخل شو او څه چی الله تعالی ته منظور ؤ هغه یی بیا موند او د دغه جوش و خروش په حالت کی دغه قصیده ولیکلو او د دی عظیم انقلاب په وجه د ده ډله له ده نه متنفره شوه الخ (کرامات موسویه ص ۵ ، ٦) .

لدینه وروسته دمولانا محمد سواتي په نسل کی یو شخص مولوي عبدالجلیل سامرودي پیدا شو د ده متعلق د مولانا سواتي د خوربی جناب محمد سواتي مقوله په کرامات موسویه کی نقل شوی : " او د ده (مولانا محمد سواتي صاحب) دوه کړوسي موجود دي چی په دوی کی یو مولوي عبدالجلیل صاحب خوان عالِم دی مګر د فنونو او علومو سره زیات تعلق نه لري صرف یو څو دینیات عربي وغیره سره الخ (ص ٦) .

دا مولوي عبدالجلیل سامرودي غالي درجه غیر مقلد ؤ او ده د خپل فتنه انګیز طبیعت په وجه د حد نه زیاته فتنه خوره کړه او د لامذهبیت (یعنی غیر مقلدیت) په اشاعت او د مذهب حنفي په بدنامولو او دفقهی کتابو څخه د خلکو بدګمانه کولو لپاره بی انتهاء

کوشتونه وکړل د ده هم په ډابيل کې د متکلم اسلام حضرت مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله سره مناظره وشوه چې د دې مناظرې کتونکي نن هم زيات کسان ژوندي دي او زه پخپله هم پدې مناظره کې شريک وم ، سامرودي صاحب لوی دعوی کولی او په ډير غرور سره په ريړه کې (ټانګه) کې چې له کتابونو ځخه يې ډک کړی وه ډابيل ته ورسيد مګر پدې مناظره کې په عام مجلس کې يو لفظ هم ونشو يلی او بالکل لاخوابه کيدو سره له هغه ځايه لاړلو ، مګر لدينه وروسته هم دخپلو نازيبا حرکتونو ځخه منع نشو او يو پمفلټ (وړوکي پارچه د کاغذ) شائع کړی شو چې ده ته منسوب و او آخر کې د ده نوم ليکل شوی ؤ ، خلکو لره په فقهي کتابونو باندې بدګمانه کولو او دغو کتابو لره د فحش لټريچر ثابتولو په غرض د غسل د روژې وغيره مسائلو متعلق د څو عربي عبارتونو مثلاً : " ولو وطى ميتة او بهيمة وهو التفخيذ او قبل او لمس ان انزل قضى والا فلا (شرح الوقايه ج ۱ ص ۳۱۲ فلم يبطل به الصوم ، او انزل بنظر او فکر وادم النظر والفكر (نور الايضاح ص ۱٦۸ باب مايفسد الصـــوم) اذا ادخل ذكره فى بهيمة او ميتة من غير انزال او مس فرج بهيمة او قبلها فـــانزل او اقطر فى احليه ماءً او دهناً وان وصل الى ا لمتانة على المذهب واما فى قبلها فمفسد اجماعاً لانه كالحقنة (درمختار مع الشامى ج ۲ ص ۱۳۷ _ ۱۳۸) وانزال المنى بوطى ميتة او بهيمة ووجود ماءٍ رقيقٍ بعد النوم اذا لم يكن ذكره منتشراً قبل النوم " (نورالايضاح ص ۲٦ فصل فيما يوجب الاغتسال) .

نهايت ګنده او بازاري الفاظو کې ترجمه شوی ؤ او پخپل ګمان سره خلکو ته دا باور ورکول چې دا کتابونه د حق مذهب نشي کيدلی چې پديکې داسې ګنده او د فحش خبرې ذکر وي . حکومت دفحش الفاظو او دګنده مضامينو شائع کولو په بناء د (۲۹۲) دفعه مطابق د چا په نوم چې دا چاپ شوی و هغه او په کوم پريس (چاپ خانه) کې چې چاپ شوی و هغه مالک ګرفتار کړل او سرکاري مقدمه وربانـدې داير کړی شو ، پدې سلسله کې د ايل ، آی ، بی شعبي سب انسپکټر جناب جي ، ايم ګرباني د احقر تعاون حاصلول غوښتل احقر په الله تعالى باندې اعتماد کولو سره قبول کړ او پمفلټ کې چې د کومو عبارتونو ترجمه پيش کړی شوی وه د هغه حقيقت مې ثابت کړ چې بيشکه دا الفاظ خمونږ د فقه په کتابو کې شته مګر د دغو چې کومه ترجمه شويده دا

صحیح بده د دغو صحیح ترجمه کیدلی شي او احقر په یو مثال سره دا واضح کړ چې که یو څوک خپلې مور ته د مور ویلو په ځای د پلار ښځه ووایي نو دحقیقت په اعتبار سره خو دا غلط ندی مګر دغه وینا بې ادبی ګڼلی کیږي او هر څوک ورته بد وایي. همدا حال د دغو عبارتونو هم دی د دغو صحیح او مهذبه ترجمه کېدلی شي مګر چونکې د پمفلټ لیکونکی مقصد د مذهب حنفي سپکاوی او خلکو لره د فقه له کتابو څخه بدګمانه کول دي نو پدی وجه هغه د دغو عبارتونو داسی ګنده او فحش الفاظو کی ترجمه کړیده. احقر د ټولو مسائلو ځواب تحریراً هم ورکړ او د مجسټریټ په وړاندې پیش کړی شو او کورټ (عدالت) کې په حاضریدو سره (چې هلته په زرګونو شمیر کې خلک راټول وو غیر مقلدین هم په زیات شمیر کی موجود وو) پدیکی بنیادي طور سره دا ثابت کړ چې فقهاؤ دا مسائل ولی بیان کړي دي او د داسی قسم الفاظو استعمالولو ته ولې مجبور شول؟ چې د دی یو څه تفصیل د فتاوی رحیمیه اردو اول جلد د ۲۴۲ ـ ۲۵۳ صفحې پورې لیکل شویدی، الحمدلله مجسټریټ ته اطمئنان حاصل شو (حال دا چې تر اوسه مې یواځې په یوی مسئلې باندې خبرې کړی وی) او د دغو عبارتونو حقیقت او ضرورت پرې واضح شو. لدینه وروسته کله چې سامرودي صاحب کوم ځواب پیدا نکړی شو نو دده وکیل مشوره ورکړه چې اوس دخلاصي یواځې یو صورت دی چې ته دا بیان ورکړی چې دا پمفلټ نه ما لیکلی دی (که یې لیکلي نه وای نو له اول نه به یې انکار کړی وای) او نه مې چاپ کړیدی او نه مې تقسیم کړی دی هغه و چې د وکیل په مشوری سره دا بیان ورکړ چې دا مې نه لیکلی او نه مې چاپ کړی او نه مې تقسیم کړی دی همداشان د پریس مالک هم بیان ورکړ چې زما په پریس کې ندی چاپ شوی د ده پدی بیان باندی دویم کورټ (عدالت) د اول کلاس مجسټریټ جناب سی، ډي ګوشاریا دا فیصله وکړه چې د دی پمفلټ لیکونکی "سامرودي" دی او دا پمفلټ د "انا ویل بندهو پرنټنګ پریس" کې چاپ شوی دی دا خبره په صحیح توګه ثابته نشوه نو سامرودي صاحب او د پریس مالک بری الذمه وګرځول شو او پریښودل شول او دغه پمفلټ د قانون خلاف کیدو په وجه ضبط کړی شو، د دی مقدمی تفصیل د پیغام کاوی ضلع بهروچ میاشتنی مجله کې ۱۹۵۸ء تاریخ فائلونو کې کتلی شئ.

سامرودي صاحب وفات شویدی او اوس دده جانشین دغه فریضه سرته رسوي هره ورځ څه ناڅه پرو پیګنده دحنفي مذهب په خلاف کوي دګجرات دبهروچ ضلع په جمبوسر

کی د ندا، حق په نوم یوه رساله جاري کوي شاید چی ددی کومه یوه کمه دداسی قسم دنازیبا حرکتونو څخه خالي وي تقریبا په هره کمه کی دتقلید مذمت او داحنافو په خلاف لعن طعن ضرور وي او کال په کال د(۲۰) رکعتونو دتراویحو متعلق یو ډیراوږد او پلن پمفلت (ددی تفصیلي جواب ورکړی شوی او چاپ شوی هم دی) شائع کوي او دحنفي مذهب نه دعوامو دبدګمانه کولو بې انتهاء کوشش کوي او دده ددغي فتنه انګیزي په وجه ځیني خلک ددوی سره هم خیاله شویدی ، لکه چی مسائل هم" غالباً" ددوی هم خیال شویدی ددی وجوهاتو په بناء دده دسوال دا اوږد جواب ولیکل شو ، الله تعالی دی ماته او زما دوستانو او خپلوانو ته او امت محمدي صلی الله علیه وسلم ته په صراط مستقیم دقائم ساتلو او دحق هدایت ورته نصیب کړي او له فتنو نه محفوظ ولري او دحسن خاتمې له دولت نه برخمن کړي ، آمین ،

بحرمة سید المرسلین صلی الله علیه وسلم اجمعین فقط والله اعلم بالصواب . ۲۸ / ذی الحجه ۱٤۰۱ هـ .

دمودودي صاحب سبائی ذهنیت

(۱۷سوال :) زمونږ دښار دیو جومات امام او خطیب صاحب دمودودي صاحب ډلې او تنظیم ته میلان او رجحان لري او ددوی تائید کوي ځیني خلک ده پسې د لمونځ کولو نه ډه ډه کوي دده امامت څنګه دی ؟ دمودودي صاحب دنظریاتو په باره کی معلومه شوی چی دوی دانبیاء کرامو علیهم السلام او دصحابه عظامو رضی الله عنهم اجمعین په شان کی ګستاخي کړی ایا داخبره صحیح ده ؟ امید دی چی تفصیلي جواب راکړئ مهرباني .

خواب: حامدا ومصلیا ومسلماً : ستاسو دجومات امام او خطیب صاحب دمودودي جماعت او تنظیم چی دانبیاء علیهم السلام اودصحابه کرامو په شان کی دصریح ګستاخي نه وروسته هم حق په جانب ګني او دغه تنظیم ته داهل حقو تنظیم وایي او ددوی تعاون کوي او داډیر دافسوس خبره ده .

دصحابه کرامو په باره کې دالله تعالی فرمان دادی : (رضی الله عنهم ورضوا عنه) یعنی الله تعالی له دوی نه راضي شوی او دوی دالله تعالی څخه راضي شوي ، (ذلك

الفوز العظیم) دالویه کامیابي ده ، او فرمایي : (اولئك هم الصادقون) یعني همدا خلك رښتوني مومنان دي . (اولئك هم الفائزون یبشرهم ربهم برحمة منه ورضوان) یعني همدا خلك پوره کامیاب دي ، ددوی رب دوی ته له خپل طرف نه دوی ته دلوی رحمت او رضا مندي خوشخبري ورکوي . (اولئك هم الراشدون) یعني داخلك په سمه لاره دي، او د(اولئك هم المومنون حقا لهم مغفرة ورزق کریم) یعني داخلك دایمان پوره حق ادا کوونکی دی دوی لپاره په (آخرت کی) لوی مغفرت او (جنت کی) ډیر معزز رزق دی ، په قران کریم کی وغیره وغیره دکامیابي سندونه دالله تعالی له طرفه صحابه کرامو ته ورکړل شویدي لدینه وروسته هم په دوی باندی دتنقید کولو حق دچانشته ؟ دالله تعالی ارشاد دی (ما اتکم الرسول فخذوه ومانهکم عنه فانتهوا) یعنی کوم څه چی تاسو ته رسول الله صلی الله علیه وسلم درکوي هغه قبول کړئ او دکوم شئ نه چی مو منع کوي له هغه نه منع شئ . (سوره حشر)

او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی : (ما امرتکم به فخذوه وما نهیتکم عنه فانتهوا) یعنی دکوم خیز چی زه درته حکم درکوم هغه باندی عمل کوئ او دکوم خیز نه چی منع وکړم نو هغه نه منع شئ (ابن ماجه ص۲)

اوس وګورئ رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته دصحابه کرامو باره کې څه هدایت فرمایلي دی . فرمایي : (الله الله فی اصحابي) یعنی زما دصحابه و په باره کې دالله نه وویریږئ ، دالله نه وویریږئ ، که چیرته څوک په حقیقي معنی سره مومن وي نو هغه لپاره همدا یوه جمله کافي ده چی هغه دصحابه کرامو په باره کې خپله خوله بنده کړی مګر ایا مودودي صاحب پدی باندې عمل کړی ؟ او ددی لحاظ یې ساتلې دی ؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم پدی باندی اکتفاء ندی کړی بلکې مزید ارشاد فرمایلي : (لا تتخذوهم من بعدی غرضاً) یعنې له مانه وروسته دوی دتنقید نښه مه جوړوئ ، ایا مودودي صاحب ددی فرمان خلاف ورزي ندی کړی ؟ وړاندی مزید رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایي : (فمن احبهم فبحبی احبهم ومن ابغضهم

فبحبي ابغضهم) یعنی چاچي ددی سره محبت وکړ نو زما دمحبت په وجه وکړ او چاچي دوی سره بغض وساتلو نو ماسره دبغض ساتلو په وجه یې ورسره بغض وساتلو، درشتونې مومن شان خو دادی چې هغه ددی دواړو خبرو ځخه دړومبني مصداق جوړشي او صحابه کرامو سره دمحبت ثبوت ورکړی مگر مودودي صاحب دصحابه کرامو په شان کې په گستاخي کولو سره ددویم مشق مصداق جوړ شوی دی، رسول اکریم صلی الله علیه وسلم مزید فرمایي: (ومن اذاهم فقد آذانی) چاچي دوی آزار کړل نو هغه زه آزار کړم، ایا دامعمولي خبره ده؟ (ومن آذانی فقد آذی الله) یعنی چاچي زه آزار کړم هغه الله تعالی آزار کړه دادهغه نه هم سخت وعید دی، مخکې واورئ (ومن آذی الله فیوشك ان یأخذه) یعنی څوک چې الله تعالی آزار کړي نو قریب دی چې الله تعالی یې ونیسې یعنې عذاب ورکړی، ایا ددی سخت وعید نه وروسته هم څوک ادنی درجه مسلمان هم دصحابه کرامو په شان کې دگستاخي جراءت کولی شي؟ هرگز یې نشي کولې، مگر مودودي صاحب نه په کولاو زړه سره جراءت کړیدی ددی یو څو نمونې وړاندی ذکر کیږي، ددی حدیث په تائید کې دالله تعالی ارشاد وګورئ: (ان الذین یؤذون الله ورسوله لعنهم الله فی الدنیا والاخرة واعدلهم عذاباً مهیناً) یعنی بیشکه کوم خلک چې الله تعالی او دده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته آزار ورکوي الله تعالی هغوی باندی دنیا او آخرت کې لعنت کوي او هغوی لپاره سپک کوونکی عذاب تیار کړیدی، او داهم فرمایي: (ان الــذین یحــادون الله ورسوله اولائك فی الاذلین) یعنې څوک چې دالله اودرسول مخالفت کوي داخلک په ډیر ذلیلو خلکو څه دي.

ددی ایتونو په مضمون باندی غور وکړئ داڅومره سخت وعید دی ایا مودودي صاحب په گڼو صحابه کرامو باندی دتنقید په کولو سره ددی وعید مستحق گرځیدلی ندی؟

په ترمذي شریف کې دحضرت عبدالله بن عمر نه روایت دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی: (اذا رأیتم الذین یسبون اصحابي فقولوا لعنة الله علی شرکم) یعنی کله چې داسې خلک ووینې چې زما صحابه کرامو ته کنځل کوي نو ورته داسې

ووايي دالله تعالی لعنت په هغه چادی چی په تاسو کی بد د ی. (ترمذي شريف باب فيمن يسب اصحاب النبي صلى الله عليه وسلم ۲/ ۲۲۵ ۲۲۷) (مشکوٰة شريف ص ٥٥٤ باب مناقب الصحابة).

ظاهره ده چی دصحابي په مقابل کی غير صحابي بد کيدی شي او د دی وعيد مستحق هماغه دی . شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله يو حديث نقل کوي " قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لاتسبوا اصحابي ومن سبهم فعليه لعنة الله "يعنی زما صحابو ته بد مه وايئ خوک چی دوی ته بدرد وايي په هغه د الله تعالی لعنت دی (غنية الطالبين ۱\٥٥ عربي).

امام مالک رحمه الله فرمايي : "من ابغض الصحابة وسبهم فليس له فی المسلمين حق" يعنی خوک چی صحابه کرامو سره بغض ساتي او دوی ته بدرد وايي هغه په مسلمانانو کی هيخ حق نلري (مظاهر حق ۴\٥٨٧) .

امام ابوزرعه رازي چی د امام مسلم لويو شيوخو څخه دی فرمايي ک " اذا رأيت الرجل ينتقص احداً من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فاعلم انه زنديق وذلك ان القرآن حق والرسول حق وما جاء به حق وما ادرى ذلك الينا كله الا الصحابة فمن جرحهم انما اراد ابطال الكتاب السنة فيكون الجرح به اليق والحكم عليه بالزندقة والضلالة اقوم واحق " يعنی کله چی ته يو خوک وګوری چی په صحابه کرامو کی د يو تن جرح او تنقيص کوي نو پوهه شوه چی دا سړی زنديق دی . ځکه چی قرآن حق دی ، او څه رسول الله صلى الله عليه وسلم راوړي دي دا ټول حق دي او دا ټول شيان مونږ ته اصحابه کرامو رسولي دي نو خوک چی صحابه کرام مجروح کوي هغه اصل کی کتاب و سنت باطلول غواړي لهذا پخپله د هغه مجروح کول زيات بهتر دي او په هغه باندی دګمراهی او د زندقيت حکم لګول زيات مناسب دي او هماغه د دی تمغی (انعام او مډال) زيات حقدار دي (فتح المغيث ص ۳۷۵ ، مظاهر حق ۴\٥٧٨) .

شیخ طریقت حضرت شبلي رحمه الله فرمايي " ما امن برسول الله صلي الله عليه وسلم من لم يوقر اصحابه " چا چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم د صحابه کرامو احترام ونه کړ هغه ګويا په رسول الله صلي الله عليه وسلم باندې ايمان ندی راوړی (مکتوبات امام رباني ۳\۴٦ مکتوب نمبر ۲۴ فارسي).

سفيان بن عينيه رحمه الله فرمايي : " من نطق في اصحاب رسول الله صلي الله عليه وسلم بكلمة فهو صاحب هوى " چا چې د صحابه کرامو باره کې يوه خبره هم وکړه نو هغه بدعتي او ګمراه دی (غنية الطالبين ۱\۵۵ عربي).

د دی دوه وعيدونو او د علماء حق د دغو هداياتو نه وروسته هم کوم سړی دا همت کولی شي چې د صحابه کرامو په شان کې زبان درازي وکړي او دوی ته بدرد ووايي ؟ چې پدی سره د خلکو په زړه کې د صحابه کرامو عظمت او محبت کم شي ؟ مګر مودودي صاحب په ډير جسارت د صحابه کرامو په شان کې زبان درازي کړی دی او د دوی عظمت او تقدس دکمولو ناکام کوشش کړی دی لکه چې دي ليکي :

(۱) چونکې د احد په ميدان کې د مسلمانانو د شکست وجه دا وه چې په دوی کې د صبر هم کمی وٌ او د دوی له افرادو ځيني داسې غلطياني هم شوی وی کوم چې د خدا ترسي نه خلاف وو (تفهيم القرآن ۱\۲۸۴).

(۲) د احد د شکست لوی سبب دا وٌ چې مسلمانان د عين کاميابي په موقع باندې د مال په طمع مغلوب شول او د خپل کار د سر ته رسولو په ځای د غنيمت په لوټلو باندې لګيا شول (تفهيم القرآن ۱\۲۸۷).

(۳) سود خوري چې په کومه معاشره کې موجود وي په هغوی کې د سود خوري په وجه دوه قسمه اخلاقي امراض پيدا کيږي ، په سود اخستونکو کې حرص و طمع ، بخل او خود غرضي او په سود ورکونکو کې نفرت ، غصه او بغض و حسد ، د احد په شکست کې د دی دواړو قسمه بيماريو نه څه نا څه شامل و (تفهيم القرآن ۱\۲۸۸).

د مودودي صاحب يو ملګری مولوي صدر الدين اصلاحي ليکي :

د کلونو تعليم او تربيت نه وروسته رسول الله صلي الله عليه وسلم دوی د جنګ ميدان ته راوستل او باوجود د دينه چې د دوی په ذهن کې عظيم انقلاب ښکاره شوی و مګر بيا هم د اسلام په لومړيو جنګونو کې صحابه کرامو د جهاد في سبيل الله د اصل

حقیقت په پیژندلو کی بیا بیا غلطیانی کولی (ترجمان القرآن ص ۲۹۲ په حواله د مودودي مذهب ص ۵۹) .

(۴) د امیر المؤمنین حضرت عثمان رضی الله عنه په باره کی لیکلي : " حضرت عثمان رضی الله عنه د پالیسي دا اړخ بلاشبه غلط ؤ او غلط کار په هر حال کی غلط دی که هغه هر چا کړی وي دی لره خامخا د سخن سازي سره د صحیح ثابتولو کوشش کول نه د عقل و انصاف تقاضا ده او نه د دین دا مطالبه ده چی دکوم صحابي غلطي دی غلطي ونه ګڼل شي " (خلافت و ملوکیت ص ۱۰۷ دریم ځل) .

ایا دا د نبوي ارشاد : " الله الله فی اصحابی .... الخ " نه بغاوت ندی ؟

(۵) دحضرت معاویه رضی الله عنه متعلق لیکي : " او یو بل نهایت مکروه بدعت د حضرت معاویه رضی الله عنه په دور کي دا شروع شو چي دا پخپله دی او د ده په حکم سره ټولو والیانو په خطبو کی د منبر په سر باندی حضرت علي رضی الله عنه ته بدرد او کنځلی کولی تر دی چی په نبوي جماعت کي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په منبر باندی عین د روضه نبوي په وړاندی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم محبوب ترین عزیز او رشته دار ته کنځلی کیدلی او د حضرت علي رضی الله عنه اولاد او نورو قریب ترین رشته دارو پخپلو غوږو اوریدلی یو چا ته له مرګ نه وروسته کنځلی کول شریعت خو پریده د انساني اخلاقو څخه هم خلاف دی او خاص کر د جمعی خطبی پداسی ګندګي سره ګنده کول د دین او اخلاقو په لحاظ سره ډیر غلط کار ؤ .

(خلافت و ملوکیت ص ۱٦۲ دریم ځل)

دا په حضرت معاویه رضی الله عنه باندی سراسر بهتان دی ، مودودي صاحب پدی موقع باندی د پنځو حوالو په ورکولو سره دا ثابتول غوښتي چي پورتنی خبره بالکل صحیح ده ، او حال دا چي دا حوالی قطعاً غلط دي دا خو یوه بددیانتي او سخت بهتان دی (تفصیل لپاره دی د الفرقان میاشتنی مجله د ۱۹۷۹ء کال د جون د میاشتی ګڼه چي د ۱۳۹۹ھ د رجب له میاشتی سره سمون خوري ۴۷ جلد (٦) ګڼه وګوریٔ) .

لدینه علاوه نور هم ډیر بی بنیادی خبری حضرت معاویه رضی الله عنه ته منسوب کولو سره د ده سخت بی حرمتي کړی دی او حال دا چي حضرت معاویه رضی الله عنه یو جلیل القدر صحابي او کاتب د وحي دی رسول ارکرم صلی الله علیه وسلم ورته خصوصي دعا کړی وه چي : " اللهم اجعله هادیاً مهدیاً واهد بــه " یعنی ای الله !

معاویه رضی الله عنه هادی (هدایت کونکی) او هدایت یافته جسوړ کړی او د ده په ذریعه خلکو ته هدایت نصیب کړی (تــرمذي شــریف ۲۲۵\۲ منــاقب معــاویه بــن ابی سفیان)

دی د ام المؤمنین حضرت ام حبیبه رضی الله عنها ورور دی پـدی اعتبـار سـره دی د ټولو مسلمانانو ماما دی ، حضـرت مولانـا ادریـس کانـدهلوي رحمـه الله لیکـي : " ام المؤمنین ام حبیبه بنت ابی سفیان د حضرت معاویه رضی الله عنه خور وه او دمـور ورور ماما دی پدی وجه حضرت معاویه رضی الله عنه خال المؤمنین شو او لکه څنګـه چـې د اهل بیت (ذوی القربی) سره محبت کول مومن باندی فرض او لازم دي همداشـان د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د خسر او نسبتي ورور اود خسر ګنی له رشـته دارو سـره هم محبت فرض او لازم دی (سیرت المصطفی ۵۳\۳) .

کتونکي دی غور وکړي چې څه مودودي صاحب دحضرت معاویه رضی الله عنه په شان کی لیکلي دي د دی په ذریعه دوی د محبت ثبوت ورکړی یا د بغض ؟

علامه شهاب الدین خفاجی رحمه الله لیکي : " ومن یکون یطعن فی معاویه فــذالك کلب من کلاب الهاویه " یعنی څوک چې حضرت معاویه رضی الله عنـه بانـدی طعـن کوي نو هغه د هاویه (جهنم) له سپو نه یو سپی دی (شمیم الریاض) .

مودودي صاحب پدی هم بس والی ندی کړی لدینه یو قدم وړاند کیـدو سـره د انبیـاؤ کرامو (کوم چې د اهل سنت والجماعت په نزد معصوم دي) باندی هـم حملـی کـړی او د دوی په شان کی هم نازیبا الفاظ لیکلي دي ، وګورئ دی وایي :

(۱) د حضرت داؤد علیه السلام په فعل کی د نفسي خواهش څه ناخه دخـل ؤ او د دی د حاکمانه اقتدار له مناسب استعمال سره هم څه تعلق ؤ او دا څه داسی فعل وچې پـه حق سره حکومت کونکی حاکم سره ښه نه ښکاري (تفهیم القرآن ۳۲۷\۴) .

(۲) او ډیر خلی تر پیغمبرانو پوری د دی شریر نفس خطری وړاندی شـویدي لکـه چـې دحضرت داؤد علیه السلام غوندی جلیل القدر پیغمبر ته پـه یـوه موقـع بانـدی تنبیـه او خبرداری کړی شویدی چې " لاتتبع الهوی فیضلك عن ســبیل الله " (ســورت ص) یعنی د نفسي خواهشاتو پیروي ونه کړی که نه دا به دی د الله تعالی له لاری نـه خطـاء کړي (تفهیمات ص ۱۶۱ طبع پنځم) .

(۳) د حضرت نوح عليه السلام په باره كې ليكي : " اصل خبره دا ده چې انبياء كرام هم انسانان دي او هيڅ يو انسان پدې قدرت نشي لرلى چې هر وخت هغه بلند ترين معيار د كمال باندى قائم پاتى شي كوم چې مؤمن لپاره مقرر شوي دي ، ډير خلى د كوم نازك نفسياتي موقع باندى د نبي پشان اعلى او اشرف انسان هم لږ وخت لپاره د خپلو بشري كمزوريو ښخه مغلوبيږي ـ الى قوله ـ ليكن كله چې الله تعالى ورته تنبيه كوي چې كوم څوى د حق په پريښودو سره د باطل ملګرى شوى دى هغه يواځې پدى وجه خپل ګڼل چې هغه ستا د ملا نه پيدا شوى دى دا صرف او صرف د جاهليت جذبه ده ، نو هغه فوراً د خپل زړه له زخم نه بى پروا كيدو سره هغه فكر طرف ته متوجه او واپس كيږي چې د اسلام مقتضا دى ، (تفهيم القرآن ص ۳۴۳ ، ۳۴۴ جلد ۲ سورت هود) .

(۴) د سيدنا يوسف عليه السلام د دى ارشاد : " اجعلني على خزائن الارض " يعنى ما د مصر دخزانو نګران مقرر كړه ، متعلق مودودي صاحب ليكلي دي : " دا يواځې د وزير ماليات د منصب مطالبه نه وه لكه چې د ځينو خلكو خيال دى بلكى دا د ډكټيټر شپ (Dictator ship) مطالبه وه او د دى په نتيجه كې د سيدنا يوسف عليه السلام ته هغه پوزيشن حاصل شو چې دا قريب قريب هغه پوزيشن ؤ كوم چې پدى وخت د اټلي مسولينى ته حاصل دى .

(تفهيمات حصه دوم ص ۱۲۸ طبع سوم ، ص ۱۲۲ طبع پنځم) .

(۵) د حضرت يونس عليه السلام متعلق ليكي : " د قرآن كريم په اشاراتو اوديونس عليه السلام د صحيفو په تفصيلاتو كې له غور كولو نه دومره خبره واضحه كيږي چې حضرت يونس عليه السلام نه د رسالت د فرائضو په ادا كولو كې يوڅه كوتاهي او كمى شوى ؤ ، او غالباً دوى بى صبره كيدو سره قبل از وخت خپل ځاى هم پريښى ؤ

(تفهيم القرآن ص ۳۱۲ طبع سوم)

د مودودي صاحب دا عبارت د دريم چاپ دى چې دا مفتي محمد شفيع صاحب خپل تفسير په معارف القران ۴\۵۷۰ كې نقل كړيدى ، په وروستى چاپو كې پدى شكل پاتى ندى مګر د دى كوم اعلان ندى شوى چې خلكو ته صحيح صورت حال معلوم شوى واى ، ښه به ښه وايي چې مودودي صاحب د خپلى غلطى باندى په اعتراف كولو سره توبه ويستلى او د دى اعلان كړى واى چې ما دا خبره غلطه ليكلى ده ، ليكن مودودي صاحب داسى ندي كړي ، خو دا خو شوي دي چې كله دوى ته د خپلى غلطى

احساس وشو نو په وروستی چاپ کی دغه عبارت ورنه لری کړی شو لیکن د رجوع اعلان یی ونه کړ ، که اعلان شوی وای نو د کومو خلکو سره چی پخوانی چاپ دی هغو به دخپل کتاب اصلاح کړی وای او گمراه شوي نه وای .

(٦) د سیدنا حضرت آدم علیه السلام په باره کی لیکلي دي : " دلته د هغه بشري کمزوري د حقیقت پیژندل پکار دي کوم چی د آدم علیه السلام نه ظاهر شوي و ، بس یو فوري جذبی کوم چی د شیطاني هڅونی په اثر راپورته شوی وه په ده باندی ذهول او غفلت طاري کړ او ضبط نفس یی سست کیدو سره د طاعت اوچت مقام نه دمعصیت کندی ته راپریوت (تفهیم القرآن ١٣٣\٣) .

د سرور دوعالَم فخر موجودات صلی الله علیه وسلم په باره کی لیکلي دي :

(الف) رسول الله صلی الله علیه وسلم نه بشر نه پورته دی او نه د بشري کمزوری نه بالاتر دی ، کوم جاهل ویلي ذي چی دی (صلی الله علیه وسلم) فوق البشر دی ...... الخ (ترجمان القرآن جلد نمبر ۸۵ اپریل ١٩٧٦ء د " اسلام کس چیز کا علمبردار هے " عنوان لاندی په حواله د مودودي صاحب اکابر امت کی نظر مین ص ٢٩) .

حکیم الامت حضرت تهانوي رحمه الله فرمایي : " رسول الله صلی الله علیه وسلم بشر خو دی مگر د نورو انسانانو پشان ندی بلکی په انسانانو کی داسی دی لکه په کانړو کی چی یاقوت دی " یعنی په عام انسانانو او رسول الله صلی الله علیه وسلم کی د ځمکی او آسمان فرق دی ، دی د ټولو نه اعلي او ارفع دی ، ده صلی الله علیه وسلم طرف ته بشري کمزوري منسوبول سخته بی ادبي او گستاخي او دعقیدی فساد والي ته اشاره ده .

(ب) او یوځای مودودي صاحب لیکي : " رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خپل زمانه کی دا ویره وه چی شاید دجال زما په دور کی ظاهر شي یا مانه وروسته په نزدی زمانه کی لیکن دیارلس نیم سوه کالو تاریخ دا ثابته نه کړه چی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا ویره صحیح نه وه ؟ (ترجمان القرآن فروري ١٩٤٦ء په حواله د مودودي صاحب مذهب ص ٤١) .

پدی عبارت کی هم تر میمونه کړی دي کوم چی مودودي مذهب کی درج دی مگر د دی نه وروسته هم توهین، پخپل حال باقی دی لکه چی د مودودي مذهب مصنف لیکلي دي ، تفصیل لپاره دی " مودودي مذهب مطالعه " مطالعه کړی شي .

د مودودي صاحب يوه عجيبه او غير اسلامي دعوی وکوری . ده دعوه کړیده چی د قرآن کریم څلور بنیادي اصطلاحات . اله ، رب ، دین او د عبادت اصلی معنی او مفهوم اود دی صحیح مراد تر یوی محدودی مودی نه وروسته تقریبا دیارلس سوه کالو پوری علماء کرام ، مجتهدین ، محدثین ، مفسرین ، مجددین ، فقهاء اود طریقت په مشائخو باندی مخفی او پټ پاتی ؤ او پدی کی اله ، رب ، دین او عبادت هر یو خپل وسعت او عمومیت نه اوړیدو سره نهایت محدود بلکی مبهم مفهوماتو او معنو لپاره خاص شوی وو او پدی بنیادي اصطلاحاتو باندی پرده پریوتو په وجه د قرآن د څلورو نه دری برخو نه زیات تعلیم بلکی د دی اصلي او حقیقتي روح له نظرونو څخه پټ شوي ،او اوس له اوږدی مودی نه وروسته د دی اصطلاحاتو اصلي مفهوم او د دی حقیقي روح براه راست د مودودي صاحب په زړه او دماغ باندی نازل شوی دی گویا چی په ده باندی وحی راغی (معاذ الله) .

بدین عقل و دانش بباید گریست

او چا څه ښه ویلي دي :

بدگوه را علم و فن آموختن
دادن تیغ است بدست راهزن

د ده لدی دعوی نه دا نتیجه راوځي چی دیارلس سوه کالو پوری ټول امت غلط شي باندی عمل کونکی او گمراه پاتی شوی او د قرآن له څلورو نه دریو برخو د تعلیم له حقیقي روح نه ناواقف پاتی شوي او هیچا دا روح ندی پیژندلی که هغه امام ابوحنیفه وي که امام شافعي ، امام مالک وي او یا امام احمد ، امام بخاري او امام مسلم وي او یا امام تر مذی او یا امام ابوداود وي او یا امام نسائي یا ابن ماجه یا شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله وي یا خواجه معین الدین چشتي ، یا شیخ احمد سرهندي ، یا مجدد الف ثاني ، یا شیخ عبدالحق محدث دهلوی او یا شاه ولی الله محدث دهلوي او یا شاه عبدالعزیز محدث دهلوي رحمهم الله او وغیره وغیره او اوس له پیړیو نه وروسته هغه حقیقت مودودي صاحب باندی منکشف او واضح شوی دی ، وګورئ دی فرمایي :

" په عربو کی چی کله قرآن پیش کړی شوی و هغه وخت کی هر سړی پوهیدو چی د اله معنی څه ده او رب څانه وایي ځکه چی دا دواړه لفظونه د هغو به خبرو کی له مخکی نه استعمالیدل دوی ته پته وه چی د دغو الفاظو اطلاق کوم مفهوم باندی کیږي

او همدا شان د عبارت اودین الفاظ هم د دوی په ژبه کی لـه مخکـی نـه رواج وو دوی پوهیدل چی عبد چاته وایي او عبودیت د کوم حالت نوم دی د عبـارت نـه کـوم رویـه مراد ده او د دین څه مفهوم دی ؟ ...... لیکن پـه وروسـتو پیړیـو کـی رو رو د دی ټولـو الفاظو هغه اصلي معنی کوم چی د نزول قرآن په وخت کی پیژندلی کیدو په بدلیدو شو تر دی چی هر یو د خپل مکمل عموم نه اوړیدو سره نهایت محدود بلکی مـبهم مفهـوم لپاره خاص شول ...... نتیجه دا شوه چی د قرآن اصـلی مـدعی پیژنـدل هـم خلکـو لپاره مشکل شو ...... نو حقیقت دا دی چی یواځی د دی څلورو بنیادي اصـطلاحاتو په مفهوم باندی پرده پریوتو سـره د قـرآن د دریـو حصـو نـه زیـات تعلـیم بلکـی د دی حقیقي روح له نظرونو څخه مخفي پاتی شو او د اسلام قبلولو باوجود د خلکـو عقائـد او عملونو کی چی کوم نقصانات پر سترګو کیږي د دی یو لوی سبب همدا دی .

(قرآن کی چار بنیادی اصطلاحتین ص ۸ _ ۱۰)

د ده غیر اسلامیٔ دعوی باندی پـه رد کولـو سـره حضـرت مولانـا حسـین علـی نـدوي صاحب رحمه الله فرمایي : " د دی الفاظو معنی او مفهوم متعین دی ، رسـول الله صـلی الله علیه وسلم پخپله ژبه مبارکه د دی تشریح او خپل عمل سره د دغـو تعین کړیـدی ، دا معنی او مفهوم په امت کی عملي او لفظي طور په تواتر او تسلسل سـره راروان دی او ټول امت یی پیژني او مني (عصر حاضر مین دین کی تفهیم و تشریح ص ۲۳) .

او دا هم فرمایي " په سوره حجر کی ویل شـویدي : ((انا نحن نزلنا الذکر وانا لـه لحافظون)) یعنی دا نصیحت (قرآن) مونږ رالیـږلی او مونـږ بـه ددی حفاظـت کـوو ، دفضل او احسان یادولو په موقع باندی عمل او په ژونـد کـی د دی تطبیـق هـم شـامل دی . د داسی کتاب به څه قدر و قیمت وي او د دی د حفاظت به څه فایـده او نتیجـه وي چی تر اوږدی مودی پوری معطل پـاتی وي نـه وربانـدی څـوک پوهـه شـي او نـه وربانـدی عمل وشي ؟ او همدا راز الله تعالی رسول الله علیـه وسـلم تـه پـه خطـاب کـی فرمایلي دي " ان علینا جمعه وقرآنه فاذا قرأناه فاتبع قرآنه ثم ان علینا بیانه " یعنی ستا په سینه کی د دی جمع کول او لولول څمونږ په ذمه دي نو چـی کلـه مونـږ درتـه وحی لولو ته یی آوره او بیا یی همدغسی لوله او بیا د دی د معنو بیانول هم څمونـږ پـه

ذمه دي . د " ان علینا بیانه " په تفسیر کی حکیم الاسلام حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي خپل معرکة الآراء کتاب " ازالة الخفاء " کی لیکي :

" الله تعالی فرمايي : د قرآن مجید وضاحت ځمونږ په ذمه دی مونږ پـه هـره زمانـه کـی یوی لوی ډلی ته د قرآن مجید د وضاحت طلب الفاظو د تشریح او د اسباب نـزول د بیان توفیق ورکوو تر څو د دی صحیح مصداق خلکو تـه وړانـدی شـي ، د دی نمبـر د حفظ قرآن او تبلیغ قرآن نه وروسته دی ، پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم د قـرآن مجید تشریح اوتفسیر کونکی وُ د قرآن کریم په مصافحو کی محفوظ او مدون کیـدو او د دی تلاوت رواج عام کیـدو نـه وروسـته د تفسیر نوبـت راغـی او پـه عملـي طـور سـره همدغسی وشو نو هغه وُ چی د حـضرت ابـــن عـــباس رضـــی الله عنـه نـه دا سلسـله شروع شوه .

د " ان علینا بیانه " واضح او محکم الهي وعدی نه وروسته دا ګڼل چی د قـرآن مجیـد داسی کلیدی او بنیادي الفاظ چی د دغو نه بغیر د دی مطالـب د معـانی او احکـام د مطالباتو پوری رسیدل ممکن نه وي تر پیړیو پوری مغلق او بند پاتی شي ، د دی آیت د مفهوم او مقتضی نه خلاف دی (عصر حاضر مین دین کی تفهیم و تشریح ص ۲۷ _ ۲۹).

داسی فاسد العقیده امیر او د ده معتقدین او پیروان اهـل حـق ګڼـل او د دوی د پـوره تعاون کونکي د امامت خه حکم کیدل پکار دي دا ښکاره ده " عیان راچه بیان " فقط .

د ګنبد خضرا د توهین متعلق د رضا خانیانو غلطه پروپیګنډه :

(۱۸ سوال) محترم او مکرم حضرت مولانـا مفتـي سـید عبـدالرحیم لاجپـوري صـاحب

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

امید دی چی مزاج ګرامي مو په خیر وي ، عرض دا دی چی نن صبا د رضاخاني علماوُ شور ګډ کړیدی چی سعودي حکومت ګنبدخضرا نړول غواړي او دیوبندي حضرات هم ورسره شریک دي ایا دا خبره صحیح ده ؟ د سعودي حکومت دا پروګرام شته او که نه ؟ بریلوي علماء دیوبندي علماء بدناموي او دا خبری کوي چـی د دوی د علمـاوُ پـه زړه کی د روضه اطهر او د ګنبدخضرا خه غظمت نشته ، ګستاخ رسـول دي او پـدی سلسـله کی یوه جلسه هم کوي ښه چنده ورته راټولوي ، جناب عالي زر تر زره خواب راکړئ او

واضح کړئ چې حقیقت څه دی ؟ او د روضه اطهر او ګنبد خضرا متعلق چې څمونږ اکابرو ته کومې خبرې منسوبولې شي دا صحیح دي یا نه ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

خواب : حامداً و مصلیاً ومسلماً ! دشین ګنبد متعلق د سعودي حکومت او د دیو بند جماعت بلاوجه بدنامول غواړي اودخپلې خیټې ډکولو لپاره شور جوړوي چې د ګنبدخضرا نړول غواړي دا قطعاً غلط او بنکاره بهتان دی ، سبحانک هذا بهتان عظیم .

د مسجد نبوي د توسیع پروګرام خو شته مګر پدی نوي سکیم (پروګرام) کې د ګنبد خضرا د نړولو څه پروګرام قطعاً نشته ، د سعودي حکومت د مذهبي مقاماتو د انتظامي امورو سربراه جناب سلیمان عبید چې د مسجد نبوي د توسیع متعلق کوم بیان ورکړی دی په هغه کې ده په واضح طور باندی دا هم ویلي دي چې د نوي پروجیکټ (پروګرام) د تکمیل په دوران کې ګنبد خضرا ته به لاس نشي وړلی کیدی . د بمبئ د انقلاب ورځپاڼې د اتوار(یکشنبه) ورځې په ګڼه جناب هارون رشید علیګ د اسلامي دنیا تر عنوان لاندی په واضح عنوان سره دا بیان شائع کړی ، وګورئ .

د نبوي جماعت توسیع :

یو لاکهه (۶۵) زره لمونځ کذارو لپاره ځای :

په تیرو ورځو کې سلیمان عبید څوک چې د سعودی عرب د مذهبي مقاماتو د انتظامي کارونو مشر دی دا اعلان وکړ چې نبوي جومات به نور وسیع کولی شي ترڅو پدی کې به یو وخت یو لاکهه (۶۵) زره د توحید فرزندان لمونځ ادا کړی شي .

یاده دی وي چې پدی وخت کې دا د دنیا مقدس ترین جومات (۱۶۵۰۰) مربع میترو کې ارت پروت دی چې پدی کې (۲۸) زره مسلمانان د پروردګار په حضور کې سرونه په ځمکه لګوي اوس د نوي پروجیکټ مطابق یو لاکهه مربع میتر کې ارت کولی شي پدی ضمن کې دا خبره د لحاظ قابله او اهمه ده چې د دی پروجیکټ (پروسی) د تکمیل په دوران کې به ګنبدخضرا ته لاس نشي لګولی ، که ضرورت محسوس شو نو د لمونځ کذارو د اسانتیا لپاره جومات باندی یو منزل بل هم جوړلی شي ، او علاوه لدینه د جومات صحن به هم فراخولی شي ، فرش به د سنګ مرمرو جوړولی شي او د حاجیانو او زیارت کونکو لپاره به د آرام ځایونه هم جوړولی شي .

(روزنامه انقلاب بمبئ ۲۵ نومبر ۱۹۸۴ء مطابق ۱ ربیع الاول ۱۴۰۵ھ یکشنبه جلد نمبر ۴۷ ګڼه ۳۲۵)

د دیو بند د اکابرو علماؤ عقائد

د روضه اطهر ، گنبدخضرا او د مدینی منوری چی کوم عظمت او احترام زمونږ په زړو کی دی هغه ځمونږ دعلماؤ له کتابونو او د دوی له اعمالو ښخه ظاهر او باهر دی د دی زرمه حصه هم دغو بدعتیانو سره نشته ، لکه چی د حرمین شریفینو علماؤ کوم (۲٦) سوالونه د دیوبند له علماؤ ښخه کړي وو او د دیځوابونه محدث جلیل حضرت مولانا خلیل احمد سهارنپوري مهاجر مدني لیکلي وو او پدی ځوابونو باندی د دیوبند د اکابرو علماؤ تصدیقونه دي چی دغه سوالونه او ځوابونه سره د تصدیقونو د " التصدیقات لدفع التلبیسات " په نوم چی د " مهند علی المفند " په نوم معروف دي شائع شویدي پدی کی د اول او دویم سوال په ځواب کی حضرت خلیل احمد صاحب داسی لیکلي :

" وهو مع الزیادة موجود فی البقعة الشریفة فان البقعة الشریفة والرحبة المنیفة التی ضم اعضائه صلی الله علیه وسلم افضل مطلقاً حتی من الکعبة ومن العرش والکرسی کما صرح فقهائنا رضی الله عنهم " یعنی دا فضیلت په زیادت سره بقعه شریفه کی موجود دی پدی وجه د ځمکی هغه حصه چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکو اندامونو سره لگیدلی ده مطلقاً افضل او بهتر دی تر دی چی د کعبی شریفی ، عرش او کرسی نه هم افضل دی لکه چی ځمونږ فقهاؤ پدی تصریح کړی ده (التصدیقات لدفع التلبیسات ص ٦) .

رأس المحدثین حضرت مولانا رشید احمد گنگوهي رحمه الله په زبدة المناسک کی لیکي : " کله چی د مدینی منوری اراده وي نو ښه دا ده چی د روضه اطهر صلی الله علیه وسلم د زیارت په نیت لاړ شي تر څو په هغه حدیث کی داخل شي چی په هغه کی ویلی شویدي : څوک چی یواځی زما زیارت لپاره راشي د هغه سرې شفاعت په ما باندی حق دی " .

مدینی منوری ته د روانیدو آداب :

کوم وخت کی چی مدینی منوری ته روان شئ نو په لاره کی دی په کثرت سره درود شریف ویل جاري وساتي کله چی هغه ځای ته ورسیږي چی دمدینی منوری ونی راښکاره شي نو درود شریف دی لا زیات کړي او چی عمارت راښکاره شي نو د درود

شریف په ویلو سره دی ووایي : " اللهم هذا حرم نبیك فاجعله وقایةً لی مـن النـار واماناً من العذاب وسوء الحساب " یعنی یاالله دا ستا د نبی صلی الله علیه وسلم حرم دی،هذا دا ما لپاره د جهنم نه پناګاه او له عذاب او بدحساب نه امن وامان جوړ کړی .

مدینی منوری ته د داخلیدو آداب :

مستحب دا دي چی غسل وکړي او که کم نه کم اودس او پاکی کپړی (خپـل حیثیـت مطابق) واغوندي که نوي وي خو ډیره ښه ده او بیا دی خوشبويي ولګوي او پـه خپلـو پښو روان شي او خوسره چی خشوع او خضوع او عاجزي کولی شي وکـړي هـیڅ کمـی دی پکی نه کوي ، او په ډیر عظمت او احترام سره درود شریف په لوستلو روان شـي او پدی حالت کی مدینه منوری ته ننوځي او داسـی ووایـي : " رب ادخلـنی مـدخل صدق واخرجنی مخرج صدق واجعل لی من لدنك سلطاناً نصیراً ، اللهم افـتح لی ابواب رحمتك وارزقنی من زیارة رسولك صلی الله علیه وسلم مارزقت اولیـاءك واهل طاعتك واغفرلی وارحمنی یاخیر مسئول "

یعنی : یا الله ما په ښه طریقه داخل کړی او په ښه طریقـه ترینـه خـارج کـړی او ماتـه د خپل طرف نه غلبه راکړی چـی مـدد ورسـره وي یـاالله ماتـه د خپـل رحمـت دروازی پرانزی او دخپل رسول صلی الله علیه وسلم زیارت نصیب کړی داسـی زیـارت چـی تـا خپلو دوستانو او تابعدارو ته نصیب کړی او زما ګناهونـه معـاف کـړی او رحـم رابانـدی وکړی ، ای بهترین درخواست اوریدونکیه .

د مدینی حرمت :

مدینی منوری ته له ننوتو نه وروسته پوره ادب او د زړه په حضور سره دعا ، درود شـریف لوستل جاري وساتی ، د مدینی منوری په ډیرو ځایو باندی د رسول الله صلی الله علیـه وسلم مبارک قدمونه لګیدلی دي او په همدی وجه امام مالـک رحمـه الله بـه پـه مدینـه منوره کی سورلی باندی نه سوریدلو او فرمایلو به یی چی ماته شرم راځي چی د آسـونو په قدمونو باندی هغه ځمکه پایمال کړم په کومه چی رسول الله صـلی الله علیـه وسـلم ګرځیدلی راګرځیدلی دی .

نبوي جومات ته ننوتل :

كله چې نبوي جومات ته ننوځي نو اول دی شي بنه دننه کړي او هغه د ننوتو دعا دی ووايي اودرود شريف به هم ووايي او د باب جبريل نه داخليدل بهتر دي . او بيا دی په رياض الجنت کې کوم چې د قبر شريف او د منبر په منځ کې دی او ديته دجنت حصه ويل شويدی د تحية المسجد لمونځ ادا کړي پدی شکل سره چې منبر يې ښي اړخ ته راشي او هغه ستن (چې لاندی ترينه صندوق دی) مخامخ پاتی شي ځکه چې همدا د نبی کريم صلی الله عليه وسلم د ودريدو طريقه ده او د تحية المسجد نه وروسته به سجده د شکر وکړي پدی چې حق ورته دا نعمت نصيب کړ او کومې دعاګانی چې کول غواړي نبه په اخلاص زړه سره دی وکړي .

په روضه اطهر باندی حاضري :

او بيا دی روضه اطهر ته حاضر شي او د سر طرف ديوال په کنج کی چې کومه ستنه ده د هغی نه دری څلور لاسه په فاصله کی ودريږي او قبلی ته په شاه کولو سره لږ چپ خوا ته مايل شي تر څو دهغه مبارک څهرې ته بالکل روبرو وي او په پوره ادب او عاجزی سره به ودريږي ډير نزدی به هم نه وي او نه به ديوال ته لاس وروړي چې دا د ادب او د هيبت مقام دی او بيا دی رحمتِ عالَم صلی الله عليه وسلم خپل لحد کی مخ په قبلی پروت تصور کولو سره داسی ووايي :

" السلام عليك يارسول الله سلام عليك ياخير خلق الله السلام عليك ياخيرة الله من خلق الله السلام عليك ياحبيب الله السلام عليك ياسيد ولد آدم ، السلام عليك ايها النبی ورحمة الله وبركاته ، يارسول الله انی اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشريك له واشهد انك عبده ورسوله اشهد انك بلغت الرسالة واديت الامانة ونصحت الامة وكشفت الغمة فجزاك الله عنا افضل ماجازی نبياً عن امته الهم اعط لسيدنا عبدك ورسولك محمد الوسلية والفضيلة والدرجة الرفيعة وابعثه المقام المحمود الذی وعدته انك لاتخلف الميعاد وانزله المنزل المقرب عندك انك سبحنك ذو الفضل العظيم .

ترجمه : ای د الله رسوله ! په تاسو دی سلامتي وي ، ای د الله تعالی د مخلوق بهترین فرده په تاسو دی سلامتي وي ، ای د الله تعالی په مخلوق کی په ټولو کـی غـوره کـړی شویه په تاسو دی سلامتي وي ، ای د الله محبوبه په تاسـو دی سـلامتي وي ، ای د آدم د اولاد سرداره په تاسو دی سلامتي وي ، ای نبی صـلی الله علیـه وسـلم پـه تاسـو دی سلامتي وي او د الله تعالی رحمتونه او برکتونه وي ، ای د الله رسـوله زه ګـواهي کـوم چی د الله واحده لاشریک سره بل هیڅ معبود برحق نشته او نه یی څوک شریک شته او ګواهي کوم چی ته د ده بنده او رسـول یی ، ګـواهي ورکـوم چـی تاسـو د الله تعـالی پیغام ورسولو او امانت مو ادا کړو او د امت خیر خواهي مـو وکـړه او مصـائب مـو لـری کړل ، نو الله تعالی دی تاسو ته د هغه نه زیاته بدله درکړي چی یو نبي ته دخپـل امـت نه ورکول کیږي ، یاالله تعالی خپل بنده او رسول صلی الله علیه وسلم او زمونـږه سـردار محمد صلی الله علیه وسلم ته وسیله ، فضیلت او اوچته درجه ورکړی او مقام محمود تـه پورته کړی دکومی چی تا وعده فرمایلی ده بیشکه تـه دخپلـی وعـدی نـه مخالفـت نـه کوی ، او ده ته خپل خوا کی نزدی مقام او منزل ورکړی ، بیشکه ته پاک او لـوی فضـل والا یی .

د الله رسول صلی الله علیه وسلم وسیله کول :

او بیا دی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په وسیله دعا وکـړي او خپـل شـفاعت دی وغواړي او داسی ووایي ، ای د ا لله رسوله ! زه له تاسو نه دسفارش درخواست کـوم او تا الله تعالی ته وسیله کوم دی لپاره چی زه ستا په ملت او سنت بانـدی د مسـلمانی پـه حالت کی مړ شم .

او پدی الفاظو کی چی څومره غواړي اضافه کولی شـي مګـر چـی هغـه ټـول الفـاظ د ادب او د عاجزی وي ، لیکن سلف فرمایي : پدی موقع چی څومره کم الفـاظ وي بهتـر او غوره دي او آواز به ډیر نه اوچتوي بلکی ورورو پـه ادب او عـاجزی سـره دی کـوي (زبدة المناسک ص ۱۱۳ _ ۱۱۷) .

د حضرت ګنګوهي رحمه الله دا پورتنی مضمون او د روضه اقدس صلی الله علیه وسلم د هر یو لفظ نه نبوي عشق راڅرګندیږي او د مدینی منوری احتـرام او د روضـه اقـدس صلی الله علیه وسلم عظمت حتی چی د مدینی منوری دونو او د عمارتونو احتـرام هـم

دهر یو لفظ نه له ورایه ښکاري ، بیا هم اعتراض کیږي چې دیوبندیان ګستاخ رسول صلی‌الله علیه وسلم دي ، معاذ الله .

پهر بهی هم سآ یه ګله که وفادار نهین

او مزید تفصیل لپاره زبدة المناسک د مولانا الحاج شیر محمد شاه صاحب کومه چې د حضرت ګنګوهي د زبدة المناسک شرح غوندی دی وګورئ :

مسئله : حجری شریفی ته ډیر نظر کول پکار دي د قربت په نیت سره ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حجره اطهر ته کتل عبادت دی ، نو که په مسجد شریف کی وي او یا باهر کوم ځای چی ګنبدخضرا باندی نظر پریوځي نو په ډیر هیبت او ادب او د زړه په توجه سهر کتل پکار دي بلکی په ودریدو سره دی صلواة و سلام وکړي (حیات) (زبدة المناسک ۱۷۹\۲) .

حضرت مولانا مفتي سعید احمد صاحب د سهانپور د مظاهر العلوم د مدرسی پخواني مفتی اعظم په " معلم الحجاج " کی لیکي :

مسئله : کله چې په ګنبد خضرا باندی نظر ولګي نو کمال ، عظمت او د ده مجد و شرف دی په ذهن کی راولي ځکه چی دا ډیر لوی مقام دی (معلم الحجاج ص ۲۴۵) .

مسئله : روضی شریفی ته کتل ثواب دی او که د جومات باهر وي نو ګنبد ته کتل هم ثواب دی (معلم الحجاج ص ۳۵۱ ، ۳۵۲) .

مسئله : کله چې د روضی په خوا کی تیریږی نو د موقع مطابق به لږ ودریدو سره سلام کوی اګر که د جومات نه بیرون وی (معلم الحجاج ص ۳۵۱) .

شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد زکریا مهاجر مدنی رحمه الله په فضائل حج کی یو فصل د اداب زیارت عنوان سره لیکلی پدیکی د زیارت (٦١) آداب لیکلي دي پدی کی (۱۴) ادب واورئ :

ادب نمبر ۱۴ :

کله چې په شین ګنبد باندی نظر ولګي نو عظمت و هیبت او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوچت شان دی په ذهن کی راولي او دا خیال دی وکړي چې پدی پاکه قبه کی هغه ذات اقدس دی کوم چې د ټول مخلوق نه افضل دی د انبیاؤ سردار د فرشتو نه افضل دی د قبر شریف ځای د ټولو ځایونو نه افضل دی کومه حصه چې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم بدن مبارک سره لګیدلی ده هغه د کعبی نه افضل دی

د عرش نه افضل دی او له کرسي نه افضل دی حتی چی د آسمان او دځمکې له هر ځای نه افضل دی (لباب) (فضائل حج ص ۱۰۸ ، ۱۰۹)

ادب نمبر ۱۵

کی په جومات کی د اوسیدو په وخت حجره شریفې ته او کله چی له جومات نه بیرون وی نو ګنبد خضرا ته د کوم ځای نه چی ښکاري کتل او نظر وربانډی ساتل هم افضل دي او انشاء الله موجب د ثواب دي (شرح لباب و شرح مناسک نووي) .

نهایت ذوق او شوق سره دی چپ چاپ په مینه باندی ګوري .

سکوت عشق و ترجیح هے اظهار الفت پر
مری آهین رسا نکلین یه نالے بے اثر نکلے

(فضائل ص ۱۲۰)

په (۴۸) نمبره ادب : کی دي : بغیر د سخت ضرورت څخه به قبر شریف ته شاه نه اړوي نه په لمانځه کی او نه غیر د لمانځه نه (شرح لباب) بلکی په لمانځه کی به پداسی ځای کی ودریدو کوشش کوی چی دی طرف ته یی نه مخ وي او نه شاه او بغیر د لمانځه نه خو دی طرف ته د شاه کولو هیڅ وجه نشي کیدلی (فضائل حج ص ۱۲۰) .

په (۵۰) نمبر ادب کی دي : د دی لحاظ به کوي چی کله د قبر شریف په خوا کی تیریږي نو په ودریدو سره دی سلام کولو سره مخکی کیږي تر دی چی علماؤ لیکلي دي که چیرته د جومات نه بیرون هم د قبر شریف په خوا کی تیریږي نو په ودریدو سره دی سلام کولو سره وړاندی ځي . د حضرت ابوحازم نه روایت دی چی یو کس ده ته راغی او وی ویل ما په خوب کی د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیارت وکړ او رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : ابوحازم ته ووایه چی زما په خوا کی په اعراض کولو سره تیریږي ، لږ په ولاړه سلام هم نه کوي ، لدینه وروسته د ابوحازم دا معمول جوړ شوی وُ چی کله به هلته تیریدو نو په ودریدو سره به یی سلام کولو اومخکی به تیریدلو (شرح لباب)(فضائل حج ص ۱۲۰) .

حکیم الاسلام حضرت مولانا قاری محمد طیب صاحب د دارالعلوم دیو بند پخوانی مهتمم د حجة الاسلام حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي د دارالعلوم

دیوبند بانی د حج د سفر یو ه واقعه بیان کړیده لدی واقعي نـه انـدازه ولګـوئ چي د حضرت محترم زړه د عشق نبوي او د مدینې منورې او روضه اطهر سره د احـترام او مینې څخه څومره لبریز وُ ؟

" حضرت مولانا محمد قاسم صاحب نانوتوي د دار العلوم دیوبند باني چـې کلـه حج ته لاړ نو مدینې منورې ته نژدې یو منزل راخي چې بئر علی ورته وایـي لـږ غونډې غرنی دی پدی باندې چې کله اوښ یا ګاډی خیژي نـو یـک دم د حـرم شریف مناری تر سترګو کیږي لدې ځای نه مدینه منوره دری څلـور میلـه فاصـله کې دی دا حضرات چې کله مدینې منـورې تـه راغلـل ، حضـرت مولانـا محمـد قاسم او مولانا رشید احمد ګنګوهي او ټول بزرګان چې کله بئر علی ته ورسیدل او دحرم په منارو یې نظر ولګید نو حضرت مولانا محمد قاسم صـاحب بـې صـبره کیدو سره یک دم د اوښ نه راټوپ کـړ او پښـې ابلـې روان شـو او څـه عاشـقانه اشعار یې تکرارول داسې معلومیدلو چې خپل هوش کې ندی ، او حـال دا چـې د هغه ځای ګیټکي داسې دی چې کله په پښه لګي ته به وای چې چړې لګیـږي .... الی قوله _ څلور پنځه میله همداسـې ابلـې ښـپې لاړو پښـې یې پـه وینـو سرې ګرځیدلې وې .

(خطبات حکیم الاسلام ۸۸\۲ ، ۸۹ وعظ رحمة للعالمين)

د حضرت مولانا نانوتوي رحمـه الله یـوه مشـهوره قصـیده بهاریه ده چـې ډیـره اوږده ده د موقع په مناسبت یـو څـو اشـعار ورنـه دلتـه ذکـر کـوو چـې لدینـه د حضرت محترم انتهائي محبت او د عشق نبوي اندازه کیږي

خـوش نـصیب یـه نسبت کهـان نـصیب مـیرے
تـو جس قـدر هے بهـلا مین برا اسی مـقدار
یـه سـن کے آپ شفـیع گـناه گـاران ہین
کئے هـین مـین نے اکـتهے گـناه کے انـبار
گـناه کیـا هیـن اگـر کـچه گناه کئے مین نے
تـجهے شـفیع کـهے کـون گـرنه هون بـدکار
جـو تـوهی هـم کـو نه پـوچهے تو کون پوچهے گا
بنـے گـا کـون هـمارا تـرے سـوا غم خـوار
تـو بـهترین خـلائق مـین بـدترین جـهان

تو سرور دو جهان مین کمینه خدمت گار
بهت دنون سے تمنا هے کیجئے عرض حال
اگر هو اپنا کسی طرح تیرے در تک بار
مگر جهان هو فلک آستان سے بهی نیچا
وهان هو قاسم بےبال و پر کا کیونکر گذار
دیا هے حق نے تجھے سب سے مرتبہ عالی
کیا هے سارے بڑے چھوٹون کا تجھے سردار
رجا و خوف کی موجون مین هے امید کی ناؤ
که هو سگان مدینه مین میرا نام شمار
جیون تو ساتھ سگان حرم کے تیرے پھرون
مرون تو کھائین مدینه کے مجھ کو مور و مار
اڑا کے باد میری مشت خاک کو پس مرگ
کرے حضور کے روضه کے آس پاس نثار
دلے به رتبه کهان مشت خاک قاسم کا
که هوجائے کوچه اطهر مین تیرے بن کے غبار
غرض نهین مجھے اس سے بهی کچھ رهی لیکن
خدا کی اور تیری الفت سے میرا سینه فگار
تمهارے عشق مین رورو کے هون نحیف اتنا
که آنکھین چشمهٔ آبی سے هون درون غبار
بس اب درود پڑھ اس پر اور اس کی آل په تو
جو خوش هو تجھ سے وه اور اس کی عشرت مآب
الٰهی اس پر اور اس کی تمام آل په بهیج
وه رحمتین که عدد کر سکے نه ان کو شمار

(بحواله الشهاب الثاقب او فضائل درود)

ترجمه : (۱) زه خوش نصیب یم که نه دا نسبت به ماته کوم خای حاصلیدو ، خومره چی ته بنه یی همدومره زه بد یم .

(۲) دا می اوریدلي دي چی ته شفیع د گنهگارو یی نو ما هم د گناهونو انبارونه جوړ کړي دي .

(۳) گناه می کړی که څه گناه له مانه شوي ، که زه بدکار نه وم نو تا ته به شفیع څوک وواېي ؟

(۴) که ته څمونږ تپوس ونه کړی نو څوک به کوي ، ستا نه بغیر څمونږ غم خوار څوک دی ؟

(۵) ته بهترین د مخلوقاتو او زه بدترین د عالَم یم ، ته سرور د د دواړو جهانو یی او زه کمینه (خدمت) گار .

(٦) له ډیرو ورځو نه می آرزو وه چی خپل حال ووایم ، که چیرته په څه شان سره ستا دربار ته ورسیږم .

(۷) مگر کوم ځای چی فلک له آستان هم ښکته وي ، هلته به قاسم بی وسیله څنګه گذر وکړی شي .

(۸) الله تعالی تا ته لویه مرتبه درکړیده ، د ټولو لویو او وړو ته سردار جوړ کړی یی .

(۹) د امید و خوف په موجونو کی امیدوار یم ، چی د مدینی په مینه والو کی زما نوم هم شمار شي .

(۱۰) که ژوند وي خو چی د حرم د سهوسره ستا د ښپو سره ، او که مرګ وی نو چی د مدینی چینجي می وخوري .

(۱۱) او چی مرګ نه وروسته زما خاوره باد والوزوي او د حضور صلی الله علیه وسلم د روضی خوا کی وشیندي .

(۱۲) قاسم لپاره به دینه لویه مرتبه څه وي ، چی ستا د کوڅی خاوری جوړ شي .

(۱۳) لدی سره می هم څه غرض نشته ، خو چی الله تعالی او ستا په مینه می زړه زخمی وي .

(۱۴) ستا په مینه کی په ژړا ژړا دومره کمزوری شوی یم ، چی سترګی می په ژړا سپینی شویدي .

(۱۵) بس اوس ته په ده او د ده په آل باندی درود ووایه ، چی دی اود ده کورنی له تانه راضي دي .

(۱٦) یا الله په ده او د ده په آل باندی ، بی شمیره رحمتونه ولیږه ، فقط والله اعلم بالصواب وصلی الله علی النبی الامی وعلی اله وصحبه وسلم ۳ جمادی الاول ۱۴۰۵ھ .

که څوک رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لپاره نوي مسلمان ولیکي څه حکم لري؟

(۱۹ سوال) جناب محترم حضرت مفتي صاحب مدظلهم العالي، د سلام مسنون نه وروسته: دلته د یو اخبار مدیر د رسول الله صلی الله علیه وسلم متعلق لیکلي دي چې دوی صلی الله علیه وسلم (معاذ الله) نوي مسلمان ؤ، په کوم پریس کې چې دا اخبار چاپیږي د هغه مالک هم مسلمان دی، چا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم متعلق دا مضمون لیکلی دی او چا چې دا چاپ کړی دی د دوی په باره کې د شریعت څه حکم دی؟ وضاحت وکړئ مهرباني به مو وي.

جواب: هو الموفق الصواب: د آقاء نامدار خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم په باره کې دا عقیده چې دی صلی الله علیه وسلم (معاذ الله) نوی مسلمان ؤ او د ده صلی الله علیه وسلم (۴۰) کلنی ژوند (معاذ الله) کافرانه او مشرکانه عقائدو اعمالو مطابق ؤ (۴۰) کاله وروسته په ده کې تبدیلي راغې دا اسلامي عقیده نشي کیدی بلکې دا د نصاراو او د اسلام د دشمنانو نظریه ده لهذا کوم سړی چې دا ثابتول غواړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم (معاذ الله) نوی مسلمان ؤ او د اخبار په ذریعه خپله دغه فاسده عقیده نشر کړي هغه د اسلامي عقائدو او تعلیماتو مخالف او د نصاراؤ وروند تقلید کوي او د ضلوا واضلو (یعنی پخپله هم گمراه او نورو لره هم گمراه کونکی دی) مصداق دی، په هغه باندی توبه او استغفار لازم دي او زجراً او احتیاطاً د تجدید ایمان او تجدید نکاح هم حکم ورکولی شي " وفی الشرح الوهبانية ما یکون کفراً اتفاقاً یبطل العمل والنکاح واولاده اولاد زنا ومافیه خلاف یؤمر بالاستغفار و التوبة وتجدید النکاح " (درمختار) په شامي کې دي " (قوله والتوبة) ای تجدید الاسلا (قوله و تجدید النکاح) ای احتیاطاً (وقوله احتیاطاً) ای یأمره المفتی بالتجدید لیکون وطؤه حلالاً باتفاق الخ " (درمختار مع الشامی ۳\۴۱۴ باب المرتد).

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په شان کې گستاخي کول څه معمولي گناه نده، داسې فاسد العقیده شخص اخبار مدیر جوړول جائز ندي، که نه هغه به د داسې قسم غلطو مضامینو په نشرولو سره خلک گمراه کړي، او کومو خلکو چې دا چاپ کړی دی نو هغوی هم گنهکار دي او توبه ورباندی لازم دی.

په حدیث کی دي چې الله تعالی د ټولو نه وړاندې د خپل نور له فیض نه نور محمدی صلی الله علیه وسلم پیدا کړ (نشر الطیب ص ۵ د حضرت تهانوي) .

او دا هم په حدیث کی چې صحابه کرامو د آقاء نامدار صلی الله علیه وسلم نه سوال وکړ چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو ته نبوت کله ملاو شویدی ؟ وی فرمایل له هغه وخت نه زه نبي جوړ شوی یم چې آدم علیه السلام لا د روح او د بدن تر منځ و یعنی هغه وخت کی د آدم علیه السلام یواځی بدن او ډانچه جوړه شوی وه خو روح لا پکی نه و اچول شوی .

" عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قالوا یارسول الله صلی الله علیه وسلم متی وجبت لك النبوة قال و آدم بین الروح والجسد " (رواه ترمذی ٢٠١\٢ ، ابواب المناقب) (مشکواة ص ٥١٣ باب فضائل سید المرسلین صلی الله علیه وسلم) (مظاهر حق ٥٠٧\٤) .

لدینه ثابتیږي چې رسول الله صلي الله علیه وسلم ته له ټولو نه وړاندې نبوت ورکړی شویدی البته د نبوت ظهور د ده د عمر په (٤٠) کلنی باندی شویدی (لکه څنګه چې د سرکاري عهده دار انتخاب له وړاندې نه کیږي مګر باقاعده چارج وروسته ورکول کیږي) " د شعبي نه روایت دی چې یو سړي عرض وکړ یارسول الله صلی الله علیه وسلم تاسو کله نبی جوړ شوي یئ ؟ هغه وفرمایل : په هغه وخت کی چې آدم علیه السلام د روح او جسد تر منځ و چې ماته د نبوت وعده راکړی شوی وه " (کما قال تعالی واذ اخذنا من النبیین میثاقهم ومنك ومن نوح ، الایة) (نشر الطیب ص ٦ فصل نور محمد کے بیان مین) .

دا حدیث په دی باره کی نص دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د ټولو نه وړاندی نبوت ثابت دی او ظهور یی بیا د پیدائش نه وروسته (٤٠) کلنی په عمر کی شویدی .

کله چې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم عمر مبارک دولس کاله شو نو دوی صلی الله علیه وسلمد خپل تره ابوطالب او د قریشو له مشائخو سره د تجارت په غرض شام طرف ته لاړ په لاره باندی یو ځای کی د بصری ښار ته نزدی پړاو واچولو هلته یو راهب و (چې د بحیرا راهب په نامه مشهور و) لدینه وړاندې هم مکی والا خو خو ځله پدی

خاى باندى تيريدل مگر هغه به كله هم توجه نه كوله او دا ځل چې ځنگه د قريشو د تجارت كاروان هلته ورسيد نو راهب د معمول په خلاف د خپلى صومعى (عبادتخانه) نه راووت او د دوى خوا ته راغى او هر يو ته يې په غور سره وكتلى تر دى چې د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم لاس ونيولو او وى ويل : " هذا سيد المرسلين هذا رسول رب العالمين يبعثه الله رحمة للعالمين " يعنى همدا د دواړو جهانو سردار دى او همدا د پروردګار عالَم رسول دى الله تعالى به دى د عالَم لپاره رحمت په توګه راليږي ، د قريشو سردارانو راهب ته وويل چې تاته دا پته څنګه ولګيده ؟ راهب وويل : كوم وخت چې تاسو له درى نه راووتلئ نو يوه ونه او كاڼى هم بغير د سجدى نه پاتى نشو او ونى او كاڼي نبي ته سجده كوي او علاوه لدينه زه دوى صلى الله عليه وسلم له مهر نبوت ښخه هم پيژنم كوم چې د سيب (منې) پشان د ده صلى الله عليه وسلم د اوګى لاندى موجود دى ، راهب پدى خبره واپس شو او يواځې د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم په وجه ټولى قافلى لپاره خوراک تيار كړ د خوراک لپاره چې ټول حاضر شول نو رسول اكرم صلى الله عليه وسلم موجود نه وُ ، راهب تپوس وكړ چې چيرته دى ؟ نو پته ولګيده چې د اوښ څرولو ته تللى دى ، يو سړى يې ورپسى وليږه او رسول اكرم صلى الله عليه وسلم يې راوغوښت چې كله حضور صلى الله عليه وسلم تشريف راوړ نو وريځېورباندى سورى جوړ كړى وُ او كله چې خپل قوم ته نزدى ورسيدلو نو وى ليدل چې خلک له ده نه وړاندى د ونى تر سوري لاندى ناست دي او ده لپاره سورى نه وُ پاتې دى يو طرف ته كيناست له كيناستو سره سمدستي د ونى سورى د ده په طرف راوګرځيده بيا د قريشو قافلى ته په قسم وركولو سره تپوس وكړ چې په تاسو كې د ده ولي څوک دى ؟ خلكو ابوطالب ته اشاره وكړه ، راهب ابوطالب ته وويل چې دى ضرور واپس وليږه ، ابوطالب دى د ابوبكر او بلال سره مكى ته واپس وليږلو راهب د ناشتى لپاره ډوډى او د زيتون تيل راوړ ، امام ترمذي فرمايي چې دا حديث حسن دى

(ترمذي شريف ۲۰۲\۲ باب ما جاء فى بدء نبوة النبى صلى الله عليه وسلم) او (مشكواة شريف ص ۵۴۰ باب فى المعجزات الفصل الثانى) .

همداشان كله چې رسول اكرم صلى الله عليه وسلم (۲۵) كالو په عمر كې د حضرت خديجه رضي الله عنها تجارتي سامان سره د شام دويم سفر وكړ او بصرى ته ورسيد او د ونى تر سوري لاندى كيناست دلته يو راهب اوسيدلو چې نسطورا نوميدو د رسول اكرم

صلی الله علیه وسلم په لیدو سره د ده خوا ته راغی او د علاماتو په لیدلو سره یی وویل:
" هو نبی وهو آخر الأنبیاء " دا نبي دی او دا آخري نبي دی .
لدی دواړو واقعاتو او لدینه علاوه نورو واقعاتو نه ثابتیږي چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هغه وخت کی هم د نبوت په علاماتو سره متصف وُ د دغو علاماتو په لیدلو سره دی دواړو راهبانو د ده د نبي کیدو پیشن ګویي وکړ ، او کله چی د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د نبوت په علاماتو باندی متصف کیدل ثابت شول نو دا خبره پخپله ثابته شوه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته له وړاندی نه د نبوت علامات ثابت وو یعنی د ده نبوت له وړاندی نه ثابت وُ (البته ظهور یی د (۴۰) کالو په عمر کی وشو) .
په حدیث کی دي چی کله د آدم علیه السلام نه خطاء وشوه نو دوی د الله تعالی په دربار کی عرض وکړ چی ای پروردګاره زه له تانه د محمد صلی الله علیه وسلم په واسطه درخواست کوم چی ماته مغفرت وکړه نو الله تعالی ورته ارشاد وفرمایل چی ای آدم علیه السلام ! تا محمد صلی الله علیه وسلم څنګه وپیژندلو ؟ او حال دا چی ما هغه تر اوسه پوری ندی پیدا کړی ، عرض یی وکړ ای ربه ما لدینه وپیژندلو چی تا کله پخپل لاس باندی پیدا کړم او په ما کی دی روح واچولو نو ما چی سر اوچت کړ نو په عرش باندی می دا لیکل شوي ولید لا اله الا الله محمد رسول الله نو ماته پته ولګیده چی تابه خپل مبارک نوم سره د داسی شخص نوم یوځای کړی وي چی تا ته به د ټول مخلوق نه زیات خوښ وي ، حق تعالی ارشاد وفرمایل : ای اکرم علیه السلام ته رشتیا وایی واقعاً چی هغه ماته د ټول مخلوق نه زیات خوښ دی او چی کله تا له مانه د ده په واسطه درخواست وکړ نو ما درته مغفرت وکړ که محمد صلی الله علیه وسلم نه وای نو مابه ته هم نوی پیدا کړی (نشر الطیب ص ۱۰ فصل نمبر ۲) .
که چیرته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نوی مسلمان وای او لدینه مخکی دی (معاذ الله) په ایمان باندی متصف نه وای نو الله تعالی خپل مقدس نوم سره د عرش په پایو باندی د ده اسم ګرامي څنګه لیکلو ؟
خلاصه دا ده چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له هغه وخت نه د نبوت په صفت باندی موصوف وُ کوم وخت چی د حضرت آدم علیه السلام په بدن مبارک کی لا تر اوسه روح هم نه وُ اچول شوی ، نبوت او کفر سره خپلو کی ضد دی دا دواړه په یو ذات کی سره نشي جمع کیدلی ،لهذا څوک چی نبي وي هغه په هیڅ حال کی ۀ کفر

سره نشي موصوف کیدی او چی څوک کافر وي هغه هم په هیڅ حال کی نبي نشي کیدی او چی کله دا خبره ثابته ده چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له وړاندی نه د نبوت په صفت باندی موصوف دی نو بیا دی نوی مسلمان څنګه شو ؟ او همدا شان حضور پاک صلی الله علیه وسلم په وصف د نبوت باندی بالذات موصوف دی او نور انبیاء کرام بالعرض موصوف دي نورو ټولو انبیاؤ ته نبوت د ده له فیض نه حاصل دی لیکن د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نبوت د بل چا له فیض نه ندی لکه څنګه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی امت نبي دی همدارنګه دی د انبیاؤ هم نبي دی د قرآن آیت دی " واذ اخذ الله میثاق النبیین " د دی آیت خلاصه دا ده چی د ټولو انبیاء کرامو نه په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی د ایمان راوړلو او د ده د اتباع او پیروي عهد او لوظ اخستل شویدي نو ایا د انبیاء کرامو نه د غیر نبي او غیر مسلم باندی د ایمان راوړلو او د ده د پیروی او اقتداء کولو عهد اخستل شویدي ؟

بدین عقل و دانش بباید گریست ، فقط والله اعلم .

فاسق څوک دی او په شریعت کی څه حکم لري ؟

د ګناه کبیره او صغیره مختصر فهرست

(۲۰ سوال) د فاسق څه تعریف دی ؟ او په شریعت کی ده لپاره څه حکم دی ؟ د کومو ګناهونو مرتکب ته فاسق وایو ؟ وضاحت وکړئ مهرباني .

ځواب : کوم سړی چی د کبیره ګناه مرتکب وي او یا په صغیره ګناه باندی اصرار او همیشه والی کوي داسی شخص فاسق دی او فاسق مردود الشهادت وي یعنی دده ګواهي نه قبلیږي ، د ګناه کبیره او صغیره فهرست کی حضرت مولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله یوه رساله د " گناه بے لذت " په نامه لیکلی پدیکی تفصیل وګورئ پدیکی ځینی کبیره ګناهونه دا دي ، لمونځ پرینښودل ، لمونځ د خپل وخت نه وړاندی او وروسته کول ، زکات نه ورکول ، غلا کول ، خلکو ته سندری ویل ، د خلکو په وړاندی سر او پرده ښکاره کول (لکه څنګه چی نن صبا د ښیند په غاړه سوئمنګ پول او فټ بال وغیر لوبو کی عام طور سره کیږي) دتکبر په وجه لنګ یا پرتوګ د ګیټو نه لاندی ساتل ، غیبت کول ، چغل خوري ، په دروغه ګواهي کول ، په دروغه قسم کول ، د چا مال غصب کول ، سود خوړل ، رشوت اخستل ، د مور پلار نافرماني کول ، په ناحقه د یتیم مال خوړل ، قطع رحمي کول ، کوم صحابي ته بدردویل (لکه څنګه چی د

روافضو ، خوارجو گمراه فرقو طریقه ده او په کوم چې نن صبا د مودودي جماعت عمل کوي ، علماو او د قرآن حافظ ته بدویل او د دوی د بدنامول کوشش کول . د قدرت باوجود امر بالمعروف و نهی عن المنکر پریښودل . قمار (جواري) کول ، د کوم چې یوه نوی طریقه نن صبا لاټري ده) په ګناه کې چاسره مدد کول . د عالم پخپل علم عمل نه کول . د بل چا کور ته دننه کتل ، او د بل چا کور ته بغیر اجازت نه ننوتل . شراب څکل . دخلکو په نسب باندې طعن لګول . د ګانو او سندرو سره ګډا کول او وغیره

په صغیره ګناه باندې اصرار یعنې بار بار کولو سره هغه هم کبیره ګرځي . د صغیره ګناهونو څخه ځینې دا دي ، غیر محرم ښځې ته قصداً کتل ، د کوم مسلمان هجوه (سپکاوی) کول . اګر په اشاره یا کنایه سره وي او هغه خبره ربښتیا وي ، کوم فاسق سره ناسته ولاړه کول . مسجد ته پلیتی دننه کول ، د خوراک څښکاک ضروري شیان غله وغیره د قیمتې په انتظار ساتل ، د جمعې اذان نه وروسته اخستل او خرڅول ، د شوق لپاره سپي ساتل ، خپل کور کې شراب ساتل ، په ولاړه متیازې کول ، په لمانځه کې نبي او ګس یا آسمان طرف ته کتل ، د ردي مال نه زکات ورکول ، ښځې ته له یو نه زیات طلاق ورکول ، د حیض په حالت کې طلاق ورکول ، خپل اولاد ته د څیز په ورکولو کې برابري نه کول (البته که کوم هلک یا جینۍ په علم او صلاحیت کې د زیاتوالي په سبب څه زیات ورکړل شي نو پرواه نشته) ، غابښونه د سروزرو په تارونو سره تړل . د اذان اوریدونه وروسته کور کې کیناستو سره د اقامت انتظار کول ، یواځې د لاس په اشاره باندې سلام کول ، مسلمان باندې بدګمان کول ، ګانې او سندرې اوریدل . کوم خلک چې د یو چا له امامت نه ناراضه وي د هغوی امامت کول که چیرته د هغوی ناراضتیا بې وجه وي ، په لاره کې پلیتې اچول وغیره وغیره .

فقط والله اعلم

ایا د نسل انساني ابتداء له بیزو نه دی ؟ د قرآن و حدیث نه څه ثابتیږي ؟

(۲۱ سوال) د حضرت آدم علیه السلام د پیدائش متعلق دځو افرادو دا خیال دی چې دی (معاذ الله) د بیزو له ګیډې نه پیدا شویدی . الله تعالی پخپل کامل قدرت سره پیدا کړ او بیا یې دنیا ته دلیږلو لدې حقیقت نه هغه خلک انکار کوي ، په شریعت کې

انکار کونکو لپاره او داسی ناپاک خیال لرونکو لپاره څه حکم دی؟ وضاحت وکړئ مهرباني (له سنکار پور نه).

خواب: حامداً ومصلياً ومسلماً! ابوالبشر حضرت آدم علی نبینا وعلیه الصلوٰة والسلام پیدائش له خاورو نه کړی شویدی قرآن پاک په څای دا حقیقت بیان کړیدی یوځای ارشاد دی: " ولقد خلقنا الانسان من صلصال من حماء مسنون " ترجمه: او یقیناً حقیقت دا دی چی مونږه انسان د کړنګیدونکی بدبوی داری خاوری نه پیدا کړی (سورت حجر) او بل ځای ارشاد دی: " اذ قال ربك للملئكة انی خالق بشراً من طین " ترجمه: او کله چی ستا رب فرشتو ته وفرمایل چی زه له خاوری نه یو بشر پیدا کونکی یم (سورت ص).

الله تعالی حضرت آدم علیه السلام پخپل قدرت کامله سر پیدا کړ او بیا یی فرشتو ته حکم وکړ چی ده ته سجده وکړئ نو ټولو ورته سجده وکړه غیر د ابلیس نه او چی کله الله تعالی ورته وفرمایل چی سجده دی ورته ولی ونه کړه؟ نو هغه وویل: زه له ده نه بهتریم، زه دی د اور نه پیدا کړی یم او دا دی د خاوری نه پیدا کړی، قرآن کی دي:

" اذ قال ربك للملئكة انی خالق بشراً من طین ○ فاذا سویته ونفخت فیه من روحی فقعوا له سجدین ○ فسجد الملئكة كلهم اجمعون ○ الا ابليس ابى واستكبر وكان من الكافرين ○ قال يا ابليس ما منعك ان تسجد لما خلقت بيدی استكبرت ام كنت من العالين ○ قال انا خير منه خلقتنی من نار وخلقته من طين ○ "

(قرآن مجید پاره نمبر ۲۳ سورت ص).

ترجمه: کله چی ستا رب فرشتو ته وفرمایل چی زه له ختی نه یو انسان پیدا کونکی یم او چی کله زه هغه پوره جوړ کړم او روح پکی واچوم نو ټول ورته په سجده پریوځئ (کله چی الله تعالی هغه جوړ کړ) نو ټولو ملائکو (آدم علیه السلام ته) سجده وکړه مګر ابلیس چی په غرور کی شو او د کافرو څخه شو، الله تعالی ورته وفرمایل ای ابلیسه کوم شی چی ما پخپل لاس جوړ کړی ده ته له سجدی کولو نه څه شی مانع شو؟ ایا ته مغروره شوی یعنی لویی دی وکړه (او په واقع کی لوی نه یی) او یا دا چی ته (په واقع کی داسی لوی) درجی والاؤ څخه یی، وی ویل (دویمه خبره دا ده) یعنی زه

له آدم نه بهتر یم (ځکه چی) تا زه له اور نه پیدا کړی یم او دا (آدم علیه السلام) دی له خاوری نه پیدا کړی دی (د حضرت تهانوي ترجمه) .

لدینه وروسته الله تعالی پخپل قدرت کاملـه سره د حضرت آدم علیه السلام د کیڼی پوښتۍ نه حضرت حواء رضی الله عنها پیدا کړه او لدی دواړو نه د نسل انساني ابتداء وشو حضرت حواء رضی الله عنها دپیدائش متعلق قرآن کریم کی ارشاد دی : " وخلق منها زوجها " او لدی نفس نه یی د ده جوړه پیدا کړه ، او بیا ارشاد دی : " وبث منهما رجالاً کثیراً ونساءً " او لدی دواړو نه یی ډیر زیات نر او ښځی پیدا کړل (سورت نساء) .

په بخاري شریف کی دي : " استوصوا بالنساء خیراً فان المرأة خلقت من ضلع الخ " یعنی له ښځو سره نرمي او خیر خواهي کوئ ځکه چی ښځه له پوښتۍ نه پیدا کړی شوی ده (بخاري شریف ۴۶۹\۱ کتاب الانبیاء باب خلق آدم و ذریته) .

د زیات تفصیل لپاره د قصص القرآن اول جلد (۱۷) صفحی نه تر (۵۲) صفحی پوری وګورئ په هر حال د ذکر شوي آیتونو خلاصه دا ده چی حضرت آدم علیه السلام الله تعالی پخپل کامل قدرت سره د خاوری نه پیدا کړی دی او د نسل انساني ابتداء د حضرت آدم علیه السلام او حضرت حواء علیها السلام نه شوی ، په سوال کی چی کوم خبره ذکر شوی ده دا د قرآن او حدیث نه قطعاً خلاف ده ، الله تعالی انسان په بهترین صورت کی پیدا کړی ، قرآن مجید کی دي : " لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم " یعنی مونږ انسان په ډیر ښایسته شکل کی پیدا کړی دی (سورت التین) .

د زیات تفصیل نه موقع ده او نه ضرورت .

لهذا مذکوره عقیده د قرآن او حدیث نه خلاف ده دا ملحدانه عقیده ده دا د ډاروین نظریه ده اسلام سره ددی هیڅ تعلق نشته ، پدی وجه که چیرته (معاذ الله) څوک دغسی عقیده ولري نو هغه دی فوراً توبه وکړي او د ایمان او د نکاح تجدید دی وکړي ، په شامي کی دي : " نعم سیذکر الشارح ان ما یکون کفراً اتفاقاً یبطل العمل والنکاح وما فیه خلاف یؤمر بالاستغفار والتوبة وتجدید النکاح " (شامي ۳۹۹\۳ باب المرتد) . فقط والله اعلم بالصواب .

د عیسی علیه السلام ژوندیتوب :

(۲۲ سوال) د حضرت عیسی علیه السلام متعلق دا نظریه چې هغه وفات شویدی بیدی باره کې د اهل سنت والجماعت څه عقیده ده ؟ د قرآن وحدیث په رڼا کې د دی مفصل او مدلل جواب راکړئ مهرباني (له سنگاپور نه)

جواب د حضرت عیسی علی نبینا وعلیه الصلواة والسلام په باره کې د مسلمانانو اجماعي عقیده دا ده چې دی الله تعالی آسمان ته اوچت کړی او ژوندی دی او قیامت ته نزدی وخت کې به دنیا ته تشریف راوړي او دجال به قتل کوي او بیا به وفات کیږي . دا عقیده د قرآن او حدیث نه ثابت ده او پدی باندی د امت اجماع ده . لهذا څوک چې د دی په خلاف عقیده وساتي او د ده د وفات قائل وي هغه د قرآن او حدیث د اجماع نه منکر دی او د اسلام له دایری څخه وتلی دی دا اجماعي مسئله ده . کوم اجتهادي شی ندی ، په قرآن مجید کې دي

" وقولهم انا قتلنا .... عزیزا حکیما " (سورت النساء ۱۵۷ ، ۱۵۸ آیتونه) .

ترجمه : او د دوی د دی وینا په وجه چې مونږ مسیح عیسی بن مریم چې د الله رسول دی وژلی دی او حال دا چې نه دوی هغه وژلی دی او نه یې په دار خیژولی دی لیکن دوی ته اشتباه شوی ده او کوم خلک چې د ده په باره کې اختلاف کوي هغه په غلط خیالي کې دي هغوی سره پدی باندی هیڅ دلیل نشته مګر په تخمین او ګمان باندی عمل کوي او یقیني خبره دا ده چې دوی هغه نه دی قتل کړی بلکې الله تعالی هغه خپل خانته اوچت کړی دی او الله تعالی غالب ذات او حکمت والا دی

لدی آیت نه په صراحت سره ثابتیږي چې د حضرت عیسی علیه السلام په باره کې د یهودو دا وینا ده چې هغه علیه السلام (معاذ الله) مونږه قتل کړی دی بالکل غلطه ده بلکې الله تعالی هغه علیه السلام آسمان ته پورته کړی او ژوندی دی

روح المعاني د دی ایت په تفسیر کې لیکي " وهو فى السماء الثانية على ماصح عن النبى صلى الله عليه وسلم فى حديث المعراج وهو هنالك مقيم حتى ينـــــزل الى الارض يقتل الدجال ويملؤها عدلاً كما ملئت جوراً الخ " . یعنی حضرت عیسی علیه السلام په دویم آسمان کې ژوندی دی ، لکه چې دا خبره د معراج په حدیث کې په صحیح طور باندی نقل شوی ده . او دی په آسمان کې اوسیږي تر دی پوری چې دنیا

نه راشي او دجال به قتل کړي او حکمه به د عدل او انصاف به ډکه کړي لکه څنګه چې دده د راتلو نه وړاندې دنیا د ظلم و ستم نه ډکه شوې وي (روح المعاني ۲۱۶\۱)

په حدیث کې دي " عن ابي هريرة رضي الله عنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم والله لينزلن ابن مريم حكما عادلا فليكسران الصليب الخ " رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایي په الله تعالی قسم چې حضرت ابن مریم (عیسی علیه السلام) یقینا (قیامت ته نږدې) دنیا ته به راځي او یو عادل حاکم به وي او صلیب به ماتوي . (مشکواة شریف ص ۴۰۹ باب نزول عیسی علیه السلام)

په مظاهر حق کې دي :

فائده : په تحقیق سره د صحیح حدیثونو څخه ثابت دي چې حضرت عیسی علیه السلام به د آسمان څخه ته راکوزیږي او د محمد صلی الله علیه وسلم د دین تابع به وي او د ده په شریعت به فیصله کوي (مظاهر حق په لږ تغیر سره ۳۲۷\۴ باب نزول عیسی علیه السلام)

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله په بیان القرآن کې پدې باندې علمي بحث کړی چې د مطالعې قابل دی ، پدې کې هغه لیکي .

ضروري تنبیه : د خینو هغه خلکو غلطي ظاهر شو کوم چې نن صبا بې دلیله دعوه کوي چې حضرت عیسی علیه السلام وفات شوی او دفن شوی او قیامت ته نږدې به نه راځي ، او د عیسی علیه السلام د راتلو متعلق چې کوم حدیثونه راغلي دي په هغو کې تحریف کړی چې د دینه مراد مثیل د عیسی دی او بیا یې د دې مثیل مصداق خپل خان ګرځولی دی (الی قوله) او د نورو دلائلو نه پورته کیدل او حیات (ژوند) ثابت دی نو د دی منل واجب دي . پورته کیدل خو د " رفعه الله " له ایت نه ثابت دي ګرم د خپل حقیقي معنی په اعتبار سره په رفع مع الجسد کې نص دی او دحقیقي معنی له تعذر نه بغیر مجازي معنی اخستل منع دي . او د تعذر دلیل نشته . او حیات (ژوند) د احادیثو او اجماع نه ثابت دی لکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی " ان عيسى لم يمت وانه راجع اليكم قبل يوم القيمة او رده السيوطي في الدر المنثور واخرج ابن كثير من آل عمران وقال ابن حاتم حدثنا ابي حدثنا احمد بن عبدالرحمن حدثنا عبدالله بن جعفر عن ابيه حدثنا الربيع بن انس عن

الحسن (فذکر اثرا عنه ثم قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم للیهود : ان عیسی لم یمت وانه راجع الیکم قبل یوم القیمة " (الی قوله) او اجماع نهایت ظاهر ده چي د کوم مستند عالم څخه سلفا او خلفا د دینه خلاف ندي نقل شوي الخ (بیان القرآن ۱۲\۲۵، ۲۶ سورت آل عمران ۱۳ رکوع)

حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله خپل مشهور تفسیر " معارف القرآن " کی لیکي

د عیسی علیه السلام د ژوندي توب او د راکوزیدو مسئله :

په دنیا کی یواځی د یهودو دا وینا ده چي حضرت عیسی علیه السلام مقتول او په دار شوی او دفن شوی او بیا نه راژوندی کیږي او د دوی د دغه خیال حقیقت قرآن کریم د سورت النساء په ایت کی واضح کړی او په " ومکروه ومکر الله " کی هم دی طرف ته اشاره ده چي الله تعالی د حضرت عیسی علیه السلام د دشمنانو مکر او تدبیر بیرته په دوی باندی راګرځولی چي کوم یهودان د حضرت عیسی علیه السلام د قتل لپاره کور ته دننه شوي وو الله تعالی په دوی کی د یو تن شکل او صورت بدل کړ او بالکل د عیسی علیه السلام په شکل یی جوړ کړ او حضرت عیسی علیه السلام یی ژوندی آسمان ته اوچت کړ ، د آیت الفاظ دا دي " وما قتلوه وماصلبوه ولکن شبه لهم " یعنی دوی نه عیسی علیه السلام وژلی دی او نه یی په دار کړی دی لیکن الله تعالی دوی په شبه کی اچولي دي (چي د خپل سړي په وژلو سره خوشحاله شوي دي) د دی مزید تفصیل به په سورت نساء کی راځي ، او د نصاراو وینا دا ده چي حضرت عیسی علیه السلام قتل او په دار شوی خو دی مګر بیا دوباره ژوندی کولو سره آسمان ته اوچت کړی شوی دی ، ذکر شوی آیت د دوی دغه غلط خیال هم رد کړی او ښودلي یی دي چي لکه څنګه یهودان دخپل سړي په وژلو سره خوشحالي کوي لدینه دا دوکه عیسایانو ته هم وشوه چي قتل شوی عیسی علیه السلام دی پدی وجه د " شبه‌لهم " مصداق د یهودانو پشان عیسایان هم دي .

د دی دواړو ډلو په مقابل کی د اسلام عقیده هغه ده چي کوم پوری آیت او پر نورو ګڼو آیاتونو کی په وضاحت سره بیان شویده چي الله تعالی عیسی علیه السلام لره د یهودو د لاس نه بچ کیدو لپاره ژوندی آسمان ته اوچت کړي نه یی قتل کړي شو او نه یی دار کړی شو ، هغه علیه السلام ژوندی په آسمان کی موجود دی او قیامت ته نږدی

په د آسمان نه راکوزیدو سره په یهودو باندی کامیابي حاصلوي او په آخر کی به خپل طبعي مرګ باندی وفات کیږي
په همدی عقیده باندی د ټول امت مسلمه اجماع او اتفاق دی . حافظ ابن حجر په التلخیص الحبیر ۳۱۹ صفحه کی دا اجماع نقل کړی ده . د قرآن مجید د کنو ایاتونو او د حدیث له متواترو روایتونو نه دا عقیده ثابته ده او پدی باندی د امت اجماع ده دلته د دی پوره تفصیل موقع هم ندی او ضرورت هم ، ځکه چی د امت علماو دغه مسئله په مستقلو کتابونو او رسالو کی پوره پوره واضحه کړی ده او د منکرینو خوابونه په تفصیل سره ورکړي دي د هغه مطالعه کافي ده مثلاً حضرت حجة الاسلام مولانا سید محمد انور شاه کشمیری په عربي ژبه کی "عقیدة الاسلام فی حیات عیسی علیه السلام " کتاب او دحضرت مولانا بدر عالم صاحب مهاجر مدني په اردو ژبه کی " حیات عیسی علیه السلام " کتاب او د مولانا سید محمد اذریس صاحب کتاب " حیات مسیح علیه السلام " او نور هم په سوونو واړه او غټ رسالی پدی مسئله باندی چاپ او مشهور شوی دي . او احقر هم د محترم استاذ حضرت مولانا سید محمد انور شاه کشمیري په امر د (۱۰۰) نه زیات حدیثونه چی د هغوی نه د عیسی علیه السلام ژوندی آسمان ته اوچتول او بیا قیامت ته نږدی راکوزیدل په تواتر سره ثابتیږي یو مستقل کتاب "التصریح بما تواتر فی نزول المسیح" کی جمع کړي دي کوم چی اوس وخت کی د حواشي او شرح سره د شام (حلب) یو بزرګ علامه عبدالفتاح ابوغده په بیروت کی چاپ کولو سره شائع کړی دی .
او حافظ ابن کثیر د سورت احزاب " وانه لعلم الساعة " په تفسیر کی لیکلي دي : " وقد تواترت الاحادیث عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه اخبر بنزول عیسی علیه السلام قبل یوم القیمة اماماً عادلاً الخ " یعنی د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث پدی مسئله کی متواتر دي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د قیامت نه وړاندی د عیسی علیه السلام د راکوزیدو خبر ورکړی دی (معارف القرآن ۷۸\۲ ، ۷۹ سورت آل عمران ۱۳ رکوع ۳ پاره)

د يو اشكال ځواب

که څوک دا شبه وکړي چې د قرآن کريم د دې مبارک ايت " يعيسى انى متوفيك ورافعك الى " نه دا ثابتيږي چې اول عيسى عليه السلام وفات شوى او بيا آسمان ته پورته شوى دى نو د دې شبهې د ځواب ورکولو نه وړاندې پدې پوهيدل پکار دي چې د حضرت عيسى عليه السلام سره د کومو وعدو چې پدې آيت کريمه کې ذکر دي دا په هغه وخت کې شوي دي چې کله يهودانو د ده د شهيد کولو لپاره پټ سازشونه کړي وو او الله تعالى د وحي په ذريعه هغه پدې ناپاک سازشو باندې خبر کړ او وعده يې ورسره وکړه چې ته مطمئن ووسه چې دا خلک ستا د قتل پسې دي مګر دوی پخپل ناپاک سازش کې نه کامیابيږي بلکې قيامت ته نزدې پخپل ټاکلي وخت باندې خپل طبعي مرګ باندې به وفات کيږي او فى الحال د دوی له شر نه بچ کيدو لپاره ته آسمان ته اوچتولى شې . نو په ذکر شوي آيت کې چې د " انى متوفيك ورافعك الى " سره کومې وعدې شوي دي دا به يقينا پوره کيږي . البته " رافعك الى " والا وعده هغه وخت کې پوره کړى شوه او دويمه وعده به هغه وخت کې پوره کيږي کله چې ته قيامت ته نزدې دنيا ته تشريف راوړې نو د آيت په الفاظو کې تقديم او تاخير دى او واوْ چونکې د ترتيب لپاره ندى وضع شوى لهذا دا ضروري نه ده چې " متوفيك " اول واقع شي او بيا " رافعك الى " او پدې تقديم او تاخير کې هم مصلحت دى کوم چې مفسرينو بيان کړى دى لکه وروسته به انشاء الله راشي

په تفسير روح المعاني کې دي : " (يعيسى انى متوفيك ورافعك الى) اخرج ابن ابى حاتم عن قتادة قال هذا من المقدم والمؤخر اى رافعك الى ومتوفيك وهذا احد تاويلات اقتضاهما مخالفة ظاهر الآية للمشهور المصرح به فى الاية الاخرى وفى قوله صلى الله عليه وسلم " ان عيسى لم يمت وانه راجع اليكم قبل يوم القيمة " وثانيها ان المراد انى مستوفى اجلك ومميتك حتف انفك لااسلط عليك من يقتلك فالكلام كناية عن عصمته من الاعداء وماهم بصدده من الفتك به عليه السلام لانه يلزم

من استیفاء الله اجله وموته حتف انفه ذلك الخ " (روح المعانی ج ۳ ص ۷۹ سورة آل عمران پاره نمبر ۳)

په روح المعاني کی لنډ خوابونه هم ذکر دي که تفصیل پکار وي نو روح المعاني دی وکتل شي

حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب په معارف القران کی پدی باندی کلام کړی دی په یوځای کی داسی لیکي

لدی سره دا هم نقل دي چي د آیت معنی دا ده چي الله تعالی هغه وخت کی چی یهودو ستا د قتل پسی دي ستا د تسلی لپاره دوه لفظونه ارشاد فرمایلي دي یو دا چی ستا مرګ به د دوی په لاس کی د قتل په صورت کی نه وي بلکی د طبعي مرګ په صورت کی به وي . دویم دا چي پدی وخت کی د دغو خلکو نه د نجات ورکولو لپاره به مونږ درته دا صورت جوړوو چی تا خپل ځان ته اوچتوو ، همدا تفسیر د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه منقول دی . په تفسیر درمنثور کی د حضرت ابن عباس رضی الله عنه دا روایت داسي نقل دی : " اخرج اسحق بن بشیر وابن عساکر من طریق جوهر عن الضحاك عن ابن عباس رضي الله عنه في قوله تعالی انی متوفيك ورافعك الی یعنی رافعك ثم متوفيك في آخر الزمان " (درمنثور ۳٦\۲) . یعنی اسحق بن بشیر او ابن عساکر د جوهر عن الضحاک په روایت حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه د " انی متوفيك ورافعك الی " ایت په تفسیر کی دا لفظ نقل کړی چي زه تا خپل ځان ته اوچتوم او بیا په آخره زمانه کی تا په طبعي مرګ سره وفات کوم .

د دی تفسیر خلاصه دا ده چي د توفی معنی مرګ ده مګر په الفاظو کی تقدیم او تاخیر دی د رافعک واقع کیدل مخکی او د متوفیک وروسته دي او پدی موقع باندی دمتوفیک مخکی ذکر کولو حکمت او مصلحت دی پوره معاملی ته اشاره کول دي کوم چي وړاندی کیدونکی ده یعنی دا خپل طرف ته غوښتل همیشه لپاره ندي بلکی یوڅو ورځو لپاره دي او بیا به ته دنیا ته راځی او په دشمنانو به کامیابي حاصلوی او بیا وروسته به طبعي طور سره تاته مرګ راځي . او پدی شان دوباره د آسمان نه نازلیدو او دنیا باندی کامیابي حاصلولو نه وروسته د مرګ راتلو واقع یوه معجزه هم وه او د حضرت عیسی علیه السلام د اعزاز و اکرام تکمیل هم . پدی کی د عیسایانو د الوهیت د عقیدی

باطلول هم دي او كه نه د ده آسمان ته ژوندي پورته كولو له واقعي نه د دوي باطله عقيده نوره هم پخيده چې دا هم واقعي حي او قيوم خداى دى ، په دې وجه اول يې د متوفيک لفظ په ويلو سره دغه ټول خيالات باطل كړل او بيا يې خپل طرف ته د بللو ذكر وفرمايل (معارف القرآن ۷۴/۲ ، ۷۵) فقط والله اعلم بالصواب .

قادياني د كوم غير مسلم په سند سره مسلمان كيدى نشي :

(۲۲ نمبر استفتاء) مكرم او محترم حضرت مولانا مفتي سيد عبدالرحيم لاجپوري صاحب دامت بركاتهم ، السلام عليكم ورحمة الله وبركاته :

جنوبي افريقه يو عيسائي ملک دى د دى ځاى په عدالت (محكمه) كې د اسلامي قانون هيڅ كوم لحاظ نشته ، پداسې خالص غير اسلامي عدالت كې يوه مرزايي احمدي دا دعوى كړيده چې زه مسلمان يم او نور مسلمانان ماته كافر او مرتد وايي او پخپل جومات كې عبادت كولو ته نه پريدي لهذا هغه له عدالت (محكمې) نه غوښتي دي چې (۱) دا غير مسلم جج (قاضي) دى دغه مرزايي احمدي ته د مسلمان كيدو قطعي فيصله وكړي .

(۲) دا غير مسلم قاضي دغه مرزايي احمدي ته اسلامي حقوق وركړي تر څو دى د مسلمانانو په جومات كې عبادت وكړى شي او دمسلمانانو په قبرستان كې دفن هم كړى شي .

عدالت مسلمانان راغوښتي دى چې عدالت ته په حاضريدو سره خپل دلائل وړاندى كړي چې دوى مرزايي احمدي ته ولې مسلمان نه وايي ؟ او مرزايي احمدي هم راشي او خپل دلائل پيش كړي چې دى په كوم بناء باندى د مسلمان كيدو دعوه كوي ، دا غير مسلم جج (قاضي) د دلائلو اوريدو نه وروسته فيصله كوي چې دا مرزايي احمدي مسلمان دى يا نه دى ؟ اوس د دى خبرى ځواب پكار دى چې :

(۱) غلام احمد او د ده پيروان د اسلام په دايره كې داخل دى يا نه ؟

(۲) دوى ته اسلامي حقوق حاصل دي يا نه ؟

(۳) ايا غير مسلم قاضي دا اهليت لري چې مرزائيانو باندى د مسلمانيدو فيصله وكړي ؟

(۴) مسلمانانو لپاره دا شرعاً جائز دي چې دوى پداسې مقدمه كې حاضريدو سره يو غير مسلم عيسائي يا يهودي جج ته دا موقع وركړي چې هغه د مسلمانانو په خالص ديني او

اعتقادي معامله کي فیصله وکړي ، برای کرم مدلل خواب ولیکئ ډیره مهربانی به مو وي

خواب حامداً ومصلیا ومسلماً وبالله التوفیق : مرزا غلام احمد سره د اهل سنت والجماعت اصولي اختلاف دی ، فروعي او اجتهادي اختلاف نه دی چې دا دی له نظره وغورځولی شي د پوره اسلامي امت دا متفقه عقیده ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم آخري نبي دی ، د نبوت سلسله په ده باندی ختم شوی ، ده د نه وروسته هیڅ کوم بل نبي نه راځي او دا عقیده د قرآن او حدیث نه داسی محکم او قطعي طریقي سره ثابته ده چې پدی کي د ذره برابر شک او شبهی گنجائش نشته ، په قرآن مجید کي رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین ویل شویدي او پخپله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هم د خپل ځان په باره کي ارشاد فرمایلی دی چې د نبوت سلسله په ما باندی ختم کړی شوی ده زه خاتم النبیین یم او اوس له مانه وروسته بل هیڅ کوم نبي د الله تعالی له طرفه نه راځي ، پدی وجه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته د صدیق اکبر رضی الله عنه زمانه خلافت نه واخله تر ننه پوری د ټول امت پدی باندی اجماع ده چې لکه څنګه د توحید و رسالت ، قیامت و آخرت او د قرآن پاک کلام الله کیدو نه منکر ، پنځه وخته لمونځ ، روژه ، زکات او د حج نه منکر نشي مسلمانیدی . همداشان د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته د نبوت دعوی کونکی هم په هیڅ یو حال کي مسلمانیدی نشي ، داسی شخص کذاب (دروغجن) او ملعون دی او د اسلام له دائری نه بالکل خارج او د اسلام سره هیڅ قسم تعلق نشي که چیرته هغه اول مسلمان وُ نو هغه د اسلام له دائری نه خارج او مرتد گرځولی شي .

د امت په ټول تاریخ کي عملاً همدا کار روان دی مثلاً د ټولو نه مخکې حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم د نبوت مدعی مسیلمه کذاب او د ده د پیروانو په باره کي همدا فیصله کړی وه او حال دا چې دا خبره ثابته ده چې هغه خلک د توحید او رسالت قائل وو او هغوی اذان هم کولو او په اذان کی اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمد رسول الله هم ویل کیدو ، دختم نبوت متعلق دا د اسلام بنیادي عقیده ده .

لیکن غلام احمد د دی بنیادي او اجماعي عقیدی نه بغاوت کړی او ځان لپاره داسی الفاظو سره د نبوت دعوی کړي دي چې پدیکی هیڅ قسم د تاویل او د توجیه گنجائش نشته او د ده پیروان ده ته د نورو انبیاء کرامو پشان نبي وایي او پدی غلطه

عقيده بايدي دوى پي خاندانه اصرار هم كړي . د مرزا غلام احمد ځوى مرزا بشير الدين محمود د حقيقة النبوة په نوم يو كتاب شائع كړي ؤ چې موضوع يې د مرزا غلام احمد نبوت ثابتول و او پدې كتاب كې د مرزا صاحب د نبوت دلائل بشپله د مرزا غلام احمد د كتابونو څخه وړاندي كړي شوي دي . ددينه علاوه مرزا غلام احمد خان لپاره د مسيحيت او د مهدويت دوسره زيات دعوه كړي ده چې ددى انكار او يا د دى تاويل ناممكن دى . انبياء كرام عليهم السلام كوم چې په اجماع سره معصوم دى د دوى ډير زيات توهين كړى او په ډيرو ځايونو كې ځپل ځان نه د انبياء كرامو نه افضل بلكې د ټولو انبياؤ روح كني او همدارنګه په معجزو بايدي هم توقي او مسخرې كړي دي ، په قرآن پاك يې تحريف كړى او دحديثونو بې حرمتي هم كړي وغيره وغيره

د نبوت دعوى او كفري اقوال د قادياني ليكنو په آئينه كې

(۱) خداى هغه دى چا چې ځپل رسول يعنى ما عاجز لره د هدايت او حق دين او تهذيب سره وليږلو (اربعين نمبر ۳ ص ۴۴

(۲) زه رسول هم يم او نبي هم يم (اشتهار ايک غلطى كا ازاله مندرجه حقيقة النبوة ص ۲٦۵)

(۳) زه په هغه خداى بايدي قسم كولو سره وايم چې د هغه په لاس كې زما نفس دى چې هغه زه ليږلى يم او هماغه زما نوم نبي مقرر كړى دى او هغه زه د مسيح موعود په نوم سره ياد كړى يم او هغه زما د تصديق لپاره لوى لوى نښې ظاهر كړي دي كوم چې دريو لكه ته رسيږي او يو څه اندازه يې د نمونې په طور پدې كتاب كې ليكل شوى دى (تتمه حقيقه الوحى ص ٦۸)

(۴) مسيحا خداى هغه دى چا چې په قاديان كې ځپل رسول وليږلو (دافع البلاء ص۱۱)

(۵) زه د خداى د حكم موافق نبي يم (د مرزا صاحب آخري خط چې په اخبار عام د مى ۲٦ ګنه ۱۹۰۸ء كې درج دى)

(٦) خمونږ دعوى ده چې زه رسول او نبي يم (بدر ۵ مارچ ۱۹۰۸) .

(۷) نو پدې كې څه شک دى چې زما د پيشن ګويي نه وروسته په دنيا كې د زلزلو او د نورو آفتونو د سلسلې شروع كيدل زما د ريشتينتوب يوه نښه ده ، په ياد ولرئ چې د الله

تعالی د رسول که د خمکی په هره برخه کی تکذیب وشی نو د دغه تکذیب ... کی نور مجرمان هم نیول کیږي (حقیقة الوحی ص ١٦٦)
(٨) سخت عذاب د نبی د موجودیدونه بغیر هدو راځی نه لکه چی قرآن شریف کښی الله تعالی فرمایی " وما کنا معذبین حتی نبعث رسولا " نو ...د! څه خبره ده چی ... طرف ته خو طاعون ملک تباه کوي او بل طرف ته هیبتناک زلزلی نه بندیږي ای باخبرو تلاش وکړئ شاید په تاسو کی څوک د الله تعالی له طرف نه نبی جوړ شوی وي د کوم چی تاسو تکذیب کوئ (تجلیات الهیه ص ٨ ـ ٩)
(٩) خدای پاک وغوښتل چی خپل رسول بغیر د ګواهی نه پریدی (دافع البلاء ص ٨
(١٠) دریم خبره چی لدی وحي نه ثابته شوی ده هغه دا ده چی خدای تعالی په هر حال څو پوری چی دنیا کی طاعون وي ولو که تر (٧٠) کالو پوری وي قادیان به لدی خوفناک تباهی څخه محفوظ ساتي ځکه چی دا د ده د رسول تخت ګاه دی (دافع البلاء ص ١٠)
(١١) په الهاماتو کی زما باره کی بار بار ویل شویدي چی دا د خدای استازی ، د خدای ناسور ، دخدای امین له طرفه راغلی دی ، کومه خبره چی کوي په هغه ایمان راوړئ او د ده دشمن جهنمي دی (انجام آتهم ص ٧٩)
(١٢) "انا ارسلنا احمد الی قومه فاعرضوا وقالوا كذاب اشر" (اربعين ص ٣ ، ٣٣)

(١٣) " فكلمني ونادانى وقال انى ارسلتك الى قوم مفسدين وانى جاعلك للناس اماماً وانى مستخلفك اكراماً كما جرت سنتى فى الاولين " (انجام آتهم ص ٧٩)
(١٤) او زه لکه څنګه چی د قرآن شریف په آیتونو باندی ایمان لرم همداسی بغیر د یو ذری فرق نه د خدای پاک په هغه ښکاره وحي باندی ایمان لرم کوم چی ماته شوی ده چی د دی صداقت د ده د متواترو ... او علامو نه ما باندی واضح شوی دی ، او زه په بیت الله کی ودریدو سره قسم کولی شم چی هغه پاکه وحي کوم چی ما باندی نازلیږي هغه د هغه ... خدای کلام دی چی په حضرت موسی ، حضرت عیسی او حضرت محمد مصطفی علیهم السلام باندی خپل کلام نازل کړی و مالپاره ځمکی هم ګواهي ورکړی ده او آسمان هم ... آسمان هم وبلی او ځمکی هم چی زه د

الله تعالى خليفه يم مګر د پيش ګوئى مطابق ضروري ؤ چى انكار هم وكړى شي (ايک غلطى كا ازاله ضميمه حقيقة النبوة ص ۲٦۴ نه نقل شوي).

(۱۵) دى (يعنى مرزا صاحب) نبى دى او خداى او د ده رسول صلى الله عليه وسلم په هغو الفاظو سره ده ته نبي ويلي دي چى په هغو سره په قرآن كريم او حديثونو كى مخكى نبيانو ته نبي ويل شويدي (حقيقة النبوة ص ۷۰).

(۱٦) نو پدى كى څه شک دى چى حضرت مسيح موعود د قرآن كريم د معنو له مخى هم نبي دى او د لغت د معنو له مخى هم نبي دى (حقيقة النبوة ص ۱۱٦).

(۱۷) نو اسلامي شريعت چى د نبي كومه معنى كوي د دى معنى په منلو سره حضرت صاحب هيڅ كله مجازى نبي ندى بلكى حقيقي نبي دى (حقيقة النبوة ص ۱۷۴).

(۱۸) د نبوت په لحاظ سره مونږه هم مرزا صاحب مخكينو نبيانو پشان نبى ګڼو (حقيقة النبوة ۲۹۲).

د مسيح كيدو دعوى

د حضرت عيسى په باره كى خمونږ (يعنى د اهل سنت والجماعت) عقيده دا ده چى الله تعالى دى ژوندى آسمان ته اوچت كړى دى او قيامت ته نزدى به تشريف راوړي، مرزا صاحب ليكي چى زما هم اول همدا عقيده وه، مګر وروسته د ده دا خيال شو چى الله تعالى ده د وحي په ذريعه دا وښودل چى دا خيال سراسر غلط دى چى عيسى عليه السلام په آسمان كى ژوندى دى او څه وخت به دنيا ته دوباره راځي بلكى هغه مسيح او عيسى چى راتلونكى ؤ هغه پخپله ته يى، همدا ستا نوم ابن مريم اينښودل شوى دى، پدى باره كى پخپله د مرزا صاحب بيان وګورئ:

" او زما ستركى هغه وخت پورى بندى وى څو پورى چى الله تعالى بار بار زه واضح وپوهولم چى اسرائيلي عيسى ابن مريم خو وفات شوى او هغه واپس نه راځي دغه زمانه او دى امت ته پخپله ته عيسى ابن مريم يى " (براهين احمديه ۵\۸۵).

په حضرت عيسى عليه السلام باندى د فضيلت دعوى

اول خو مرزا چى مسيح موعود او عيسى ابن مريم جوړ شو ليكن بيا دى نور مخكى شو او دوى په حضرت عيسى عليه السلام باندى د خپل فضيلت اعلان شروع كړ، د ده

خوی مرزا بشیر احمد د مرزا جی دا قول نقل کړی دی : " زه د مسیح علیه السلام د خدای نه منکر یم او بیشکه هغه د الله تعالی د نبیانو څخه یو نبي و مګر ماته الله تعالی د ده اوچته مرتبه راکړی ده " (تبلیغ هدایت ص ۱۶۹) او وګوری اوس په تاسو کی یو دی چی لدی مسیح نه اوچت دی (دافع البلاء ص ۱۳) .

د مرزا صاحب دا لاندنی شعر ډیر زیات مشهور دی او خپله مرزا صاحب ته دا شعر ډیر خوښ پدی وجه ده بار بار دا شعر په خپلو تصنیفاتو کی نقل کړی دی :

ابن مریم کے ذکر کو چھوڑ اس سے بڑہ کر غلام احمد هے

یعی د ابن مریم ذکر پریدئ لدینه اوچت غلام احمد دی ، (معاذ الله) (دافع البلاء)

د مرزا جی دویم شعر دا دی :

مرهم عیسی نے دی تهی محض عیسی کو شفا

میری مرهم سے شفا پائے گا هر ملک و دیار

یعنی د عیسی مرهم یواځی عیسی ته شفا ورکړی و او زما مرهم نه هر یو ملک او وطن شفا مومي (درثمین) .

د حضرت عیسی علیه السلام توهین

او ده ته (یعنی حضرت عیسی علیه السلام) نه د کنځل کولو او بدزبانی کولو زیات عادت و په معمولي معمولي خبره به غصه کیدو او خپل نفس یی له جذباتو نه نشو بندولی (ضمیمه انجام آتهم حاشیه ص ۵) .

او دا هم په یاد ولرئ چی څه نا څه د دروغ ویلو عادت لرلو (استغفر الله) .
(ضمیمه انجام آتهم حاشیه نمبر ۵)

عیسایانو د ده ډیری معجزی لیکلی دي مګر حقه خبره دا ده چی د ده هیڅ معجزه نشته . (حاشیه د ٦ صفحی ضمیمه انجام آتهم) .

" د مسیح صداقت پخپله زمانه کی د نورو انبیاؤ ویونکو څخه زیات ثابت ندی بلکی یحیی نبي په ده یو فضیلت لري ځکه چی هغه به شراب نه څکل او کله ندی اوریدل شوي چی کومی فاحشی ښځی په راتلو سره د خپلی ګټلي مال نه د ده په سر باندی عطر لګولی وي ، او یا د لاسو او د سر په ویښتو سره د ده بدن مسح کړي وي ، او یا کومی بی تعلقی ځوانی ښځی د ده خدمت کړی دی ، پدی وجه سره الله تعالی په قرآن پاک د یحیی نوم حصور ایښی دی مګر مسیح ته یی دا نوم ندی ایښی ځکه چی داسی قصی لدی نوم ایښولو نه مانع وي " (ازاله اوهام حصه اول ص ۱۵۸)

د حضرت عیسی علیه السلام د معجزو متعلق د مرزا جی خیالات

څه تعجب کول ندي پکار چی حضرت مسیح د خپل نیکه سلیمان پشان د هغه وخت مخالفینو ته دا عقلي معجزه ښودلې دي او داسی معجزه ښودل د عقل نه لری هم نده ځکه چی پدی اوسنی زمانه کی هم لیدل کیږي چی زیاتره صنعت کاران داسی مرغی جوړوي چی هغه خبری هم کوي او خوزیږي هم او لکی هم خوزوي . او ما اوریدلي دي چی د پوکي په ذریعه ځینی مرغی پرواز هم کوي (ازالة الاوهام حصه اول ص ۳۰۳) .

د څه تعجب ځای نه دی چی خدای پاک حضرت مسیح ته عقلي طور سره داسی طریقه ښودلې دی چی د خاوری د لوبو شی د یوی آلی په ذریعه او یا پوکی کولو سره په څه طور سره داسی پرواز وکړي لکه مرغی چی پرواز کوي یا که پرواز نه کوي نو په پښو باندی ګرځي ، ځکه چی حضرت مسیح ابن مریم خپل پلار یوسف سره (۲۲) کاله د نجاري (ترکانی) کار هم کړیدی ، او ظاهره ده چی د ترکانی کار په حقیقت کی داسی کار دی چی پدی کی د آلو جوړول او قسم قسم شیانو جوړولو کی عقل تیزیږي (توضیح المرام ص ۹) .

نوټ :

پدی حواله کی ښه شوي عبارتو کی غور وکړئ په حضرت مریم او حضرت عیسی علیهما السلام باندی څومره ګنده بهتان لګولی دی ، د قرآن کریم په بیان کړي حقیقت باندی د ټول اهل اسلام بغیر د څه شک او شبهی نه ایمان دی چی الله تعالی پخپل کامل قدرت سره حضرت عیسی علیه السلام بغیر د یو پلار په واسطی سره په امر د " کن " سره پیدا کړی دی ، حضرت مریم عفیفه او پاک دامنه وه د هیڅ سره یی تعلق نه دی قائم کړی ، د قرآن کریم د دی صریح وضاحت باوجود مرزا غلام احمد څومره غلطه خبره لیکلی ده ، دا د قرآن پاک نه بالکل خلاف ده او د قرآن نه انکار دی ، د دی باوجود ده ته مسلمان ویل او د ده پیروانو ته مسلمان ویل څنګه صحیح کیدی شي ؟

په اول کی زما هم دا عقیده وه چی د مسیح ابن مریم سره زما څه نسبت دی . هغه د خدای نبي دی او د خدای پاک له بزرګ مقربینو څخه دی او که چیرته زما د فضیلت

په نسبت کوم اسر ظاهریدلو نوما به هغه جزئي فضیلت کنلو مګر وروسته چې د خدای وحي د باران پشان ما باندی نازل شو دی زه پدی عقیده باندی پاتی کیدو ته پری نښودم او په صریح طور سره ماته د نبي خطاب راکړی شو " (حقیقة الوحی ص ۱۴۸) .

" پدی کار کی څه شک دی چی حضرت مسیح علیه السلام ته هغه فطرتي طاقتونه ندي ورکړل شوي کوم چی ماته راکړل شوي دي ځکه چی هغه د یو خاص قوم لپاره راغلی و او که هغه ځما په ځای وای نو د خپل دغه فطرت په وجه هغه کار نشو کولی د کوم د کولو قوت چی الله تعالی ماته راکړی دی ، وهذا تحدیث نعمة الله ولافخر (حقیقة الوحی ص ۱٤۱) .

په حضرت یوسف علیه السلام باندی د فضیلت دعوی

بس د دی امت یوسف یعنی دا عاجز د اسرائیلي یوسف نه اوچت دی ځکه چی دا عاجز د قید دعاء کولو باوجود هم د قید نه بچ کړی شو مګر یوسف بن یعقوب په قید کی واچولی شو (براهین احمدیه ۷٦\۵) .

زه هر څه یم :

د مرزا صاحب دعوی دا وه چی زه د ټولو نبیانو روح او د دوی خلاصه یم ، زما په وجود کی ټول انبیاء کرام ځای شوي دي ، لکه چی ده لیکلي دي :

" زه د خدای په دفتر کی یواځی د عیسی ابن مریم په نوم سره نه یم نومول شوی بلکی زما نور نومونه هم شته ، زه آدم یم ، زه نوح یم ، زه ابراهیم یم ، زه اسحاق یم ، زه یعقوب یم ، زه اسماعیل یم ، زه موسی یم ، زه داوُد یم ، زه عیسی ابن مریم یم او زه محمد صلی الله علیه وسلم یم ...... نو ضرور ده چی په ما کی د هر نبي شان موجود دی (تحفه حقیقة الوحی ص ۸۵) .

د معجزو کثرت

کله چی مرزا جي د پیغمبري او د نبوت دعوی وکړ نو دمعجزو دعوی هم لازم وه لکه څنګه چی ده د معجزو دعوی هم معمولي انداز سره ندی کړی بلکی د الله تعالی ټول انبیاء کرام یی د معجزو په معامله کی ډیر وروسته پریښي ، لکه چی دی لیکي :

" الله تعالی د دی خبری ثابتولو لپاره چی زه د ده له طرفه یم دومره نښی ښودلي دي که چیرته دا په زرو انبیاؤ باندی هم تقسیم کړی شي نو دهغوی هم پدی سره نبوت ثابتیدلی شي (چشم معرفت ص ۳۱۷) .
او که څوک دا اعتراض وکړي چی هغه معجزی کومی دي نو زه یواځی دا ځواب نه ورکوم چی زه معجزی ښودلی شم بلکی د الله تعالی په فضل و کرم سره زما ځواب دا دی چی هغه زما د دعوی ثابتولو لپاره دومره معجزی ښودلي دي چی ډیر کم نبیان داسی راغلي دي چی هغوی دومره معجزی ښودلي وي ، بلکی حقیقت خو دا دي چی هغه د معجزو دومره دریاب روان کړی چی ځمونږ د نبي صلی الله علیه وسلم نه علاوه باقی په ټولو انبیاء کرامو کی د دی ثبوت دومره کثرت سره قطعي او یقیني طور باندی محال دی او خدای پاک خپل حجت پوره کړی اوس که څوک یی قبول کړي او یا نه کړي (تمته حقیقة الوحی ص ۱۳٦) .
" پدی څو کرښو کی چی کومی پیشن ګویئ دي هغه په دومره نښو باندی مشتمل دی چی د لسو لکو نه زیات دي او نښی هم دومره واضحی دي چی اول درجه دي "
(براهین احمدیه حصه پنځم ص ٥٦)
" که چیرته ډیر په سخت ړیری او زیات نه زیات احتیاط سره هم دا شمار کړی شي بیا دا نښی کومی چی ظاهر شوی وی د لسو لکو نه زیات دي (براهین احمدیه پنځم حصه ٥٦ صفحه) .

ډ حدیثونو په باره کی د مرزا جي خیال:

" مونږ د دی په ځواب کي په خدای پاک باندی قسم کولو سره بیان کوو چی زما د دی دعوو بنیاد ډ حدیث ندی بلکی قرآن او هغه وحي ده کوم چی ما باندی نازل شوی ، البته د تائید په طور باندی مونږ حدیثونه هم وړاندی کوو کوم چی د قرآن پاک مطابق دي او زما د وحي په خلاف ندي ، او نور حدیثونه مونږ د ردي (بیکاره) څیز پشان غورځوو .
(ازاله اوهام ص ۳۱۰ ، ۳۱۱)
شیخ المحدثین حضرت مولانا ادریس کاندهلوي رحمه الله لیکي :

قادياني او مرزايي فرقه :

د دی زمانی د گمراه ترین فرقو څخه یوه فرقه د قادیـاني او مرزايـي ده کومـه چـی د مرزا غلام احمد د گورداسپور د ضلع د قادیـان دکلـي اوسـیدونکي پـیروان دی ، د ده دعوی دا ده چی زه مسیح موعـود او مهـدی منتظـر یم او نبـي او رسـول یم او د ټولـو انبیاؤ سوری او ظهور یم او د ټولو نه افضل او اکمل یم .

ومبـدم گـفتے کـه مـن پـیغمبـرم
وزهمـه پـیغمبران بـالا تـرم

او نهایت بی حیایی او بی ادبی سره دا ویل چی زه هماغه موعود رسول او معهود مبشر یم د چا چی قرآن پاک کی پدی الفاظو سره بشارت موجـود دی : " واذ قال عیسی ابن مریم یابنی اسرائیل انی رسول الله الیکم مصدقاً لما بین یدیّ من التوراة ومبشرا برسول یأتي من بعدی اسمه احمد " گویا چی د قادیاني د مرزا به گمان کی دا آیـت د محمد صلی الله علیه وسلم په باره کی نازل شوی ندی بلکی د قادیان د یو دهقـان پـه باره کی نازل شوی دی او همدا شان ډیر آیتونه کوم چـی د سـیدنا محمـد رسـول الله صلی الله علیه وسلم په باره کی نازل شویدي د د غو په باره کی وایـي چـی دا زمـا پـه باره کی نازل شوي دي ، خوک لیوني به وي چی دا خبره مني چی دقرآن پـاک آیتونـه د قادیان مرزا په باره کی نازل شوي دي .

آبـله گفت دیـوانه بـاور کـرد

یعنی یوه لیوني خبره وکړه او بل ورباندی یقین وکړ .

او ویلي دي چی زه کلمة الله یم ، او روح الله او عیسی یم بلکی لدینه اوچـت یم لکـه چی د ده خپل قول دی :

ابن مریم کے ذکر کو چھوڑو اس سے بهتر غلام احمد هے

او کله چی مرزا دا دعوی وکړه چی زه د مسیح مثیل یم نوسوال وشو چی تـه د عیسـی ابن مریم پشان معجزی وښایه لکه څنګه چی په قرآن مجید کی ذکـر دي چـی هغـه بـه مړي ژوندی کول او برګی او ړانده به یی جوړول ، نو په خواب کی یی دا وویـل چـی د عیسی علیه السلام دا ټول کار مسمریزم و زه داسی خبری بد گنم او که نـه مـا بـه هـم ښودلي وو .

او مرزا به حضرت عيسى عليه السلام د يوسف نجار خوى ښودلو او بغير پلار د پيدا كيدو نه منكر و او قسما قسم گستاخانه الفاظ به يې د ده عليه السلام په شان کې ويل
رباني علماؤ د پنجاب د دغه مسيلمه په رد كې بې مثال كتابونه ليكلي دي ، د مرزا غلام احمد مايه ناز او مشهور كتاب " ازالة الاوهام " دى د دى په رد كې حضرت مولانا انوار الله خان حيدر آبادي بې مثال كتاب ليكلى چې نوم يې " افادة الافهام " ايښى دى او دى ناچيز هم د پنجاب د مسيلمه په رد كې متعدد رسالې ليكلي كوم چې چاپ شويدي ، اى مسلمانانو ! د رسالت د زمانې څخه واخله تر دى وخته پورې په سوونو دنبوت او د رسالت او د عيسويت او مهدويت مدعيان تير شويدي كوم چې د مرزايانو په نزد هم كافر او مرتد او ملعون وو ، په كوم دليل سره چې تير شوي د نبوت مدعيان د مرزا په نزد باندى كافر او مرتد وو په همدى دليل سره چې تير شوي د نبوت مدعيان دمرزا په نزد باندى كافر او مرتد وو په همدى دليل باندى دا نوي د نبوت مدعي د قاديان مرزا هم كافر او مرتد دي (عقائد الاسلام ص ۱۸۱ ، ۱۸۲ او له حصه د حضرت مولانا محمد ادريس كاندهلوي) .
د مرزا غلام احمد قادياني د كفري اقوالونه يو څو اقوال د نمونې په طور نقل كړى شو لدينه په صراحت سره دا ثابتيږي چې دى د نبوت مدعي دى او د ده عقيدت مند هم د ده د نبوت قائل دي ،لهذا غلام احمد په قطعي طور سره د اسلام نه خارج دى او د ده پيروان هم چې ده نبوت مني او يا د نبوت د دعوى باوجود دى مسلمان گڼي دا خلك هم په قطعي طور سره كافر او مرتد او د اسلام نه خارج دي .

علمي لطيفه :

د موقع په مناسبت سره يوه علمي لطيفه ذهن ته راغلى ، رنګون ته خواجه كمال الدين راغى ، چې ډير لوى چالاک ، مكار او چالباز و ، ده د رنګون اوسيدونكو په وړاندى د اسلام دعوى وكړه او وى ويل چې مونږه غلام احمد نبي نه گڼو ، او دا خبره يې په قسم سره كوله (لكه چې زيات خلك خصوصاً لاهوري وايي) خامخا مونږ بدناملي شو ، حال دا چې مونږ پوخ مسلمانان يو ، قرآن پاک منو ، حضور اكرم صلى الله عليه وسلم د الله تعالى رشتونى رسول گڼو ، عوام د ده د خبرو د تاثير لاندى راغلل ، د ده تقريرونه شروع شول په ډيرو ځايونو كې لمونځ هم وركړ ، تر دى چې جمعى

لسونځ یی هم وکړ ، د رنګون ذمه وار خلک ډیر زیات پریشان وو چی عوام لـدی فتنـی نه ځنګه محفوظ وساتو ، ورځ په ورځ دی په عوامو کـی مقبولیـت حاصـلوي ، د مقـامي علماؤ سره د ده ګفتګو هم وشو مګر د چالبازئ په وجه به یی خپل اصلیت ظاهریـدو تـه نه پریښودلو

دمشوری نه وروسته دا فیصله وشو چی د اهل سنت امام حضـرت عبدالشـکور لکهنـوی رحمه الله راوغوښتل شي ، هغه ؤ چی ټیلفون ورته وکړی شـو او هلتـه دا مشـهوره شـوه چی ډیر زر به مولانـا عبدالشـکور صـاحب تشـریف راوړي او ده سـره بـه خبـری کـوي خواجه کمال الدین چی د مولانا نوم واورید نو د تیښتی لاره یی غوره کړه هغـه ؤ چـی هلته د مولانا د رسیدو نه مخکـی مخکـی لاړو ، مولانـا تشـریف راوړ ، او تقریرونـه نـه یی وکړل او عوام یی د حقیقت نه خبردار کړل او د ذمه دارانو په یو مجلس کی وفرمایـل ، چی تاسو پدی فکر او سوچ کړی دی چی هغه لـدی ځایـه ولی وتښتیـدلو ؟ اصـل کـی وجه دا ده چی هغه پدی پوهیدو چی زه به ورنه دا سوال کوم چی : " ته د مرزا احمـد دنبوت قائل نه یی مګر ته دیته مسلمان وایی یا کافر ؟ " د دی ځواب هغه سـره نـه ؤ کـه هر ځواب ورکړی وای نیول کیدو ، دی خو مرزا ته په هیڅ حال کی کـافر نشـي ویلـی که مسلمان ورته ووایي پدی هم نیول کیږي چی کوم سړی د نبوت مدعی وي هغـه پـه هیڅ حال کی مسلمان نشي پاتي کیدای ، داسی سړي ته مسلمان ویل هم کفر دی ، مـا ورنه همدا سوال کولو او انشاء الله په همدی یو سوال سره لاځوابـه کیـدلو ، دا سـوال ستاسو ذهن ته ندی راغلی نو تاسو ځکه پریشانه شوي یئ .

په هر حال دا داسی ظاهره او باهره مسئله ده چـی پـدی کـی د چـا فیصـل او حـاکم جوړولو او د فیصلی کولو هم ضرورت نشته ،لهـذا مرزایـي احمـدي تـه دا حـق حاصـل ندی چی هغه کوم غیر مسلم ته خپله مقدمه یوسي او له هغه نه دخپلـی مسـلمانی سـند حاصل کړي ، او پداسی سند سره هغه مسلمانیدلی هـم نشـي ، کـه دی سـوچه او پـوخ مسلمان جوړیدل غواړي نو د دی صورت یواځي همدا دی چی په کومه لاره چی هغـه روان دی دا پریدي او په صدق دل سره توبه وکړي او د خپلی توبی اعـلان وکـړي ، او دمرزا غلام احمد له نبوت نه انکار وکړي او کافر ورته ووایي او د ده د ټولو باطلو عقیدو نه توبه وکړي او د اهل سنت والجماعـت دعقیـدو مطـابق د ایمـان او د نکـاح تجدیـد وکړي ، چی کل دی مسلمان نه دی نو اسلامي حقوق هـم ورتـه نـه دي حاصـل ، او د اسلامي اصطلاحاتو استعمال هم ورته جائز ندی ،لهذا دغه کافر او مرتد ته د اهل سـنت

والجماعت په جوماتو کې د لمونځ کولو او په مدرسو کې د داخله اخستو او د مسلمانانو په مقبره کې د دفن کیدو حق قطعاً نه لري او دده دا مطالبه بالکل غلطه ده . دا د مسلمانیدو خالص دیني او اعتقادي مسئله ده پداسې معامله کې څوک چې د دین ماهر وي د هغو فیصله قابل قبول کیدی شي ، پدی وجه عدالت (محکمې) ته پکار دي چې دغه معامله د محققینو علماؤ کمیټې ته حواله کړي ځکه چې د فیصلې د نافذولو او قاضي جوړولو لپاره دا ضروري دي چې په ده کې د شهادت ټول شرائط نه وي نو هغه په شرعي طور قاضي نشي جوړیدی او د ده فیصلې ته شرعي فیصله نشي ویل کیدی ، دا شرط د فقه په ټولو کتابو کې درج دی ، مثلاً په البحر الرائق کې دي :

" (قوله اهله الشهادة) ای اهل القضاء من یصح منه او من تصح تولیته (الی قوله) وهو ان یکون حراً مسلماً بالغاً عاقلاً عدلاً (الی قوله) فلا تصح تولیة کافر وصبی " یعنې هغه څوک قاضي جوړیدلی شي چې په هغه کې (د مسلمانانو خپل منځي معاملو کې) د شهادت کولو صلاحیت ولري او صلاحیت هغه چا کې موجودیدلی شي چې هغه آزاد وي (غلام نه وي) مسلمان وي (کافر نه وي) بالغ وي (نابالغ نه وي) عاقل وي (مجنون او لیونی نه وي) عادل او ثقه وي (فاجر او فاسق نه وي) الی قوله پدی بناء باندې کافر او ماشوم ته د قضاء عهده ورکول صحیح نه دي (۲۶۰\۱٦ کتاب القضاء) .

او یو کمیټي ته هغه وخت اسلامي حیثیت حاصلیږي کله چې دوی په ټولو ارکانو کې د شهادت شرائط موجود وي لهذا که چیرته د کمیټې یو رکن هم غیر مسلم وي نو د کمیټې اسلامي حیثیت باقي نه پاتې کیږي او د دې فیصلې ته اسلامي فیصله نه ویل کیږي ، مسلمانانو لپاره ضروري دي چې په عدالت (محکمه) کې خپل موقف ظاهر کړي او دا ووایي چې دا څمونږ خالص ایماني او عقیدوي مسئله ده او پدی خالص دیني او اعتقادی مسئله کې مونږ لپاره د دین د ماهرینو اسلامي علماؤ فیصله قابل قبول کیدی شي او دا مسلم او منلې شوی اصول دی چې د هرې مسئلې او د هرې معاملې د حل لپاره څه اصول او ضوابط وي او مسئله د دغو اصولو او ضوابطو لاندې حل کولی شي د دې مسئلې د حل لپاره مونږ دخپلو اصولو او ضوابطو پابندي کوو نو پدی وجه عدالت ته پکار دي چې د دې مسئلې په حل کې د اسلامي شریعت د اصولو او ضوابطو قدر وکړي او دا مسئله د مسلمانانو کمیټې ته حواله کړي ، فقط والله اعلم

بالصواب ، احقر سید عبدالرحیم لاجپوري ثم راندیری غفر له ، راندیر ، نیته ۲۵ جمادی الاول ۱۴۰٦ھ

د مهدویه فرقې متعلق وضاحت او د حضرت امام مهدی حالات:

(۲۴ سوال) د مهدویه فرقې څینې عقاید لیکل شوي د دغو عقائدو په رڼا کې دا خلک په حقه دي ؟ او په اهل سنت والجماعت کې داخل دي ؟

نمبر۱ : موعود مهدي دنیا په راتلو سره تلی دی .

نمبر۲ : دعاء لپاره لاسونه نه اوچتوي .

نمبر۳ : د سحر شپږ رکعته لمونځ کوي دوه رکعته د شکرانی ، دوه سنت او دوه فرض .

نمبر۴ : د هر لمانځه نه وړاندی دوه رکعته د شکراني کوي .

نمبر۵ : د رمضان (۲٦) شپه کې یوه نیمه ، دوه بجې دوه رکعته د امام پسې ادا کوي او پدی شپه کې د ماسخوتن لمونځ نه کوي .

نمبر٦ : د جمعې خطبه نه وایي .

نمبر۷ : د اختر لمونځ نه کوي ، وضاحت وکړئ ، مهرباني (له بروده نه) .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! (۱) مهدویه فرقه د چا چې دا عقیده وي چې د مهدي موعود پیدائش په جونپور کې د جمادی الاول په ۱۴ نیته او ۸۴۷ھ کال کې شویدئ او هغه دنیا ته په راتلو سره تلی دی ، اوس بل هیڅ مهدي نه راځي ، دا عقیده د صحیح حدیثونو څخه قطعاً خلاف او بالکل غلطه ده ، په صحیح حدیثو کې چې د کوم موعود مهدي ذکر دی هغه قیامت ته نزدی د دجال په وخت کې ظاهریږي ، د حضرت حسن رضی الله عنه له اولادو څخه به وي ، له نصاراؤ (عیسایانو) سره به ده ډیر لوی جنګ کیري اودی به کامیابیږي ، د ده په زمانه کې به د دین ښه اشاعت وشي ، دنیا به د عدل و انصاف نه ډکه شي ، د مکې مکرمې اوسیدونکی به ورسره بیعت کوي ، او په کوم کال کې چې دی ظاهریږي د دی کال په رمضان کې لمر او سپوږمی به تندر نیسي ، د حضرت عیسیٰ علیه السلام سره به ملاقات کوي ، د ده حالات د حدیثو په کتابو کې تفصیل سره بیان شویدي ، علامه ابومحمد عبدالحق حقاني رحمه الله هم خپل مشهور او معروف کتاب " عقائد اسلام " کې د امام مهدی د حدیثونو په رڼا کې تفصیلي ذکر کړی دی کوم چې د دی ځواب په آخر کې درج کړی شوي دا ضرور وګورئ ، په عقائد اسلام کې علامه د مهدویه فرقې هم ذکر کړیدی .

دی لیکي همداشان د اکبر په دور کی سید محمد جونپوري د مهدي کیدو دعوی کړی وه د ده مریدان تر اوسه پوری دکن کی موجود دي . د دوی مهدي هم هغه مهدي نه دی ځکه څومره علامات چی د امام مهدي دي په دغو کی یو هم محمد جونپوري کی ندی لیدل شوی او نه د ده په دور کی دجال موجود و ، او نه د نصاراو سره جنګ شوی او نه د دین اشاعت شوی او نه پدی میاشت کی دوه ځلی کسوف او خسوف (لمر او سپوږمی تندر نیولی) او نه د مکی اوسیدونکو ورسره بیعت کړی بلکی د مکی ټولو علماؤ د ده د پیروانو د قتل فتوی ورکړی وه او په حاکمانو باندی د دوی وژل واجب کړي و (عقائد اسلام ص ۱۸۱ ، ۱۸۲) .

دی فرقی سید محمد جونپوري یواځی مهدي یواځی موعود نه ګڼلو د دوی دا عقیده هم وه چی دی د ټولو انبیاء کرامو او د خلفاء راشدینو (حضرت ابوبکر ، حضرت عمر ، حضرت عثمان او حضرت علیی رضی الله عنهم اجمعین) نه افضل و بهتر دی ، او د ده مرتبه د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم د مرتبی سره بالکل برابره ده د سر د ویښتو قدری هم کمی او زیاتی پکی نشته ، او همدا شان حضرت ابراهیم ، حضرت موسی ، حضرت نوح وغیرهم انبیاء علیهم السلام یی (معاذ الله) کامل الایمان نه ګڼل ، او څوک چی د دوی د عقیدي مطابق محمد جونپوري مهدي موعود ونه مني هغه کافر دی د دینه علاوه د دوی نور هم باطل عقائد دي چی هغه علامه ابورجا محمد رحمه الله خپل کتاب " هدیه مهدویه " کی د دوی د کتابونو په حوالی سره نقل کړي او بیا یی تفصیل سره رد کړیدي ، او ده د کتاب په شروح کی مختصراً د دوی عقائد باطله بیان کړي او د اهل سنت والجماعت له صحیح عقائدو سره یی مقاسیه کولو سره واضح کړیدي چی د دوی عقائد قطعاً د اهل سنت والجماعت له عقائدو نه خلاف دي ، د نمونی په طور سره ځینی عقائد د " هدیه مهدویه " په حوالی سره وګوری :

د مهدویه فرقی عقائد د اسلامي عقایدو سره تقابل او پر تله

(۱) سید محمد جونپوري په ۹۰۵هـ کی د مهدي موعود دعوی کړی او په ۹۱۰هـ کی وفات شوی دی ...... او د اهل سنت عقیده دا ده چی یو سړی د محمد صلی الله علیه وسلم د آل نه بغیر د شک نه مهدي کیدونکی دی او د ده شناخت دهغو علامو موجودیدو پوری موقوف دی کومی چی په صحیح احادیثو کی د امام مهدي متعلق

ذکر شوي دي او چونکې دغه علامې د نوموړي شیخ په حق کې موجود نـدي پـدې وجه دا مهدي ندی او د ده دعوی باطله ده (هدیه مهدویه ص ١٦).

(۲) د دوی عقیده ده چې د سید محمد جونپوري د مهدي تـوب تصـدیق کـول فـرض دي او د ده د مهـدیتوب انکـار کـول کفـر دي او د ۹۰۵ هجـري نـه وروسـته خـومره مسلمانان چې د مشرق نه ترمغرب او جنوب نه تر شمال پوی تیر شـوي او یـا تیریـږي دا ټول د دی انکار په سبب کـافر مطلـق دي، مسـلمان یـواځې مهـدوي دی .... او د اهل سنت عقیده دا ده چې انکار واجـب او موجـب د نجـات او ثـواب دی، او اهـل اسلام ته کافر ویل پخپله کفر دی چې دغه خلک دبدو عملونو په وجـه پـدیکې اختـه شوی (هدیه المهدویه ص ۱۷).

(۳) د دوی عقیده ده چې نوموړی شیخ اګر که په امت محـدي صـلی الله علیـه وسـلم کې داخل دی لیکن دی د خلفاء راشدینو (ابوبکر، عمر فارق، عثمان ذی النـورین او النورین علی مرتضی رضی الله عنهم) نه بهتر دي او د ټول اهـل سـنت بلکـې د امـت محمدی صلی الله علیه وسلم دا عقیده ده چې د انبیاء کرامـو نـه وروسـته نـه پـه امـت محمدی صلی الله علیه وسلم کې د دی حضراتو نه ښـوک افضـل دي او نـه پـه سـابقه امتونو کې، (هدیه مهدویه ص ۱۷).

(۴) د دوی عقیده ده چې سید جونپـوري د محمـد صـلی الله علیـه وسـلم نـه عـلاوه د ابراهیم، موسی، عیسی، نوح او آدم علیهم السلام او ټولو انبیـاوٌ او مرسـلینو نـه افضـل دي ...... او د اهل سنت عقیده دا ده چې هیڅو اګر که هغه غوث، و اقطاب وابـدال واوتار وائمه اهل بیت، صحابي، تابعي، مجتهد او مهدي وي د کوم پیغمبر علیه السـلام درجې ته نشي رسیدلی انبیاء او مرسلین د ټولو مخلوقـاتو نـه بهتـر دي (هدیـه مهدویـه ص۱۷).

(۵) د دوی عقیده ده چې سید محمد جونپوري اګر که د محمـد صـلی الله علیـه وسـلم مکمل تابع دی لیکن په رتبه کې د حضرت خاتم المرسلین سره برابر دی چې پـه دواړو کې د سر د یو ویښته برابر هم کمی او زیـاتی نشـته ...... او د اهـل سـنت عقیـده دا ده چې امتی خو پریده هیڅ یو نبي مرسل یا مقرب فرشته د حضـرت سـید المرسـلین سـید الاولین والاخرین رتبې ته نشي رسیدلی او په عالَم وجود کې هیڅ یو موجود د حضـرت هم رتبه نشته او د الله تعالی نه وروسته چې کوم مقام او مرتبه ده هغـه ده محمـد صـلی الله علیه وسلم ده د کوم بل چا ته ندی نصیب،

بـعد از خـدا بـزرگ تو یی قـصه مـختصر
(هدي مهدويه ص ۱۷) .

(٦) د دوی عقیده ده چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم کوم احادیث او د قرآن پاک تفسیرونه اگر که په صحیح روایت سره نقل شوي وي لیکن د شیخ جونپور د احوالو او بیان سره مقابل کولو سره کتل پکار دي که د ده د احوالو سره مطابق وي نو هغه صحیح دي او که نه هغه غلط وګنئ .... او د اهل سنت عقیده د دی په خلاف ده یعنی مسلمان ته پکار دي چی که خپل احوال د احادیثو او تفسیرونو نه خلاف ومومي د هغه نه توبه کولو سره پریدي او هغه احوال پیدا کړي چی د سنت مطابق وي او د صحابه کرامو دجماعت او د اهل بیتو له مشرب سره مطابق وي نو پدی سبب هغو ته اهل سنت والجماعت ویل کیږي (هدیه مهدویه ص ۱۷ ، ۱۸) .

(۷) د دوی عقیده ده چی سید محمد جونپوري او محمد صلی الله علیه وسلم مسلمانان وو د دوی نه علاوه حضرت ابراهیم ، موسی ، عیسی ، نوح ، آدم او ټول انبیاء او مرسلین ناقص الاسلام دي چی کوم یو پیغمبر نیم مسلمان دی او کوم یو پاؤ مسلمان دی لدینه هم کم لکه څنګه چی په پنج فضائل (دا د ده د یو کتاب نوم دی) کی شاه دلاور خپل مهدي نه روایت کړی چی آدم علیه السلام د پوزی د لاندی حصی نه د سر پورتنی حصی پوری مسلمان ؤ او حضرت نوح علیه السلام د حلق (مری) نه لاندی حصی نه د سر پورتني حصی پوری مسلمان ؤ او حضرت ابراهیم او موسی د سینی نه لاندی حصی څخه سر پوری مسلمان ؤ عیسی د نامه نه لاندی حصی څخه تر سره پوری مسلمان و او دویم ځل چی کله راځي نو هغه وخت کی به پوره مسلمان وي او اوس نیم مسلمان دی ، انتهی .

او د اهل سنت عقیده دا ده چی د اسلام درجه د نبوت او د رسالت له درجی نه کم ده د انبیاء او مرسلین کیدو باوجود د ناقص الاسلام پاتی کیدو څه معنی ده ؟ بلکی ټول انبیاء کرام پوره مسلمانان او کامل الایمان دي الخ (هدیه مهدویه ص ۱۹) .

د خپلو عقیدتمندو او خلفاؤ متعلق د سید محمد جونپوري نظریه

د " شواهد الولایت " (دا هم د دی فرقي یو کتاب دی) په لسم باب کی لیکلي دي : د دوی د مهدي سره د امیرالمؤمنین ابوبکر صدیق رضي الله عنه د صفانو تذکره وشوه

چې څه د پاسه درې سوه صفتونه په ده کې موجود وو د دوی خلیفه نظام تپوس وکړ چې لدې صفاتو نه کوم صفت په مونږ کې هم موجود دی ؟ وی ویل بلکې دا ټول په تا کې موجود دي ، انتهی . (هدیه مهدویه ص ۲۳۲) .

په مطلع الولایت (دا هم د دی فرقې یو کتاب دی) کې لیکلي دي : میران وویل چې حق تعالی فرمایي : که چیرته کوم یو پیغمبر علیه السلام نه وای لیږلی او کوم یو کتاب هم نه وای نازل کړی بیا هم سید محمود (دا د سید محمد جونپوري د مشر څوی زوم دی) او خوند میر (دا یې زوم دی) ته دا مقام او نزدیکت حاصلیدو او مونږ د دوی د مرتبې کوم سړی د کوم نبي او رسول سره ندی پیدا کړی دا یواځې تاباندی احسان کړی شوی دی (هدیه مهدویه ص ۲۳۲) .

په " پنج فضائل " کې دي چې د دوی مهدي جونپوري وویل چې میان سید خوند میر د ولایت اسدالله غالب دی (هدیه مهدویه ص ۲۳۲) .

او همداشان په پنج فضائل کې لیکلي دي چې د مهدی خلیفه دلاور ته معلوم شوي چې لکه څنګه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم څلور یاران دي د مهدي هم دي او بیا چې کله د مهدي نه د دی تصدیق طلب کړ نو دوی په مراقبه کې سر ټیټ کړاو بیا یې اوچت کړ او وی ویل چې حق تعالی فرمایي چې میران سیدمحمود دی ، بیا ئې ټیټ او اوچتولو سره وویل میان سید خوند میر دی ، بیا یې ټیټ او اوچتولو سره وویل چې میان نعمت دی او بیا یې ټیټ او اوچتولو سره وویل چې میان نظام دی او بیا یې ټیټ او اوچتولو سره وویل چې سائل دی (یعنی د ده خلیفه دلاور) نو دلته پنځه شول او د دی وجه یې دا بیان کړه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې نبوت وُ او هلته څلور ملګري شول او ماباندی ولایت دی ، د دی حدیث په حکم چې الولایة افضل من النبوة " نو دلته پنځه دي (هدیه مهدویه ص ۲۳۲ ، ۲۳۳) .

همداراز په رساله د بشارت نامه کې د سید میان له رسالې نه نقل کړی دی :

چې لکه څنګه د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په ملګرو کې عشره مبشره وو دمهدي په ملګرو کې دولس سړي دي ، انتهی ، او په تذکرة الصالحین وغیره کې د دوی تفصیل هم په نظر راغلو چې پنځه دا دي کوم چې پورته ذکر شول او اوه دا دی (۱) امین محمد (۲) ملک معروف (۳) عبدالمجید (۴) ملک الوحی (۵) یوسف (٦) ملک ګوهر (۷) ملک برهان الدین . (هدیه مهدویه ص ۲۳۳) .

نوټ :
د هدیه مهدویه اردو ډیره پخوانی ده ، مفهوم پخپل حال باندی پاتی کولو سره ځای په ځای په الفاظو کی معمولي تغیر کړی شوی دی ۔
ملا علی قاري رحمه الله په مرقاة شرح مشکواة کی لیکي :
" وقد ظهر فی البلاد الهندية جماعة تسمی المهدوية (الی قوله) انهم يعتقدون ان لمهدی الموعود هو شيخهم الذی ظهر ومات ودفن فی بعض بلاد خراسان وليس يظهر غيره مهدی فی الوجود ومن ضلالتهم انهم يعتقدون ان من لم يكن علی هذا العقيده فهو کافر وقد جمع شيخنا العارف بالله الولی الشيخ علی المتقی رحمه الله رسالت جامعة فی علامات المهدی منتخبة من رسائل السيوطی رحمه الله واستفتی من علماء عصره الموجودين فی مكة من المذاهب الاربعة وقد افتوا بوجوب قتلهم علی من يقدر من ولاة الامم " (مرقاة شرح مشكواة ص ۱۷۹ ج ۱۰ مطبوعة ملتان باب اشراط الساعة) .
ترجمه : یعنی په هندوستان کی یوه ډله پیدا شوی چی نوم مهدویه دی دوی دا عقیده لري چی مهدي موعود د دوی شیخ دی کوم چی ظاهر شوی دی او مړ شوی دی او د خراسان په کوم ښار کی دفن دی اوس د ده نه علاوه دی دنیا ته بل هیڅ مهدي نه راځي او د دی فرقی له ګمراهیو نه یوه دا ده چی څوک دا عقیده ونه لري (یعنی دی مهدي موعود ونه مني) هغه کافر دی ، ځمونږ شیخ عارف بالله شیخ علي متقی رحمه الله د علامه سیوطی رحمه الله له رسائلو نه انتخاب کولو سره یوه رساله د امام مهدي په علامو کی لیکلی ده او دوی د خپلی زمانی دمکی مکرمی د څلورو مذهبونو دعلماؤ نه د دی فرقی متعلق استفتاء (تپوسونه) کړي دي ټولو په اتفاق سره د دی د قتل فتوی ورکړ او حاکمانو باندی کوم چی د دی قدرت لري د ده وژل لازم وګرځولو (مرقاة شرح مشکواة ۱۰\۱۷۱) .
په مظاهر حق کی دي : او په هند کی یوه ډله پیدا شوی چی د مهدویه په نامه مشهوره ده نهایت جاهلان دي د دوی عقیده دا ده چی مهدي موعود ځمونږ شیخ دی کوم

چې ظاهر شو او مړشو او د خراسان په کوم ښار کې دفن کړی شوی ، او د دوی د ګمراهیو څخه دا هم ده چې د دوی په عقیده څوک چې پدی باندی نه وي هغه کافر دی نو هغه وُ چې د مکی مکرمی د څلورو مذهبونو علماؤ فتوی ورکړه چې کوم امیران او حاکمان چې د دوی په قتل باندی قدرت لري د دوی وژل وربانـدی واجب دي (مظاهر حق ۲۹۹\۴ کتاب الفتن باب اشراط ا لساعه) .

دا د دوی د باطله عقائدو څخه یوه نمونه ده ، اوس د خپلو پاتی سوالونو ځوابونه وګوری :

(۲ ځواب) د لمانځه نه وروسته او په نورو ځایو کی هم دعا کی د لاسونو اوچتول له حدیثو څخه ثابت دي په یو حدیث کی دیث : " عن عمر رضی الله عنه قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا رفع یدیه فی الدعا لم یحطهما حتی یمسح بهما وجهه " (رواه ترمذي) د حضرت عمر رضی الله عنه نه روایت دی چی کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا لپاره لاسونه اوچت کړل نو تر هغی پوری به یی نه ښکته کول چی څو پوری به یی په خپل مبارک مخ باندی نه وو راښکلي (مشکواة شریف ص ۱۹۵ کتاب الدعوات) .

او دا هم په حدیث کی دي : " عن سلمان رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان ربکم حي کریم یستحی من عبده اذا رفع یدیه الیه ان یردهما صفراً " (رواه الترمذی) یعنی د حضرت سلمان فارسی رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایي : ستاسو رب شرم والا او کریم دی د خپل بنده نه شرمیږي کله چی هغه خپل لاسونه د ده په وړاندې اوچت کړي چی دا خالي واپس کړي (مشکواة شریف ص ۱۹۵) .

او دا هم حدیث کی دي : " عن مالك بن یسار رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا سألتم الله فاسئلوه ببطون اکفکم ولاتسئلوه بظهورها وفی روایة ابن عباس رضی الله عنه قال سئلوا الله ببطون اکفکم ولاتسئلوه بظهورها فاذا فرغتم فامسحوا بها وجوهکم " (رواه ابوداؤد) یعني د حضرت مالک بن یسار رضی الله عنه نه روایت دی ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمائي کله

چې دعا کوئ نو په ورغو سره کوئ د لاسونو په شاګانو سره مه کوئ او د ابن عباس رضی الله عنه په روایت کی دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایي : د خپلو لاسونو په ورغو سره سوال کوئ د لاسونو په شاګانو مه کوئ او چې کله له دعا نه فارغ شوئ نو لاسونه مو خپلو مخونو باندی راکارئ (مشکواة شریف ص ۱۹۵) .

او په بل حدیث کی دي : " عن انس رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال مامن عبد بسط کفیه فی دبر کل صلوة ثم یقول اللهم الهی واله ابراهیم واسحاق ویعقوب واله جبریل ومیکائیل واسرافیل ان تستجیب دعوتی فانی مضطر وتعصمنی فی دینی مبتلی وتنالنی برحمتك فانی مذنب وتنفی عنی الفقر متمسکن الا کان حقا علی الله عزوجل ان لا یرد یدیه خائبین "

ترجمه : د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایي : کوم بنده چې د لمانځه نه وروسته خپل لاسونه اوچت کړي او بیا دا دعا کوي چې اللهم الهی واله ابراهیم ....الخ نو په الله تعالی باندی حق دی چې د ده لاسونه خالي او ناکام واپس نه کړي (عمل الیوم واللیلة ص ۲۹ ، ۳۰) .

او په حدیث کی دي : " حتی جاء البقیع فاطال القیام ثم رفع یدیه ثلث مرات وفی النووي (قولها حتیٰ جاء البقیع فاطال القیام ثم رفع یدیه ثلث مرات) فیه استحباب اطالة الدعاء و تکریره رفع الیدین الخ " (مسلم کتاب الجنائز مع شرحه للنووی ۱\۳۱۳) .

پدی حدیث کی تصریح دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په جنت البقیع کی په لاس اوچتولو سره دعا کړی ده ، او همدارنګه د ابوعوانه حدیث د کوم تخریج چې حافظ ابن حجر عسقلانی د بخاري شرح په فتح الباری کی کړی دی له هغه نه هم ثابتیږي چې د تدفین نه وروسته رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په لاس اوچتولو سره دعا کړی ده ، " وفی حدیث ابن مسعود رضی الله عنه رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم فی قبر عبدالله ذی البجادین وفیه فلما فرغ من دفنه استقبل القبلة

رافعا یدیه " (اخرجه ابوعوانه فی صحیحه (فتح الباری شرح بخاری ۱۱\۱۲۲) .

حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي چی ما رسول الله صلی الله علیه وسلم د عبدالله ذی البجادین په قبر باندی ولید چی کله د ده د دفن نه فارغ شو نو قبلی ته مخامخ کیدو سره د لاسونو په اوچتولو سره دعا کولو کی مشغول شو (فتاوی رحیمیه ۲\۲۴۷ ، ۲۴۸) .

د حدیثو په رڼا کی محققینو علماؤ فرمایلي دي چی په دعا کی لاس اوچتول د دعا له ادابو څخه دي ، مشهور کتاب په حصن حصین کی دي : " وبسط الیدین ورفعهما وان یکون رفعهما حذو المنکبین وکشفهما " یعنی دواړو لاسونه د اوږو برابر پورته کول او دواړه لاسونه خلاص او کولاو پریښودل (حصن حصین مترجم ص ۱۲۸ د مولانا ادریس صاحب ، حصن حصین عربي ص ۲۲ ، ۲۳ آداب الدعاء) .

حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب لیکي :

(۱۰ آدب) دعاء لپاره دواړه لاسونه اوږدول (ترمذی ، حاکم ، مستدرک) .

(۱۱ آدب) دواړوه لاسونه د اوږو برابر اوچتول (ابوداؤد ، مسند احمد ، حاکم) .

(جواهر الفقه ۱\۳۷۲ فضائل آداب وعاء) فقط

(۳ ، ۴ ځواب) د سحر لمونځ او هر لمانځه نه وړاندی دوه رکعته په کوم نیت او څه شی په ګنلو سره ادا کوي ؟ که چیرته فرض ګنلو سره ادا کوي نو دا خپل طرف نه په دین کي زیادت دی او دا قطعاً حرام دی ، فقط .

(۵ ځواب) د رمضان المبارک (۲٦) شپه کی د ماسخوتن لمونځ نه کول دا عمل بالکل ناجائز دی د فرض لمونځ قصداً پریښودل موجب د فسق دی ، که چیرته پدی شپه کی د ماسخوتن له فرضیت نه انکار کوي نو دا عقیده موجب د کفر دی ، په درمختار کی دي : " الصلواة فرض عین علی مکلف بالاجماع (ویکفر جاحدها لثبوتها بدلیل قطعی وتارکها عمداً فاسق) " یعنی د امت د جمهورو علماؤ په نزد لمونځ په هر مکلف باندی فرض عین دی او د دینه انکار کونکی کافر دی په دلیل قطعی سره د ثابتیدو په وجه او قصداً لمونځ پریښودونکی فاسق دی (درمختار مع رد المختار ۱\۳۲۵ ، ۳۲٦ کتاب الصلوة) .

(٦ خواب) د جمعی خطبه د قرآن او حدیث نه ثابت ده د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ، خلفاء راشدین او ائمه مجتهدینو څخه ثابت ده او د خیر القرون نه واخله تر ننه پورې د اهل سنت والجماعت په همدې باندې عمل دی .

په مشکواة شریف کې دي : " عن کعب بن عجرة رضی الله عنه انه دخل المسجد و عبدالرحمن بن ام الحکم یخطب قاعداً فقال انظروا الى هذا الخبیث یخطب قاعداً وقد قال الله تعالى (واذا رأوا تجارةً او لهواً ن انفضوا الیها وترکوك قائماً) " (رواه مسلم) ترجمه : یعنی کعب بن عجُره رضی الله عنه جومات ته داخل شو چې عبدالرحمان بن ام الحکم په ناسته باندې خطبه ورکولو نو ده وفرمایل : دی خبیث ته وګورئ په ناسته باندې خطبه وایي او حال دا چې الله تعالی ارشاد فرمایي (واذ رأوا تجارةً........) هغه خلک چې د تجارت او یا د مشغولتیا څیز ویني نو هغه طرف ته په منډه ځي او تا ولاړ پریدي (مشکواة شریف ص ١٢٤ باب الخطبة والصلواة) .

حضرت کعب بن عجره د آیت نه استدلال وکړ لدینه ثابتیږي چې د " وترکوك قائماً " نه مراد دا دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به د جمعی خطبه په ولاړه ورکوله ، په روح المعاني کې دي : " (واذا رأوا تجارةً او لهواً ن انفضوا الیها) اخرج الامام الاحمد والبخاری ومسلم والترمذی و جماعة عن جابر رضی الله عنه قال بینما النبی صلی الله علیه وسلم یخطب یوم الجمعة قائماً اذا قدمت عیر المدینة فابتدرها اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم حتی لم یبق منهم الا اثنا عشر رجلا انا فیهم و ابوبکر وعمر فانزل الله تعالى (واذا رأو تجارةً) الى اخر السورة) "

یعنی : امام احمد ، بخاري ، مسلم ، ترمذي او د محدثینو یوې ډلې د حضرت جابر ابن عبدالله رضی الله عنه نه روایت کړیدی چې یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم د جمعې په ورځ په ولاړه خطبه ورکوله چې ناڅاپه د مدینې منورې تجارتي قافله راغله نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحاب لاړل او یواځې دولس حضرات پاتې شول ، حضرت جابر رضی الله عنه فرمایي چې په پاتې شوو کې یو زه وم او حضرت ابوبکر او

حضرت عمر رضی الله عنهم اجمعین هم وو نو الله تعالی دا آیت نازل کړ (واذا رأوا تجارةً او لهواً ن انفضوا الیها وترکوك قائماً قل ما عندالله خیر من اللـــهو ومـــن التجارة والله خیر الرازقین) یعنی د ځینو خلکو دا حال دی چی کله د تجارت او یا د مشغولتیا ځیز ویني نو هغه طرف ته منډی لپاره ګډوډ شـي او تـا (پـه خطبـه کـی) ولاړ پریدي ، ته ورته ووایه چی کوم ثواب او نزدیکـت د الله پـاک سـره دی هغـه د داسـی مشغولتیا او تجارت نه په ډیرو درجو سره بهتر دی (او که چیرتـه لدینـه د رزق د زیاتیـدو طمع وي نو پوه شئ چی) الله تعالی ښه روزي ورکونکی دی (روح المعـاني ۲۸ جـز ۴ _ ۱ صفحه او سورت جمعه).

صحابه کرام رضی الله عنهم اجمعین د خطبی په وخت کی بازار ته لاړل ، دا خبره څـه عجیبه غوندې ښکاري نو پدی باره کی حضرت مولانا مفتي شفیع صاحب لیکي :

او حسن بصري او ابومالک رحمهما الله فرمایي چی دا هغه زمانه وه چـی مدینـه کـی د ضروري شیانو کمی او ډیره قیمتي او ګراني وه (تفسیر مظهري) دغـه اسـباب وو چـی د صحابه کرامو یو لویه ډله د تجارتي قافلی په آواز باندی لـه جومـات نـه ووتـل ، اول دا چی فرض لمونځ شوی وُ ، د خطبی متعلق دا معلوم نه وُ چی پـه جمعـه کـی دا هـم د فرض جز دی ، او دویم د شیانو قیمتي او ګراني ، دریم په تجارتي قافله باندی د خلکو راغونډیدل پدی چی هر یو دا فکر کولو چی که لږ ناوخته کړم نود ضرورت شـیان نشـم تر لاسه کولی ، په هر حال د دغو اسبابو په وجه د صحابه کرامو نه دا لغـزش وشـو چـی پدی باندی په ذکر شوي حدیث کی د وعید الفاظ راغلل چی کـه ټـول پـه ټـول تللـی وای نو د الله تعالی عذاب به راتللو ، په همدی بانـدی د عـار و نـنګ ورکولـو او تنبیـه کولو لپاره ذکر شوی آیت نازل شو چی " واذا رتجاوةً " او په همدی سـبب رسـول الله صلی الله علیه وسلم د خطبی په معامله کی خپل طرز عمـل بـدل کـړ چـی د جمعـی د لمانځه نه وړاندی د خطبی ورکولو معمول جوړ کړی شو او همدا تر اوسه پـوری سـنت دي (ابن کثیر) (معارف القرآن ۴۴۴\۸ مطبوعه مکتبهٔ مصطفائي دیوبند) غرض دا چـی د ذکر شوي بیان نه معلومه شوه چی د ترکوک قائماً نه مراد د جمعـی د ورځـی خطبـه ده ، اوس څو حدیثونه وګورئ :

(۱) " عن جابر بن سمرة رضی الله عنه قال کانت للنبی صلی الله علیه وسلم خطبتان یجلس بینهما یقرأ القرآن ویذکر الناس فکانت صلواته قصدا وخطبة قصداً " یعنی د حضرت جابر بن سمره رضی الله عنه نه روایت دی چی نبي اکرم صلی الله علیه وسلم به دوه خطبی ورکولی او د دواړو تر منځ به کیناستلو او په خطبو کی د قرآن مجید تلاوت او خلکو ته نصیحت کولو ، د ده صلی الله علیه وسلم جمعی لمونځ او خطبه به متوسط وو (نه ډیر اوږد او نه ډیر مختصر) رواه مسلم د مشکواة شریف ص ۱۲۳ باب الخطبة والصلواة) .

(۲) " عن عمار رضی الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول ان طول صلواة الرجل وقصر خطبته مئنة من فقهه فاطیلوا الصلواة واقصروا الخطبة .... " (رواه مسلم) یعنی حضرت عمار رضی الله عنه فرمایي چی ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې، د خطیب د لمونځ اوږدوالی او د ده د خطبی مختصر والی د ده د فقیه والي علامه د ،لهذا لمونځ اوږدوئ او خطبه مختصر کوئ .... (مشکواة شریف ص ۱۲۳) .

(۳) " عن عمرو بن حریث ان النبی صلی الله علیه وسلم خطب وعلیه عمامة سوداء قد ارخی طرفها بین کتفیه یوم الجمعة " (رواه مسلم) یعنی د عمرو بن حریث نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د جمعی خطبه ورکړه چی تور پټکی یی په سر وُ او د پټکی دواړه شملی یی د دواړو اوږو په منځ کی را اچولی وی (مشکواة شریف ص ۱۲۳) .

(۴) " عن ابن عمر رضی الله عنه قال کان النبی صلی الله علیه وسلم یخطب خطبتین کان یجلس اذا صعد المنبر حتی یفرغ المؤذن ثم یقوم فیخطب ثم یجلس ولایتکلم ثم یقوم فیخطب " (رواه ابوداؤد) .

حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمایي چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم به دوه خطبی ورکولی ، چی کله به منبر ته راغی نو اول به کیناستو چی کله به مؤذن اذان

وکړو نو بیا به اوچت شو او په ولاړه به یې خطبه ورکړو او بیا به کیناستو او خبری بـه یې نه کولی او بیا به اوچت شو او په ولاړه به یې خطبه ورکړو (مشکواة شریف ص ۱۲۴) .

(۵) " عن جابر بن سمرة قال كان النبي صلى الله عليه وسلم يخطب قائماً ثم يجلس ثم يقوم فيخطب قائماً فمن نبأك انه كان يخطب جالساً فقد كذب والله صليت معه اكثر من الفي صلواة " (رواه مسلم) یعنی حضرت جابر بـن سـمره رضـی الله عنـه فرمایي چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم به په ولاړه خطبه ورکولو او بیا بـه کیناستو او بیا به په ولاړه دویم خطبه ورکولو ، څوک چی درته دا خبره درکړي چی حضور صلی الله علیه وسلم په ناسته خطبه ورکوله نو هغه دروغ ویلي دي ، والله چی ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دوه زرونه زیات لمونځونه کړي دي (د ده معمول هغه وُ چـی ما درته بیان کړ) (مشکواة شریف ص ۱۲۴) .

د ذکر شوو حدیثونو نه هم ثابتیږي چی حضور اکرم صلی الله علیـه وسـلم د جمعـی پـه ورځ خطبه ورکوله په همدی بنیاد د فقهاء کرامو د جمعی د لمانځه د صحیح کیدو لپاره حطبه شرط کړی ده ، که چیرته بغیر د خطبی نـه لمـونځ ادا کـړی شـي نـو لمـونځ نـه صحیح کیږي ، په مراقی الفلاح کـی دي : " والرابع الخطبة قبلها كما فعلـــه الـــنبی صلى الله عليه وسلم بقصدها في وقتها " (مراقی الفلاح) .

یعنی د جمعی لمونځ د صحیح کیدو لپاره څلورم شرط د لمانځه نه وړاندی خطبه ویـل دي لکه څنګه چی رسول اکرم صلی الله علیـه وسـلم خطبـه ویلـی ده او خطبـه یې د خطبی په نیت سره لوستلی ده او چی خطبه هم د جمعی د لمانځه په وخت کـی وي ، په طحاوي علی مراقی الفلاح کی دي :

" وهي (اى الخطبة) شرط بالاجماع خلاف للامامية وقد شذوا " خطبـه د امـت د جمهورو علماؤ په نزد شـرط ده یـواځی امامیـه شـیعه ګـان لدینـه مخـالف دي او دوی پدیکی یواځي دي (طحاوي ص ۲۷۷ باب الجمعه) لهذا د خطبی نه ویل هم د قرآن و حدیث او د جمهورو اهل سنت والجماعت نه خلاف دي ، فقط .

(۱) د عید (اختر) لمونځ د صحیح کیدو حدیثونو نه ثابت دي ، حضور اکـرم صـلی الله علیه وسلم همیشـه پابنـدی سـره ادا کـړي دي او تـر نـنـه پـوری جمهـور اهـل سـنت والجماعت وربانـدی عمل کوي

په حديث كې دي : " عن ابي سعيد الخدري رضى الله عنه قال كان النبي صلى الله عليه وسلم يخرج يوم الفطر والاضحى الى المصلى فاول شئى يبدأ به الصلواة ثم ينصرف فيقوم مقابل الناس والناس جلوس على صفوفهم فيعظهم ويوصيهم ويأمرهم وان كان يريد ان يقطع بعثا قطعه او يأمر بشيئ امر به ثم ينصرف "، متفق عليه .

ترجمه : ابوسعيد خدري رضى الله عنه فرمايي چې رسول اكرم صلى الله عليه وسلم به د وړوكي او لووى اختر په ورځ عيدګاه ته تلو ، د ټولو نه مخكې به يې د اختر لمونځ كولو او بيا به خلكو طرف ته متوجه كيدو او صحابه كرامو رضى الله عنهم اجمعين به خپلو صفونو كې ناست وو او ده صلى الله عليه وسلم به ورته نصيحت كولو (يعنى خطبه وركولو) او كه كوم ځاى ته به د لښكر ليږلو ضرورت وُ نو لښكر به يې وليږلو او يا به كوم خاص كار وُ نو دهغه حكم به يې كولو او بيا به خپل كور ته تشريف وړلو (بخاري و مسلم) (په حواله د مشكواة شريف ص ۱۲۵ باب صلواة العيدين) .

(۲) " عن جابر بن سمرة رضى الله عنه قال صليت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم العيدين غير مرة ولا مرتين بغير اذان ولااقامة " (رواه مسلم) يعنى : حضرت جابر بن سمره رضى الله عنه نه روايت دى چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم سر د اخترونو (د وړوكي او د لوى اختر) لمونځونه ځو ځو ځله اداء كړي دي بغير د اذان او د اقامت نه (مشكواة شريف ص ۱۲۵) .

(۳) " عن ابن عمر رضى الله عنه قال كان النبي صلى الله عليه وسلم و ابي بكر وعمر يصلون العيدين قبل الخطبة " متفق عليه .

د حضرت ابن عمر رضى الله عنه نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ، ابوبكر او عمر رضى الله عنهما به د اخترونو لمونځ د خطبې نه مخكې ادا كولو (بخاري و مسلم) مشكواة شريف ص ۱۲۵) .

(۴) " عن ابن عباس رضى الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم صلى يوم الفطر ركعتين لم يصل قبلهما " (متفق عليه) .

د امام مهدي حالات

علامه ابومحمد عبدالحق حقاني په " عقائد اسلام " کې لیکي : واضحه دي وي چې مهدي په لغت کې هدایت موندونکي ته ویل کیږي ، پدې معنی سره ډیر خلک مهدیان شوي او د مهدي موعود تر زمانې پورې به ډیر نور هم مهدیان شي لیکن هغه مهدي چې ذکر یې په حدیثونو کې په کثرت سره راغلی هغه یو خاص شخص دی چې د د جال په وخت کې به ظاهریږي او اول بـه د نصاراؤ سره جنګ کوي او کامیابي بـه حاصلوي ، د ده حلیه او شکل دا دی چې قد یې اوږد والي ته مایل او مضبوط باډي لري ، رنګ یې سپین او سوروالي ته مایل او چهره یې کولاو ، پوزه یې باریک او اوچت ، په ژبه کې یې لږ غوندې لکنت (تتوالی) چې کله خبرو کې تکلیف او تنګ شي نو په زنګون باندې لاس ووهي او د ده علم لدني دي او د (۴۰) کالو په عمر کې به ظاهریږي او لدینه وروسته به اوه یا اته کاله بناء په اختلاف د روایتونو باندې ژوندې پاتې کیږي . دده نوم محمد او د پلار نوم یې عبدالله او دمور نوم به یې آمنه وي د جناب حضرت حسین رضی الله عنه د اولادو څخه به وي او د مدینې اوسیدونکی به وي ، دغه علامې په اکثرو حدیثونو کې ذکر شوي چې یو څو یې دلته ذکر کوم :

ترمذي او ابوداؤد روایت کړی دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : تر هغې پورې به دنیا نه ختمیږي څو پورې چې زما د اهل بیتو نه یو سړی د عربو مالک شوی نه وي او دهغه نوم زما نوم او پلار نوم یې زما د پلار نوم به وي (مشکواة شریف ص ۴۷۰ باب اشراط الساعة) .

فایده : په حدیث کې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دا فرمایلي دي چې د عربو مالک به وي او حال دا چې امام مهدي به د ټولې ځمکې مالک وي د دی وجـه دا ده چې عرب د اسلام مرکز او پای تخت دی پدی وجه د دی ذکر کافي شو ، ابوداؤد ویلي چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي : " المهدی منی اجلی الجبهة اقنی الانف یملاء الارض قسطاً وعدلاً کما ملئت ظلماً وجوراً یملك سبع سنین " (مشکواة شریف ص ۴۷۰) .

ترجمه : مهدي زما په اولادو کې دی ، کولاو تندي والا او اوچته پوزه لري ، ځمکه به د عدل و انصاف نه ډکوي لکه څنګه چې په ظلم او زیاتي سره ډکه شوی وه ، لنډه دا

چی امام مهدي به مدینې نه مکې ته ځي او خلک به ورسره پېژندلو سره بیعت کوي او خپل بادشاه به یې جوړوي او دی وخت کې به د غیب نه دا آواز راځي چې " هـذا خلیفة الله المهدی فاستمعوا واطیعوا " یعنې دا د الله تعالی خلیفه مهدی دي د ده خبره واورئ او تابعداري یې وکړئ.
او بله علامه یې دا ده چې د دی کال په رمضان کې به لمر او سپوږمۍ تندر نیسي، کذا ذکره مولانا رفیع الدین رحمه الله. ابدال او عصائب ورسره بیعت کوي او د عربو فوج به د ده مدد لپاره راجمع کیږي او د کعبې د دروازې مخې ته چې کومه خزانه دفن شوی ده چې تاج الکعبة ورته ویل کیږي هغه به راوباسي او مسلمانانو کې به تقسیموي، کله چې دغه خبره مسلمانانو کې خوره شي نو یو خراساني امیر چې د فوج مشر او سپه سالار به منصور نومي یو سړی وي د امام مهدی مدد لپاره به راشي، لکه چې ابوداؤد روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی چې د ماوراء النهر یعنی د خراسان د ملک نه یو شخص حارث حراث مدد ته به راځي لکه څنګه چې قریشو د نبی کریم صلی الله علیه وسلم مدد کړی دی، په هر مسلمان باندی د ده مدد واجب دی.
ابوداؤد د ام سلمه رضی الله عنها نه روایت کړی دی چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : د یو بادشاه په مرګ سره به اختلاف پیدا شي نو د مدینې اوسیدونکي یو سړی په منډه مکې ته راشي مکې اوسیدونکی به هغه کور ته وغواړي او دی به انکار کوي نو د رکن او مقام تر منځ به ورسره بیعت وکړي او د شام فوج به وربانډی حمله وکړي، د مکې او مدینې تر منځ د بیداء په مقام کې به ځمکه کې ننوځي، کله چې خلک دغه حال ووینې نو د شام نه ابدال او د عراق نه عصائب به راشي ده سره به بیعت وکړي او بیا د قریشو یو قوم چې د کلب قبیلې وي امام مهدي باندی حملې لپاره فوج ولیږي او ټول به ناکام شي امام مهدي او د ده ملګري به غالب شي او دی فوج ته کلب ویل کیږي، امام مهدي به په نبوي سنتو باندی عمل کوي او په ځمکه باندی به اسلام ښه خوروي او اوه کالو پوری به ژوندی پاتې کیږي او بیا به وفات کیږي او مسلمانان به پری د جنازې لمونځ کوي، د دی ټولو حدیثونو تفصیل په زجاجة المصابیح باب اشراط الساعة ۲۵۰/۱۴ کې وګورئ.

قصه : امام مهدي به د اسلام لښکر سره مکې نه مدینې منورې ته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د قبر مبارک زیارت لپاره راځي او بیا لدی ځای نه د شام علاقې دمشق ته ورځي او نصاراوُ به چې د (۸۰) جنډو لاندې چې د هری جنډې لاندی به دولس زره فوج وي د ده مقابلې ته راشي ، لکه چې امام بخاري دا روایت کړی ، او دمشق ته نژدې وابق یا عماق کې ایسار شي او د دوی مقابلې ته امام مهدي د دمشق نه لـه فوج سره راووځي ، دوی به وایي : کومو مسلمانانو چې ځمونږ کسان نیولي هغه مونږ ته وسپارئ مونږه یې وژنو ، امام مهدي به وفرمایي : والله چې مونږ به خپل ورونه درنه کړو نو مسلمانان به دری ډلی شي یوه ډله به د نصاراو له ویری نه وتښتي د دوی توبه به الله تعالی چیری هم نه قبلوي یعنی د کفر په حالت کې به مري او اسلام به ورته نه نصیب کیږي او بله ډله به شهیدان شي او د الله تعالی په نزد به د افضل الشهداء مرتبه وموميي ، او دریمه ډله به کامیاب شي او همیشه لپاره به د فتنې نه په امن کې پاتې شي ، دا روایت امام مسلم نقل کړی مګر په صحیح مسلم کې د دمشق د ښار په ځای د مدینې لفظ د ښار په معنی کې راغلی لیکن علماوُ همدیته دمشق ویلی دي لهذا دا ولیکل شو .

او د دغی ډلی په نصاراو باندې د کامیابیدو تفصیل لکه څنګه چې امام مسلم د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په روایت له نبی کریم صلی الله علیه وسلم کړی دی ، دا دی : لدی ډلی سره چې کله امام مهدي مقابل شي نو مسلمانان به دا قسم وخوري چې یا یې وژنو او یا به مړه کیږو ، تر ماښامه پورې به جنګ وشي او آخر کې دواړه ډلې خپلو خپلو مرکزو ته واپس شي دویمه ورځ به بیا ډیر خلک په قسم خوړلو سره د امام مهدي سره د جنګ میدان ته راشي ټوله ورځ به جنګ کوي او ډیر به په ځوانمردی سره د شهادت جام نوش کړي آخر به دواړه ډلې واپس شي ، دریمه ورځ به همداشان لوی جماعت بیا قسم خوړلو سره د جنګ میدان ته راشي او ټوله ورځ به همدغه شان وښتي بهیږي او دواړه ډلې به د ماښام وخت کې خپلو خپلو خیمو ته لاړ شي ، څلورمه ورځ چې کوم مسلمانان پاتې دي د امام مهدي سره بیا د جنګ میدان ته راشي او داسې شجاعت او بهادری سره به جنګ کوي چې د نصاراوُ دمرو څخه انبارونه جوړ کړي تردی پورې چې که پدی لاشو باندې مرغی والوزي نو د یو سر نه به تر بل سر پورې ونشي رسیدلی ، آخر نصارا به لوی ناکامي سره مخ شي ډیر زیات به جهنم ته ورسي او پاتې شوي به په وارخطایی سره وتښتي او بیا به امام مهدي د اسلام بهادرانو نه بې شمیره

انعامونه ورکړي او د غنیمت مال به تقسیم کړي لیکن خلکو ته به پدی وجه چی ډیر خپل خپلوان یی شهیدان شوي وي پدی سره څه خوشحالي ونه رسي تر دی پورې د کومی قبیلي چی سل کسان وو د هغوی یو کس پاتی شوی وي نو هغه به په کوم غنیمت سره خوشحال شي او کوم میراث به تقسیموي .

لدینه وروسته به امام مهدي داسلامي ملک انتظام او دلښکر جمع کولو اهتمام وکړي او قسطنطینیه باندی به حمله وکړي ترڅو هغو نصاراو ته شکست ورکړي کومو چی سلطان دهغه ځایه ویسلې و ، او ددی تفصیل دامام مسلم درروایت مطابق چی دابو هریره رضی الله عنه نه یې کړی دادی : کله چی امام مهدي سره دزیات فوج نه قسطنطینیه محاصره او راګیر کړی یعنې داسحاق اولادونه او یازره مسلمانان به یې محاصره کړی او ددی یو طرف ته دریاب او بل طرف ته یې وچه ده نو داسحاق اولادونه به دلا اله الا الله والله اکبر اواز اوچت کړی نو ددریاب طرف ته دیوال به راپریوځي او چی دویم ځل دلا اله الا الله والله اکبر دتکبر آواز اوچت کړی نو دوچی طرف دیوال به راپریوځي او چی کله به دریم ځل دلا اله الا الله والله اکبر دتکبیر آواز اوچت کړی نو لاره به ورته خلاصه شي او ښار ته به ننوځي. او کافران به ووژني او توری به دزیتون په ونو کی زوړندی کړی او دغنیمت مال تقسیم به شروع کړي اوپدی وخت کی به څوک دا آواز وکړي چی ولې ناست یې دجال ستاسو کورو نو ته راغلی چی کله دده په لټه کی راووځي نو پته به ولګي چی داخبره دروغ بلکی دا آواز دشیطان و .

او بیا چی داسلام لښکر دشام طرف ته واپس شي نو دجال به راووځي ، حاصل داچی دجال به دقسطنطینیه دفتح نه وروسته راووځي ، یو ځل به دده دراوتو خبر په دروغه مشهور شي نو امام مهدي به لس سواره کسان دده په لټه کی ولیږي ، په مسلم کې د حضور اکرم صلی الله علیه وسلم نه روایت دی چی ددی سواره کسانو نومونه او ددوی دآسونو رنګونه پیژنم او دوی به دهغه وخت دټولو ځمکې دسورونه افضل وي نو معلومه به شي چی داخبره دروغ ده ، اوسه پورې دجال نه دی راوتی ، لدینه وروسته به امام مهدي په مزه دملک بندوبست کولو سره شام ته راشي بیا به دجال راووځي

(عقائد اسلام له ۱۸۱ نه ۱۸٦ صفحی پوری .)

دامام مهدي او حضرت عيسى عليه السلام سره ملاقات

داهل سنت والجماعت عقيده ده چي حضرت عيسى عليه السلام لره الله تعالى ژوندى آسمان ته اوچت کړی او دقيامت نزدى وخت کی به دنيا ته تشريف راوړی او دجال به قتلوي ، دصحيح حديثو څخه دده راتلل ثابت دى او ددى تفصيل دادى چي په عقائد اسلام کی دي : مسلم روايت کړيدى چي کوم وخت کی دجال راظاهر شي نو الله تعالى به عيسى ابن مريم راوليږي دى به ددمشق ښار سرقى سپين منارى باندى زيړو جامو کی ددوه فرشتو په اوږو باندى لاس ايښودو سره راکوزيږي ، کله چي سر راټيټ کړي نو دخولى څاڅکي جوړى شي او چي کله سر اوچت کړي نو دملغلرو د دانو پشان څاڅکي به راپريوځي ، او بيا به دامام مهدي سره ملاقات کوي امام به په عاجزي سره وړاندى کيږي او وايي به اى نبي ته وړاندى شه او امامت وکړه بيا به حضرت عيسى عليه السلام وفرمايي : نه بلکى ته امامت وکړه او زه خاص ددجال قتلولو لپاره راغلى يم ، دمسلم ديو روايت نه داسي معلوميږي چي حضرت عيسى عليه اسلام به امامت کوي ، او دبل روايت نه داثابتيږي چي ددى امت دتعظيم او تکريم لپاره به امام مهدي امام جوړ کړى شي ، په مسلم شريف کی دي : " اخبرنى نافع مولى ابى قتادة الانصاري انه سمع اباهريرة يقول قال رسول الله صلى الله عليه وسلم كيف انتم اذا نزل ابن مريم فيكم فامكم " اوبل روايت کی دي : " عن ابى جريح قال اخبرني ابو الزبير انه سمع جابر بن عبدالله يقول سمعت النبى صلى الله عليه وسلم يقول لاتزال طائفة من امتى يقاتلون على الحق ظاهرين الى يوم القيامة قال فينزل عيسى بن مريم صلى الله عليه وسلم فيقول امير هم تعال صل لنا فيقول الا ان بعضكم على بعض امراء تكرمة لهذه الأمة "او يوبل روايت دى : " عن ابى هريرة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال كيف انتم اذا انتم اذا نزل فيكم ابن مريم فامكم منكم " الخ (مسلم شريف ۱/ ۸۷ باب نزول عيسى عليه السلام) نوعلماؤددى تطبيق داسي کړيدى چي اول ورځ خو به امام مهدي لمونځ ورکوي ددى امت دتکريم اظهار اوبيا وروسته به عيسى عليه السلام لمونځ ورکوي پدى سبب چي دى دالله نبي دى (والله اعلم) او عيسى عليه اسلام به ددجال دقتل لپاره تيار وي ، لکه څنګه

چې دمسلم دروایت نه ثابتیږي چې دعیسی علیه السلام په پوکې کې به داتاثیر وي چې کوم کافر ته دغه هوا اوپوکې ورسي نو هغه به مړ کیږي 'و دده هوا به ترهغه ځایه پورې رسیږي چې کوم پورې یې نظر رسي ، نو دی به ددجال پسې شي او باب لد سره نژدې به یې قتل کړي (لد په شام کې دیو غر نوم دی او ځینې وایې چې په شام کې دیوه کلي نوم دی) او په نیزه سره به یې قتل کړي او وینې به یې خلکو ته وښایي او که عیسې علیه اسلام دده په قتل کې تادی او جلتي نه واي کړې نو هغه کافر به پخپله دمالګې پشان ویلې کیدلو ، او بیا به داسلام لښکر ددجال لښکر چې زیاتره به یې یهودان وي ډیر زیات ووژني ، ابو داود دعبدالله بن عمر رضی‌الله عنه نه روایت کړیدی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فریمایلي دي : دجنګ عظیم کوم چې نصارا‌و سره وي او دقسطنطینه دفتح ترمنځ چې مسلمانان به یې کوي شپږ کاله فاصله وي او بیا اوم کال کې به دجال راوځي ، اوپه بل روایت کې دشپږو کالو په ځای دشپږو میاشتو فاصله ذکر شوې ده مګر اولنې روایت زیات صحیح دی . مطلب دا کله چې دجال او دده فوج ختم کړی شي نو امام مهدي او عیسی علیه السلام به دملک دوره وکړي او چاته چې ددجال تکلیف رسیدلی وي هغو ته تسلي ورکړي او دهغه دنقصان به په لفط او عنایت سره تدارک وکړي، لکه چې مسلم روایت کړی دی ، او حضرت عیسی علیه اسلام به حکم وکړي چې خنزیر دی قتل کړی شي او صلیب دی چې نصارا یې عبادت کوي مات کړی شي او دکوم کافر څخه به جزیه نه اخستل کیږي بلکې هغه دی اسلام راوړي، (کما رواه البخاري دمسلم .)

نو پدی وخت کی به په ټوله زمکه باندی اسلام خور شي او کفر به ختم شي او ظلم وستم به له دنیا نه ورک شي ، او کله چې ابو داود دنبي اکرم صلی الله علیه وسلم حدیث نقل کړی دحضرت امام مهدي خلافت به اوه کاله وي اوپه ځینو روایتونو کی اته او په ځینو کی نه کاله هم راغلی دی لدینه وروسته به امام مهدي له دنیا نه تشریف وړي او عیسی علیه السلام او مسلمانان به دده جنازه کولو سره دفن کړي ، پدی حساب سره دده ټول عمر به (۴۷، یا (۴۸) اویا (۴۹) کاله وي ابو داود ۲/ ۲۴۰)

لدینه وروسته به ټول اختیارات دحضرت عیسی علیه السلام سره وي ، او عالَم به په ښه حالت کی وي الخ.(عقاید اسلام ص ۱۸۸ ، ۱۸۹) فقط والله اعلم بالصواب .

دسالگری (کلیزی) څه حکم دی ؟

(۲۵ سوال) پدی لاندی مسئله کی د دین علماء او مفتیان صاحبان څه فرمایي ، په برطانیه (انګلینډ ، یو کی) کی په عیسایانو کی د بچی سالګره (برتهـ ډی) لمانځلو رواج دی د بچی د پیدا کیدو چی کوم تاریخ وي هر کال پدی تاریخ باندی خپل خپلوان او دوستان راغونډوي او ځینی وختو کی رسیل سرور اهتمام هم کوي او خلک د خپل حیثیت مطابق تحفی او تحائف ورکوي او د سالګری د ورځی په مناسبت یو خاص قسم کیک جوړولی شي چی د هغه اوږدوالي او پلنوالي د بچی د عمر په مناسبت سره وي او کیک باندی د بچی د عمر مطابق شمعی بلولی شي که د پنځو کالو بچی وي نو پنځه شمعی او که د شپږو کالو نو شپږ شمعی بلولی شي ، د ماښام په وخت کی چی ټول میلمانه راجمع وي پدی وخت کی د کوم بچي چی سالګره وي په پوکی سره دغه شمعی مړی کړی ، که په یوه پوکی سره ټولی شمعی مړی شي نو دیته په ډیر ښه نظر سره ګوري او په چک چکو سره محفل کی یو شور جوړ شي او بیا وروسته هغه ماشوم پخپل لاس سره هغه کیک پریکوي او پدی مجلس کی هپی برتهـ ډې تو یو (Happy birth day to you) (تا ته دی سالګره مبارک وي) د سندرو په طرز کی ویل کیږي ، دا د عیسایانو طریقه ده چی په دوی کی رواج لري خو په ورو ورو دا رسم په مسلمانانو کی هم رواج شوی ، هندوستاني او پاکستاني زیاتره مسلمانان پدی طریقه باندی " د سالګری رسم " لمانځي ، له تاسو نه احترامانه هیله ده چی د دی مسئلی د شریعت په رڼا کی تفصیلي وضاحت وکړئ ، الله پاک دی درته جزاء خیر درکړي ، لری نه ده چی ستاسو د لیک په ذریعه مسلمانانو ته هدایت حاصل شي ، مهرباني (باټلي ، انګلینډ) .

ځواب : د حضور اقدس صلی الله علیه وسلم وړاند وینه کړی او فرمایي : " لتتبعن سنن من قبلکم شبرا بشبرو ذراعا بذراع حتی لو دخلوا حجر ضب لتبعتموهم قلنا یارسول الله صلی الله علیه وسلم الیهود والنصار یقال فمن ؟ " (عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه) .

حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : تاسو خلک به خامخا قدم په قدم تیر شوو قومونو پسی ځئ (یعنی د

هغوی به مکمل پیروي کوئ) تر دی پوری که هغوی د سیمخار په سوري کی ننوتي وي نو تاسو به هم هغه شان کوئ ، مونږه وویل چی د مخکینو قومونو څخه یهود او نصارا مراد دي ؟ ارشاد یی وفرمایل : نور څوک دي ؟ (بخاري شریف ۲/ ۱۰۸۸ باب قول النبی صلی الله علیه وسلم لتتبعن سنن من کان قبلکم) .

او همدراز د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : " عن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لیأتین علی امتی کما أتی علی بنی اسرائيل حذو النعل بالنعل حتی ان کان منهم من اتی امه علانیة لکان فی امتی من یصنع ذلك " ترجمه : د عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : خامخا زما په امت کی به هم هغه تولی خبری پیدا کیږي کوم چی بنی اسرائیلو کی وي تر دی پوری چی که په بنی اسرائیلو کی یو چا د خپل مور سره ښکاره زنا کړي وي نو زما په امت کی به هم داسی سړی پیدا کیږي چی دغه کار به کوي .

(مشکواة شریف ص ۳۰ باب الاعتصام بالکتاب والسنة فصل نمبر ۲)

کوم خلک چی رسول الله صلی الله علیه وسلم رشتونی پیغمبر مني او د ده کلمه وایي ایا هغه په سوال کی ذکر شوي حرکتونه کولی شي ؟ توبه ، استغفر الله ، دا جاهلانه او کافرانه رسم هغه خلک کولی شي چي د ایمان نه محروم او یا ډیر ضعیف الایمان وي ، په تفسیر بیضاوي کی دي : " وانما عد لبس الغیار وشد الزنار ونحوهما کفراً لانها تدل علی التکذیب لانها کفر فی انفسها " یعنی د غیار اغوستل او د زنار (نیکتائي) تړل او د دوی پشان د نورو شیانو اختیارول کفر دی ځکه چی دا څیزونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تکذیب باندی دلالت کوي ، ځکه کوم سړی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم نبي ګڼي هغه پدی څیزونو باندی جرئت نشي کولی او که نه دا شیان د خپل ذات په اعتبار سره موجب د کفر ندي (تفسیر بیضاوي ص ۲۳ سورت بقره) .

د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : " من تشبه بقوم فهو منهم " یعنی کوم سړی چی د کوم قوم سره (صورتاً) هم مشابهت اختیار کړي هغه د هماغه قوم نه حسابیږي .

شکواة شریف کتاب اللباس فصل ثانی ص ۳۷۵) .
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمـان دی : " لایؤمن احدکم حتی یکون هواه تبعا
جئت به " په تاسو کی یو سړی تر هغی پوری کامل مـؤمن نشـي کیـدی څـو پـوری
ي د هغه خواهش زما د راوړي دین تابع نه شي (مشکواة شریف ص ۳۰) .
خ عبدالقادر جیلاني رحمـه الله فرمـایي : " اما بقولك انا من امته من غیر متابعـة
فعك اذا تبعتموه فی اقواله کنتم معه فی صحبته فی دار الاخرة " .
جمه : (د رسول الله صلی الله علیه وسلم) دتابعداری نه بغیر ستا دا وینا چـی زه د ده
ني یم تا ته څه فایده نه کوي ، کله چی تاسو د رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم پـه
والو او افعالو کی تابعداري وکړئ نو په آخرت کي به درته د رسول الله صلی الله علیه
سلم ملګرتیا نصیب شي (الفتح الربانی ص ۱۷۸ مجلس نمبر ۲۵) .
پردی قوم سره د مشابهت کولو ډیر مذمت بیان شوی دی ، علامه ابـن حجـر هیثمـي
پل کتاب " الزواجر عن اقتران الکبائر " کی د مالك بن دینار په روایت سـره د یـو
ي وحي نقل کـړی : " وقال مالك بن دینار اوحی الله الی نبی من الانبیاء ان قـل
ومك لایدخلوا مداخل اعدائی ولایلبسوا ملابس اعدائی ولایرکـب مراکـب
عدائی فیکونوا اعدائی کما هم اعدائی " .
رجمه : الله تعالی د نبیانو نه یو نبي ته وحي وکـړه چـی خپـل قـوم تـه وواېـه : زمـا د
شمنانو د داخلیدو ځایو ته هم مه داخلیـږئ او زمـا د دشـمنانو پشـان جـامی هـم مـه
غوندئ او زما د دشمنانو د سورلو پشان سورلو باندی هم مه سوریږئ (یعنی د دوی نـه
هر څه کی امتیازي شان پیدا کړئ) او د ټولو نه ښه امتیاز پـه هغـه طریقـه کـی دی
ی د پیغمبر علیه السلام سنت وي) چی چیرته دوی هم زما د دشمنانو په شان دشـمن
نه ګرځي (الزواجر عن اقتران الکبائر ص ۱۵ مقدمه ، خاتمه فی ا لتحذیر من جملة
لعاص صغیرها و کبیرها) .
ډاکتر علامه اقبال په جواب شکوه کی لیکي :

شـــور ہے ہـو گئے دنیـا سے مسـلمان نـابود
ہم یہ کہتے ہیں کہ تھے بھی کہیں مسلم موجود

وضع میں تم ہو نصاری تو تمدن میں ہنود
یہ مسلمان ہیں جنہیں دیکھ کر شرمائیں یہود

یعنی یو شور دی چی دنیا نه مسلمان ختم شو ، مونږه وایو چی مسلمان لاموجود کوم ځای وٌ؟ په شکل کی خو نصارا یی او په تمدن کی هندوان یی دا مسلمان دی چی په لیدو یی یهود شرمیږي .

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کی د سالګری لپاره خلک نشو رادعوت کولی بلکی ختنه چی سنت ده او د اسلام له شعائرو نه ده دی لپاره هم خلکو ته په دعوت ورکولو سره د جمع کولو رواج نه وٌ . د حضرت حسن رضی الله عنه نه روایت دی چی حضرت عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه ته چا د ختنی (سنت ګیري) دعوت ورکړ او هغه قبول نه کړ او وی فرمایل چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک دور کی مونږ خلک د ختنی پروګرام ته نه تللو او نه به چا ته د دی دعوت ورکولی شو (مسند امام احمد ۲۱۷/۴) .

د سالګری رسم خالص د غیر قومونو رسم او رواج او طریقه ده په مسلمانانو باندی لازم دي چی د ذکر شوی طریقی نه ځان وساتي او که نه د دوی د نحوست نه ایمان په خطره کی دی .

(معاذ الله اللهم اهدنا الصراط المستقیم) .

د الله تعالی ارشاد دی : " ولاترکنوا الی الذین ظلموا فتمسکم النار ومالکم من دون الله من اولیاء ثم لاتنصرون " ترجمه : (ای مسلمانانو !) ظالمانو طرف ته میلان مه کوئ هسی نه چی د دوزخ اور درته ورسي (پدی وخت کی) د الله تعالی نه سیوا بل هیڅوک ستاسو دوستان نه وي او بیا به درسره څوک مدد نه کوي (سورت هود) .

شرعاً چری د کومو کارونو کول ضروري دي د هغه متعلق احکام موجود دي او پدی احکامانو باندی د عمل کولو لپاره الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذات اقدس مونږ لپاره نمونه جوړه کړه لکه چی الله تعالی فرمایي : " لقد کان لکم فی رسول الله اسوةٌ حسنةٌ لمن کان یرجوا الله والیوم الاخر وذکر الله کثیراً " ترجمه :

تاسو لپاره یعنی هغه سړي لپاره چی د الله تعالی او د قیامت نه ویریږي او په کثرت سره د الله ذکر کوي رسول الله صلی الله علیه وسلم بهترین نمونه دی (سورت احزاب) .
او بل خای ارشاد فرمایي : " ماآتکم الرسول فخذوه وما نهکم عنه فانتهوا "
ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم چی درته کوم شی درکوي هغه واخلئ (عمل پری وکړئ) او د کوم شي نه چی تاسو منع کوي نو له هغه نه منع شئ (سورت حشر) .
لهذا د رسول الله صلی الله علیه وسلم چی کوم مبارک نمونه وي د هغه مطابق د عمل کولو ضرورت دی او د دغه مبارک نمونی پریښودو سره د غیر قومونو نه په سوال سره د دوی طریقه اختیارول د نعمت ناشکري او ګمراهی دلیل دی .
صحابه کرامو دغه مبارک نمونه ځانته د لاری مشال جوړه کړی وه او د دی مطابق یی خپله زندګي جوړه کړی وه ، نو لوی لوی کارنامی یی وکړی چی تر قیامته پوری به یادګار پاتی وي د الله تعالی غیبي امداد ورسره شامل حال ؤ او د دشمنانو په زړه کی یی رعب واچولو او د مدد لپاره یی ملائکی ولیږلی لکه چی د بدر غزا په موقع کی فرمایلي : " اذ یوحی ربك الی الملائکة انی معکم فثبتوا الذین آمنوا سألقی فی قلوب الذین کفروا الرعب "
ترجمه : هغه وخت رایاد کړئ کله چی ستا رب فرشتو ته حکم وکړ چی زه ستاسو ملګری یم (مددګار یم) نو د مؤمنانو همت ورزیات کړئ زه اوس د کافرو په زړونو کی رعب غورځوم (سورت انفال) او د احد د غزا په موقع باندی ارشاد فرمایي : " سنلقی فی قلوب الذین کفروا الرعب بما اشرکوا بالله مالم ینزل به سلطاناً ومأواهم النار وبئس مثوی الظالمین " .
ترجمه : اوس به مونږ د کافرانو په زړونو کی رعب (هیبت) وغورځوو په سبب د شریکولو د دوی الله تعالی سره داسی څیز چی هغه باندی الله تعالی هیڅ کوم دلیل ندی نازل کړی ، او د دوی ځای جهنم دی او دا ډیر بد ځای دی (سورت آل عمران)
مدینه منوره ته نزدی د یهودو یوه قبیله " بنو قریظه " اوسیده او دوی به د مسلمانانو ختمولو او دوی ته د تکلیف رسولو سازشونه کول ، دوی سره د مسلمانانو مقابله وشوه پدی موقع باندی دا آیت کریم نازل شو " وانزل الذین ظاهروهم من اهل الکتاب من صیاصیهم وقذف فی قلوبهم الرعب فریقاً تقتلون وتأسرون فریقاً "

ترجمه او کومو اهل کتابو چی د دوی مدد کړی وُ هغوی لره د خپلو کلاګانو نه راکوز کړل او دهغوی په زړونو کی یی ستاسو رعب واچولو نو ځینی مو قتلول او ځینی مو قیدول (سورت احزاب) .

د یهودیانو بله قبیله " بنو نظیر " هم مدینی منوری ته نزدی اباده وه د دوی سره د مقابلی په وخت کی دا آیت کریمه نازل شو " وقذف فی قلوبهم الرعب یخربون بیوتهم بایدیهم وایدی المؤمنین فاعتبروا یااولی الابصار "

ترجمه : او دهغوی په زړونو کی رعب وغورځولو چی خپل کورونه یی پخپلو لاسونو او دمسلمانانو په لاسونو ورانول نو ای دی عقل خاوندانو لدی حالت نه عبرت واخلئ (سورت حشر) دا ټول د شریعت او د سنت د پیروي ثمره ده ، چا څه ښه ویلي دي :

هوا هے دامن گلچین هی کوتاه ورنه گلشن مین
وهی هے لاله وگل وهی هے برگ و بار اب بهی
اگر پهلو مین دل هو او تړپ اسلام کی دل مین
برس سکتا هے ابر رحمت پروردگار اب بهی
فضائے بدر پیدا کر فرشتے تیری نصرت کو
اتر سکتے هین گردون سے قطار اندر قطار اب بهی

یعني په گلشن کی د ګلانو کمی نشته خو لیکن لمن تنګه شوی ده .

که په سینه زړه کي وي او د اسلام لپاره دردمن وي نو اوس هم د الله تعالی رحمت څه لری نه دی .

که د بدر پشان ماحول پیدا کړی نو د مدد لپار فرشتی اوس هم راتلی شي .

په حدیث کی هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد دی : " من حفظ سنتی اکرمهم الله تعالی باربع خصال المحبة فی قلوب البررة والهیبة فی قلوب الفجرة والسعة فی الرزق والثقة فی الدین " .

ترجمه : چا چی زما د سنتو حفاظت وکړ (په صداقت سره وربادندی عمل وکړ) نو الله تعالی به ورته په څلورو خبرو عزت ورکړي (۱) د نیکانو خلکو په زړونو کی به د ده محبت پیدا کړي (۲) د فاجرانو او بدکارانو په زړونو کی به د ده هیبت واچوي (۳) په

رزق کی به ورته وسعت او برکت نصیب کړي (۳) او په دین کی به ورته پوخوالی نصیب کړي (شرح شرعة الاسلام ص ۸ سید علی زاده) فقط والله اعلم

د قادیانیانو څه حکم دی؟ د دوی ذبیحه حلاله ده یا حرامه؟

(۲٦ سوال) محترم او معظم حضرت مولانا مفتي سید عبدالرحیم لاجپوري صاحب . السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ، الله تعالی دی وکړي چی طبیعت مو ښه وي . د یوی مسئلی تحقیق پکار دی ، ځینی علماء فرمایي ، که چیرته یو سړی اول مسلمان وي او بیا وروسته قادیاني شو نو هغه مرتد دی او پده باندی د مرتد احکام جاري کیږي ، لیکن کوم سړی چی د ابتداء نه (یعنی پیدائشي قادیانی وي کوم چی نن صبا د زیاترو قادیانیانو حال دی) نو هغه د اهل کتابو په حکم کی دی " ایا دا خبره صحیح ده؟ که صحیح وي نو د دوی د ذبیحی څه حکم دی؟ امید دی چی د دی ځواب راکړئ .

ځواب : دقادیانیانو اولاد (نسلی مرزائي قادیانی) چی غلام احمد ته نبي یا کم ترکمه مسلمان وایي نو بیا هم هغه کافر وي ، ددوی ذبیحه مرداره او حرامه ده ، دوی ته داهل کتابو حکم ورکول ذهن ته نه په پریوځي ، علامه شامي غالي روافض کافر ګڼي او دوی ته اهل کتاب نه وایي نو دقادیانیانو اولاد به څنګه اهل کتابو څخه وشمیرل شي؟

" والطاهر ان الغلاة من الروافض المحکوم بکفر هم لاینفکون عن اعتقاد هم الباطل فی حال اتیاهم بالشهادتین وغیرهما من احکام الشرع کالصوم والصلوة فهم کفار لا مرتدون ولا اهل کتاب " (رسائل ابن عابدین ص ۳۷۰ چا سهیل اکیډمي لاهور پاکستان .)

حضرت مولانا محمد یوسف لدهیانوي رحمه الله چی پدی موضوع کی کافي بصیرت لري اودقادیانیت په رد کی څو رسالي هم لیکلي دي په یوه رساله کی داسي لیکي ددی ټول بحث خلاصه داده

° کوم سړی چی پخپله قادیانیت طرف ته واوړیدو هغه مرتد هم دی او زندیق هم .

° او دده سکه اولادونه هم دخپل مور پلار دتابع کیدو په وجه حکماً مرتد دی او زندیق هم

° دده داولادونو اولاد مرتد نه دی بلکی خالص زندیق دي .

° مرتد او زنديق دواړه واجب القتل دي لدی دواړو نه وادہ کول باطل او ددواړو ذبيحه مرداره ده ، پدی وجه دهيڅ يو قادياني ذبيحه په هيڅ يو حال کې حلال نده . درساله قادياني ذبيحه ص ۲۴ ، ۲۵ شائع كوونكی عالمي مجلس تحفظ ختم نبوت حضوري باغ روډ پاکستان . فقط والله اعلم .

دقيامت دعلامو ثبوت

۲۷سوال : ايا رسول الله صلى الله عليه وسلم دقيامت علامی ښودلې دي ؟ كه يې بيان کړی وي نو هغه کومې دي ، دغه په وضاحت سره بيان کړئ ، دلته يو دوه كسان دانه مني .

ځواب: لکه څنګه چې دکوم عظيم الشان څيز دفنا کيدو نه وړاندی څه آثار او علامې ظاهريږي همدا شان ددنيا دفنا کيدو نه وړاندی دعلامو او دآثارو ظاهريدل ثابت دي ځکه چې ددنيا فنا کيدل هم يو عظيم الشان کار دی ، په مبارکو حديثو نو کی دغه علامې بيان شويدي او دحضور اقدس صلى الله عليه وسلم نه ثابت دي لکه چې په آينده کې به بيان شي نو پدی وجه ددی منل پکار دي ، علامې په دوه قسمه ده .

(۱)علامات صُغری (۲) علامت كُبری . دامام مهدي ترظاهريدو پورې چې کومی علامې راښکاره کيدونکې دي هغه علامات صغری دي اودامام مهدي دظاهريدو نه وروسته دشپيلي ترپوکيدو پورې چې کوم علامی راڅرګنديږي هغه علامات کبر ی دي او لدی څخه دقيامت ابتداء كيږي ، دلته يو څيو صغری او کبری علامې بيانولې شي ،

دی خبرې ته مو بايد فكر وي چې کوم اختيار کارونه دقيامت دعلامې دي هغه ګناهونه دي (فتاوی رحيميه ۲/ ۱۶۵)لهذا دداسې علامو چې دبندګانو داختياري کارونو سره تعلق لري دبيانولو مقصد دادی چې خلک دغفلت له خوبه راويښ شي او دګناهونو څخه توبه وباسي او دنفس اصلاح وکړي ، دچا حقوق چې وربانـدی پاتې وي هغه اداکړي ، او دقيامت کومی علامې چې بيان کړی شوي له هغونه دځان ساتلو پوره کوشش وکړي ، او قابل دغور خبره داده : په سوونو کاله وړاندی چې رسول اكرم صلى الله عليه وسلم کومه نقشه راويستلې وه هغه هو بهو مخی ته راځي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کومې خبرې بيان کړی وی هغه پوره شوي په نظر راځي لدينه درسول الله دنبوت صداقت هم ثابتيږي : يو حديث کی دي : " عن انس رضی الله عنه قال

سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول ان من اشراط الساعة ان يرفع العلم ويكثر الجهل ويكثر الزنا ويكثر شرب الخمر ويقل الرجال ويكثر النساء حتى يكون لخمسين المرأة القيم الواحد " (متفق عليه)
ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه نقل دی چی مادرسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا اوریدلي دي : دقیامت د علاموڅخه داهم دی چی علم پورته کړی شي (یعني رو روبه رباني علماء ختم شي) او ناپوهي به زیات شي ، او زنابه زیات شي ، شراب خوري به زیاته شي ، سړی به کم شي او ښځي به دومره زیاتې شي چی د(۵۰) ښځو لپاره (ځینې ځایو او یا ځینې وختونو کې) یو سرپرست وي (مشکواة شریف ص ۴۶۹ باب اشراط الساعة)
علامه ابو محمد عبدالحق دهلوي دتفسیر حقاني مفسر خپل مشهور کتاب " عقائد اسلام " کی لیکي : بخاري او مسلم دانس رضی الله عنه په روایت له نبي صلی الله علیه وسلم نه روایت کړیدی چی دقیامت علامې دادي : (۱) علم به پورته شي (۲) جهل به زیات شي (۳) زنا او شراب خوري به زیات شي (۴) ښځې زیاتې او سړي به کم تردی پورې چی په ځینې ځایونو کې د (۲۰) ښځو کارکوونکی به یو سړی وي ، په صحیح مسلم کی له جابر رضی الله عنه نه نقل دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : دروغ به ډیر زیات شي ، په صحیح بخاري کې دابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی چی لوی لوی کارونه به نا أهل کسانو ته حواله کړی شي ، په صحیح مسلم کی د ابو هریره رضی الله عنه نقل دي چی خلک به ددنیا تکلیفونو په سبب دمرګ آرزو وکړي ، اوترمذي دابو هریره رضی الله عنه نه روایت کړی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : سرداران به د جهاد غنیمت مال خپل حصه وګڼي او دچا امانت مال به غنیمت ګڼلو سره خیانت کړي او زکات ورکول به جرمانه وګڼي او علم به ددنیا لپاره کوي ، سړی به دخپلې ښځې تابع او دمور نافرماني کوي او دوست به نزدی او خپل پلار به لرې کړي ، په جوماتو کې به شور کو ي او چیغې به وهي او فاسق خلک به دقوم سرداران جوړشي او رذیل خلک به دقوم ضامن وي ، او دبدي له ویرې به دبنده تعظیم او احترام کوي ، باجې دوکړی به په ښکاره غږیږي، شراب خوري به وي دامت وروستي خلک به اولنو باندی لعنت کوي نو پدی وخت کی دسختې سیلې

انتظار کوئ چې دسور په رنګ به وي او دزلزلې ، خسف او دمسخ او دقذف هم الخ (عقائد اسلام ص ۱۸۰)

حضرت شاه رفیع الدین صاحب محدث دهلوي په " علامت قیامت " کې لیکي دقیامت دعلامات صغری متعلق دحضرت محلی کرم الله وجهه نه روایت دی چې رسول الله فرمایلي دي : کله چې حاکمان دخمکې او دملک محصول او ټیکس خپل ذاتي دولت وګرخوي (یعنې داپه شرعي مصرف کې ونه لګوي) او زکات دتاوان په طور اداکړي ، او خلک دامانت مال دغنیمت پشان (کوم چې جهاد کې دکافرو نه حاصلولې شي) حلال وګڼي خاوند دخپلې ښځې بې حاې تابعداري وکړي او زوی دمور پلار نافرماني وکړي او دناکاره خلکو سره دوستي وکړي . او علم دین ددنیا لپاره زده کړی شي ، په هره قبیله او قوم کې داسې خلک مشران شي چې په ټولو کې زیات کمینه ، بد اخلاق او لالچي وي ، انتظامات به داسې خلکو ته حواله کړی شي چې اهل او لائق نه وې ، دویرې او نقصان په وجه دداسې خلکو تعظیم او احترام وکړی شي چې دشریعت خلاف وي ، شراب به ښکاره څکلې کیږي ، دلهو ولعب او دنڅا او دسندرو آلات به عام شي ، زنا کاري به زیاته وي ، دامت وروستي خلک به مخکینو باندی لعن طعن شروع کړي نو پدی وخت کې دسره سیلي او دنورو علامو او عذاب انتظار کوئ لکه په زمکه ننوتل ، دآسمان نه دکاڼو وریدل ، دشکلونو بدلیدل ، لدینه علاوه نورې علامې به هم داسې قسم یو بل پسې ظاهریږي لکه څنکه چې دتسبیح مزی وشلیږي او دانې یې یو بل پسې راوغورځیږي ، نورو حدیثو کې راغلي دي (الی قوله) اغلام بازي (د هلکانو کار یعنې لواطت) او چاپې او مالش کول ، په جوماتو کې لوبې او ټوقې ، او د ملاقات په وخت د سلام په ځای کنځل کول ، د شرعي علومو کمیدل ، دروغ ښه ګڼل ، د زړونو څخه امانت او دینداري ختمیدل ، د فاسقانو علم زده کول ، د شرم او حیا ورکیدل ، د څلورو طرفونو څخه مسلمانانو باندې د کافرانو راغونډیدو سره دومره ظلم کول چې خان بچ کول ورته مشکل وي . د باطل مذهبونو ، د دروغو حدیثونو او بدعتونو زیاتیدل او خوریدل (علامات قیامت ص ۴ ، ۵) .

د حضرت ثوبان رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : داسې یوه زمانه راتلونکې ده چې کافران به یو بل سره په اسلامي ملکونو باندې قبضه کولو لپاره داسې راغواړي لکه چې دسترخوان باندې خوراک لپاره یو بل راغواړي . چا عرض وکړ یارسو الله صلی الله علیه وسلم ایا پدی وخت کې به

خمونږ تعداد کم وي ؟ وي فرمایل : نه بلکې پدی وخت کې به تاسو ډیر زیات یئ لیکن بالکل داسې لکه د اوبو د پاسه زګ او خس . او ستاسو رعب به د دشمنانو له زړونو څخه ختم شي او ستاسو په زړونو کې به سستي پیدا شي یو صحابي عرض وکړ چې یارسو الله صلی الله علیه وسلم سستي څه شی دی ؟ وی فرمایل : چې د دنیا سره محبت او د مرګ نه ویریدل (مشکواة شریف ص ٤٥٩ باب تغیر الناس ، ابوداوٗد شریف ۲٤۲/۲ کتاب الملاحم باب فی تداعی الامم علی الاسلام)

په حدیث کی دي " عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاتقوم الساعة حتی یتقارب الزمان فتکون السنة کالشهر والشهر کالجمعة وتکون الجمعة کالیوم ویکون الیوم کالساعة وتکون الساعة کالضرمة بالنار " (رواه الترمذی) .

ترجمه : د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی : قیامت ترهغی نه قائمیږي ترڅو پوری چې زمانه سره نزدی نه شي (چې د وخت تیریدل معلوم هم نه شي) نو کال به د میاشتی پشان شي او میاشت د هفتی پشان او هفته د یوی ورځی او ورځ د یو ساعت او لحظی پشان او یوه لحظه به د اور د شعلی پشان شي . (مشکواة شریف ص ٤٧٠ باب اشراط الساعة ، ترمذی ۵٦/۲ ، ۵۷ باب ما جاء فی تقارب الزمن ابواب الزهد) .

په الجواهر الزواهر ترجمه دالبصائر کی دي : خطیب دحضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه نه روایت کړی دی چې هغه رضی الله عنه نضله بن ساویه قادسي ته ولیږلو نو کله چې دمازدیګر وخت شو نضله اذان وکړ او الله اکبر الله اکبر یې وویل فوراً دغره نه یې یو جواب ورکوونکی آواز واوریدلو چې ویل یې ای نضله تا دلوی ذات لویي بیان کړه او بیا ده اشهد ان محمد ! رسول الله وویل . جواب راغې چې هغه ویره ونکې او زیرې ورکوونکې پیغمبر دی دچا چې عیسی بن مریم زیرې ورکړی او دده په امت باندی به دقیامت قائمیږي . (دده نه وروسته به ترقیامته پورې بل کوم نبي نه راځي) اوبیا هغه حی علی الصلوة وویل ، جواب راغی . مبارک دی هغه خوک چې دی طرف ته لاړ او ددی پابندي یې وکړه ، او بیا ده حی علی الفلاح وویل ؛ آواز راغی هغه خوک

کامیاب شو چی دمحمد صلی الله علیه خبره یې ومنله چی همدا دامت محمدی دبقاء سبب دی ، بیا ده الله اکبر الله اکبر ، لا الـه الا الله وویـل ، جـواب راغـې چـی تـاپوره اخلاص وښود ای نضله ! فلهذا الله تعالی ستابدن په دوزخ باندی حرام کړ بیا چی کله نضله داذان نه فارغ شو او ټول خلک راپاڅیدل نو دغره نـه چـی کـوم سـړی دمـوذن خواب ورکولو هغه ته ټولو وویل چی ته څوک یې ؟ الله تعالی دی درباندی رحم وکړی ته کوم فرشته یې یاکوم جن (پیری) یې او یا دغیبي بندګانو څخه کـوم سیاح هـاتف (غیبي اواز کوونکی) تاخپل آوازراته واورولو نو اوس راته خپل صـورت هـم وښایـه چـی مونږ دالله او دده درسول وفد یو او عمر بن الخطـاب لیـږلی یـو ، راوي وایـي چـی غـر وشلیدو او یوسپین ږیری بزرګ شخص ورته ښکاره شو چی په بدن باندی یې دوړیـو دوه څادرونه وو او السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته یې وویل ټولو ورته پـه وعلـیکم السـلام ورحمت الله وبرکاته سره جواب ورکړ ، ته څوک یې الله تعالی دی درباندی رحم وکـړی ، هغه وویل زه زرتب ولد یر تملا یم یو صالح بنده دعیسی بن مریم وحـی یم هغـی ماتـه پدی غره کی دپاتې کیدو او زما دعمر درازئ دعـا کـړی ده ترهغـه وختـه پـورې چـی دآسمان نه راکوز شي او خنزیـر ووژنـي ، او صـلیب مـات کـړی ، او نصاراو چـی کـوم محرمات حلال کړی و له هغو بیزاري ظاهر کړی ، نو محمد صلي الله علیـه وسـلم سـره ماته ملاقات نصیب نشو نو عمر رضی الله عنه ته زما سلام ورسوي او دا ورته ووایـي چـی ای عمره داعتدال او داحتیاط په لاره لاړشه چې وخت قریـب شـوی او هغـه تـه ددی خصلتونو خبر ورکړئ کوم چی زه تاسو ته بیانوم چی هغه په امت محمدي کـی راپیـدا شي نو بیا تښتي او څان وباسئ ، یعنی کله چې سړی له سړو او ښځې له ښځـو نـه خپـل ضرورت پوره کول شروع کړي .

(۲) او خلک به خپل څان دنورو خاندانو او نورو بادارانو طرف ته نسبت کړی .

(۳) او مشران به خپلو کشرانو باندی رحم نه کوي .

(۴) او نیکي به پرېښودل شي یعنې ددی حکم به نه ورکول کیږي اوبدی بـه نشـي منـع کولې .

(۵) او علم به پدې غرض حاصلولې شي چې دنیا او پیسې پرې وګټي.

(۶) او باران به بندشي .

(۷) او اولاد به سرنه ترپښو پورې عنیض وغضب جوړ شي .

(۸) او لوړ لوړی مناري جوړول به شروع شي .

(۹) او قرانونو باندی به دسرو او دسپینو زرو اوبه وخیژول شي .
(۱۰) او کورونه به محکم جوړولی شي .
(۱۱) او خلک به دخواهشاتو پیروي کوي .
(۱۲) او دین به ددنیا په بدل کی خرڅولي شي .
(۱۳) او وینی تویول او خپلولی پریکول به معمولي خبر گنلی شي .
(۱۴) او د حکومت خرڅول به شروع شي (یعنی څوک چی زیات رشوت ورکړي هغه بـه عهده حاصلوي) .
(۱۵) او سود خوړل به شروع شي .
(۱٦) او د عزت مدار به مالداري او دولت وګرځي .
(۱۷) او انسان چی د کـور نه وځي نو لـه ده نه بـهتر شـخص بـه د ده تعظـیم او سـلام ته ولاړ وي .
(۱۸) او ښځي به په زین باندی سورلي شروع کړي (اسکوټر بانـدی د خاونـد سـره بـی پردی او پخپله د ښځو اسکوټر چلول به عام شي) لدینه وروسته هغـه یعنـی زرنـب بنـد پرتملا غیب شو او چیرته هم تر ستر ګو نشو ، نو نضله بن معاویـه رضـی الله عنـه دا قصـه حضرت سعد بن ابی وقاص ته ولیکله او حضر سعد بیا حضرت عمر تـه لیکلـی ولیږلـه بیـا حضرت عمر فاروق حضرت سعد ته ولیکل : ای سعده مهرباني وکـړه د خپلـو مهـاجرو او انصارو ملګرو سره هغه غره ته لاړ شه نو که چیرته له هغه سره مو ملاقات وشو نو زما سلام ورته ووایه ، ځکه چی رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته خبر راکړی چی د حضرت عیسی علیه السلام کوم وصي د عراق په اطرافـو کـی پـدی غـر کـی اسـتوګن دی ، نـو حضرت سعد رضی الله عنه د څلورو زرو مهاجرو او انصارو سره روان شو او تر (۴۰) ورځـو پوری پدی غر کی پاتی شو چی د هر لمانځه وخت کـی بـه یی اذان کولـو مګـر هـیڅ ځواب رانغی (الجواهر الزواهیر ترجمه د البصائر ص ۲۸٦ ، ۲۸۷ (۵۵) بصیرت) .
تر دی ځای علامات صغری بیان شول اوس په لنـډه ډول علامـات کبـري لیکـل کیـږي چی د عقاید اسلام نه راخستل شوي دي ، څوک چی مزید تفصیل کتل غواړي نـو هغـه دی عقائد اسلام ، علامات قیامت او د حدیثو کتابونه وګوری :
امام مهدي به ظاهر شي او په ډیر عدل و انصاف سره به دنیا کی حکومت کـوي او بیـا ناڅاپه دجال راوځي او په دنیا کی به فساد جوړ کړي د ده قتل لپاره به حضرت عیسـی علیه السلام د آسمان نه راکوزیږي او باب لد سره به دجال قتل کړي ، کله چـی دجـال

او د ده فوځ ختم او نابود شي نو امام مهدي او عیسی علیه السلام به د ملک دوره وکړي او ځانته چې د دجال نه مصیبت او تکلیف رسیدلی وي هغه ته به تسلي ورکوي او پدی وخت کی به په ټوله ځمکه باندی اسلام خور شي او کفر به ختم شي او ظلم او ستم به له دنیا نه ورک شي ، د حضرت امام مهدي خلافت به بناء په اختلاف د روایتونو اوه یا اته کاله وي او بیا به دی وفات کیږي حضرت عیسی علیه السلام او مسلمانان به یې د جنازی لمونځ ادا کوي او دفن کوي به یې ، لدینه وروسته به ټول انتظام د حضرت عیسی علیه السلام په اختیار کی وي هر طرف ته به امن و سکون وي پدی وخت به عیسی علیه السلام ته وحي وشي چې زما بندګان کوه طور طرف ته بوځه ، ما داسی یو قوم (یاجوج ماجوج) راویستي دي چې هیڅوک هم لدی قوم سره د جنګ طاقت نلري نو یاجوج ماجوج به دنیا کی خواره شي او ښه شور او هنګامه به جوړ کړي او بیا به د الله تعالی له قهر نه هلاک شي ، د یاجوج ماجوج د هلاکت نه وروسته به بیا په ځمکه کی خیر و برکت راشي تر دی پوری چې په یو انار به د یو کور ټول کسان مړیږي او د یو بیزی په پیو باندی به د یو کور ټول کسان مړیږي ، دا خیر و برکت به تر اوه کالو پوری وي او بیا حضرت عیسی علیه السلام له دنیا نه رحلت کوي او دحضور اقدس صلی الله علیه وسلم په روضه کی به دفن کیږي او بیا به رو رو په دنیا کی شر وفساد ، کفر او الحاد خوریږي او پدی ورځو کی به د آسمان نه یوه لوګی راښکاره شي مؤمنانو ته به زکام غوندی محسوسیږي او کافرو ته نهایت زیات تکلیف وي تر (۴۰) ورځو پوری دغه لوګی پاتی کیږي ، د مسلم روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : تر هغه پوری به قیامت قائم نشي څو پوری موچی لس (۱۰) علامی نه وی لیدلی او بیا یې وفرمایل : (۱) لوګی (۲) دجال (۳) دابة الارض (۴) د مغرب طرف نه د لمر راختل (۵) د عیسی علیه السلام راکوزیدل (٦) یاجوج او ماجوج راوتل (۷) او د ځمکی په دریو ځایو کی خسف (غرقیدل) یو په مشرق او بل مغرب او بل په جزیرة العرب کی (۸) او د ټولو په آخر کی د یمن څخه د یو اور راوتل چې خلک به محشر طرف ته راټولوي .

پدی ورځو کی چې د ذی الحجه میاشت وي د لوی اختر ورځ نه وروسته شپه به ډیر زیات اوږد شي تر دی چې خلک به نهایت په هیبت او پریشانی کی بی قراره کیدو سره فریاد او زاري به کوي او توبه توبه آوازونه وباسي دغه شپه به د دریو ،و څلورو شپو په

اندازه اوږده شي او خلک به ډیر زیات پریشانه شي بیا به لمر دمعمولي رڼا سره د مغرب له طرفه راوخیژي او دومره به راپورته شي لکه څومره چې د څاښت وخت وي او بیا به راپریوځي او بیا به د پخوا پشان دمشرق نه راوخیژي لدینه وروسته به نه د چا توبه قبلیږي او نه ایمان ، دا مضمون په صحیح حدیثو کې ډیر زیات راغلی دی ، لکه چې بخاري او مسلم د ابوهریره رضی الله عنه نه روایت کړی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی : تر هغه پوری به قیامت نه راځي څو پوری چې لمر د مغرب نه نه وي راختلی ، نو کله چې دمغرب نه راوخیژي او خلک یې ووینی نو ایمان به راوړي مګر پدی وخت کې ایمان څه فایده نه کوي ، د مغرب نه د لمر راختو په دویمه ورځ به دا حادثه وشي چې د مکې مکرمی د صفا په غره باندی زلزله راتلو سره وشلیږي او یو عجیبه غوندی ځناور به ترینه راوځي او خلکو سره به خبری اتری کوي ، د الله تعالی د قدرت کرشمه به ښکاره شي ، د دابة الارض د راوتلو نه لږ وخت وروسته د شام له طرفه یوه یخه هوا وچلیږي چې پدی سره به هیڅ یو مؤمن او نیک سړی به د ځمکی په سر باندی ژوندی پاتی نشي او ټول به مړه شي تر دی پوری که څوک د غره په یو غاړه کې پټ شي هلته به هم هغه هوا ورسي او هغه به مړ کړي ، لدینه وروسته به هغه بدان خلک چې هیڅ نیکي او خیر نه پیژني باقي پاتي شي ، لدینه وروسته به د حبشی کافران غلبه کوي او په ملک کې به د دوی بادشاهي وي، او دغه حبشي به خانه کعبه ونړوي او د ده لاندی خزانی به راوباسي او پدی وخت کې به ظلم و فساد خوریږي د خاروو پشان به خلک لارو او کوڅو کې مور و خور سر جماع کوي ، او قرآن پاک به د کاغذونو څخه پورته شي او هیڅ یو مسلمان به دنیا کې پاتی نشي او دخپل منځي ظلم او ستم نه به ښار وران او ویجاړ شي ، قحط او وباء به ظاهر شي او بیا څه موده وروسته به د جنوب طرف نه یو اور اوچت شي او خلک به راګیر کړي او کوم ځای چې به حشر کیږي یعنی د شام ملک طرف ته به راغونډوي ، کله چې د ماښام وخت کې خلک ودریږي نو اور به هم ودریږي او چې کله لمر راوخیژي هغه اور به وریسی روان وي او چې خلک د شام ملک ته ورسي نو هغه اور به غیب شي ، لکه چې مسلم د حذیفه ابن اسید غفاري رضی الله عنه په روایت له نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه د قیامت لس علامی نقل کړي چې په آخر کې یې دا دي : " نار تخرج من الیمن تطرد الناس الی محشرهم " یعنی د یمن څخه به یو اور راوځي او خلک به محشر ته راجمع کوي کوم

چې دشام به رنګ دی . لدینه وروسته تر خلور پنځه کالو پورې به خلکانو ته د عیش او آرام ژوند تیروي او شیطان به د بني آدم په شکل کی راتلو سره دا وایي چې تاسو ته حیا نه درحي هغوی به ورته وواییي چې اوس ته څه وایې ؟ نو هغه به وواییي چې د بتانو عبادت وکړئ نو خلک به د بتانو عبادت شروع کړي پدی سره به دوی ته د رزق فراخي او پریماني حاصل شي لکه چې مسلم دا روایت کړی دی ، غرض دا چې کله دنیا کی څوک د الله الله ویونکي پاتې نشي لکه څنګه چې مسلم روایت کړیدی نو بیا به شپیلی پو کړی شي او قیامت به قائم شي . حاصل دا چې خلک به پدی وخت کی په عیش او آرام کی وي څوک به څه کار کوي او څوک به څه کار، نو یو ناڅاپه به د جمعې په ورځ عاشورا جوړه شي ، د صبایي وخت کی به د خلکو تر غوږو یو نری آواز ولګي او خلک به حیران شي چې دا څه خبره ده نو رو رو به هغه آواز اوچتیږي تر دی چې د تندر او بریښنا برابر شي نو بیا به خلک په مړ کیدو شروع شي ، شپیلی د تولی پشان دی چې میکائل به یې په خوله باندی غږوي د دی دا آواز په سختۍ سره به هر یو شی فنا کیږي لکه چې ابوداؤداو ترمذي روایت کړیدی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې صور یو ښکر پشان دی چې پدیکی پوکې کیږي ، په صحیح مسلم کی راغلي دي چې د شپیلی آواز به اول د یو کس تر غوږ شي چې هغه به د خپل اوښ حوض لیو کوي د آواز په اوریدو به بې‌هوشه شي او بیا به ټول خلک بې هوشه شي (وتری الناس سکری وماهم بسکری ولکن عذاب الله شدید) یعنی ته به خلک ووینی چې بی هوشه وي او دوی به بی هوشه نه وي بلکی د الله تعالی په سخت عذاب کی به مبتلا وي ، او ساعت په ساعت به دغه آواز زیاتیږي چې د بیابان وحشي ځناور به ښارونو ته راشي او د ښار خلک به د ویری ځنګل ته لاړ شي کما قال الله تعالی (واذا الوحوش حشرت) او کله وحوش راجمع کړی شي ، بیا به ټول زنده سره مړه شي بیا د آواز د زیاتیدو په سبب وني غرونه د مالوچو د پاغوندو پشان والوزي (وتکون الجبال کالعهن المنفوش) یعنی پدی ورځ به غرونه د ډیندت شوي مالوچو پشان شي ، او چې آواز نور تیز شي نو د آسمان ستوري ، سپوږمۍ او لمر ټوټې ټوټې راپریوځي او آسمان به هم ټکړی ټکړی شي او ځمکه به هم فنا شي " اذا السماء انشقت " کله آسمان وچوي " واذا الارض مدت " او کله چې ځمکه راښکلی شي "

اذا الشمس کورت واذا النجوم انکدرت " او کله چی لمر راغونډ کړی شي او ستوري بی نوره شي " فاذا نفخ فی الصور نفخة واحدة وحملت الارض والجبال فدکتا دکة واحد فیومئذ وقعت الواقعة وانشقت السماء " نو کله چی شپیلی پو کړی شي یوه پوکی او غرونه اوچت کړی شي او یو ځل به میده میده شي نو پدی ورځ به واقع کیدونکی واقع شي یعنی قیامت او آسمان وچوي.

فایده : ځینی علماء فرمایي : د کلي فناء څخه اته ځیزونه مستثنی دي یعنی دا به نه فنا کیږي (۱) عرش (۲) کرسي (۳) لوح (۴) قلم (۵) جنت (٦) دوزخ (۷) صور (شپیلی) (۸) ارواح ، لیکن په روحونو باندی به یو قسم بی هوشی راشي ، او ځینی علماء فرمایي چی د الله تعالی د ذات نه علاوه هر یو شی فناء کیږئ او پدی شیانو باندی هم یو ځل فناء راځي کما قال الله تعالی " کل شیئ هالك الا وجهه " یعنی د الله تعالی د ذات نه علاوه هر یو شی به هلاک کیږي ، لنډ دا چی الله تعالی باقي پاتی کیږي کما قال الله تعالی " ویبقی وجه ربك ذو الجلال والاکرام " یعنی یواځی د بزرګی او جلال والا یو الله تعالی باقي پاتی کیږي ، پدی وخت کی به الله تعالی فرمایي " لمن الملك الیوم " یعنی نن د چا بادشاهي ده ؟ بیا به هیڅوک ځواب نه ورکوي نو بیا به پخپله الله تعالی وفرمایي " لله الواحد القهار " یعنی بادشاهي یواځی د یوقهار خدای لپاره ده ، لدینه وروسته به دوباره شپیلی ووهلی شي پدی سره به هر یو شی دوباره ژوندی او موجود شي الخ (عقائد اسلام ص ۱۷۸ _ ۱۹٦ مختصراً دریم باب) فقط والله اعلم .

ژوندی خلکو سره د مړو خبری :

(۲۸ سوال) ایا دا خبره ممکن ده چی مړي له ژوندو خلکو سره خبری وکړي او ژوندي د مړو خبری واوري ؟ امید دی چی پدی باره کی تفصیلي ځواب راکړئ ، مهرباني .

ځواب : د الله تعالی تر ارادی پوری موقوف دی ، د الله تعالی په ارادی سره لکه چی مړي د ژوندي خلکو خبری اوریدلی شي همداشان د الله تعالی په ارادی سره د مړو خبری ژوندي خلک هم اوریدلی شي او دا اوریدل زیاتره په خوب کی وي او کله کله

په وينسه باندي هم وي او د دوارو قسمونو صحيحو واقعاتو په مستندو كتابو كې پيدا كيږي .

(١) حضرت زيد بن خارجه يو جليل القدر انصاري صحابي دى د حضرت عثمان رضى الله عنه په دور خلافت كې وفات شويدى ، حضرت نعمان بن بشير روايت كوي چې كله د ده جنازه تيار كړى شوه او د لمانځه لپاره دحضرت عثمان رضى الله عنه انتظار كيدو نو ما اراده وكړه چې د انتظار پدى وقفه كې دوه ركعته لمونځ وكړم هغه وَ چې د طرف ته په لمانځه ودريدم نورو خلكو خپل منځ كې خبرى كسولې پدى وخت كې د جنازى نه آواز راغى " السلام عليكم انصتوا انصتوا ! " يعنى چپ شئ او خبره واوري . لدينه وروسته مرحوم زيد بن خارجه اوردى خبرى وكړى چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ، حضرت ابوبكر رضى الله عنه ، حضرت عمر رضى الله عنه ، حضرت عثمان رضى الله عنه په باره كې شهادت وركړ او دوى خينى صفات بيان كړل او په آخر كې دحضرت عثمان رضى الله عنه په باره كې يوه پيش گويي وكړه كوم چې وروسته بالكل رشتيا شوه .

د حضرت زيد بن خارجه د مرگ نه وروسته دخبرو كولو دا واقعه او پوره خبرى يې قريب قريب په هغو ټولو كتابو كې نقل دي كوم چې د صحابه كرامو په حالاتو كې ليكل شويدى او دحديث او روايت امامانو قبول كړى دى تر امام بخاري پورى دغه خبرى ذكر كړيدي كما فى الاصابه (په حواله د تذكره شاه عبدالرحيم او شاه ابوالرضا دهلوي ترتيب د مولانا نسيم احمد فريدي امروهي رحمه الله مع ضميمه " اهل قبور كې زندون سے هم كلامي " د مولانا محمد منظور نعماني رحمه الله ص ١٧١ ، ١٧٢ ، تهذيب . عمدة الاخبار ، اكفار الملحدين په حواله د ملفوظات محدث كشميري ترتيب دمولانا سيد احمد رضا بجنوري مؤلف د انوار البارى رحمه الله ص ١٢٨) .

(٢) حضرت شاه ولى الله محدث دهلوي رحمه الله فرمايي : زما بزرگوار والد صاحب حضرت شاه عبدالرحيم محدث دهلوي رحمه الله په اكبر آباد كې دحضرت اقدس مرزا محمد زاهد هروي رحمه الله له درس نه فارغيدو سره واپس تشريف راوړلو په لاره كې يوه غير آباده اوږده كوځه وه پدى وخت كې محترم والد صاحب حضرت شاه عبدالرحيم د حضرت شيخ سعدي رحمه الله اشعار په خوند سره لوستل هغه اشعار دا دي !

جز یاد دوست هر چه کنی عمر ضائع است
جز سر عشق هر چه بخوانی بطالت است

یعنی د الله تعالی د ذکر نه علاوه چی څه کوی د ژوند بربادول دي او د عشق الهي د اسرارو د چی څه وایی هغه بی هودګی او غفلت ده .

سعدی بشوئی لوح دل از نقش غیر حق

یعنی : ای سعدي د زړه تخته دی د غیر الله له نقشی نه پاک او صفا کړه .

د دی آخري مصرعه یی په یاد نه راته پدی وجه یی بار بار تکراروله او د آخري مصرعی لوستل یی غوښتل خو ذهن ته نه راتله پدی پریشانی کی وْ چی په شاه طرف نه یـي یـو درویش (چی د هغه وضع قطع د فمیری وْ) د ده بـي طرف نـه راووت او وی ویـل : علمی که راه حق نه نماید جهالت است (یعنی کوم علم چی الله تعالی طرف ته لار ونه ښايي هغه جهالت دی) د دی په اوریدو سره ډیر زیات خوشحال شو او وی فرمایـل ای د الله تعالی درویشه الله تعالی دی درته جزاء خیر درکړي تا زما د زړه پریشاني لری کړه او چی هغه درویش راوړاندی شو نو په خوشحالی سره یی تپوس وکړ ای وروره ! دومره خو وښایه چی ته څوک یی ؟ چی تا لپاره دعا وکړم ، هغه وفرمایل " سعدی همین فقیر است " (یعنی سعدي هم دا زه یم) .

(۳) د مولانا احمد رضا خان په " ملفوظات " کی دي :

عرض : ایا دا روایت صحیح دی چی حضرت محبوب الهيٰ په قبر کی لوخ سر ودریـدو اوسندرو ویونکو باندی یی لعنت کولو ؟

ارشاد : دا د حضرت خواجه قطب الدین بختیار کاکی رحمه الله واقعه ده چی د ده په مزار باندی به د قوالي مجلس کیدلو ، نن صبا خو خلکو ډیر پریشانی راویستی دی ګډا وغیره هم کوي ، حال دا چی په هغه وخت مزارونو باندی مزامیر هـم نـه وو ، حضرات سید ابراهیم امیرجي رحمه الله کوم چی څمونږ د پیرانو پـه سلسله کـی دی د مجلس سماع (قوالي) نه باهر ناست و یو نیک صالح سړی د ده خوا تـه راغـی او درخواست یی وکړ چی مجلس ته تشریف راوړئ ، حضرت سید ابراهیم امیرجي رحمه الله وفرمایـل : تاسو خو پوهیږئ سواجه اقدس کی حاضر شئ که چیرته حضرت راضي شو نـو زه اوس درسره ځم ، دوی په مزار اقدس باندی مراقبه شو ویی لیدل چـی حضـور پـه قبـر کـی تشریف دی او دغو قوالانو طرف ته اشاره کولو سره فرمایي " این بـدبختان وقـت مـارا پریشان کرده اند " یعنی دغو بدبختو مونږه پریشانه کړي یو ، هغه واپس شـو او مخکـی

لدینه چې عرض وکړي وی فرمایل : تاولیدل ؟ (ملفوظات جلد نمبر ص ۹۰ په حواله د فتاوی رحیمیه ۹۹/۲ ، ۱۰۰) .

(۴) علامه کمال الدین ابن همام صاحب د فتح القدیر رحمه الله د شیخ اسکندری قبر ته زیارت لپاره لاړ او د سورت هود تلاوت یی شروع کړ چې کله دی آیت ته ورسید چې " فمنهم شقی وسعید " (یعنی ځینی پدی خلکو کی بدبخت دي او ځینی نیک بخت) نو شیخ د قبر څخه دننه ځواب ورکړ او په اوچت آواز یی وویل : " لیس فینا شقی " (یعنی ای کماله پر مونږ کی هیڅوک بدبخت نشته) پدی وجه علامه کمال الدین ابن همام د مرګ په وخت کی وصیت وکړ چې زه دی د شیخ د قبر تر څنګ نزدی دفن کړی شم (اکمال الشیم ص ۳) .

(۵) د حضرت نافع بن محمد رحمه الله بیان دی چې ما مرحوم ابونواس رحمه الله په خوب کی ولید چې د رحمت په جامو کی دی نو ما ورته وویل چې الله تعالی تا سره څه معامله وکړه ؟ ویی ویل : ما د مرګ نه وړاندی څو بیتونه لیکلي وو چې د هغوی په وجه زه وبخلی شوم او هغه ابیات زما د تکیه لاندی ایښي دي هغه وُ چې صبا کیدو سره د هغه کور ته ورسیدم او د خوب واقعه می کور والاؤ ته واورولو او تکیه می چې اوچت کړ نو هغه د ابیاتو کاغذ می بیا موند چې دا اشعار پکی وو :

یارب ان عظمت ذنوبی کثیرة
فلقد علمت بان عفوك اعظم
ان کان لایرجوك الا محسن
فمن الذی یدعوا ویرجوا المجرم .
ادعوك رب کما ا مرت تضرعا
فاذا رددت یدی فمن ذا یرحم
مالی الیك وسیلة الا الرجاء
وجمیل عفوك ثم انی مسلم

ترجمه : (۱) ای زما ربه اګر که زما ګناهونه زیات دي خو زه پوهیږم چې ستا عفوه زما د ګناهو نه څو چنده زیات ده .

(۲) اگر که ستا له پاک ذات نه نیک سړی د بخشش امیدار دی . نو زما پشان مجرم او گنهگار به چاته آواز وکړي او دچا نه د بخشش امید وساتي .
(۳) یا الله زه تا ته په ژړا او زاري سره آواز کوم لکه چی تا حکم کړی ، که ته زما لاسونه خالي واپس کړی نو په ما باندی به څوک رحم وکړي ؟
(۴) د امید نه سیوا زما بله وسیله نشته او بله ستا لویه مهرباني او بخشش او بله خبره دا چی زه مسلمان یم .
(٦) بیهقي په شعب الایمان کی دحضرت ابراهیم قاضي نیشاپوري رحمه الله نه روایت کړی دی چی یو سړی د ده په خدمت کي حاضر شو او بیا یو چا د دی سړي متعلق ده ته وویل چی حضرت د دی شیخ عجیبه واقعه ده بیا حضرت ابراهیم هغه ته وویل هغه قصه څه ده ؟ هغه وویل : جناب اول می کفنونه غلا کول ، اتفاقاً یوه ښځه مړه وه نو زه هغی د قبر معلومولو لپاره هلته لاړم او جنازی لمونځ می ولوست د شپی په وخت د هغی قبر می وکینست او د کفن د ویستلو په اراده می خپل لاسونه اوږده کړل هغی ښځي وویل سبحان الله دا څه عجیبه خبره ده چی یو جنتي سړی د یوی جنتی ښځی کپړی راکاږي ، تا ته پته شته چی تا زما د جنازی لمونځ کړی دی پدی سره الله تعالی ماته مغفرت وکړ اللهم اهدنا الصراط المستقیم (ص ۲۱۷، ۲۱۸) .
(۷) په " کتاب المنامات " کی نقل دي : ابوبکر بن خیاط فرمایي : یو ځل ما په خوب کی خپل خان قبرستان کی ولید او گورم چی مړي خپلو خپلو قبرونو کی ناست دي او د دوی په وړاندی د جنت خوشبوئی او ریحان دي او شیخ المشائخ حضرت معروف کرخی رحمه الله تگ راتگ کوي نو ما حضرت معروف کرخي ته وویل چی حضور تاسو خو وفات شوي یئ ، په خواب کی راته وفرمایل :

موت التقی حیات لانفاد لها

قدمات قوم وهم فی الناس احیاء

یعنی : چا چی تقوی او پرهیزگاري اختیار کړ د مرگ نه وروسته هغه ته داسی ژوند حاصلیږي چی هغه لپاره فناء کیدل نشته ، چا څه ښه ویلی دي :

شـهیدان محبت کــو کبھی مـرتے نھیں دیـکھا
حیـات جـــاودانی مــلتی ھے تـــو فنا ھـــو کر

(۸) مشهور تابعي ابوقلابه بيان کوي چې زه دشام نه بصرې ته راتلم په يوځای کـې مې شپه راغله هلته مې د شپې اودس کولو سره دوه رکعته لمونځ وکړ هلته يو قبر هم وُ ما په هغه باندې سر کيښود او ويده شوم او بيا مې سترګې خلاصي شوې د قبر صاحب ماته په شکايت کې وويل چې تا راته نن شپه تکليف راکړ (يعنې ستا د سر کيښودو په وجـه ماتـه تکليف ورسيد) او بيا يې راته وويـل چـې تاسـو ژونـدي خلـک عمـل کـوئ او (د دې نتيجې) علم تاسو ته نه وي خو مړو ته شته مګر افسوس چې مونږه عمل نشو کولی او بيا يې وويل کوم دوه رکعته لمونځ چې دې وکړې دا د دنيا او مافيها نه بهتر دی الله تعالی دې د دنيا ژوندی خلکو ته دخپلو اعمالو بهتره بدله ورکړې ، زما سلام هغو ته ووايـه ، د دوی له دعاګانو څخه مونږه (مړو) ته د غرونو پشان لوئ مقدار کې انوار حاصليږي .
د اهل قبور کې زندون سے هـم کلامـی ص ۱٦۱ ، ۱٦۲ مولانـا محمـد منظـور نعمـاني ضميمه تذکره حضرت شاه عبدالرحيم و شاه ابوالرضا دهلوي.) .

(۹) جليل القدر تابعي حضرت مطرف بن عبدالله الحراشي رحمه الله فرمـايي چـې زه د جمعې په ورځ د يو قبرستان په خوا کې تير شوم ومې ليدل چې يوه جنازه راغلې ده ما وويل دا موقع غنيمت ده پدې جنازه کې به هم شريک شـم نوپـدې اراده قبرسـتان تـه راغلم او دخلکو نه جدا يو طرف ته مې دوه رکعتـه لمـونځ وکـړ خـو قصـداً مـې لنډ او مختصر وکړ بيا راته خوب راغې هلته يو قبر وُ ما وليدل چې د قبر خاوند راته وايي چـې تا دا دوه رکعته دې ښه ادا نکړل ، ما وويل بيشکه همداسـې ده ، بيـا يې راتـه وويـل : تاسو ژوندي خلک عمل کوئ خو ليکن تاسو ته علـم نشـته (يعنـې د اعمـالو د ثـواب او عذاب په باره کې هغه علم نشته کوم چې دمرګ نه وروسـته مونـږ تـه حاصـل شـوی) او خمونږ حال دا دی چې دلته هيڅ عمل نشو کولی (نو په تاسو باندې رشک کـوو يعنـې پسخيږو) قسم دی که ماته دلته دغسې مختصر د دوه رکعته ادا کولو موقـع راکـړی شـي لکه چې تاو کړل نو مالپاره به دا د ټولې دنيا او د دی لـه سـاز وسـامان نـه زيـات وي (مطرف بن عبدالله وايي) بيا مې د دې قبر له خاوند نـه وپوښـتل چـې دلتـه کـوم قسـم خلک دفن شوي دي ؟ هغه راته وويل چې د الله تعالی فضل دی ټول مسلمانان دي او ټولو سره د الله فضل شامل دی ، ما ورته وويل پدې ټولو کې افضل څـوک دی ؟ هغـه يوه قبر ته اشاره وکړه ما د الله نه سوال وکړ يا الله دغه قبر والا خپل بنـده مالپـاره ښـاهر

راوباسي چې زه ورسره څه خبرې وکړم نو د هغه قبر نه یو ځوان راووت او زما مخې تـه راغی نو ما ورته وویل ته پدې ټولو کې افضل یې هغه راته وویل دا خلک داسې خبرې کوي ما ورته وویل پدی لږ عمر کی تاته دومره اوچت مقام څنګه حاصل شو ؟ ایـا دا پـه حج و عمره او جهاد فی سبیل الله او دنورو اعمالو د کثرت په وجه ؟ هغه راته وویل زما معامله دا ده چې ماته دنیاوي ژوند کی مصائب او تکلیفونه زیات راغلي دي او ماتـه پـه دی باندی د صبر کولو توفیق نصیب شوی ، بس د الله تعالی دا فضل او کرم د همـدی بدله ده (اهل قبور کی زندون سے هم کلامی ص ۱٦۲ ، ۱٦۳) .

(۱۰) علامه ابن قیم رحمه الله د صحابه کرامو د دور یوه عجیبه او غریبـه واقعـه د صـعب ابن جثامه او د عوف بن مالک رضی الله عنهما نقل کړی ده .

" صعب بن جثامه او عوف بن مالک رضی الله عنهمـا د دواړو تـرمنځ مواخـات (یعنـی د وروری معاهده وه) چې صعب بن جثامه وفات شو نو عوف بن مالک هغه په خـوب کـې ولید نو هغه د نورو خبرو نه علاوه عوف ته دا هم وویل چې د فلانی یهودی نه می لـس دیناره قرض اخستی وو او هغه می په ښکر کی ایښی ؤ هغه پیسې هغه یهودی تـه حوالـه کړه ، عوف وایي چې صبا شو نو ما په زړه کی وویل پدی خوب کی لوی تعلیم او لـوی پیغام دی زه د صعب کور ته لاړم د ټولو نه رومبی می هغـه قـرن (ښکـر) راوغوښـت او چې څه پکی وو هغه می راویست نو هغه تیلی پکی راووته چې دینار پکی پراته وو هغـه دینار می راوخستی او یهودی ته راغلم او تپوس می ورنـه وکـړ چـې ایـا سـتا پـه صـعب باندی قرض ؤ یا نه ؟ هغې وویل او لس دیناره یې رانه قرض اخستی ؤ ، نو ما هغه دینـار ورته مخې ته کیښودی هغې وویل په الله قسم چې دا بعینه هغه زمـا دینـار دي " (کتـاب الروح ص ۱۹ په مختصر او خلص ډول ، په حواله د اهل قبور کی زندون سے هم کلامـی ص ۱٦٦) .

(۱۱) لدینه هم زیاته عجیبه واقعه د حضرت ابـن قـیس بـن شـماس ده چـې ابـو عمـرو عبدالبر د سند سره د ده خوی روایت کړی .

ثابت ابن قیس دیمامه په جنګ کی شهید شوی (یعنی هغه جنګ کوم چې درسـول الله صلی الله علیه وسلم دوفات نه وروسته دنبوت مدعی مسیلمه کـذاب او دده لښکـر سـره دخالد بن ولید په قوماندانی کی جنګ وشو) کله چې دی شهید شـو نـو دده پـه بـدن باندی یوه قیمتي او بهترین زره وه دمسلمانانو څخه یو کس ورباندی تیر شو نو هغـه زره یې ورنه وویسته او خپله یې قبضه کړه دلښکر یو مجاهد ثابت بن قیس په خوب کی ولیـد

نو هغه ورته وویل چې زه درته یو وصیت کوم ، داسې ونشې چې تاسو پدې خیال چې دایو بې حقیقت خوب دی زما وصیت ضائع کړی ، زه داوایم چې زه پرون شهید کړی شوی یم او دمسلمانانو یو سړی زما زره اخستې ده او دهغې خیمه بالکل په آخري کناره کې ده او یوه علامه یې داده چې دهغه دخیمې په خوا کې یو آس دی چې ډیر پورته پورته کیږي هغه زما زره پدې طریقه پټه کړی ده چې یو لګن پرې دپاسه نسکوره کړی او دپاسه پرې کجاوه ده ، ته خالد بن ولید ته ووایه چې څوک ورپسې ولیږي او هغه زره ورنه حاصل کړی او چې کله مدینې تـه ورسیږي نـو درسـول الله خلیفه ابـو بکـر صدیق رضی الله عنه ته عرض وکړئ چې ماباندی دومره قرض دی او زماپه غلامانو کې فلانې او فلانی آزاد دی (یعنی زه هغوی آزاد وم) نو دغه صاحب (چـا تـه چـې ثابـت بن قیس رضی الله عنه په خوب کې وصیت کړی و) خالد رضی الله عنـه تـه ورغـی او د زره خبره یې ورته وکړه . هغه دیو سړي په لیږلو او دخوب دنشاندهې مطـابق هغـه زره حاصله کړه ، او کله چې داسړی مدینې ته ورسید نـو حضـرت ابـو بکـر صـدیق تـه یـې دحضرت ثابت دخوب والا پیغام ورسولو ، حضرت ابو بکر صـدیق دهغـه دوصـیت پـوره کولو حکم وکړ . (کتاب الروح ۲۱ صحفه په حوالـه د " اهـل قبـور کـی زنـدو سـے هـم کلامی ص ١٦٦_ ١٦٩")

(۱۲) دحضرت حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوي کتاب " شوق وطن " کی دي :

" عن جبیر رضی الله عنه قال اما والله الذی لا اله الا هو لقد ادخلت ثابتا البناني فی لحده ومعی حمید الطویل فلما سوینا علیه اللبن سقطت لبنة فاذا هـو فی قـبره یصلی وکان یقول فی دعائه اللهم ان کنت اعطیته ، احدا من خلقت الصـلوة فی قبره فاعطینها فما کان الله لیر ددعائه " (اخرجه ابو نعیم فی الحلیة)

ترجمه : دحضرت جبیر نه روایت دی هغه په الله وحده لا شریک لـه بانـدی قسم کولـو سره وایي چې ما ثابت بناني رحمه الله په لحد کی کیښود او ماسره حمید طویـل هـم و کله چې مونږ ورباندی کچه خښتې کیښودی نو یوه خښته راپریوته نو وموليـد چـې هغـه خپل قبر کی لمونځ کوي ، او ده به خپل دعاکی داویلې چې یا الله که چیرتـه تـا چاتـه په قبر کی لمونځ کول نصیب کړی وي نو ماته هم نصیب کړي ، نو الله پـاک دده دعـاء ردنه کړ (شوق وطن ص ۲۳ ، ۳۹ ، ۴۰ چاپ مکتبـه اشـرفیه محـد علـی رود بمبـی) او همداشان په شوق وطن داهم دی :

(۱۳) "عن ابن عباس قال ان بعض اصحاب النبی صلی الله علیه وسلم جلس علی قبر وهو لا یحسب انه قبر فاذا فیه انسان یقرأسورة الملك حتی ختمها فاتی النبی صلی الله علیه وسلم فاخبره فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم هی المانعة وهی المنجیة تنجیه من عذاب القبر" (اخرجه الترمذي . شوق وطن ص ۲۳_ ۲٤ . ص ٤٠ مطبوعه مکتبه اشرفیه بمبئ نمبر ۳.)

ترجمه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دی چی درسول الله صلی الله علیه وسلم ځیني صحابه کرام په کوم قبر باندی ناست وو (او دنبي دنشتوالي په وجه) دوی ته معلم نه و چی داقبر دی نو ګوري چی په ده کی یو سړی دی او سورت ملک لولي تردی چی ټول یې مکمل ختم کړ، هغوی بیا رسول الله صلی الله علیه ته خبر ورکړ هغه وفرمایل چی دا سورت (دعذاب نه) بچ کوونکی او نجات ورکوونکی ده چی مړی دعذاب قبر نه خلاصوي .

(۱۴) حکایت :

مولانا شاه عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله په اخبار الاخیار کی دشیخ محمد ترک نارنومي رحمه الله په ذکر کی فرمایي چی هلته ددوه شهیدانو قبرونه دي چی یو ته داوچتی ځمکې په وجه بلند شهید اوبل ته دټیټي ځمکې په وجه ښکته شهید وایي دا دواړه شهیدان دقرآن پاک حافظان وو ، ویل کیږي چی ځیني بزرګانو ددوی له قبرونو څخه دقران پاک تلاوت اوریدلې دی چی ددور په طریقه به یې لوستلو.

(۱۵) حکایت :

د خزینة الاصفاء مصنف د شیخ روز بهان په ذکر کی لیکي : شیخ ابوطاهر چی د شیخ چی روز بهان له ملګرو څخه دی وایي : ما او روزبهان به هره ورځ د قرآن پاک دور کولو کله چی وفات شو نو دنیا راته بدرنګه او تیاره ښکاره شوه یوه شپه پیشمني وخت کی پاڅیدو سره می لمونځ وکړ او د شیخ د قبر سر ته کیناستم او د قرآن شریف تلاوت می شروع کړ مګر د خپلی تنهائي او بی کسی باندی می وژړل پدی حالت کی می د شیخ د قبر نه دتلاوت قرآن آواز واورید او خو پوری چی خلک نه وو جمع شوي تلاوت می

اوریدو تر څه مودی پوری همدا حال ؤ مګر کله چی می خپل یو دوست ته د دی ذکر وکړو نو له هغه وخت نه د آواز راتلل بند شو .

(١٦) حکایت :

د مأثر الکرام مصنف دکتاب اخبار الاصفیاء په حواله لیکي : حافظ محمود قرآن خوان بلګرامي رحمه الله چی د خپل وخت یو ممتاز او غوره بزرګ ؤ لدی فاني دنیا نه جاوداني عالَم ته تشریف یووړ نو په هره جمعی شپه به د ده د مرقد نه کاملینو د قرآن خوانی آواز اوریدلو .

(۱۷) حضرت مولانا مفتي محمد شفیع په احکام القرآن کی لیکي :

علامه یافعي رحمه الله په روضة الریاحین کی له ځینو صالحینو نه نقل کړی دی چی ما د یو سړي قبر وکنستو او لحد می جوړ کړ د لحد جوړولو په وخت کی ده سره له نزدی قبر نه یوه خښته راپریوته نو ومی لیدل چی یو شیخ سپین کالي یی په تن دي او په جولی کی یی یو قرآن پاک دی چی په سرو زرو لیکل شوی او تلاوت کی لګیا دی هغه سر راپورته کړ او ما ته یی وویل : الله دی درباندی رحم وکړي ایا قیامت قائم شوی ؟ ما وویل : نه بیا یی وویل خښته بیرته خپل ځای باندی کیده هغه ؤ چی خښته می پخپل ځای دوباره کینبود .

" ویشبه هذا ما حکاه الیافعی فی روض الریاحین عن بعض الصالحین قال : حضرت قبر الرجل من العباد والحدته ، فبینا انا اسوی اللحد اذ سقطت لبنة من لحد قبر یلیه ، فنظرت ، فاذا بشیخ جالس فی القبر علیه ثیاب بیض تقعقع وفی حجره مصحف من ذهب مکتوب بالذهب وهو یقرأ فیه فرفع رأسه وقال لی اقامت القیامة رحمك الله ؟ قلت لا ، قال رد البنة الی موضعها عافاك الله تعالی فرددها " .

احکام القران ۳/ ۱۷۸ چاپ ادارة القران والعلوم الاسلامیه کراچی پاکستان .

(۱۸) اوداهم په احکام القران کی دي :

ابن ابی الدنیا او بیهقي په دلائل النبوة کی نقل کړی....... ابن مینا فرمایي:

زه یو ځنګل ته ورسیدم او دوه رکعته مختصر لمونځ می اداکړل اوبیامې یو قبر ته تکیه ولګولو او آرام مې وکړ تر اوسه لا بیدار وم چې دقبر نه مي آواز واوریدو ، ته پورته شه تاماته تکلیف ورسولو ، تاسو عمل کوي خو تاسو ته علم نشته (چې ددی څومره ثواب دی) او مونږه پوهیږو لیکن عمل نشو کولې ، په الله تعالی قسم که زه ستا پشان دوه رکعته وکړم داماته له دنیا او مافیها نه محبوب دی " اخرج ابن ابی الدنیا والبیهقی فی دلائل النبوة من طریق المعتمر بن سلیمان عن ابیه عن ابی عثمان النهدي عن ابن میناء قال دخلت الجبانة فصلیت رکعتین خفیفتین ثم اضطجعت الی قبر فو الله انی لنبهان اذ سمعت قائلا فی القبر یقول ، قم فقد اذ یتنی ، انکم لتعملون ولکن لا تعلمون ونحن نعلم ولا نعمل فا الله لان اکون صلیت مثل رکعتیك احب الی من الدنیا ومافیها " (احکام القران ص۱۷۹ ج ۳) .

(۱۹) او داهم په احکام القران کی دي : حاکم په تاریخ نیشاپور او ابن عساکر په تاریخ دمشق داسې سند سره چې یو راوي پکې مجهول دی له سعید بن مسیب نه روایت کړیدی چې فرمایي : مونږ د امیر المؤمنین حضرت علی کرم الله وجهه سره دمدینې منوری په قبرستان کی ننوتو ده وفرمایل : ای اهل قبور والسلام علیکم ! تاسو مونږ ته خپل حال ووائی او که له مونږ نه احوال اوریدل غواړي ؟ مونږ د یو قبر نه دا آواز واوریدو وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ! یا امیرالمؤمنین له مونږ نه ورروسته چې څه شوي دي د دی خبر مونږ ته راکړئ ، حضرت علی وفرمایل : ستاسو ښځو نور خاوندان په نکاح کړل ، ستاسو مال تقسیم شو ، اولادونه مو یتیمان شول ، ستاسو په کورونو کی ستاسو دشمنان اوسیږي دا څمونږ خبردی ، ستاسو څه خبر دی ؟ یو مړي ځواب ورکړ چې یقیناً کفن وشلیدو ، ویښته ختم شول او جسم مو ټکړی ټکړی ، سترګی مو راووتی ، د پوزی نه وینی او زوی وبهیدلی ، مونږ چې څه وړاندی لیږلي وُ هغه مو بیا موندل او څه مو چې شاته پریښودل په هغه کی مو نقصان وکړ اوُ مونږ پخپلو اعمالو کی بند یو .

" واخرج الحاکم فی تاریخ نیسابور والبیهقی وابن عساکر فی تاریخ دمشق بسند فیه من یجهل عن سعید بن المسیب قال : دخلنا مقابر المدینة علی ابن ابی طالب

کرم الله وجهه فنادی ، یااهل القبور السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته تخبر ونـا باخبارکم ام تریدون ان نخبرکم ؟ قال فسمعنا صوتاً من داخل القبر وعلیك السلام ورحمة الله وبرکاته یا امیر المؤمنین اخبرنا عما کان بعدنا فقال علی رضی الله عنه اما ازواجکم فقد تزوجن واما اموالکم فقد قسمت والاولاد فقد وافی زمرة الیتامی والبناء الذی شیدتم فقد سکنه اعداء کم فهذا اخبار ما عندنا فما اخبارکم ماعندکم فاجابه میت : قد تخرفت الاکفان وانتثرت الشعور وتقطعت الجلود وسالت الاحداق علی الخدود وسالت المناخر بالقیح والصدید وما قدمناه وجدناه وما خلفناه خسرناه ونحن مرهون بالاعمال (احکام القرآن ص ۱۷۸ ، ص ۱۷۹ ج ۳) .

(۲۰) امام بخاري رحمه الله په " تاریخ " کې او ابن منده له حضرت عبدالله انصاري نه روایت کړی دی فرمايي : زه له هغو خلکو څخه یم چا چې ثابت بن قیس بن شماس رضی الله عنه دفن کړی او دی د یمامه په جنګ کې شهید شوی ؤ کله چې مونږ هغه قبر ته کوز کړ نو مونږ ورنه دا خبره واوریده : " محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی ، ابوبکر صدیق دی ، عمر شهید دی او عثمان امانتدار او رحم کونکی دی ، مونږ هغه ولید او هغه مړ ؤ (د مړ کیدو نه وروسته دا خبری وکړی) .

" واخرج البخاری فی تاریخه وابن منده عن عبدالله بن عبید الله الانصاری قال کُنت فی من دفن ثابت بن قیس بن شماس وکان اصیب یوم الیمامة فلما ادخلناه قبره سمعنا یقول " محمد رسول الله ، ابوبکر الصدیق ، عمر الشهید ، عثمان امین رحیم " فنظر الیه فاذا هو میت " (احکام القرآن ص ۱۸۱ ج ۳) .

(۲۱) شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ذکریا مهاجر مدنی رحمه الله په " فضائل صدقات " کی د روض الریاحین په حواله نقل کړي دي : یو کفن غلا کونکی یو قبر وکنست نو په هغه کی یو سړی په اوچت تخت باندی ناست او مخی ته یی قرآن پاک ایښی ؤ او تلاوت یی کولو او دهغه تخت لاندی یوه نهر بهیدلو ، پر هغه سړي باندی دومره هیبت راغی چی بی هوشه کیدو سره راپریوتو خلکو هغه د قبر نه راوویستو او

دری ورځې وروسته په هوش راغی خلکو ترینه د قصې تپوس وکړ او هغه تول حال واورولو نو ځینو خلکو د هغه قبر د لیدو آرزو وکړه او له هغه نه یې د قبر د ښودو تپوس وکړ هغه هم اراده وکړه چې خلکو ته هغه قبر وښايي د شپې يې هغه قبر والا بزرګ په خوب کې ولید چې ویل یې: که چیرته تا زما قبر وښودو نو په داسې آفتونو باندې به ګرفتار شې چې یاد به یې ساتې هغه لوظ او عهد وکړ چې نه به ښایم (روض) (فضائل صدقات حصه دویم ص ۴۷۵).

(۲۲) دا هم په فضائل صدقات کې دي: " شیخ ابویعقوب سنوي رحمه الله وایي: ماته یو مرید راغی او ویل یې چې زه صبا د ماسپښین په وخت کې مړ کیږم نو هغه ؤ چې په دویم ورځ د ماسپښین وخت کې مسجد حرام ته راغی، طواف یې وکړ او لږ لرې تللو سره مړ شو ما ورته غسل ورکړ او دفن مې کړ، کله چې مې قبر کې کیښود نو هغه سترګې راخلاصې کړې، ما ورته وویل چې د مرګ نه وروسته هم ژوند شته ؟ وی ویل: زه ژوندی یم او د الله تعالی هر یو عاشق ژوندی وي (روض) (فضائل صدقات ص ۴۷۸ حصه دویم).

(۲۳) او دا هم په فضائل صدقات کې دي: " یو بزرګ وایي: ما یو مرید ته غسل ورکړ هغه زما ګوته ونیوله ما ورته وویل: زما ګوته پریده ما ته پته ده چې ته مړ نه یې، دا د یو مکان نه بل مکان ته انتقال دی، هغه زما ګوته پریښوده ".

شیخ ابن الجلاء مشهور بزرګ دی هغه فرمايي: کله چې زما پلار وفات شو او د غسل لپاره تخته باندې واچولی شو نو په خندا شو، غسل ورکونکي واپس راغلل نو هیچا ته د ده د غسل ورکولو همت نه ؤ، یو بل بزرګ د ده ملګری راغی او غسل یې ورته ورکړ.
(روض) (فضائل صدقات ص ۴۷۶ حصه دویم)

لدینه وروسته حضر شیخ الحدیث صاحب لیکي: غرض دا چې صاحب د روض د مړو ډیر واقعات داسې ذکر کړي دي چې له هغو نه دمرګ په وخت او د مرګ نه وروسته نهایت بشاش کیدل، خندل، توقی کول، او مزې اخستل معلومیږي، د مرګ نه وروسته د خبرو کولو واقعات حافظ ابن عبدالبر په استیعاب کې هم لیکلي دي، د حضرت زید بن خارجه په ترجمه کې لیکي: پدې کې دچا اختلاف نشته چې دوی د مرګ نه وروسته خبرې کړي دي او همداشان ځینې د نورو صحابه کرامو نه هم نقل کړي دي (فضائل صدقات ص ۴۷٦ حصه دویم).

اوس په آخره کې یوه عجیبه غریبه او مستنده او مبارکه واقعه وګورئ:

(۲۴) امام جلال الدین سیوطي رحمه الله خپل رساله کی مسلسل سند سره لیکلي دي چې دی د حضرت شیخ کمال الدین او هغه له شیخ شمس الدین خزري او دی له شیخ زین الدین مراغی او دی له شیخ عز الدین احمد فاروقي او دی دخپل پلار شیخ ابواسحاق ابراهیم او دی له خپل پلار شیخ عز الدین عمر رحمهم الله نه روایت کوي چې زه په ۵۵۵ھ کی د سید احمد رفاعي سره د حج په سفر کی ملګری وم ، کله چې دی مدینه طیبه ته ورسید او روضه اقدس باندی حاضر شو نو پدی الفاظو سره یې سلام وکړ السلام علیکم یاجدی (ای نیکه او بابا جانه په تا باندی سلام) له هغه ځایه ځواب راغی وعلیک السلام یاولدی (په تا دی سلام وي ای زما بچیه) او دا ځواب د جوماتو ټولو خلکو واوریدو په حضرت سید احمد رفاعي رحمه الله باندی ډیر سخت وجد راغی او ډیر زیات یې وژړل او بیا په ډیر شوق سره عرض وکړ : یا جداه

فی حـالة البعد روحی کنت ارسـلها
تـقبل الارض عنی وهـی نـائبتی
وهـذه دولـة الاشباح قـد حضرت
فـامدد یمینـك کئی تحظی بهـا شـفتی

یعنی : ای ناناجانه د لري والي په حالت کی می خپل روح حضورته لیږلو چې زما په نیابت به یې ځمکه ښکولو ، اوس د جسم نوبت راغلی نو لږ دی خپل ښی لاس مبارک راوباسه چې زما شونډی د دی په ښکلولو باندی مشرف شي ، نو فوراً د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک لاس ځلیدونکی د قبر شریف نه ظاهر شو او په زرګونو خلکو یې زیارت وکړ او سید احمد رفاعي هغه ښکل کړ (مجمع البحور ص ۱۸٦) .

(۲۵) په " حقیقة السورت " کی دي : د سورت یو بزرګ شیخ محمد فاضل سورتي رحمه الله (د ده پیدائش په ۱۲۱۷ھ او وفات یې په ۱۳۰۲ھ کی دی) په کومه ورځ چې دی وفات شوی هغه د عرفی ورځ ، ده به فرمایل چې زه حج ته ځم نو د سورت یو څو اوسیدونکی کله چې د حج نه فارغیدو نه وروسته واپس کور ته راغلل نو ویل یې چې مونږه مولانا صاحب د حج په ورځ عرفات کی لیدلی " ویکی از خوارق آنجناب حج بود میگفتند که برای حج میروم چون بعض از ساکنان سورت از حج فارغ شده آمدند گفتند که مولوی صاحب را در عرفات بروز حج دیده بودم .

(حقیقت سورت فارسی ص ۹۳) فقط والله اعلم ، احقر سید عبدالرحیم لاجپوري .

د دین بزرگان په ژوند یا وفات نه وروسته حج یا نورو ځایو ته تللی شي یا نه ؟

(۲۹ سوال) پدی مسئله کی دیني علماء او شرعي مفتیان څه فرمایي چی د دین بزرگان خپل ژوند کی مخفي طور یا بعد الوفات حج او نورو ځایو ته تللی شي یا نه ؟ د حوالو سره ځواب راکړئ ، مهرباني

ځواب : د الله تعالی نیک او مقرب بندګان د الله تعالی په اجازت سره سفر کولی شي او حج لپاره هم تللی شي ، دا د الله تعالی تر مشیت او ارادی پوری موقوف دي پخپله د دوی اختیار نشته ، او دا درجه په ذکر الهي او د سنتو پیروي او د شریعت د اتباع له برکته حاصلیدی شي ، دا به کرامت او د حضور اقدس صلی الله علیه وسلم معجزه وي .
په " حقیقت سورت " کی دي : د سورت یو بزرګ شیخ محمد فاضل سورتي رحمه الله (د دوی پیدائش په ۱۲۱۷ھ او وفات یی په ۱۳۰۲ھ کی شوی دی) په کومه ورځ چی دی وفات شوی هغه د عرفی ورځ وه ده به فرمایل چی زه حج لپاره روانیږم نو د سورت یو څو اوسیدونکي چی د حج نه فارغیدو سره بیرته راستون شول نو ویل یی مونږه مولانا صاحب د حج په ورځ عرفات کی لیدلی " ویکی از خوارق آنجناب حج بود میګفتند که برای حج میروم چون بعض از ساکنان سورت از حج فارغ شده آمدند ګفتند که مولوی صاحب را در عرفات بروز حج دیده بودم .
(حقیقت سورت فارسی ص ۹۳)

همدا شان یوه واقعه په اکمال الشیم کی د شیخ عطاء الله اسکندری رحمه الله د "الحکم" مصنف لیکلی ده (شیخ احمد بن محمد بن عبدالکریم بن عطاء الله رحمه الله الحکم تصنیف کړ دی د ابن عطاء الله اسکندری په نوم مشهور وُ د الحکم مضامین په بابونو تقسیم نه وو ، پدی وجه شیخ علی متقی د الحکم متفرق مضامین په بابونو کی ترتیب کړل او د دی کتاب نوم یی " تبویب الحکم " کیښود او بیا حضرت العلامه مولانا الحافظ خلیل احمد صاحب مهاجر مدني رحمه الله د تبویب الحکم اردو ترجمه وکړه او نوم یی " اتمام النعم " کیښود لدینه وروسته مولانا محمد عبدالله ګنګوهي رحمه الله د اتمام النعم شرح ولیکله او د دی شرح نوم یی " اکمال الشیم " کیښود پدی اکمال الشیم کی د شیخ عطاء الله اسکندری مختصر حالات لیکل شوي دي د دوی په حالاتو کی دا واقعه لیکلي ده :

د شیخ له شاګردانو څخه یو څوک حج بیت الله شریف ته لاړ نو په مطاف کښي یې شیخ ولید او حال دا چې هغه یې خپل ځای کې پریښی وُ ، او بیا یې ورانـدې په مقام ابراهیم کې ولید او بیا وروسته یې د صفا او مروه په منځ کې ولید او بیا یې په عرفات کې هم ولید ،کله چې د حج نه راستون شو نو شاګرد له خلکو نه تپوس وکړ چې ما نه وروسته شیخ حج ته روان شوی وُ ؟ خلکو انکار وکړ او چې کله د استاذ په خدمت کې حاضر شو نو تپوس یې وکړ چې د حج په سفر دې څوک څـوک ولیدل ؟ شاګرد عرض وکړ چې حضرت تاسو مې هم لیدلي وئ ، شیخ مسکی شـو ، غفر الله له ولنا ولجمیـــع عباد الله الصالحین بحرمة سیدنا محمد واله واصحابه الطاهرین ومتبعي سننه اجمعین (اکمال الشیم ص ۳ ، ۴) فقط والله اعلم .

د حجر اسود په ښکلولو کې د ده د عبادت شائبه :

(۳۰ سوال) غیر مسلم خلک دا اعتراض کوي چې مسلمانان د حجـر اسـود پـه ښکلولـو سره د دوی عبادت کوي ، دوی ته څه ځواب ورکړی شي ؟

ځواب : حجر اسود د محبت په وجه ښکلولی شي ، د عبادت او عظمـت او حاجـت روا ګڼلو په طور باندی نشي ښکلولی .

د دی اعتراض ځواب د نن نه څوارلس سوه کاله وړانـدې ورکـړل شـوی دی ، رسـول الله صلی الله علیه وسلم حجر اسود ته نزدی ودریدو سره فرمایلي دي : " انی لاعلـــم انك حجر لاتضر ولاتنفع ولو لا أمرنی ربی ان اقبلك ما اقبلك "(ابن ابی شیبه).

یعنی : ما ته پته ده چې ته یو کانی یې د نفع او نقصان رسولو قدرت نلری که ماته خپـل رب ستا د ښکلولو امر نه وای کړی نو ما به نه وی ښکل کړی .

همدا شان د دی مسئلی وضاحت کونکی دویم خلیفه حضرت عمر فاروق رضی الله عنـه یو خل طواف کولو پدی وخت کی ځینی د باندو نوي مسلمانان هم موجود وو حضـرت عمر فاروق چی کله حجر اسود ته نزدی شو نو د ښکلولو نـه مخکـې لـږ ودریـدو او وی فرمایل : " انی لاعلم انك حجر لاتضر ولاتنفع ولو لا انی رأیت رسول الله صـــلی

الله علیه وسلم قبلك ما اقبلك " (مشکواة باب دخول مکة والطواف فصل ثالث ص ۲۲۸) .

ترجمه : زه پوهیږم او دا می یقین دی چی ته یو کانړی یی (معبود نه یی) نه نقصان رسولی شی او نه فایده که چیرته ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښکلولو نه وای لیدلی نو ما به نه ښکلولی .

لږ سوچ وکړئ که مسلمان حجر اسود لره قابل د پرستش ، حاجت روا او د نفع او نقصان مالک ګڼلی نو بیا د داسی قسم خطاب څه مطلب وُ ؟ لدینه معلومیږي چی ښکلول یواځی د محبت په وجه دي خپل اولاد او ښځه هم ښکلولی شي ایا دا هم معبود او حاجت روا ګڼلو سره ښکلولی شي ؟ هرګز نه ، فقط .

د طاعون په باره کی اسلامي معلومات :

(۳۱ سوال) نن صبا په سورت کی بیماري خوره شوی چی حکومت ورته طاعون وایي او دا ساري ګڼي یعنی دا بیماري متعدي او ساري ده د یوه بیماری بل ته لګیږي ، ایا د اسلامي تعلیماتو په اعتبار سره دا خبره صحیح ده چی د یو بیماري بل ته لګي ؟ او د وبا ځای نه تښتیدل څه حکم لري ؟ امید دی چی په تفصیل سره پدی موضوع رڼا واچوئ ، مهرباني .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً : د جاهلیت په زمانه کی د خلکو عقیده وه چی څو بیماریانی (لکه خارښ ، جذام وغیره) ساري او متعدي دي رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی نفي کړی دی او ارشاد یی فرمایلی دی : لاعدوی الخ .

او رسول الله صلی الله علیه وسلم چی څه ارشاد کوي هغه د الله تعالی له طرفه وي ، په قرآن مجید کی دي : " وما ینطق عن الهوای ان هو الا وحی یوحی " ترجمه : او رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو خواهشاتو نه خبرې نه کوي ، د ده ارشاد خالص وحي وي کوم چی ده ته کولی شي (سورت نجم) لهذا د رسول الله صلی الله علیه وسلم ذکر شوي فرمان هم د الله له طرفه وحي دی ، پوره حدیث په بخاري شریف کی داسی دی : " سمعت اباهریرة رضی الله عنه یقول قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاعدوی ولاطیرة ولاهامة ولاصفر الخ " (بخاری شریف ص ۸۵۰ کتاب الطب باب الجذام) او (مشکواة شریف ص ۳۹۱ باب الفال والطیرة) .

ترجمه رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایي : چې مرض نه متعدي (ساري) کیږئ ، لکه چې څنګه چې الله تعالی چالره بیماروي همداشان بل لره هم خپل مستقل تصرف سره بیماروي ، د میل جول یعنی ناسته ولاړی سره چاته مرض نه لګیږي دا تول وهم دی) او نه (د مرغی د الوتو نه) بدفالي نیول څه شی دی (لکه څنګه چې خلکو کی مشهوره ده چی که د بنیي اړخ نه تیتر وغیره والوزي نو منحوس ګڼل کیږي دا تول بی بنیاده خبری دي) او نه د کُنګ نحوست څه شی دی ، عام طور سره خلک پدی باندی منحوس خیال کوي دا بالکل غلطه خبره ده او د صریح حدیث نه خلاف ده) او نه د صفر میاشت کی څه نحوست شته ، او یو رسم د صفر میاشت کی د آخري چهارشنبی رواج دی دا هم بالکل بی اصل او بی سنده خبره ده (ترجمه او تشریح د خطبات الاحکام نمبر ۴۰ خطبی نه اخستل شوی ده) او په دویم حدیث کی دي :

" عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاعدوی ولاهامة ولاصفر فقال اعرابي یارسول الله صلی الله علیه وسلم فما بال الا بل تکون فی الرمل لکانها الظبآء فیخالطها البعیر الاجرب فیجربها ؟ فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم فمن أعدٰی الاول ؟ " (بخاری شریف ج ۲ ص ۷۵۹ و ، کتاب الطب ، باب الاهامة) (مسلم شریف ج ۲ ص ۲۳۰) (مشکواة شریف ص ۳۹۱ باب الفال والطیرة) .

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایي : د یوه بیماري بل ته نه لګي او نه بدفالي نیول صحیح دي او نه صفر ، نو یو اعرابي وویل یارسول الله صلی الله علیه وسلم نو د اوښانو څه حال وي چې دوی په صحرا کی د هوسو پشان تندرست وي چې پدوی کی یو پمن اوښ ګډ شي نو نور هم ورسره پمن شي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایل : نو هغه اولنی اوښ چا پمن کړ ؟ یعنی هغه هم د الله تعالی په تقدیر سره پمن شوي و او دا نور هم د الله تعالی په تقدیر سره پمن شول) .

لدی دواړو حدیثو نه ثابت شو چې په اسلام کي د مرض متعدي کیدل یعنی ساري کیدل هیڅ تصور او عقیده نشته ، هر یو شی د الله تعالی په تقدیر او حکم سره کیږي ، پدی عقیده او خیال سره چې د بل چا بیماري به ماته ولګي او یا زه د طاعون په خای کی اوسیدو سره مړکیږم د طاعون د خای نه تښتیدل جائز ندي ، په حدیث کی منع

راغلی دی ، په بخاري شريف کې دي : " حدثنا حفص بن عمر .... قال سمعت اسامة بن زيد يحدث سعداً عن النبي صلی الله عليه وسلم انه قال اذا سمعتم بالطاعون بارض ولاتخرجوا منها فراراً منه ويدل على التحريم ماروى عن ام المؤمنين عائشه رضی الله عنها قال الفار من الطاعون كالفار من الزحف ، واخرج ابن خزيمة فی صحيحه ان الفرار منه من الكبائر والله تعالی يعاقب عليه ان لم يعف الی قول . ونقل ابوالحسن المدائنی رحمه الله عن ابيه قال فلما فر احد من الطاعون فسلم ، قال تاج الدين السبكی والذی حكاه مجرب وليس ببعيد ان يجعل الله الفرار منه سبباً لقصر العمر وقد جاء فی الكتاب الكريم فررتم من الموت او القتل واذ لاتمتعون الا قليلاً وحكی ان والده استنبط ذالك من هذه الاية " (مجالس الابرار ص ۳٤٥ وص ۳٤٦ مجلس نمبر ٥٩) .

ترجمه : حضرت اسامه بن زيد رضی الله عنه حضرت سعد رضی الله عنه ته دا حديث واورولو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي : كله چې تاسو په كوم ځاى كې د طاعون خوريدو خبرو واورئ نو هلته مه ځئ او په كوم ځاى كې چې تاسو اوسيږئ او هلته طاعون خور شي نو د " ولاتخرجوا فراراً منه " (د طاعون نه په تيښته باندی مه ووځئ) د جملې په وجه ، او حرمت باندی هغه روايت دلالت كوي كوم چې د ام المؤمنين حضرت عائشه صديقه رضی الله عنها نه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي : د طاعون نه تښتيدونكی د جهاد ځخه تښتيدونكي ځخه برابر دی ، او ابن خزيمه پخپل صحيح كی نقل كړی دی چې لدينه تښتيدل كبيره ګناه ده او الله تعالی پدی عذاب وركوي كه معاف يې نه كړي ـ الی قوله ـ او ابوالحسن مدائنی دخپل محترم پلار نه نقل كړي دي چې د طاعون ځخه تښتيدونكی ډير كم بچ كيږي ، تاج الدين سبكی رحمه الله فرمايي : دا كوم بيان چې وشو دا تجربه شوی خبره ده او دا څه لری نه ده چې الله تعالی د طاعون نه د تښتيدو په سبب عمر كم كړي ، الله تعالی فرمايي : " قل لن ينفعكم الفرار " يعنی ته ورته ووايه چې تاسو ته تيښته هيڅ فايده نه دركوي كه چيرته تاسو له مرګ او يا قتل نه تښتئ او پدی حالت كې غير د څو لږو ورځو نه نوره زياته فايده نشي حاصلولی ، نقل شوی چې د تاج الدين

سبکي رحمه الله محترم والد صاحب (کوم چې ډېر لوی محدث ؤ) له همدی آیت نه استنباط کړی دی چې د طاعون څخه تښتېدونکی سړی زیات وخت لپاره د ژوند فائدی نشي حاصلولی بلکی د ده عمر کمیږي .
او دیته ورته او نږدی مضمون امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله هم لیکلی دی ، مکتوبات امام رباني مجدد الف ثاني ۴۳۰/۱ فارسی ، مکتوب نمبر ۲۹۹ دی وکتل شي
لهذا په الله رب العزت باندی پوره یقین کولو سره هم هلته پاتی شئ او د تښتی کوشش مه کوئ له هغه ځایه تښتیدل د نجات سبب ندی ، خپلو ګناهونو باندی توبه او استغفار ، الله تعالی ته انابت او رجوع دا شیان په اصل کی نجات ورکونکي دي ، په مرقات شرح مشکواة کی د فرار نه د نهي کونکی حدیث شرح کولو سره لیکلي دي : " قال ابن الملك فان العذاب لايدفعه الفرار وانما يمنعه التوبة والاستغفار " ابن ملک فرمايي چې تښتيدل د الله عذاب نشي دفع کولی بلکی توبه او استغفار سره د الله عذاب دفع کیدی شي (مرقات شرح مشکواة ۳۶۰/۳ ملتاني) .
او پدیکی دا حکمت هم مدنظر دی چې ټول خلک وتښتي نو د بیمارانو تیمارداري او خدمت به څوک کوي ؟ او د مړو تجهیز او تکفن به څوک کوي ؟لهذا د وتلو نه منع کړی ده ، په التعلیق الصبیح کی دي : " ويحتمل انه كره ذلك لما فيه من تضيع المرضى اذا رخص للاصحاء فى التحول عن جانبهم وترك الاموات بم ضيعة فلا يحضرهم من يقوم بامرهم وصلى عليهم " (التعليق الصبيح على مشكواة المصابيح ۱۹۹/۲) او همدا راز څوک چې هلته پاتی دي د هغوی همت کی سستي راځي او خلک په تښتیدونکو باندی بدګمانه کیږي .
نو په الله تعالی باندی مکمل اعتماد او پدی یقین باندی چې څه د الله تعالی په تقدیر کی وي هماغه به کیږي ، او دثواب امید لرلو سره هم هلته پاتی شي نو الله تعالی رب العزت به یواځی پدی پاتی کیدو باندی اجر و ثواب ورکوي ، بخاري شریف کی روایت دی . " عن عائشه رضى الله عنها زوج النبى صلى الله عليه وسلم انها اخبرته انها سألت رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الطاعون فاخبرها نبى صلى الله عليه وسلم انه كان عذاباً يبعثه الله على من يشاء فجعله الله رحمة للمؤمنين فليس من

عبد يقع الطاعون فيمكث فی بلده صابرا يعلم انه لن يصيبه الا ما كتب الله له الا كان له مثل اجر الشهيد " (بخاری شريف ج ۲ ص ۸۵۳ كتاب الطب بـــاب اجر الصابر فی الطاعون) .

ترجمه : د ام المؤمنين حضرت عائشه رضی الله عنها روايـت دی چـی مـا د رسـول الله صلی الله عليه وسلم نه د طاعون په باره کی تپوس وکـړ نـو رسـول الله صـلی الله عليـه وسلم وفرمايل : دا د ځينو لپـاره يـو قسـم عـذاب دی چـی الله تعـالی چـالره وغـواړي ورليږي ، او الله تعالی دا په مؤمنانو باندی رحمـت جـوړ کـړی دی کـوم سـړی چـی د طاعون په وخت کی خپل کلي کی صبر کـونکی او د ثـواب اميـدوار کيـدو سـره پـدی عقيده چی څه مقدر وي هغه به کيږي نو ده ته د شهيد برابر ثواب ورکول کيږي .

(مشكواة شريف ص ۱۳۵ باب عيادة المريض)

او که الله تعالی ته منظوره وي او دی پدی کی وفات شي نو دا به د شهادت مـرګ وي ، بخاري شريف کی حـديث دی : " عن انس رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم الطاعون شهادة لكل مسلم " (بخاری ۸۵۳/۲ باب مايـــذكر فی الطاعون) (مشكواة ص ۱۳۵) .

او په بل روايت کی دي : " عن ابی هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صـــلی الله عليه وسلم الشهداء خمسة المطعون والمبطون والغريق وصاحب الهدم والشهيد فی سبيل الله " متفق عليه (مشكواة ص ۱۳۵ باب عيادة المريض) .

ترجمه : دحضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دی چی رسول الله صلی الله عليـه وسلم فرمايلي دي : شهيدان پنځه دي ، طاعون والا ، د خيټـی درد والا (لکـه اسـهال استسقاء) او څوک چی غرق او ډوب شي او څوک چی د ديوال او ابادي لاندی شي او څوک چی په جهاد کی شهيد شي .

" الطاعون شهادة لامتی ورحمة لهم ورجس علی الكافرين " (حم وابن سعيد عن ابن مسيب) (كنز العمال ۱۸٦/۵ (۳۸۱٤) نمبر حديث) .

ترجمه : طاعون زما امت لپاره شهادت او رحمت دی او کافرانو باندی عذاب دی .

په شامي کی دي :

" (قوله والمطعون) وکذا من مات فی زمن الطاعون بغیره اذا قام فی بلده صابراً محتسباً فان له اجر الشهید کما فی حدیث البخاری وذکر الحافظ ابن حجر انــه لایسئل فی قبره اجهودی " (رد المختار علی الدر المختار ج ۱ ص ۸۵۲ بــاب الشهید)

ترجمه : څوک چې په طاعون کی مړ شي هغه شهید دی او همداشان هغه سړی چې د طاعون په زمانه کی خپل کلي کی د صبر او ثواب په امید پاتی شي او د طاعون نه علاوه (په کوم بل بیماری کی) وفات شي نو دیته هم د شهادت درجه ملاویږي لکه چې د بخاري شریف په روایت کی دي ، او حافظ ابن حجر رحمه الله فرمایي : په طاعون کی مړ کیدونکي څخه قبر کی سوال نه کیږي .

په مکتوبات امام رباني کی دي : " وقد جزم شیخ الاسلام ابن حجر فی کتاب بذل الماعون فی فضل الطاعون " (بخاری ۸۵۳/۲ کتاب الطب باب ما یذکر فی الطاعون) .

ترجمه : شیخ الاسلام ابن حجر رحمه الله خپل کتاب "بذل الماعون فی فضل الطاعون" کی له هغه ځایه (د تیښتی په اراده سره مه ووځئ) (مشکواة شریف ص ۱۳۵ باب عیادة المریض) .

لهذا د طاعوني ځای نه پدی خیال او عقیدی سره تښتیدل چې د بیماری او مرګ نه به بچ شم (او که نه په بیماری کی اخته کیدو سره مړ کیږم) ناجائز او سخته ګناه ده او د نورو لپاره هم د بی همتی او د پریشانی سبب جوړیږي ،لهذا په الله تعالی باندی اعتماد کولو سر هم هلته پاتی شئ ، او همداشان کوم ځای کی چې طاعون خور شي هلته مه ورځئ پدی کی هم د عقیدی حفاظت مقصود دی ، ځکه که چیرته هلته ورتلو سره بیماری کی اخته شي او یا مړ شی نو ځمونږ عقیده خو دا ده چې دا د الله تعالی په تقدیر سره دی مګر شیطان په زړه کی وسوسه اچوي چې که نه وای راغلی نو بیمار شوی به نه وای دلته په راتلو په وجه بیمار شوم ، او همدراز د کمزور طبیعت او عقیدی والا خلک به هم همدا خیال کوي چې دلته په راتلو سره بیماران شولو پدی وجه په حدیث کی د طاعونی ځای نه د وتلو او ننوتلو دواړو نه منع شوی دی . پدی دواړو

صورتونو کی د عقیدی حفاظت مقصود دی ، په هر صورت د مؤمن عقیده دا کیدل پکار دي چی " نه وتل موجب د نجات دي او نه ننوتل موجب د مرض او د هلاکت دي "

په درمختار کی دي :

"واذا خرج من بلدة بها الطاعون فان علم ان كل شئی بقدر الله تعالی فلا بأس بان يخرج ويدخل وان كان عنده انه لو خرج فنجا ولو دخل ابتلى به كره له ذلك فلا يدخل ولايخرج صيانة لاعتقاده وعليه حمل النهي فی الحديث الشريف" مجمع الفتاوی. (درمختار مع رد المختار ص ٦٦١ ج ٥ مسائل شتی قبيل كتاب الفرائض) .

ترجمه : او کله چی د هغه کلي نه ووځي کوم کی چی طاعون راغلی نو که دهغه عقیده دا وي چی هر څه د الله په تقدیر سره کیږي (د الله تعالی د حکم نه بغیر هیڅ نه کیږي) نو بیا په وتلو او ننوتلو کی څه پروا نشته (اجازه ده) او که د هغه عقیده دا وي چی که لدی ځای نه ووځم نو بچ کیږم او که ننوځم نو بیماریږم نو بیا مکروه دي یعنی داسی سړي ته له هغه ځای د وتلو او ننوتلو اجازت نشته ، د ده د عقیدی د حفاظت په خاطر او په حدیث کی منع په همدی تفصیل باندی محمول ده .

په قرآن مجید کی دي : " الم تر الی الذين خرجوا من ديارهم وهم الوف حذر الموت فقال لهم الله موتوا ثم احياهم " (سورت بقره) .

ترجمه : ایا تا هغه خلک ونه لیدل چی د مرګ نه بچ کیدو لپاره د خپلو کورونو نه وتلي وو او دوی په زرګونو وو نو الله تعالی ورته حکم وکړ چی مړه شئ (نو ټول مړه شول) او بیا یی راوژوندي کړل .

د دی آیت په تفسیر کی دي چی د مخکنی امت یوه علاقه کی وباء (طاعون) خور شو نو د زرګونو (یو روایت کی اویا زره) په تعداد کی خلک وتښتیدل او وی ګڼل چی مونږ د مرګ نه بچ شولو الله تعالی ورته د دوی د بدی عقیدی سزا ورکړه چی یو دم ټول مړه شول ، خوک دفن کونکی هم پاتی نشو ، بیا څه موده وروسته یو نبي هلته ورسید د دغی خوفناک منظر په لیدو سره یی دعاء وکړ نو الله تعالی دوی د عبرت لپاره

راژوندي کړل نو بیا یی یقین راغی چی د مرګ نه خوک نشي تښتیدلی (تفسیر مظهري ۳۴۳/۱ ، تفسیر احمدی ۱۶۹/۱) .

د طاعون ځای ته د ننوتلو نه دمنع کولو یوه وجه دا هم کیدی شي چی طاعون د کافرو په حق کی د الله تعالی عذاب دی او د عذاب ځای ته ورتلل پکار نه دي ، د حدیث نه دا ثابت دي چی یو سفر کی رسول الله صلی الله علیه وسلم د قوم ثمود په علاقه باندی (کوم ځای چی د الله تعالی عذاب نازل شوی وُ) تیریدلو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوی په کلي کی له داخلیدو نه منع وفرمایل[1] لهذا همدا مناسب دي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت هغه ځای ته ننوتلو نه منع کړی کوم ځای کی چی طاعون (عذاب) راغلي وي ، په التعلیق الصبیح کی دي : " فقوله لاتقدموا علیه لان الله تعالی شرع لنا التوقی عن المحذور ثم ان الطاعون لما کان رجزاً لم یرا الاقدام علیه والتورط فیه وقد صح عنه صلی الله علیه وسلم انه لما بلغ الحجر وهی دیار ثمود منع اصحابه ان یدخلوا دیار المغذبین فبا لحری ان یمنع امته ان یدخلوا ارضاً وقع بها الطاعون وهو العذاب " (التعلیق الصبیح علی مشکواة المصابیح ص ۱۹۹ تا ص ۲۰۰ ج ۲) .

[1] ـ وقدمر رسول الله صلی الله علیه وسلم علی دیارهم ومساکنهم وهو ذاهب الی تبوک فی سنة تسع قال الامام احمد حدثنا عبدالصمد صخر بن جویریة عن نافع عن ابن عمر قال لما نزل رسول الله صلی الله علیه وسلم بالناس علی تبوک نزل بهم الحجر عند بیوت ثمود فاستقی الناس من الابار التی کانت تشرب منها ثمود فعجبوا منها ونصبوا لها القدور فامرهم النبی صلی الله علیه وسلم فاهرقوا القدور وعلفوا لعجین الابل ثم ارتحل الابل ثم ارتحل بهم حتی نزل بهم علی البشر التی تشرب منها الناقة ونهاهم ان یدخلوا علی القوم الذین عذبوا وقال ،انی اخشی ان یصیبکم مثل ما اصابهم فلا تدخلوا علیهم وقال ایضاً حدثنا عفان عبدالعزیز بن مسلم حدثنا عبدالله بن دینار عن عبدالله بن عمیر قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم وهو بالحجر لاتدخلوا علی هؤلاء المعذبین الا ان تکون باکین فان لم تکون باکین فلا تدخلوا علیهم ان یصیبکم مثل ما اصابهم واصل هذ الحدیث فخرج فی الصحیحین من غیر وجه الخ والبسط فی التفسیر ابن کثیر سورة اعراف ج ۲ ص ۲۳۲ .

او په حدیث کــی دي " عن جابر رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال الفار من الطاعون كالفار من الزحف والصابر فيه له اجر شهيد " (رواه احمد) (مشکواة شریف ص ۱۳۹ باب عیادة المریض) .

ترجمه حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیـه وسـلم فرمایلي دي : د طاعون نه تښتیدونکی داسې دی لکه د جهاد نه تښتیدونکی او پـدیکی ثابت قدم پاتی کیدونکي لپار د شهید ثواب ملاویږي .

شیخ عبدالحق محدث دهلوي په اشعة اللمعات فی شرح مشکواة کی لیکي :

وازین حدیث معلوم می شود که گریختن از طاعون گناه کبیره است چنانکـه فـرار از زحف و اگر اعتقاد کند که اگر نگریز دالبته می میر دوا گر بگریزد بسلامت مـی مانـد آن خود کفر است (اشعة اللمعات ج ۱ ص ۶۵۳ باب عیادة المریض) .

ترجمه : لدی حدیث نه معلوم شو چی د طاعون نه تښتیدل کبیره گناه ده لکـه د جـنگ نه تښتیدل ، که چیرته دا عقیده ولري چی که ونه تښتم نـو مـړ کیـږم او کـه وتښـتم نـو صحیح سلامت پاتی کیږم ، دا عقیده پخپل ځای کفر ده (نعوذ بالله من ذالک) .

او فرمایي : " ضابطه درین وباهمین است که درانجا که هست نباید رفـت ودر آنجـا کـه باشد نباید گریخت واگر چه گریختن دربعض مواضع مثل خانه که دروے زلزلـه باشـد یـا آتش گرفته یانشستن در زیر دیوار که خم شـده نـزد غلبـه ظـن بـه هـلاک آمـده اسـت ، امادرباب طاعون جز صبر نیامده وگریختن تجویزنه یافته و قیاس این بـران فاسـد اسـت که آنها از قبیل اسباب عادیه اندواین از اسباب وهمي دبـر هـر تقـدیر گـریختن از آنجـا جائز نیست وهیچ جاوارد نه شده هر که بگر یزد عاصی و مرتکب کبیره و مردود اسـت ، نسئل الله العافیه (اشعة اللمعات ص ۶۳۹ جلد اول باب عیادة المریض فصل نمبر ۱) .

ترجمه : پدی وباء کی قاعده دا ده : کوم ځای کـی چـی وبـا خـوره شـوي وي هلتـه ورتلل ندي پکار او که هغه ځای کی موجود وي نو له هغه ځخه تښتیـدل نـه دي پکـار اگر که ځینی ځایو کی تښتیدل جائز دي لکه د هغه کـور نـه تښتیـدل چـی زلزلـه پکـی وشي او یا اور ولگي او یا دهغه دیـوال لانـدی کیناسـتل چـی راکـوږ شـوی وي او دی لاندی کیناستل د هلاکت گمان غالب وي نو (له هغه ځایـه لـری کیـدل) ثابـت دي ،

لیکن په طاعون کی غیر د صبر نه نور څه نـدی ثابـت او تښتيـدل نـدي جـائز شـوي او پدی شیانو باندی د طاعون قیاس کول فاسد دی ځکه چی هغه عـادي اسبـاب دي او دا (طاعون نه تښتيدل) وهمي سبب دی په هر صـورت لـدی ځـای نـه تښتيـدل جـائز ندي او چیرته ندي راغلي او کوم سړی چی وتښتي هغه گنهگار او د کبیره گناه مرتکـب دی ، الله تعالی دی مونږ ورنه وساتي .

او په مجالس الابرار کی دي :

"واختلف فی هذا النهی فقال القاضی تاج الدین سبکی مذهبنا هو الـــذی علیـــه الاکثرون ان النهی عن الفرار منه للتحریم وقال بعض العلماء هو لتنـــزیه واتفقوا علی جواز الخروج لشغل غرض غیر الفرار بان المیت بالطعن لایسأل لانه یظهـــر المقتول فی المعرکه محتسبا یعلم انه لا یصبه الا ما کتب له اذا مات فیه بغیر الظـــن لایفتن ایضاً لانه نظیر المرابط کذا ذکره الشیخ الاجل السیوطی فی کتاب شـــرح الصدور بشرح حال الموتی والقبور وقال وهو حجة جداً" (مجالس الابـرار ص۲۴۶ ، مجلس نمبر ۵۹)

" وهمین کسیکه نه نگریخت ونه مرد ازجمله غازیان ومجاهد است ـــ إلی قولـه . واکثـر گریز پایان که سلامت ماندند بعلت آن ک اجـل ایشـان نرسـیده بـود نـه آنکـه گـریختن اشانرا از مرگ‌خلاص ساخت واکثر صابران که هلاک شد هم باجـل هـلاک شـدند فلـیس الفرار ینجـی ولا الا سـتقرار یهلـک "(مکتوبـات امـام ربـاني فارسـي ص ۴۳۰ دفتـر اول مکتوب نبر ۲۹۹ او اردو ۱/ ٦٨٧)

ترجمه : په حدیث کی له تیښتې نـه منـع راغلـې او پـدیکې دعلمـاو اخـتلاف دی چـی دانهې څنگه دی ؟ قاضي تاج الدین سبکي رحمه الله فرمایي : زمونږ مـذهب هغـه دی کوم چی داکثرو علماو دی چـی نهـی دتحـریم لپـاره دی یعـنې تښتيـدل حـرام دي او څیني علماء فرمایي چی نهی تنزیهي دی ، او دتیښتې نه علاوه دبل څه کار لپـاره تللـو په جواز باندی ټول متفق دی ، او دحدیث په آخر کـې تحقیـق سـره لیکلـي چـی کـوم سړی دطاعون نه مړشو له هغه نه هیڅ سوال نه کیږي ځکه چـی هغـه داسـي دی لکـه چی جنگې کې قتل شوی و ي، او څوک چی په طاعون کی داجر دطلب په نیـت صـبر وکړي او دایي عقیده وي چی ماته به هغه څه رسیږي کوم چی الله تعـالی مالپـاره مقرر

کړی او لیکلیدي ـو داسې که دطاعون نه علاوه په کوم بل بیماري کې هم مړشـي نـو پدی صورت کې به هم ورته عذاب نـه وي ځکـه چـی دا دمـرابط (یعـنې چهـاد لپاره دنیاري کوونکی پشان دی) دی ، او همدا شان شیخ سیوطي رحمه الله پخپـل كتـاب شرح الصدور فی حال الموتی والقبور کی هم ذکر کړیدی او ویلي یې دي چی دا ډیـر لوی دلیل دی ، او کوم سړی چی ونه تښتي او مړ نشـي هغـه دغازیـانو او مجاهـدینو او صابرانو څخه دی . او توله ، او کثر تښتیدونکي چی سلامت پاتې کیږي پدی وجه پـاتې کیږي چی تراوسه یې اجل نه و راغلي نه داچی په تیښتـه سـره دمـرګـنـه بـچ شـول او زیاتره صابر خلک چی مړه شول دوی هم پخپ اجل سره مړه شول نو نـه خـو تښتیـدل بچ کولې شي او نه هلته پاتې کیدل مړکولې شي .

کله چی په خلکو کی بی حیایي بالکل عـام او ښکـاره شـي نـو طـاعون او نـوی نـوی مرضونه پیداکیږي . په ابن ماجه شریف کی حدیث دی : " عن عبدالله ابن عمر رضی الله عنه ...لم يظهر الفاحشة فی قوم قط حتی يعلنوا بها الا فشى فـيـهم الطـاعون والاوجاع التی لم تكن مضت فی اسلافهم الذي مضوا"یعنی په کـوم قـوم کـی چـی علانیه بدکاري شروع شي نو هغو خلکو کی طـاعون او نـوی نـوی بیماریـانې خوریږي کومې چی په مخکنی خلکو کی نه وې ظاهرشوې . (ابن ماجه ص ۳۰۰ باب العقوبات)

په مجالس الابـرار کـی دي : " وقد ثبت فی الحديث ان سبب وقوع الطاعون ظهور الفاحشة واعلان المنكرات علی ماروی ابن عمر رضی الله عنه انه عليه السـلام قال لم يظهر الفاحشة فی قوم قط حتی يعلنوا بها الافشا فيهم الطـاعون واخـرج مالك عن ابن عباس موقوفاً والطبراني مرفوعاً مافشا الزنافی قوم قط الا كثر فيهم الموت " (مجالس الابرار ص ۲٤٦ ، مجلس نمبر ۵۹)

ترجمه : په حدیث کې دي چی دطاعون سبب دفحش او بـدو عملونـو بالکـل ظـاهر او ښکاره او عام کیدل دي لکه چی ابن عمر رضی الله عنه روایـت کـړی چـی رسـول الله صلی الله علیه وسـلم ارشـاد فرمـایلي دی : هیڅکلـه پـه یـو قـوم کـی بـی حیـایي نـه ظاهریږي تردی پورې چی ښکاره په ښکاره شروع شي مګر په هغو باندی ضرور طـاعون خوریږي ، او مالک دابن عباس رضی الله عنه نه موقوفاً او طبراني مرفوعاً نقل کـړی دی چی په هیڅ یو قوم کی زنا نه خوریږي مګر هغوی کی مرګ او مړکیدل خوریږي .

په قران مجید کې دي : ﴿فَأَنزَلْنَا عَلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا رِجْزًا مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ﴾ (البقرة : ۵۹) .

ترجمه :نو بیا موږ په دې ظالمانو باندې دآسمان نه عذاب نازل کړ ، پدې وجه چې دوی نافرماني کوله . دا آیت دبني اسرائیلو په باره کې دی ددوی دفسق وفجور او دنافرماني په وجه الله تعالی وربانديی آسماني آفت نازل کړ او هغه آسماني افت طاعون و ، په تفسیر بیضاوي کې دي : " والمراد به الطاعون ، روی انه مات به في ساعة اربعة وعشرون الفاً "(تفسیر بیضاوي ص۵) [1] .

دذکر شوي حدیث او دقرآن پاک له آیت نه ثابت شو چې طاعون دګناهونو په سبب راځي مګر الله تعالی دخپل بې انتهاء رحمت او فضل نه دمؤمنانو په حق کې رحمت ګرځوي او دکافرانو په حق عذاب لکه چې دبخاري شریف او دکنز العمال له روایتونو څخه معلوم شو .

خلاصه دخبرو داچې مرض کې دمتعدي یعنې دسارې کیدو عقیده مه ساتئ دالله تعالی په لوی ذات باندې یقین وساتئ ، او که چاته داشبیه وشي چې په حدیث کې خو راځي : " فر من المجذوم كما تفر من الأسد " دجذامي نه داسې تښته لکه دزمري نه چې تښتې ، اوپه بل حدیث کې دي : " لا يردون ذوعاهة على مصح " یعنې بیمار اوښ روغ اوښانو سره مه ګډوي ، لدینه په ظاهر کې د حدیثو ترمنځ تعارض معلومیږي ، نو جواب دادی چې دحدیث مطلب داندی چې مرض متعدي (ساري) کیږي بلکې دلته هم په امت باندې شفقت او ددوی دعقیدو حفاظت مقصود دی ، چې په حقیقت کې دجذامي سره خلط ملط کیدل مؤ ثر ندی لیکن خدانخوا سته چاته دالله تعالی په تقدیر سره دامرض لګیدلې وي نو هغه به دا خیال وکړي چې داراته د بل نه ولګیداو عقیده به يې خرابه شي ، پدې وجه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پخپل امت باندې

---

[1]_ " قال حافظ ابن كثير تحت هذه الآيت ، وقال الشعبي الرجز اما الطاعون واما البر و قال سعيد بن جبير هو الطاعون وقال ابن ابي حاتم حدثنا ابو سعيد الا شجع حدثنا وكيع عن سفيان عن حبيب بن ابي ثابت عن ابراهيم بن سعد يعني ابن ابي وقاص عن سعدبن مالك واسامة بن زيد وخزيمة بن ثابت رضى الله عنهم قالوا قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الطاعون رجز عذاب عذب به من كان قبلكم وهكذا رواه النسائي من حديث سفيان الثوري به تفسير ابن كثير ج۱ص۱۰۰)

د شفقت په عرض وفرمایل چې جذامي سره خلط ملط او نزدیکت مه کوئ ، په مرقاة شرح د مشکوٰة کې دی " ان النهی فیهما انما جاء شفقاً علی مباشرة احد الامرین فتصیر عنه في نفسه او عاهة في ابله فیعتقد ان العدوي حق " (مرقاة شرح مشکوٰة ۹/ ۳ ملتانی) دذکرشوو دواړو حدیثونو که دغه مطلب وانخسل شي نو اول کی چې کوم حدیث وراندی کړی شو : " لا عدوی ...... " او دویم حدیث " فمن اعدی الاول " په بیاځه مقصد وي ؟ اوپه حدیثو کې تضاد خو نه وي ، اصل شئ دالله تعالی اراده او تقدیر دی لدینه علاوه نور هیڅ نشته ، بیماري پخپله متعدي او مؤثر نه وی د چالپاره چې دالله تعالی حکم نه وي اودچا په تقدیر کی نه وي نو هغه باندی یوه ذره اثر هم نه کوي .

وګورئ چې دجذامي په کور کی ټول جذامي نه وي ، اوپه کوم ځای کی چې طاعون خور شي نو ټول خلک په طاعون نه اخته کیږي _ پخپله ناچیز درې ځلي دطاعون نه په تیریدو سره اوس هم ژوندی یم . زمونږ نیا مرحومه په ۱۳۲۵ هـ کی په طاعون کی وفات شوی ده هغه وخت په یو کور کی زمونږه نیکه صاحب یو تره دوه تروریانې او زما مور پلار له نیا سره یو ځای اوسیدل او دی ټولو به دنیا تیمارداري او خدمت کولو ، دالله تعالی په فضل سره په دوی کی یو ته هم دابیماري ونه لګیدو او د نیا له وفات کیدو نه وروسته دوی ټول خو کلو نه ژوندی او سلامت وو او ددغه طاعون نه وروسته وقفه وقفه سره دوه ځلي طاعون راغی او دالله په فضل سره په دواړو طاعونو کی دوی ټول محفوظ پاتې وو ، که مرض متعدي کیدل نو دوی ټولو ته ولی متعدي نشو ؟ لهذا دعقیدی په سمولو او په تقدیر الهي باندی اعتماد کولو سره خپل ځای کی پاتې شئ ، فقط والله اعلم .

غیر مسلمو ته دایمان ددعوت اهمیت

۳۳ سوال : نن صبا یو عالم صاحب یو تحریک شروع کړی چې مقصد یې غیر مسلمو ته دایمان دعوت ورکول دی ، ایا پدیکی عملي طور سره حصه اخستل پکار دی ؟

(جواب) بسم الله الرحمن الرحیم :

" الحمد لله الذی هدانا للایمان وما کنا لنهتدی لو لا ان هدانا الله ونشـــهد ان الا اله الا الله وحده لاشریك له ونشهد ان سید نا ومولانا محمـــداً عبـــده ورســـوله المبعوث الی کافة للناس بشیرا ونذیراً وداعیاً الی الله باذنه وسراجاً منیراً صلی الله علیه وعلی اله واصحابه اجمعین ومن تبعهم الی یوم الدین . امابعد !"

ټول انسانان دیو مور او پلار حضرت آدم او حواء علیهما السلام اولادونه دي پدی لحـاظ سره دهر سړي په زړه کی دټول انسانیت لپاره همـدردي او خیر خـواهي کیـدل پکـار دي او داصفت د الله تعالی ډیر زیات خوښ دی ، په حدیث کـې دي : " عـــن انـــس وعبدالله رضی الله عنه قالا قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الخلق عیـــال الله فاحب الخلق الی الله من احسن الی عیاله " یعنی حضرت انس او عبـدالله رضـی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسـلم ارشـاد فرمـایلې دی : مخلـوق دالله تعالی کورنی ده نو الله تعالی په نزد هغه سړی زیات محبـوب دی کـوم چـی دالله تعالی کورنی والاو سره حسن سلوک کوي . (مشکواة شریف ص۴۲۵ باب الشـــفقة والحرمة علی الخلق)

شیخ سعدي رحمه الله فرمایي :

بنـــی آدم اعضـــاء یـــک دیگـــر نـــد — کـــه در آفـــرینش زیـــک جـــوهر انـــد
چـــو عضـــو بـــدر آورد روزگـــار — دگـــر عضـــو هـــا نمانـــد قـــرار
تـــوکر محنـــت دیگـــران بـــی غمـــی — نشـــاید کـــه نامـــت نهنـــد آدمـــی

یعني دحضرت آدم علیه السلام ټول اولاد خپلو کی سره داندامونو پشان دي چي دټولـو پیدائش دیو جوهر یعني اور ، اوبه ، خاورې شوی ، نو چی په یـوه انـدام کـی څـه درد پیداشي نو نورو اندامونو ته هم قرار او آرام نه پاتې کیږي ، ای مخاطبه! که ته دنورو لـه درو غم نه بې غم یې نو تاته " بني آدم " ویل مناسب ندی .
(گلستان باب اول)

او په حدیث کې هم دي : " الدین النصیحة ". یعنی دین ټول خیر خواهي دی .

دا ضروري دی او دانسانیت دټولو نه لویه همدردي او خیرخواهي داده چې دا دایمان او اسلام له دولت نه مالا مال شي او هیشه لپاره دجهنم له اور نه بچ شي او دالله تعالی درضا مندي په وجه ورته په جنت کی داخله نصیب شي .
په دنیا کی دانبیاء کرامو دبعثت اصلي مقصد دعوت الی الله یعني دایمان او دتوحیددعوت ورکول دی دخاتم الانبیاء سید المرسلین حضور (قدس صلی الله علیه وسلم) شپه او ورځ همدافکر و، او دده مبارک زړه کی چې کوم لوی درد وغم و هغه بواخې داو چې انسان خپل حقیقي معبود باندی ایمان راوړی او خپل رب وپیژني ، دده صلی الله علیه وسلم دسوز وګداز او دزړه ددرد اندازه دقرآن پاک لدی مبارکو الفاظو نه ښه لګیدلی شي چې فرمایي : (لعلك باخع نفسك ان لایکونو مؤمنین)
ترجمه : نو شاید ته ددوی په ایمان نه را وړو باندی دومره غم کوی چې خپل ځان هلاک کړی ، (سورت شعرا ۳) .
او بل ځای فرمایي :
(لعلك باخع نفسك علی اثار هم ان لم یؤمنوا بهذا الحدیث اسفاً)
ترجمه : شاید ته دوی پسې که چېرته په قرآن پاک ایمان رانه وړی نو دغم په وجه خپل ځان هلاکوي ، (سورت کهف ۵ آیت)
رسول الله صلی الله علیه ترقیامته پورې ټولو انسانانو لپاره لیږل شوي دی ، قران مجید کی دي :
(قل یا ایها الناس انی رسول الله الیکم جمیعاً)
ترجمه : ای دټولې دنیا خلکو ! زه تاسو ټولو لپاره دالله تعالی استازی (پیغمبر) یم .
(سوره اعراف ۱۵۸ آیت).
بل ځای ارشاد دی : (وما ارسلناك الا کافة للناس بشیرا ونذیراً ولکن اکثر الناس لایعلمون) سورت سباء ۲۸ آیت .
ترجمه : او مونږ ته ټولو خلکو لپاره پیغمبر لیږلې یې چې مومنانو ته زیرې ورکړې او کافرانو ته دعذاب او جهنم ویره ، لیکن زیاتره خلک نه پوهیږي .
اوبل ځای ارشاد دی : (وما ارسلناك الا رحمة للعالمین) سورت انبیاء ۱۰۷ آیت.
ترجمه : ای نبي مونږ ته د ټولی دنیا لپاره رحمت لیږلی یې .

پدی مبارک آیت کی درسول الله صلی الله علیه وسلم په باره کښې رحمت للعالمین فرمایلې رحمت للمسلمین یې نـدی فرمایلې ، همداشان الله تعالی قران مجید کی دخپل ذات په باره کې " الحمد لله رب العالمین " فرمایلې دی " رب المسلمین " یې نه دی فرمایلې ، نو معلومه شوه چې دده بعثت او پیغمبري عام دی لکه څنګه چې دالله تعالی ربوبیت عام دی.

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول انسانیت ته لیږل شوی او دی دټول انسانیت لپاره رحمت او محسن دی نو دده صلی الله علیه وسلم چې کوم مسلمانان دی دوی لره هم دټول انسانیت لپاره رحمت جوړیدل پکار دي ،لهذا دټول انسانیت درد وغم په زړه کی ساتلو سره دټول انسانیت لپاره رحمت جوړیدل پکار دي ، او دټول انسانیت لپاره دجهنم نه دبچ کیدو فکر کول ضروري دي ، او ټولو انسانانو ته په سوز او ګداز سره دایمان او اسلام دعوت ورکول پکار دي ، دی امت ته بهترین امت په همدی بنیاد ویل شوی دی ،لهذا دنورو دیني کارونو سره سره دغه عظیم ذمه واري هم سر ته رسول پکار دی ، ددی مقدس کار چې څومره حق دی هغه نـدی اداشوی ، الله تعالی دی مونږ ته معافي وکړي او په مونږ کی دی ددی احساس پیداکړي چې مونږ په توجه او درد سره دغه عظیم کار سرته ورسوو .

په شمائل ترمذي کی دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی : " قال رسـول الله صلی الله علیه وسلم لقد اخفت فی الله وما یخاف احد ولقد اذیت فی الله ومـا یؤذی احد .... الخ " (شمائل ترمذي ص۲۷ باب ماجاء فی عیش النبی صلی الله علیه وسلم) .

ترجمه : رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلې : دالله تعالی په لاره کې چې څومره زه ویرولې شوی یم بل څوک دومره ندی ویرولې شـوی او څومره تکلیف چې ماته راکړل شوې دومره بل چاته ندی ورکړې شوی .

داسختي او تکلیفونه رسول الله صلی الله علیه وسلم دایمان ددعوت په لار کی برداشت کړی دی ، او که نه صحابه کرام رضی الله عنهم به دالله تعالی او دخوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم په هر حکم باندی عمل کولو لپاره په سترګو هروخت تیار وو ، دصحابه کرامو دپیروي اوتابعداري واقعات دحدیثو او دسیرت په کتابو کی محفوظ دي .

هادي عالم صلی الله علیه وسلم دطائف سفر کوم مقصد لپاره کړی و ؟ او پدی سفر کی ورته څومره تکلیف رسول شوی و تردی چی دده پښی مبارکې په وینو سری شوی وی ، ددی ټولو تکلیفونو باوجود رحمت عالم صلی الله علیه وسلم دغرونو ملایکو ته وفرمایل (دوی دی هلاک نه کړی شي) زه دالله تعالی نه امید لرم چی ددوی په نسل کی داسې خلک پیدا کړي چی یواځې دوحده لاشریک له الله عبادت کوي او هیڅ قسم شریک ورسره نه جوړوي . (سیرت مصطفی ۱/ ۲۷۸) .

د رحمت عالم صلی الله علیه وسلم دغه الفاظ غور او قابل عبرت دی ، لدی الفاظو نه اندازه لګول کیږي چی د ده په قلب مبارک کی د انسانیت لپاره څومره درد او غم و ، په شعب ابی طالب کی حضور اقدس او د ده صحابه کرامو تر دریو کالو پوری څومره تکلیفونه برداشت کړ ؟ د قریشو سردارانو په کوم کوم انداز سره دوی صلی الله علیه وسلم وکړول ؟ د ده صلی الله علیه وسلم د قتل پروګرام یی جوړ کړ ، تر دی پوری چی رسول الله صلی الله علیه وسلم او د ده صحابه کرام د خپل خوږ وطن مکه مکرمه پریښودو او مدینه منوری ته په هجرت کولو مجبور شول دا ټول مشکلات او تکلیفونه رسول الله صلی الله علیه وسلم د همدی دعوت الی الله په کار کی زغملی دی .

د محسن انسانیت ، رحمت عالم صلی الله علیه وسلم سوز و ګذار ، د ده صلی الله علیه وسلم درد و غم د دعوت الی الله په لاره کی استقامت او ثابت قدمي ، دا ټول غوره صفات مونږ ته هم پخپل ځان کی د پیدا کولو اشد ضرورت دی . صحابه کرام رضی الله عنهم چی کومو جذباتو سره د دنیا ګوټ ګوټ کی خواره شول او دعوت الی الله یی د ژوند مقصد جوړ کړ او دی لپاره یی هر قسم قربانی ورکړی ، الله تعالی دی وکړي چی په مونږ کی هم دغه جذبه پیدا شي ، الله تعالی دی خپل فضل سره دا صفات او د نبوت کار د سر ته رسولو سرفروشانه جذبه په مونږ کی پیدا کړي ، آمین بحرمة النبی الامی صلی الله علیه وسلم وما ذلك علی الله بعزیز .

د دعوت کار باید د تعلق مع الله ، همدردی ، خیرخواهی او د موعظه حسنة سره وکړی شي ، د مناظرانه انداز ، د تنقیص او تحقیر صورت له اختیارلو نه باید مکمل طور اجتناب وشي ، د الله تعالی په وړاندی دخپل عجز اقرار هم وکړی شي او د دعاګانو اهتمام هم ، د زړونو مالک الله تعالی دی او هدایت ورکول هم د رب العزت په قدرت کی دي " لیس علیك هداهم ولکن الله یهدی من یشاء " هر وخت باید دا آیت

کریم نظر لاندی ونیول شي ، دی آیت ته په زړه کښې ځای ورکولو سره انشاء الله د ناامیدی او ناکامی کیفیت نه پیدا کیږي ، د صبر و حلم ، عفو او درګذر او د ښو اخلاقو لمن باید هیڅکله د لاسه ونه ویستل شي ، خالص د الله تعالی د رضامندی لپاره کار وشي ، هیڅ قسم دنیوي غرض او مالي لالچ باید نه وي پدی صفاتو سره د دعوت الی الله کار وکړی شي انشاء الله تعالی الله پاک به کامیابی درکړي ، کفر د نفرت او مذمت قابل دی مګر د کافر تحقیر مناسب ندی ، د محبت ، شفقت ، همدردي ، او سوزوګذار سره محنت ورباندی وکړی شي خو حقیر دی ونه ګڼل شي .

مولانا حکیم محمد اختر صاحب دامت برکاتهم (د حضرت مولانا ابرار الحق هردوئي صاحب خلیفه) ډیره ښه خبره کړی ده : " نو پدی خبره ښه ځان پوه کړئ چی تکبر د دوه جزؤیو څخه جوړیږي (۱) بطرالحق (حقه خبره نه قبلول) او (۲) غمط الناس (د دنیا د یو انسان حقیر ګڼل) الناس یی فرمایلي المسلم یی نه دي فرمایلي ، له همدی نه معلومیږي چی کوم کافر هم حقیر مه ګڼئ ، د ده کفر سره خو نفرت وکړئ د ده د ذات سره نه ، دمعاصي او ګناهونو څخه خو نفرت کوئ لیکن دوستان د ګنهګار نه نفرت مه کوئ ، د ګناه نه نفرت واجب دی خو د عاصي نه نفرت حرام دی ، نکیر واجب او تحقیر حرام ، یعنی په ناکاره کار باندی نصیحت او پوهول خو واجب دي لیکن هغه حقیر او سپک ګڼل حرام دي ، پدی وجه حضرت حکیم الامت تهانوي رحمه الله فرمایي : خو پوری چی د چا په نفس کی دومره صلاحیت پیدا نشي چی نصیحت کونکی ځانته چی نصیحت کوي هغه د خپل ځان نه بهتر ګڼلو سره نصیحت وکړي تر دی وخته پوری ده ته نصیحت کول جائز نه دي ، که چیرته هغه خپل ځان اوچت او بل لره حقیر ګڼلو سره نصیحت کوي نو داسی تبلیغ هغه باندی حرام دی ، چاته چی نصیحت کوي نو اول دا مراقبه وکړه چی یاالله دا بنده له مانه بهتر دی لیکن ستا د حکم مطابق د ده د نیکی او خیر خواهی لپاره نصیحت کوم ـ الی قوله ـ پس همدغه شان د الله تعالی د ټولو بندګانو اکرام پکار دی ـ الخ .

(مواعظ درد و محبت ص ۲۲۱ ، وعظ علاج کبر ص ۱۳)

مولانا محمد تقی عثماني رحمه الله فرمایي : " د کومو بزرګانو په خبرو اوریدو او لوستلو سره چی مونږ خلک دین زده کوو د دوی د حالاتو له لوستو نه معلومیږي چی دا خلک خپل ځان دومره بی حقیقت ګڼي چی د دی څه اندازه نشته ، لکه چی حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علی تهانوي رحمه الله دا ارشاد : ما دخپلو بی شمیره بزرګانو نه

اوریدلي چې فرمایل به یې : زما حال دا دی چې زه هر مسلمان د خپل ځان فی الحال او هر کافر احتمالاً د ځان نه بهتر ګڼم ، مسلمان خو پدی وجه افضل ګڼم چې هغه مسلمان او د ایمان خاوند دی او کافر پدی وجه چې کیدی شي الله تعالی ورته د ایمان توفیق ورکړي اودی له مانه وړاندی شي .

(اصلاحی خطبات ، وعظ او تواضع ، رفعت او بلندی ذریعه ۳۰/۵) .

لهذا کوم کافر هم باید حقیر ونه ګڼل شي او په شفقت او خیرخواهي سره وربانـدی محنت او کوشش وکړی شي لـری نـه ده چـې الله تعالی تـالره د ده دهـدایت ذریعه وګرځوي او تا لپاره د آخرت ذخیره شي .

مولانا یوسف متالا صاحب دامت برکاتهم (د دار العلوم بری برطانیه مهتمم او د حضرت شیخ الحدیث رحمه الله خلیفه) یو مضمون کی د شیخ الحدیث حضرت مولانا محمد ذکریا رحمه الله مهاجر مدني چی پدی سلسله کې کوم فکر ؤ هغه لیکي :

" غیر مسلمو ته د تبلیغ لپاره بی قراري "

غالباً په ۷۹ء کال کی مدینه طیبی ته د حاضري په دوران کی یوه ورځ احقر د حضرت د استوګنی ته مخامخ د خادمانو په حجره کی وم چی د حضرت خادم محمد اعجاز چمپارنی راغی او وی فرمایل : حضرت دی یادوي ، زه حاضر شوم نو حضرت په ژړا زارو باندی ارشاد وفرمایل : واوره دی څه وایي :

اعجاز ورور وویل : ما دحضرت نه تپوس وکړ چی هغه غیر مسلم حضرات چی د اسلام نوم هم ندی اوریدلی او د اسلام هیڅ تبلیغ هم ورته ندی شوی ایا هغوی ته به عذاب وي ؟ د دی په اوریدو سره حضرت په ژړا ژړا ارشاد وفرمایل : پـدی بانـدی ضرور کار پکار دی او پدی موضوع باندی د اسلام په محاسنو مشتمل کتابونه لیکل پکار دي ، ما پدی موضوع باندی د لیکل شوو کتابونو نومونه وشمیرل چی پـدوی کـی خاص طور سره د حضرت مولانا محمد منظور نعماني صاحب د " اسلام کیا هے " کتاب هم ذکر کړ ، حضرت وفرمایل په انګریزی کی هم داسی کتابونه ضرور دي .... اعجاز ورور عرض وکړ چی مونږ سره علامه خالد محمد صاحب دی دی په انګریزی کی لیکل کولی شي ، ما عرض وکړ د دوی خصوصي ذوق د باطلو فرقو رد کول دي پدی بناء د ده په ځای دی کار لپاره مولانا ابراهیم صاحب ډیسائي زیات موزون دی کوم چی زمونږ د دارالعلوم د حدیثو استاذ دی او دا کار د ده د ذوق موافق دی حضرت وفرمایل په هغه باندی ضرور کتابونه ولیکئ او زه به یې چاپ کړم هغه ؤ چـی خـو ورځـی وروسته کله

چې حضرت د انګلینډ سفر کولو نو هلته په دار العلوم کې یوه ورځ زه د مولانا ابراهیم صاحب سره د حضرت په خدمت کې حاضر شوم او د ده د پیژندګلوي نه وروسته مې عرض وکړ چې مولانا دا کار شروع کوي او تپوس کوي چې کوم قسم کتاب ولیکل شي ؟ حضرت وفرمایل : پوره وضاحت سره دې د اسلام خوبیانې بیانې کړې شي او غیر مسلمو ته د اسلام دعوت ورکړې شي ، او دې کار لپاره حضرت ورته ډیرې دعاګانې هم وکړې .... " الخ .

(اقراء ډائجسټ کراچی ، صفر و ربیع الاول ۱۴۰۷ھ نومبر ۱۹۸٦ء)

(ب الاقطاب حصه اول ص ۲۱٦ ، ۲۱۷)

الله تعالی دې دا فکر مونږ ته نصیب کړي ، دامت سوز و ګذار او د انسانیت همدردي رانصیب کړي ، آمین بحرمة سید المرسلین صلی الله علیه واله وصحبه وسلم فقط والله اعلم بالصواب

(۲۴ رجب المرجب ۱۴۱٦ھ ۱۸ ستمبر ۱۹۹۵ء)

د اسلام د صحیح کیدو په شرائطو کې د توحید مقام

(۳۴ سوال) په اسلام کې د " توحید " تصور څه دې ؟ د کومو څیزونو په منلو سره د انسان توحید کامل او صحیح کیږي ؟ یو مسلمان ته الله تعالی باندې څنګه عقیده ساتل پکار دي ؟ امید دې چې د دې مسئلې وضاحت وکړئ ، مهرباني .

ځواب : حامداً ومصلیاً ومسلماً ! تاسو ډیر اهم او ضروري تپوس کړیدی ، پدې باره کې علماؤ ډیر څه لیکلي دي ، په تفسیر هدایت القرآن کې د دې متعلق ډیر بهترین مضمون دې ، مناسب راته ښکاري چې هغه دلته نقل کړې شي ، مطالعه یې کړئ .

توحید هغه وخت صحیح کیږي چې کله لاندې خبرې ومنلې شي .

(۱) خالق یواځې الله پاک دې ، دا کائنات چې یو فرد یې مونږ هم یو ، ازلي او ابدي نه یو ، مخکې نه و بیا وروسته پیداشول د دې پیدا کونکې ذات یواځې الله تعالی دې بل هیڅوک ورسره شریک نذی ، الله پاک فرمایي : " وخلق کل شئی " (سورت انعام (۱۰۱) آیت) یعنې دا ټول شیان الله تعالی پیدا کړیدي .

(۲) الله تعالی پروردګار دی ، الله تعالی ټول کائنات پیدا کړیدی او همدا الله پاک د هر یو شي پالونکی دی ، د دی څخه علاه بل پالونکی نشته ، الله تعالی فرمایي : " فلله الحمد رب السموات ورب الارض رب العالمین " (سورت جاثیه ۲۶ آیت) ټول تعریفونه هغه الله لره دي چی د آسمانونو او د ځمکی رب او د ټول کائنا پالونکی دی .

(۳) مالک یواځی الله پاک دی ، ټول کائنات الله پاک پیدا کړی او هم دی یې پالونکی دی او دټولو شیانو مالک هم دی او ددینه سیوا د کائناتو او یا د دی د کوم جز مالک هیڅوک نشته ، الله تعالی فرمایي : " لله ما فی السموات ومافی الارض " (سورت بقره (۲۸۴) آیت) یعنې په آسمانونو او په ځمکه کی چی څه دي د ټولو مالک الله تعالی دی .

(۴) یواځی د الله تعالی حکم چلیږي .... د کائناتو خالق او مالک قادر مطلق الله پاک دی چی څه وغواړي د هغه په پوره کولو باندی مکمل قدرت لري او دی د اسبابو په وړاندی عاجز ندی بلکی دی مسبب الاسباب دی ، ټول ظاهري اسباب د ده د حکم مطابق کار کوي ، الله تعالی فرمایي : " ان الحکم الا لله " (سورت یوسف (۶۷) آیت) یعنی حکم یواځی د الله پاک چلیږي .

(۵) حاجت روا یواځی الله پاک دی .... خالق و مالک یواځی همدی دی ، او همدی پالونکی دی او د همدی حکم چلیږي او هر څه ده سره دي پدی وجه همدی حاجت روا او مشکل کشا دی ، ټول بندګان الله ته محتاج ذي او دده مخلوق دی ، الله تعالی فرمایي : " امن یجیب المضطر اذا دعاه ویکشف السوء " (سورت النمل (۶۲) آیت) یعنی هغه څوک دی چی د مصیبت زده سړی فریاد اوري او د ه مصیبت لری کوي ؟ د الله پاک نه علاوه بل هیڅوک نشته .

(۶) معبود یواځی الله پاک دی .... یعنی د عبادت او د بندګی حقدار یواځی الله پاک دی د انسان سره باید د ده په وړاندی ټیټ شي ، انسان د الله پاک بنده دی نو پدی وجه د الله تعالی بندګي کول ورته پکار دي ، د اسلام کلمه هم لا اله الا الله ده یعنی معبود برحق یواځی الله پاک دی ، او الله تعالی فرمایي : " وقضی ربك ان لا تعبدوا الا ایاه " (سورت الاسراء ۲۳ آیت) یعنی ستا پروردګار قطعي حکم کړی دی چی یواځی د ده بندګي وکړي .

(۷) مرګ او ژوند د الله تعالی په لاس کی دی ، یواځی الله پاک خالق و مالک او پروردګار دی او د ده په لاس کی د مرګ او ژوند اختیار دی او د بل هیچا په اختیار کی ندی ، حضرت ابراهیم علیه السلام نمرود ته ویلي وُ (ربی الذی یحیی ویمیت) (سورت بقره آیت ۲۸۵) یعنی زما رب هغه دی چی ژوندي کول او مړ کول کوي .
(۸) نفع او نقصان یواځی د الله پاک په لاس کی دي د بل هیچا په لاس کی ندی انبیاء کرام چی د الله تعالی مقرب بندګان دي د دوی په لاس کی هم نفع او نقصان نشته پخپله د انبیاء کرامو سردار حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ژبه ویل شوي دي : "قل انی لا املك لکم ضراً ولا رشداً" (سورت الجن ۲۱ آیت) ای پیغمبره اعلان وکړه چی ستاسو د نفع او نقصان اختیار ماسره نشته .
او په حدیث شریف کی دي : کله چی سوال کوئ د الله نه یی کوئ او کله چی مدد غواړئ نو د الله نه یی وغواړئ ، او یقین وکړئ که چیرته ټول خلک یوځای تاته فایده رسول غواړي نو نه یی شي رسولی مګر هغه چی الله تعالی درته مقدر کړي دي ، او که چیرته ټول خلک یوځای کیدو سره تا ته څه نقصان رسول غواړي نو هر ګز یی نشي رسولی مګر هغه چی ستا په نصیب کی لیکلي دي .
(۹) الله تعالی په هر یو شي باندی علم لري ..... ټول کائنات الله پاک پیدا کړي او همدا الله هریو شی هغه پیژني ، الله تعالی فرمایي : " الا یعلم من خلق وهو الطیف الخبیر " (سورت الملک ۱۴ آیت) ترجمه : ایا هغه څوک چی مخلوق یی پیدا کړی نه پوهیږي ؟ او خال دا چی هغه باریک بین او خبردار ذات دی .
د انسان علم ډیر محدود دی د کائناتو ډیر خیزونه د ده د علم له دایری نه باهر دي چی یواځی الله پاک پری علم لري ، دا ټول شیان د انسان په حق کی " غیب " دي او د غیبو علم انبیاء کرامو ته هم ندي حاصل ، دوی یواځی هغه غیبی خبرو باندی پوهیږي چی د وحي په ذریعه ورته ښودل کیږي .
(۱۰) او د الله پاک هیڅ سیال او مثل نشته دی .... ټول کائنات مخلوق دي او الله پاک خالق دی ، دوی مملوک دي او الله پاک مالک دی نو پدی وجه د کائناتو هیڅ یو خیز دالله پاک مثل او سیال ندی ، الله پاک فرمایي : " ولم یکن له کفواً احد " یعنی د الله پاک هیڅوک مثل او سیال نشته دی .

(۱۱) د الله پاک ښځه نشته .... د ښځي او دخاوند تعلق هغه ځای کی وي کوم ځای کی چی کم نه کم دری خبری موجود وي (الف) چي يوه هستي د بلی هستی نه محتاج وي (ب) شهواني جذبات موجود وي (ج) ښځه او خاوند دواړه هم جنس وي او الله پاک له دریو خبرو نه پاک دی ، دی هيچا ته محتاج ندی ، او د شهواني جذباتو نه هم پاک دی ، او هيڅوک د دی هم جنس هم نشته ، پدی وجه د الله پاک ښځه نشته الله تعالی فرمايي : " وانه تعالی جد ربنا مااتخذ صاحبة ولا ولداً " (سورت جن) .
ترجمه : او دا چی د الله تعالی شان ډير اوچت دی ، نه يی ښځه شته او نه ځوی .
(۱۲) د الله تعالی ځوی او لور نشته .... د ځوی ، لور تصور د شځی او شهوانی تعلقاتو څخه پیدا کيږي ، او الله پاک جل شانه ، نه شهواني جذبات لري او نه يی ښځه شته نو اولاد به يی له کومه شي ؟ .... او یا د اولاد خواهش مند هغه څوک وي چی کمزور او محتاج وي چی بوډا والي په وخت کی اولاد ورسره لاس امداد وکړي ، او الله تعالی خو قادر مطلق او غني او د هر شي مالک او مختار دی نو بيا ده ته د اولاد څه ضرورت دی ؟ او يا د اولاد آرزو مند هغه څوک وي چی څو ورځی بعد مړ کيږي ترڅو د اولاد په ذريعه د ده سلسله او نوم و نشان پاتی شي ، او الله تعالی خو همیشه ژوندی دی نو ده ته د اولاد څه حاجت دی ؟ الله تعالی فرمايي : " وخرقوا له بنين وبنات بغير علم سبحنه وتعالى عما يصفون " (سورت انعام (۱۰۰) ايت) .
ترجمه : او خلکو بغير د دليل نه الله تعالی لپاره زامن او لونی مقرر کړي دي ، الله تعالی پاک دی د هغو خبرو نه چی دوی يی ورته بيانوي .
(۱۳) الله تعالی بنده پشان ځان نه جوړوي ..... ايا دا خبره د الله پاک د شان سره لائق ده چی دی د مخلوق پشان د مور په ګیډه ووسي ، پيدا شي ، تربيت يی وشي ، جسم ولري . خوراک څښاک وکړي ، قضاء حاجت وکړي ، ښځه او اولاد ولري ، درد و غم نير کړي او مشکلات برداشت کړي ، انساني او حيواني جذبات ولري ، او بيا مړ شي او يا مړ کړی شي او يا خودکشي وکړي ؟ توبه ! توبه ! پدیکی يوه خبره هم د الله پاک له شان سره مناسبه نه ده .
حقيقت دا دی چی خلک کله د مذهبي مشرانو په باره کی د حد نه تجاوز وکړي نو دوی ته خدايی صفات ثابت کړي يعنی د خدايي صفاتو درلودونکي وګڼي او بيا دوی

بعینه خدای وګڼي او د دوی په باره کی دا عقیده وساتي چی الله پاک بنده پشان ځان نه جوړوي

(۱۴) یواځی الله پاک قانون ورکونکی او جوړونکی دی .... الله پاک د انسانانو خالق او مالک دی او یواځی همدی د انسانانو لپاره د قانون جوړولو حقدار دی او د دینه علاوه هیڅوک د قانون جوړولو حق نه لري ، علماء و مشائخ ، عابدان ، زاهدان او یا سیاسي مشران د قانون جوړولو هیڅ حق نلري ، په حدیث شریف کی دي : علماء او مشائخ چی کوم شی حلال وګرځوي هغه حلال ګڼل او کوم شی چی حرام وګرځوي هغه حرام ګڼل ، د هغوی رب جوړول دي کوم چی شرک دی .

(۱۵) د الله پاک په دربار کی د ده اجازت نه بغیر هیڅوک سفارش نشي کولی .... د چا په باره کی دا خیال کول چی هغه د الله پاک په دربار کی د ده بی ځایه سفارش کوي او د الله تعالی له ګرفت او عذاب نه می خلاصوي ، دا شرک دی ، ځکه چی د الله تعالی په وړاندی داسی قسم سفارش هیڅوک نشي کولی ، په الله پاک باندی نه د چا زور چلیږي او نه ورته څوک ذوکه ورکولی شي چی غلطه فیصله وکړي .

په اسلام کی د توحید تصور همدا دی او دی توحید ته قرآن پاک خلک زابلي ، د زیاترو خلکو چی کوم خیال دی چی دوی د الله تعالی په هستی باندی هم یقین لري او لدی سره سره نور څوک هم ورسره شریکوي ، د الله تعالی داسی منل د نه منلو برابر دي ، او دا صحیح خدا پرستي ندی ، صحیح خدا پرستي دا ده چی دعا و ، رکوع و سجده ، عجز و نیاز ، اعتماد و توکل ، عبادت و نیازمندي ، کارسازي او کبریائي یواځی او یواځی الله تعالی سره خاص وګڼل شي ، په خوله خو ټول وايي چی د ټولو خالق او مالک الله پاک دی مګر بیا نورو لره هم مقرر وي .

سب کو ینہ مسلم ہے معبود وہی ہے
کم ہے جو سمجھتے ہین که مقصود وہی ہے

یعنی دا خو ټول منی چی معبود الله پاک دی ، خو چی څوک یی مقصود هم ګڼي هغه کم دي

(هدایت القرآن ص ۵۰ _ ۵۴ سورت یوسف (۱۰٦) آیت ، ومایؤمن اکثرهم بالله الا وهم مشرکون)

او دا هم په هدایت القرآن کی دي : " له دعوة الحق " یعنی برحق دعا یواځی ده لره خاص ده ، برحق دعاء هغه ده چی مفت لاړ نشي ، ضائع کیدونکی او بی فایده دعا باطله دعاء ده ، د آیت کریم مطلب دا دی چی کوم دعاء الله پاک ته کولی شي هغه نتیجه خیز ثابتیږي او کومی دعاګانی چی د الله پاک نه علاوه بل چاته کولی شي هغه بی فائدی او ضائع کیږي ، لکه چی ارشاد فرمایي : او کوم خلک چی د الله تعالی په پرینبودو سره بل چا نه دعاګانی غواړي هغوی دذوی د دعاګانو او بلنو هیڅ ځواب نشي ورکولی مګر (داسی ځواب ورکولی شي) لکه اوبو ته لاس اوږدونکی تر څو اوبه د ده خولی‌ته ورسي او حال دا چی هغه د ده خولی ته رسیدونکی نه دي او د کافرانو دعاګالنی بالکل بی فائدی دي ...... یعنی د غیر الله څخه دعاګانی غوښتل داسی دي لکه څوک تږی چی د کوهي په غاړه ودریدو سره ابو طرف ته لاس اوږد کړي او اوبو ته آواز کوي چی زما خولی ته راشي ، نو ظاهره خبره ده چی تر قیامته پوری اوبه د ده په فریاد باندی د ده خولی ته رسیدونکي نه دي ، بالکل دغه شان د الله پاک په پرینبودو سره د نورو نه د دعا کونکو حال هم دی ، د دوی ټولی دعاګانی بی فایدی دي ، ځکه چی کافر او جاهل مسلمان چی چاته آوازونه کوي په دوی کنی ځینی څو تش وهمونه او خیالات دي چی خلکو ورته تش نومونه ایښي او د دغو نومونو شاته کوم حقیقت نشته ، او ځینی پکی جنات او شیاطین دي او ځینی دالله پاک مقبول بندګان دي خو لیکن د الله پاک په خدایئ د دوی هیڅ اختیار نشته او ځینی ځیزونه دي چی څه خواص لري لکه اور ، اوبه او ستوري لیکن دوی د خپلو خواصو مالکان ندي نو بیا دوی ته د آواز او فریاد کولو نه څه فایده ؟ انسان ته دا پکار دي چی خپل خالق او مالک ته آوازنه وکړي کوم چی د هر چا نه ورته زیات نزدی دی ، د سورت بقره (۱۸٦) آیت کی ارشاد دی : کله چی زما بندګان له تا صلی الله علیه وسلم نه زما په باره کی سوال وکړي نو (ته صلی الله علیه وسلم دوی ته ووایه) چی زه ورته نزدی یم ، کله چی یو دعا کونکی ما نه غواړي نو زه یی قبلوم نو دوی ته پکار دي چی ما نه د خپلو دعاګانو قبولیت وغواړي او په ما باندی ایمان راوړي امید دی چی دوی ته سمه لاره حاصل شي یعنی د الله تعالی بندګانو ته پکار دي چی د خپلو ضرورتونو او حاجتونو لپاره یواځی الله تعالی دربار ته لاسونه اوچت کړي . د دوی نه بل خالق شته او نه مالک او نه دنفع او نقصان اختیار لرونکی ، پدی وجه بل چاته لاس اوږدول جهالت او کفر دی لکه څنګه چی بنده د خپلو ضرورتونو او حاجتونو لپاره نور کوشش او محنت

کوي نو یو کوشش او محنت دعا هم ده که چیرته مقبوله شوه نو بنده کامیاب شو او د ده د کوششونو ثمره او میوه ملاو شوه او که قبوله نه شوه نو کوشش یې مفت لاړ بلکې حدیث شریف کې دي چې دعاء عین عبادت ده یعنې دا د مقصد حاصلیدو د وسیلې نه علاوه پخپله عبادت هم ده ، د سورت المؤمن (۶۰) آیت کې ارشاد دی :

ستاسو د رب فرمان دی چې ما نه غواړئ زه ستاسو درخواست قبلوم او کوم خلک چې زما د عبادت نه روګرداني کوي هغه عنقریب ذلیل او خواریدو سره جهنم ته داخل شي ...... لدې مبارک آیت نه صفا معلومیږي چې دعا بعینه عبادت ده او د غیر الله عبادت جائز ندی نو دعاء هم د غیر الله نه جائزه نه ده ، دعا ګاني یواځې د الله پاک نه غواړئ د غیر الله نه دعاګاني غوښتل کفر دی .

(هدایت القرآن ص ۸۸ ، ۸۹ سورت رعد ۱۴ آیت)

فتاوی رحیمیه کې یو ځواب ډیر مفید دی د موقع په مناسبت دلته ذکر کولی شي :

(۱۰۴ سوال) د حضرت حسین رضی الله عنه نه " یا حسین امداد کن " " یا حسین اغثنی " آوازونه کولو سره مدد غوښتل ، روزي او اولاد غوښتل جائز دي او که نه ؟ ځمونږ په دی علاقه کې په هر یولسم باندی ځو کسان راغونډیږي او یوځای د یوی وظیفې ذکر کوي او وایي چې دا خو د وسیلې طریقه ده ، او هغه وظیفه دا ده : امداد کن امداد کن ، از هربلا ازاد کن ، در دین د ونیا شاد کن یا غوث الاعظم دستګیر یا حضرت غوث اغثنی باذن الله ، یا شیخ محی الدین مشکل کشا بالخیر ، دغه وظیفه کول جائز دي ؟

ځواب : د حضرت حسین رضي الله عنه نه داسې قسم آواز کولو سره مدد غوښتل او د ذکر شوی وظیفې لوستل شرعاً اجازه نشته بلکې منع ده ، وسیله نیول جائز دي مګر د هغې طریقه دا نده ، د دی طریقې په جاري ساتلو سره د نورو عقیدی خرابیدو هم ویره ده لهذا د دی وظیفې پریښودل ضروري دي ، د الله تعالی په پریښودو سره د نورو نه اولاد غوښتل ، صحت طلب کول ، د مړو نه روزي غوښتل ، په مقدمه کې د کامیابیدو غوښتنه کول جائز ندي ، دا مشرکانه کار دی ، محدث علامه محمد طاهر رحمه الله صراحت سره فرمایلي دي چې دا د هیڅ یو مسلمان په نزد جائز ندي ، ځکه چې عبادت او استعانت او حاجت طلبول فقط د الله تعالی حق دی : " فان منهم من قصد بزیارة قبور الانبیاء والصلحاء ان یصلی عند قبورهم ویدعو عندها و لیسألهم

الحوائج وهذا لایجوز عند احد من علماء المسلمین فان العبادة وطلب الحوائج والاستعانة لله وحده " (مجمع بحار الانوار ۷۳/۲) .

الله تعالی خپلو بند'کانو ته تعلیم ورکړی چې " ایاك نعبد وایاك نستعین " ووائي : یعنی ای الله مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص له تا نه مدد غواړو ، نو کله چې عبادت او استعانت (امدا عوښتل) الله تعالی لپاره مخصوص دي نو د نورو نه اولاد ، روزی ، تندرستي وغیره غوښتل به څنګه جائز شي ؟

پدی وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم عبدالله بن عباس رضی الله عنه ته وصیت کړی چې : " اذا سألت فاسئل الله واذا استعنت فاستعن بالله " یعنی کله چې سوال کوی نو د الله تعالی نه یې کوه او کله چې مدد غواړی نو هم د الله نه یې غواړه (مشکواة شریف ص ۴۵۳ ، باب التوکل والصبر فصل ثانی) .

شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله ذکر شوي حدیث په نقل کولو سره فرمایي : " هر ایماندار ته پکار دي چې دا حدیث د خپل زړه آینه جوړه کړي او خپل جسم ، لباس او ګفتګو وغیره په هره معامله کې پدی باندی عمل وکړي " (فتوح الغیوب ۲۲ نمبر مقاله) او فرمایي . " کوم سړی چې د ضرورت په وخت کی (د الله تعالی په پرینښودو سره) د خلکو نه مدد غواړي هغه د الله تعالی له قدرت او صفاتو نه ناواقف دی " (۴۳ نمبر مقاله) او فرمایي : " افسوس دی په تا باندی ته شرمیږې نه چې د الله نه سیوا د بل چا نه مدد غواړی او حال دا چې الله تعالی د نورو نه دیر زیات قریب دی " (الفتح الربانی ص ۲۵۹ ، نمبر ۳۸ مجلس) او فرمایي : " ای مخلوق لره د الله سره شریک جوړونکیه او د زړه نه دی مخلوق طرف ته متوجه کیدونکیه ! د مخلوق نه اعراض وکړه څکه چې دا نه فایده رسولی شي او نه نقصان ،نه چا ته څه ورکولی شي او نه څوک محرومولی شي ، پخپل زړه کی د شرک پټولو باوجود د توحید حق دعوه مه کوه ، لدینه تا ته هیڅ نه حاصلیږي " (رومبی حواله) .

ده رحمه الله د وفات کیدو په وخت کی خپل څوی عبدالوهاب ته وصیت کړی وُ چې : ټول حاجتونه الله تعالی ته حواله کړه او د الله پاک نه غواړه : " علیك بتقوی الله وطاعته ولاتخف احداً ولاترجه وکل الحوائج کلها الی الله عزوجل واطلبها منه

ولاتثق باحد سوی الله عزوجل ولا تعتمد الا علیه سبحانه ، التوحید ، التوحید التوحید " (ملفوظات مع فتح ربانی).

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي فرمايي : " کل من ذهب الی بلدة اجمیر او الی القبر سالار مسعود او ماضاهاها لاجل حاجة یطلبها اثم اثما اکبر من القتل والزنا الخ "

یعنی کوم سړی چی خپل حاجت پوره کیدو لپاره اجمیر ته لاړ شي یا د سید سالار مسعود نمازي مزار ته او یا داسی کوم بل ځای ته مراد وغواړي ، یقیناً هغه ډیره لویه گناه وکړه داسی گناه چی د زنا او د قتل نه هم لویه گناه ده ، ایا دی د هغه مشرک پشان ندی چی دخپل لاس جوړ شوي څیزونو بندگي کوي او څوک چی د لات ، عزی پشان بتانو ته خپل حاجتونو لپاره آوازونه کوي او مدد غواړي .

(تفهیمات ۴۵/۱)

او همدارنگه خپل مشهور کتاب په حجة الله البالغة کی فرمايي :

" ومنها انهم کانوا یستعینون بغیر الله فی حوایجهم من شفاء المریض وغناء الفقیر وینذرون لهم ویتوقعون انجاح مقاصد هم بتلك النذور ویتلون اسماء هم رجاء برکتها فاوجب الله تعالی علیهم ان یقولوا فی صلاتهم ایاك نعبد وایاك نستعین وقال تعالی " ولا تدعوا مع الله احداً " ولیس المراد من الدعاء العبادة کما قاله بعض المفسرین بل هوا الاستعانة بقوله تعالی بل ایاه تدعون فیکشف ما تدعون " (حجة الله البالغة ج ۱ ص ۱۲۲ ، باب الاستعانة بغیر الله فی قضاء الحوائج) (فتاوی رحیمیه ص ٤٣ ، ص ٤٤ ص ٤٥ جلد اول) فقط والله اعلم .

ترجمه : او لدی شرعي امورو څخه دا دي چی مشرکان خپلو حاجتونو لپاره غیر الله نه مدد غواړي ، د بیمار شفا (صحت) او د غریبانو مالداره کیدو لپاره سوالونه کوي او د دی لپاره د نذرونو په منلو سره د خپلو حاجتونو او مقصدونو حاصلیدو امیدونه ساتي او د دوی د برکتونو په امید سره د دوی د نومونو ذکر کوي ، پدی وجه الله تعالی خلکو باندی واجب کړي چی " ایاك نعبد وایاك نستعین " ووایی (یعنی مونږ خاص ستا

عبادت كوو او خاص تاته مدد غواړو) او الله تعالى وفرمايل " فلاتدعوا مع الله احداً " يعني الله تعالى سره بل چاته آوازونه مه كوئ .

شرعي تقليد او د امت علماء :

(۳۵ سوال) نن صبا د غير مقلديت (لامذهبيت) فتنه عام شوى لګيا دى غير مقلدين په نوي نوي انداز سره غير مقلديت طرف ته د ترغيب وركولو كوشش كوي او د تقليد مذمت كوي او د ائمه و تقليد ته حتي كفر او شرک وايي او ائمه كرامو متعلق توهين آميز الفاظ استعمالوي او خمونږ ځيني مقلدين ورونه د دوى له خبرو نه متاثره كيږي ، نو له تاسو نه هيله كوو چي د تقليد شرعي حيثيت واضح كړئ او د قران او حديث په رڼا كى معلومات راكړئ چي د محدثينو عظامو او علماء كرامو رجحان كوم طرف ته دى ، غير مقلدين د محدثينو په جماعت باندى خپل ځان پشان غير مقلد ګمان كوي ايا دا صحيح دى ؟ اميد دى چي لږ تفصيل سره ځواب وليكئ او ځمونږ رهنمائي وكړئ ، الله پاک به درته دواړو جهانو كى خير دركړي او ستاسو فيوض او بركات جاري وساتي ، آمين .

ځواب : الحمدلله الذى اعلى المؤمنين بكريم خطابه ورفع درجة العالمين بمعانى كتابه وخص المستنبطين منهم بمزيد الاصابة وثوابه والصلواة والسلام على النبى واصحابه وائمة المجتهدين واتباعه وابى حنيفة واحبابه .

په غير مجتهد باندى د څلورو امامانو (امام ابوحنيفه ، مالک ، شافعي او احمد ابن حنبل رحمهم الله) څخه د يو امام تقليد واجب دى ، پدى باندى د امت د جمهورو علماؤ اتفاق او اجماع دى په همدى د ايمان او د اعمالو حفاظت دى .

مناسب معلوميږي چي د مجتهد او غير مجتهد او د تقليد تعريف بيان كړى شي :

مجتهد هغه سړى دى چي پخپله د الله تعالى وركړي فهم او فراست په ذريعه د قران او حديث نه د شريعت اصول و فروع او د دين كلي او جزيي مقاصد استنباط او استخراج كړى شي ، دى لپاره يو څو شرطونه دي : مجتهد لپاره اولنى شرط دا دى چي په عربي علومو يعنى لغت ، صرف ، نحو او بلاغت و معاني كى پوره حاذق او ماهر وي ، او دويم شرط دا دى چي د قران او حديث ، د صحابه كرامو او تابعينو نه اقوالو نه پوره خبردار وي د قرآن كريم متواتر او شاذ قرئتونو څخه ښه واقف وي او د آيتونو د اسباب نزول او

د ناسخ او منسوخ نه باخبر وي تر څو د قرآن مجید صحیح تفسیر وکړی شي ، او د نبوي احادیثو نه هم پوره واقف وي چې پـدی مسئله کـې څـومره حدیثونـه وارد شـوي او همداشان د حدیثو نه په صحت او ضعف وغیره نه هم پوره واقفیت ولري او د راویانو له حالاتو نه هم باخبر وي ، دریم شرط دا دی چې ده ته د الله تعالی لـه طرفـه د فهـم او فراست او ایماني نور څخه خاصه برخه حاصل وي پـه زکـاوت او ذهانـت کـې داسـې ممتاز وي چې د لوی لوی عاقلانو سرونه د ده د عقـل پـه وړانـدی ښکته وي ، څلـورم شرط دا دی چې د تقوی او پرهیزګاری مجسمه وي ، حق پرست وي ، خواهش پرسـت نه وي ، پنځم شرط دا دی چې د استنباط او اجتهاد لـه طریقونـه واقـف وي ، پـه کـوم شخص کی چې دا شرطونه وي هغه مجتهد دی داسی کس بـه خپـل اجتهـاد بانـدی عمل کوي او په کوم سړي کی چې دا شرطونه نه وي هغه غیر مجتهد دی او د امـت د جمهورو علماؤ اجماع ده چې په غیر مجتهد باندی د شریعت د امامـانو اتبـاع او تقلیـد واجب دی .

د عقد الجید ۸۷۷ صفحه کی حضرت شاه ولي الله محدث دهلـوي رحمـه الله د علامـه بغوي رحمه الله نه دا شرطونه نقل کړي دي .

او مولانا محمد ادریس صاحب کاندهلوي هم دا شرطونه بیان کړي دي .

د تقلید حقیقت :

کوم سړی چې د اجتهاد درجې ته نه وي رسیدلی نو د دغه سړي د کوم مجتهد عالِم په علم و فهم او تقوی او پرهیزګاری باندی اعتماد کولو سره د هغه په قول او فتوی باندی بغیر د دلیل معلومولو نه عمل کولو ته تقلید ویل کیږي .

چونکې غیر مجتهد پخپله د قرآن او سنت نه د مسائلو او احکامو استنباط کولو صـلاحیت نه لري پدی وجه هغه باندی لازم دي چې د څلورو امامانو څخه د کوم یو تقلید وکـړي او دغو مجتهدینو حضراتو چې په محنت او بـې انـدازی کوشـش کولـو سـره د شـرعي دلائلو (قران او حدیث ، اجماع امت او قیاس شرعي) په رڼا کی چې کوم فقهي مسـائل مرتب او مدون کړي دي په هغو باندی عمل وکړي ، د همدی تقلید په ذریعه پـه قـرآن او حدیث باندی په صحیح طریقه عمل کولی شي ، که چیرته د امامانو د تقلید کولـو نـه بغیر آزاده زنـدګي تیـر کـړی نـو چـونکی پـه ده کـې د مسائلو د اجتهـاد او استنباط صلاحیت نشته نو پدی وجه چې نفس یې کوم طرف ته مائل شي هغه بانـدی بـه عمـل

کوي او د دی نتیجه به دا وي چی دی به د نفساني خواهشاتو غلام او بنده جوړېږي د شریعت پیروکار به نه وي .

غیر مقلدین دا اعتراض کوي چی فقهي مسائل د رسول الله صلی الله علیه وسلم په دور نبوت کی مدون او جمع شوي نه وو ، دا کار وروسته ایجاد شوی‌لهذا دا بدعت دی .

مګر دا اعتراض د دوی د جهالت او د ناخبرتیا علامه ده ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کی قرآن پاک کتابي شکل کی یوځای نه وٌ جمع شوی ، پدی خبره هرڅوک پوهیږي چی په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی قرآن پاک په یو وخت کی ندی نازل شوی بلکی تدریجي ډول په (۲۳) کالو کی نازل شوی ، د حالاتو مناسب به چی کوم یو آیت او یا سورت نازل شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به هغه په کاتبانو لیکلو ، د وحی کاتب حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه فرمایي : کله چی به رسول الله صلی الله علیه وسلم باندی وحي نازل شو نو د هډوکي او یا د کوم بل شي سره حاضریدم نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به راته ویلی او ما به لیکل ، د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه نه علاوه نورو حضراتو هم د وحي د کتابت کار تر سره کولو چی په دوی کی خلفاء راشدین ، حضرت ابی ابن کعب ، حضرت زبیر بن عوام ، حضرت معاویه ، حضرت مغیره بن شعبه ، حضرت خالد بن ولید ، حضرت ثابت بن قیس ، حضرت ابان بن سعید رضی الله عنهم په خاص طور سره د یادولو قابل دي .

حضرت عثمان رضی الله عنه فرمایي : د رسول الله صلی الله علیه وسلم معمول دا وٌ چی کله به د قرآن کریم کومه حصه نازله شوه نو ده صلی الله علیه وسلم به د وحي کاتب ته دا هدایت هم کولو چی دا په فلاني سورت کی د فلاني آیت نه وروسته ولیکه ، او هغه زمانه کی چونکی په عربو کی د کاغذ کمی وٌ نو پدی وجه قرآني آیتونه زیاتره په تیږو ، په تختو او یا په څرمنی ، د کجوری په شاخونو ، د بانس په ټکړو ، د ونو په پاڼو او د ځناورو په هډوکو باندی لیکل کیدل ، البته کله کله کاغذ هم استعمال شوی ، پدی حساب سره قرآن کریم متفرق وٌ یوه مکمله نسخه نه وه ، د یو صحابي سره یو سورت لیکل شوی وٌ او د بل صحابي سره لس او پنځه سورتونه او د بل سره یو څو آیتونه (فتح الباری د معارف القرآن د مقدمی ۳٦ ، ۳۷ صفحی په حواله (مولانا محمد تقی عثمان صاحب) .

غرض دا چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کی قرآن کریم یوځای نه وٌ جمع شوی ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه وروسته د حضرت ابوبکر

صدیق رضی الله عنه په زمانه کې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په مشوره سره جمع کړی شوی چې مختصره واقعه یې دا ده : حضرت عمر فاروق رضی الله عنه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته وفرمایل چې د یمامه په جنګ کې ډیر زیات دقرآن کریم حافظان شهیدان شول که چیرته په مختلفو ځایو کې د قرآن کریم حافظان همداسی شهیدان شي نو زه ویریږم چې د قرآن کریم لویه حصه چیرته ضائع نشي .لهذا زما رایه دا ده چې ته پخپل حکم سره د قرآن کریم د یوځای کولو لپاره کار شروع کړی . حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه په اول کې دی کار لپاره تیار نه وو او فرمایل به یې : " کیف نفعل شیئاً لم یفعله رسول الله صلی الله علیه وسلم " یعنی کوم کار چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وي کړی هغه کار مونږه څنګه کولی شو ؟ حضرت عمر فاروق رضی الله عنه وفرمایل : " هذا والله خیر " په الله قسم چې دا کار خیر دی ، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه بار بار همدا خبره کوله تر دی چې الله تعالی د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه سینه دی کار لپاره پرانسته ، هغه فرمایي : " فلم یزل عمر یراجعنی حتی شرح الله صدری لذالك ورأیت فی ذالك الذی رأی عمر " یعنی عمر فاروق رضی الله عنه به بار بار دا خبره کوله تر دی چې الله تعالی دی کار لپاره زما سینه پرانسته او زما رأیه هم د عمر فاروق رضی الله عنه د رأی پشان وګرځیده ، د دوی دواړو حضراتو د اتفاق رأی نه وروسته ابوبکر صدیق رضی الله عنه د وحي کاتب حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه ته د دی کار د سر ته رسولو حکم وکړ نو هم همدا سوال وکړ : " کیف تفعلون شیئاً لم یفعله رسول الله صلی الله علیه وسلم " یعنی تاسو هغه کار څنګه کولی شئ کوم چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دی کړی؟ حضرت ابوبکر وفرمایل : " هو والله خیر " په الله قسم چې دا کار ډیر بهتر دی او بیا یې ورسره د دی د مصلحت په باره کې خبرې وکړی تر دی چې الله تعالی د زید بن ثابت رضی الله عنه سینه هم پرانسته او هغه هم دی کار ته تیار شو ، حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه فرمایي : حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه راته بار بار دا خبره کوله تر دی چې الله تعالی دی کار لپاره زما سینه هم کولاوه کړه " فلم یزل ابی بکر یراجعنی حتی شرح الله صدری للذی شرح له صدر ابی بکر و عمر " لدینه وروسته

حضرت زید بن ثابت په نهایت کوشش او احتیاط سره دا خدمت تر سره کړ او د قرآن کریم نسخه یې مرتب کړه.

(بخاري شریف ۲/ ۷۴۵ باب جمع القرآن ، کتاب فضائل القرآن)

که چیرته فقهي احکامو او مسائلو باندی دا اعتراض کیږي چې دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته جمع او مدون شوي دي او دیته بدعت او ناجائز وایي نو د قرآن پاک د جمع کولو متعلق به څه وایي ؟

د حدیثو تدوین هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات نه وروسته شوی ، بخاري ، مسلم ،ابوداؤد ، ترمذي ، نسائي ، موطاء ، ابن ماجه وغیره د حدیثو کتابونه وروسته ولیکل شویدي ایا دیته هم بدعت ویل کیږي ؟ او لدینه هم اعراض کیږي ؟ او د حدیثو له کتابو نه استفاده پریښودل کیږي ؟ حقیقت دا دی چې نه د فقه تدوین کیدل بدعت دی او نه د قرآن پاک جمع کولو ته بدعت ویل کیږي ، ځکه چې هر نوي کار ته بدعت ویل د جاهلانو او د بی عقلو خلکو کار دی ، هر نوی کار بدعت ممنوعه نه دی بلکې کوم کار چې " فی الدین " وي یعنی په دین کی دننه د کمي او زیاتي په طور وي او هغه د دین په ګڼلو سره د عبادت وغیره دیني کارو پشان د آخرت ثواب او د الله تعالی د رضا ذریعه ګڼلو سره وکړی شي پداسی حال کی چې هغه لپاره هیڅ شرعي دلیل نه وي ، نه د قرآن او حدیث او نه د قیاس او اجتهاد څخه لکه د اخترونو په لمانځه کی د آذان او د اقامت زیاتول دا خو بدعت دی ، او کوم نوی کار چې " للدین " وي یعنی د دین د استحکام او مضبوطي او د دیني مقاصدو تکمیل او تحصیل لپاره وي هغه نه بدعت ممنوعه نشي ویلی لکه د قرآن پاک د جمع کولو مسئله په قرآن کریم اعراب لګول ، د حدیثو د کتابونو تألیف او د دغو شروح لیکل او دغو کتابو ته د صحیح بخاري ، صحیح مسلم وغیره نوم ورکول دی تولو کارو ته بدعت نشي ویل کیدی همداشان د فقه احکام مرتب او مدون کول او د څلورو مذهبونو تعین او دوی ته د حنفي ، مالکي ، شافعي او حنبلي نوم کیښودل دیته هم بدعت نشي ویل کیدی ، دغه پورتنی ذکر شوي کارونه ټول د " للدین " کیدوه په وجه مستحب بلکې ضروري دي ، که قرآن کریم نه وای جمع شوی نو د دی حفاظت به مشکل وُ او که پدی باندی اعراب نه وای لګول شوي نو د دی صحیح لوستل او تلاوت کول مشکل کیدلو ، که د حدیثو کتابونه نه وای لیکل شوي نو نن به شاید امت سره د حدیثو دغه معتبره ذخیره موجوده نه وای ، همداشان که چیرته د فقه تدوین او د څلورو مذهبونو تعین نه وای شوی نو نن به

خلک د خپلو خواهشاتو بندګان او غلامان وای ، دا خو د الله تعالی لوی فضل و چی الله تعالی د علماؤ او مجتهدینو په زړه کی د دی خبری الهام وکړ او دوی د ضرورت په احساس کولو سره د فقه تدوین وکړ او د عباداتو ، طهارت ، معاملاتو ، بیوع وغیره متعلق په سووونو مسائل چی په قرآن او سنت کی متفرق وو یوځای راجمع کولو سره په جدا جدا بابونو کی مرتب کړل او د الله تعالی ورکړي عقل و فهم په ذریعه د اجتهاد او استنباط نه کار واخست او د امت په وړاندی یی د قرآن و سنت خلاصه او جوهر تیار پوخ شوی طعام په صورت کی کیښود چی د دی پانګي په ذریعه امت لپاره د قران او حدیث د مسایلو معلومول او ورباندی عمل کول آسان شو ، که چیرته د فقهی تدوین نه وای شوی نو ایا په مونږ کی دا صلاحیت و چی براه راست د قران او حدیث نه مسائل معلوم کړی وای ؟ خمونږ حال خو دا دی چی علم تفسیر او علم حدیث خو پریده د قرآن شریف یا د حدیث شریف بغیر د اعراب نه صحیح تلاوت او لوستل هم نشو کولی ، د مسائلو استنباط خو ډیره اوچته خبره ده پدی حال باندی خو د مجتهدینو احسان مند کیدل پکار دي او دوی لپاره د خیر دعاګانی کول پکار دي د دی په ځای د دوی پشان کی ګستاخي کول او د دوی توهین او سپکاوی کول خومره د بدنصیبی خبره ده مونږ خو دا وایو چی د مجتهدینو امامانو امت باندی ډیر لوی احسان دی الله پاک دی خمونږ له طرفه دوی ته بهترینه جزا او اجرونه ورکړي او د دوی درجات اوچت کړي ، آمین .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله فرمایي :

" وبالجملة فالتمذهب للمجتهدین سرٌ الهمه الله تعالی العلماء وجمعهم من حیث یشعرون او لا یشعرون " (الانصاف ص ٤٧) .

ترجمه . حاصل دا (د دی مجتهدینو صاحب د مذهب کیدل) او بیا د خلکو د دوی پیروي کول یو راز دی چی الله تعالی علماوٌ ته الهام کړی او دوی یی (پدی تقلید باندی) راجمع کړیدي که دوی پدی راز باندی پوهیږي او یا نه پوهیږي .

او بیا لیکي : " اعلم فی الاخذ بهذه المذاهب الاربعة مصلحة عظیمة وفی الاعراض عنها کلها مفسدة کبیرة " (عقد الجید ص ٣١) .

ترجمه : پدي پوهیدل پکار دي چی د څلورو مذهبونو په اختیارولو کی لوی مصلحت دی او د دی ټولو نه په اعراض کول کی لوی فساد دی .

حضرت مولانا محمد ادریس کاندهلوي رحمه الله هم د دی اعتراض خواب لیکلی دی کتونکي دی لر هغه هم وګوري :

خواب دا دی چی کلا و حاشا څلور مذهبونه بدعت ندي بلکي د څلورمی صدی نه وروسته اهل سنت والجماعت په همدی څلورو مذهبو کی محدود شوي دي لکه څنګه چی قاضی ثناء الله پاني پتي رحمه الله په تفسیر مظهري کی لیکلي او شیخ ابن همام په تحریر الاصول کی فرمایي چی پدی خبره باندی اجماع شوی ده چی کوم مذهب لدی څلورو مذهبونو نه مخالف وي هغه باندی به عمل نه کیږي ، د صحابه کرامو په دور کی اګرکه دا څلور مذهبونه (حنفي ، مالکي ، شافعي او حنبلي) نه وو د تابعینو او د تبع تابعینو په زمانه کی پیدا شوي مګر دا داسی دي لکه قرئت سبعه او د صحاح سته ؤ ظهور چی د تابعینو او د تبع تابعینو په زمانه کی شوی او د حنفي او مالکي نسبت داسی دی لکه چی وویل شي دا د حفص قرئت دی او دا د حمزه ، دا د عاصم یا دکسایي او حدیث شریف د بخاري دی او دا د مسلم ، تولو ته پته ده چی د صحابه کرامو په زمانه کی نه بخاري ؤ او نه مسلم ، نو لکه څنګه بخاري او مسلم طرف ته د کوم حدیث نسبت د تخریج او د اسناد په اعتبار دی، او عاصم او حمزه طرف ته د کوم قرئت نسبت د روایت په اعتبار سره دي ، همداشان امام ابوحنیفه او امام شافعي طرف ته نسبت کول د استنباط او اجتهاد په اعتبار سره دي یعنی امام اعظم د دی حدیث دا معنی کړی ده او امام شافعي صاحب دا معنی کړی ده ، اصل مقصود د الله تعالی او د ده برحق رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت کول دي او د مجتهدینو امامانو د اتباع معنی دا ده چی د دوی حضراتو د تشریح او تفسیر مطابق په قران او حدیث باندی عمل کول دي او ظاهره خبره ده چی د کوم راسخ في العلم د تفسیر او تفصیل مطابق د شریعت د احکامو اتباع کول عین هدایت او عین رشد و سعادت دی ، نو بیا څه وجه ده چی بخاري او مسلم طرف ته خو نسبت جائز وي او ابوحنیفه او شافعي طرف ته نسبت شرک دی ؟ نو لکه څنګه چی بخاري و مسلم او د صحاح سته احادیث د لسان نبوت ملغلری دي همدا شان فقه حنفي او فقه شافعي هم د دین محمدی صلی الله علیه وسلم د دریاب نهرونه دي د دواړو نهرونو اوبه له یوه دریاب نه راځي ...... الی قوله ....

او په اجتهادي مسائلو کی د مجتهدینو امامانو اختلاف داسی دی لکه د حدیثونو په صحت او علت کی چی د محدثینو اختلاف دی ، او لکه څنګه چی د مسند ، مرسل ،

مرفوع ، موقوف ، صحیح ، حسن او وغیره وغیره اصطلاحات د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې نه وو لکه محدثینو د زمانې د ضرورت مطابق د نبوي کلماتو او احادیثو د حفاظت لپاره دا اصطلاحات مقرر کړي دي همداشان فقهاء کرامو د قرآن و سنت د معانیو پوهیدو لپاره د عبارة النص ، اشارة النص ، ظاهر ، نص ، مفسر او محکم وغیره اصطلاحات مقرر کړي دي .

نو لکه څنګه چې د محدثینو د اصولو او قواعدو پابندي او پیروي واجب دی او هیڅ یو شخص ته دا اختیار نشته چې خپلې رأی سره کوم حدیث ته چې وغواړي صحیح ووایي او کوم یو ته وغواړي موضوعي ووایي ، نو همداشان د اصول فقه پابندي او پیروي هم ضروري دي ، او هر کس او نا کس ته هرګز د دی اجازت نشته چې د قران او حدیث د ترجمې په لیدلو سره چې څه وغواړي معنی وکړي او عمل وربانـدی وکړي او نورو ته هم پدی باندی د عمل کولو تبلیغ وکړي ، که چیرته د اصول فقه پابندي ضروري نه وي نو بیا به د اصول حدیث پابندي هم ضروري نه وي ،په جرح او تعدیل او تصحیح او تضعیف کې به هر سړي ته اختیار وي چې چاله وغواړي ثقه او صدوق وښایي او چاله وغواړي کذاب ، دجال او وضاع الحدیث وښایي .

او لکه څنګه چې د حدیثو امامان په کوششو باندی مطمئن کیدو سره د حدیث راویان او د حدیث صحت او ضعف بانـدی بحث نشي کولی او د دوی په علمي تحقیقاتو باندی اعتماد کولو سره بغیر د دلیل نه د دوی قول منلی شي ، حال دا چې د اسماء الرجال کتابونه اوس هم موجود دي .

همداشان د مجتهدینو امامانو په فقه او استنباط او خدا داد فهم او فراست باندی اعتماد کولو سره د دوی فتوی باندی بغیر د دلیل معلوملو او تحقیق کولو نه عمل کوي بدون د شک او شبهې نه صحیح او درست دي ، پدی دواړه تقلیدو کې که څه فرق وي نو هغه دی مونږ ته وښودل شي چې څه فرق دی ؟ چې د هغه په بنا د محدثینو تقلید خو فرض او واجب وي او د فقهاوُ تقلید شرک او حرام ؟ الله پاک دی په محدثین کرام او فقهاوُ عظامو باندی په کروړونو رحمتونه او برکتونه نازل کړي چا مونږ ته روایت رسولی او چا راته درایت او احکام او معنی .

لکه څنګه چې مونږ د قرآن او د تفسیر امامانو زرخرید غلامان یو چې یو ډلې راته د الله تعالی کلام بغیر د کمي او زیاتي په هغه شان رسولی لکه چې جبریل امین په سید المرسلین صلی الله علیه وسلم باندی نازل کړی وُ او بلې ډلې راته د کلام الله حقائق او

معارف او د دوی په سحر انګیز بیان سره خمونږ د زړه سترګی روښانه کړی ، همداشان مونږ د محدثینو په اقوالو او افعالو باندی علم له کومه خایه راتلو او که د فقهاو کتابونه وای نو په قرآن او سنت به عمل خنګه کولی ؟ د معنی زده کولو نه بغیر خو عمل بشي کیدلی . د قرآن او حدیث اصل مقصد اطاعت دی او د اطاعت دار و مدار په معنی دی نه په لفظ نبه خان پوه کړئ (ص ۱۰۱ ، ۱۰۲) .

پورته ذکر شوی بیان نه ثابت شو چی د خلورو امامانو تقلید او فقهي مسائلو ته بدعت نه ویل کیږي .

او پدی خبره هم خان پوهول پکار دي چی د نفس تقلید او د تقلید شخصي ثبوت له قران او حدیث او د صحابه کرامو له تعامل نه ثابتیږي ، وګورئ :

قرآن مجید کی دي : (۱) " یاایهاالذین امنوا اطیعوا الله واطیعوا الرسول واولی الأمر منکم " (سورت نساء ۵۹ ایت) .

ترجمه : ای مؤمنانو ! تاسو د الله تعالی اطاعت وکړئ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت وکړئ او دخپل اولو الامر هم اطاعت وکړئ .

الله تعالی پدی آیت کریمه کی د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت سره د اولو الامر د اطاعت هم حکم کړی دي او د اولو الامر نه علماء ، فقهاء او حاکمان مراد دي په عوامو باندی د علماو او فقهاو اتباع او پیروي واجب دی خکه چی علماء د انبیاء کرامو وارثان دي او د شرعي احکامو خازن (خزانچي) او امانداران دي .

(معارف القرآن ادریسي ۱۰۲/۲)

پدی آیت کریمه کی غور وکړئ ! الله تعالی پدی آیت کریمه کی د اولو الامر د اطاعت حکم هم کړی دی او د اولو الامر په مصداق کی علماء او فقهاء هم شامل دي .لهذا لدی آیت نه ثابتیږي چی الله تعالی د علماو او فقهاو د اتباع هم حکم کړی دی دا تقلید ندی نور څه دي ؟

(۲) " لوردوه الی الرسول والی اولی الامر منهم لعلمه الذین یستنبطونه منهم " (سورت نساء ۸۳ ایت) ترجمه : که چیرته دی خلکو دغه خبره د الله رسول صلی الله علیه وسلم او اولو الامر ته حواله کړی وای نو کوم خلک چی د فقه او اجتهاد خاوندان دي دوی به په پوهیدو سره دوی ته ښودلي وای چی کوم شی قابل د عمل دی او کوم ناقابل عمل .

پدی آیت کریمه کی هم صراحتاً د مجتهدینو امامانو د اتباع حکم ورکړی شوی دی ،او همدا تقلید دی پدی آیت کی دا ویل شوي دي چی کوم خلک خپل ځان ی کی د استنباط صلاحیت نه لري یعنی د خبری بیخ ته نشي رسیدلی دوی ته پکار دي چی مجتهدینو طرف ته رجوع وکړي او د دوی څخه د تپوس نه بغیر د دین کومه خبره د خولی نه ونه باسي .

په معارف القران ادریسي کی دي : د استنباط لغوي معنی د ځمکی د بیخ نه په کنستو سره اوبه ویستل دي ، او د شریعت په اصطلاح کی په شرعي نصوصو کی چی کوم حقائق او معارف پټ دي د عقل او خداداد فراست په ذریعه ویستو ته استنباط او اجتهاد دی ، د شریعت ډیر احکام د آیتونو او دحدیثو له ظاهر نه نشي فهمیدلی بلکی بدون د شک نه د قران او حدیث په نصوصو کی مخفي او مستور دي دا ناممکن دي چی په شریعت دی کوم یو امر پریښی وي او د هغی متعلق دی کوم حکم نه وي کړی ، فقهاؤ کرامو چی الله تعالی ورته د خاص خیر اراده کړی د خپل دقیق او عمیق فکر و نظر په وجه د شریعت ځمکه کنستلی او د دی له بیخ نه هغه پټ او مخفي احکام راویستلي کوم چی د شریعت د ځمکی په مخ باندی نه ښکاریدل ، نو د شریعت د ځمکی له بیخ نه پټ او مخفي حکم راویستو ته استنباط او اجتهاد و قیاس ویل کیږي ، پدی بنیاد باندی فقهاء حضرات لیکي چی قیاس مظهر د حکم دی نه مثبت د حکم یعنی په قیاس سره کوم حکم شرعي نه ثابتیږي بلکی کوم حکم چی په قرآن او حدیث کی مخکی موجود وُ پدی وجه ډیرو نادانانو همدا ګمان کړی چی د قیاس شرعي حقیقت به هم همدا وي ، د شریعت په اصطلاح کی د قیاس شرعي حقیقت دا دی چی غیر منصوص الحکم د منصوص الحکم سره د مشابهت او مماثلت په وجه د منصوص الحکم حکم ورته ثابت کړی شي او دا د مجتهد کار دی یعنی د کوم شي حکم چی په قران او حدیث او اجماع د امت کی منصوص او مصرح نه وي پدیکی غور و فکر وکړي چی دا غیر منصوص د کوم منصوص سره زیات مشابه او مماثل دی ؟ نو د دی مشابهت په وجه غیر منصوص ته د منصوص حکم ثابتولو ته قیاس شرعي ویل کیږي ، لکه د های کورټ (مرافعه محکمه) کوم فاضل جج (قاضي) چی د کومی مقدمي حکم صراحتاً په قانون کی موجود نه وي نو هلته د ده نظائرو ته نظر کولو سره فیصله صادروي دا هم یو قسم ته قیاس شو په عدالتونو کی د زړګونو مقدمو فیصلی په نظائرو باندی کولی شي ، د نظیر موافق حکم ورکول همدا قیاس دی ، معلومه شوه چی په هر

قانون کی قیاس موجود دی ، بغیر د قیاس څخه د عـدالتونو فیصـله نـاممکن ده ، امـام بخاري هم د قیاس همدا حقیقت بیان کړی لکه چی فرمایي :

" باب من شبه اصلاً معلوماً باصل مبین قد بین الله حکمهـــا لـــیفهم الســـائل "

(بخاری ۱۰۸۸/۲ کتاب الاعتصام) چی دا دی طرف تـه اشـاره ده چـی د قیـاس حقیقت تشبیه او تمثیل دی او پدی باره کی امام بخاري مختلف تراجم (بابونـه) قـائم کړي دي ، د ټولو حاصل دا دی چی د قیاس او د رأی دوه قسمونه دي ، یو محمـود او بل مذموم ، مذموم هغه دی ، چی د هغه په کتاب او سنت او اجمـاع کـی هـیڅ اصـل موجود نه وي ، او محمود هغه دی چی د قران او حدیث او اجماع د امـت نـه مـأخوذ وي ، علماء دی د فتح الباري (۱۳) جلد باب الاعتصام ته رجوع وکړي .

(معارف القرآن ادریسي ۱۲۴/۲، ۱۲۵)

خلاصه دا چی پدی آیت کریمه کي الله تعالی پـه " لعلمه الذین یستنبطونه منـــهم " فرمایلو سره د مجتهدینو د اتباع حکم کـړی چـی پـدی سـره تقلیـد ثابتیـږي او ورسـره ورسره د استنباط (اجتهاد ، قیـاس شـرعي) ثبـوت هـم کیـږي ، کـه چیرتـه اسـتنباط د شریعت نه مخالف وي نو الله تعالی بیا اهل اسـتنباط تـه د معـاملی وړانـدی کولـو او د دوی د اتباع حکم څنګه کولو ؟

د حدیثونو څخه هم د قیاس شرعي ، اجتهاد او د استنباط ثبوت کیږي ، د حضرت معـاذ رضی الله عنه یمن ته د قاضي جوړولو او لیږلو روایت آینـده صـفحو کـی راتلـونکی دی هغه روایت په غور سره وګوریٔ لدینـه صراحتاً د اجتهـاد ثبـوت کیـږي او دغـه لانـدی روایت هم وګوریٔ : په صحیح بخاري شریف " باب غزوة الخندق وهی الاحزاب " کی دي چی د احزاب په ورځ حضور اقدس صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی : " عن ابن عمر رضی الله عنه قال قال النبی صلی الله علیه وسلم لایصلین احدٌ العصر الا فی بنی قریظة " .

یعنی هیڅوک دی د مازیګر لمونځ د بنو قریظه نه علاوه بل ځای کی نه کوي .

صحابه کرام روان شول په لاره کی د مازیګر د لمانځه وخت شـو نـو صـحابه کـرام دوه ډلی شوی یوی ډلی په ظاهري الفاظو عمل کولـو سـره وفرمایـل : " فقـــال بعضـــهم

لانصلی حتی نأتیها " یعنی بنوقریظه ته په رسیدو سره لمونځ کوو ، او بلی ډلی وویل : " وقال بعضهم بل نصلی لم یرد عنا " دی ډلی د نورو نصوصو په کومو کی چی پخپل وخت باندی د لمونځ کولو تاکید شوی دی مثلاً " ان الصلواة کانت علی المؤمنین کتاباً موقوتاً " او نورو ته په کتلو سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ارشاد گرامي کی اجتهاد وکړ چی د حضور اقدس صلی الله علیه وسلم منشاء او مراد بنوقریظه ته په جلتی سره رسیدل دي یعنی دومره زر او جلتي وکړئ چی که کیدای شي مازیگر لمونځ هلته ورسوئ د ده صلی الله علیه وسلم مقصد دا نه وُ چی که په لاره کی د مازیگر وخت راشي نو بیا لمونځ مه کوئ او قضاء کړئ ، دا قیاس یی وکړ او په لاره کی یی د مازیگر لمونځ ادا کړ ، وروسته بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وراندی د دی واقعی ذکر وکړ. "فذکر ذلك للنبی صلی الله علیه وسلم فلم یعنف واحداً منهم" رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوی ډلی هم ملامتیا ونه کړه (بخاري ۵۹۱/۱ ، او ۱۲۹/۲) .

پدی حدیث کی غور وکړئ ، یوی ډلی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ارشاد د مبارک ظاهري الفاظو په پرینبودو سره د ده منشاء او مراد ته رسیدو لپاره اجتهاد او استنباط کولو سره خپلی رأی او قیاس باندی عمل وکړ ، د علم او فهم خاوندان پوهیږي چی دا رأی او اجتهاد د نص په مقابل کی نه وُ بلکنی د نص مطلب او مراد واضح کولو لپاره وُ ، او نبی اکرم صلی الله علیه وسلم پدی باندی کوم رد او انکار ندی کړی ،لهذا د دی حدیث نه ثابت شو چی په شریعت کی اجتهاد ، استنباط او قیاس شرعي مذموم او غلط ندی .

البته هغه رأی او قیاس چی د نصّ په مقابل کی وي مذموم او غلط دی لکه چی د ابلیس رأیه وه " قال انا خیر منه خلقتنی من نار وخلقته من طین " یعنی زه د آدم علیه السلام نه بهتر یم ، زه دی د اور نه پیدا کړی یم او هغه دی د خاورو نه پیدا کړی دی ، او اور بهتر دی ځکه چی د دی په طبیعت کی بلندي او اوچتوالی دی او خاوره مفضول ده ځکه چی د دی په طبیعت کی لاندی او بنکته والی دی ، نو افضل و عالي به مفضول او سافل ته ځنګه سجده وکړي ؟ دا د ابلیس رأیه وه چی د الله تعالی د

حکم په مقابل کی یی واچوله‌لهذا دا رأیه غلطه او مذموم وګرځیده او ابلیس مردود او ملعون شو .

(۳) " فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لاتعلمون " (سورت نحل) یعنی که چیرته تاسو نه پوهیږئ نو د علماؤ نه تپوس وکړئ .

الله تعالی پدی آیت کریمه کی د یوی بنیادي مسئلی تعلیم ورکړی چی کوم خلک پخپله قران او حدیث نه پوهیږي او د الهي احکامو د معلومولو صلاحیت نه لري نو هغوی دی د علماؤ نه تپوسونه وکړي په آیت کیٰ د اهل ذکر نه اهل علم مراد دي چی بهترین مصداق یی مجتهدین امامان او فقهاء عظام دي ، نو لدی آیت نه دا ثابت شو چی کوم شخص الهي احکام نه پیژني او علم نلري نو هغه لپاره ضروري دي چی د علماؤ نه تپوس کولو سره عمل وکړي ، همدا خو تقلید دی .

(۴) " فلو لا نفر من کل فرقة منهم طائفة لیتفقهوا فی الدین ولینذروا قومهم اذا رجعوا الیهم لعلهم یحذرون " (سورت توبه ۱۲۲ آیت) .

ترجمه : ولی نه ووځي د هری فرقی نه یوه ډله ترڅو د دین پوهه حاصل کړي او کله چی واپس راشي نو خپل قوم وویروي تر څو د دیني خبرو په اوریدو سره د الله تعالی له نافرمانی نه بچ شي .

د دی آیت په تفسیر کی دوه قوله دي ، دویم قول دا دی چی ټول خلک دی د علم د زده کړی لپاره خپلو کورونو څخه ونه ووځي بلکی لږ غوندی خلک دی لاړ شي ، ځکه چی مکمل دیني علم حاصلول فرضي کفایي دي که یو هم علم حاصل نه کړي نو ټول ګنهګاریږي او کوم خلک چی تلي وي هغه دی علم دین او پوهه حاصلولو سره خپل قوم ته فایده ورسوي ، هغوی د دین تعلیم ، وعظ و نصیحت او د الله تعالی له عذاب نه وویریږي (معارف القرآن ادریسي ۴۲۳/۵) .

لهذا د دی آیت نه د یو تفسیر مطابق دا ثابت شو چی عالمانو باندی د ناپوهانو پوهول او دیني احکام ښودل او د الله تعالی له عذاب نه ویرول ضروري او لازم دي او بی علمو او ناپوهانو باندی د عالمانو خبره منل او د دی مطابق عمل کول ضروري دي ، دا تقلید نه دی نو څه دي ؟ لدینه په واضح طور سره د تقلید ثبوت کیږي بلی د تقلید شخصي ثبوت هم کیدی شي ، پدی وجه چی آیت کریمه کی لفظ د " طائفة " دی

او په عـربي ژبـه کی د طـائفه اطلاق په یو کس باندی هم کیږي او پـه ډیـرو بانـدی هم کیږي .

علامه ابن عبدالبر رحمه الله لیکـي : " والطائفة فی لسان العرب الواحد فما فوقـه " (جامع بیان العلم وفضله ص ١١ باب قوله صلی الله علیه وسلم طلـب العلـم فریضة علی کل مسلم) .

لهذا کیدی شي چی د علم حاصلولو نه وروسته راتلونکی یواځی یو کس وي نو پـه قـوم باندی د ده اتباع هم ضروري شو او د یو شخص اتباع تقلید شخصي دی .

د " لیتفقهوا فی الدین " په سلسله کی حضرت مولانا محمد ادریس کانـدهلوي رحمـه الله ډیره ښه خبره لیکلی ده لږ یی وګورئ .

" پدی پوهیدل پکار دي چی د فقاهت فی الدین درجه مطلق علم نه اوچته ده د علـم معنی پوهیدل دي او د فقاهت لغوي معنی فهم او پوهه ده ، فقیه د لغت او شـریعت پـه اعتبار سره هغه شخص ته ویل کیږي چـی د شـریعت پـه حقـائق او دقـائق او د دی پـه ظاهر او باطن باندی پوهیږي د یواځی الفاظو یادولو نوم فقاهـت نـدی ، کومـو خلکـو چی خداداد ذهانت او حافظی سره د قران او حدیث الفاظ یاد کړي او بیا یی امت تـه بغیر د کمي او زیاتي رسولي هغوی ته حفاظ قرآن او حفاظ حدیث ویل کیـږي ، جزاهم الله عن الاسلام والمسلمین خیراً آمین .

او کومو خلکو چی خپـل خـداداد عقـل سـلیم او فهـم مسـتقیم سـره د قـرآن وحـدیث معناګانی او د شریعت حقائق او دقائق او د دی اصول او فروع امـت تـه ښـودلی ترڅـو امت پدی احکامو باندی عمل وکړی شي هغوی ته فقهاء ویل کیږي ، که فقهاء د ظـاهر وي او که فقهاء د باطن وي ، اصل مقصود د الله او د رسول الله صلـی الله علیـه وسلم اطاعت دی او د اطاعت اصل دار و مدار په معنی دی یواځی دالفاظ په یـادولو سـره د اطاعت فریضه نه ادا کیږي ، اصل عالم هغه دی چی د شـریعت پـه معـانی او مقاصـدو باندی وپوهیږي ، کما قال الله تعالی " وتلك الامثال نضربها للناس وما یعقلها الا العالمون " په امت باندی د شریعت حفاظت فرض دی محـدثینو حضـراتو د شـریعت د الفاظو حفاظت کړی او فقهاء حضراتو د شریعت د معانیو حفاظت کـړی دی ، دواړه الله تعالی ته مقبولی ډلی دي ، لکه څنګه چی د انبیاء کرامو په درجاتو او مرتبـو کـی فـرق

دی کما قال الله تعالی ".تلك الرسل فضلنا بعضهم علی بعض منهم من کلـــم الله ورفع بعضهم درجات " همداشان د انبیاء کرامو د وارثانو یعنی علماء کرامو کـی هـم د د رجو او مرتبو فرق دی .

محدثینو او فقهاء کرامو کې دومره فرق دی لکه څومره چی د لفظ او معنی په درجـه او مرتبه کی فرق دی ، حافظ قرآن د قرآن پاک د الفاظو حـافظ دی او یـو مفسر قـرآن ، د قرآن پاک د معانیو عالم او حافظ دی . (معـارف القـرآن ادریسـي ۴۲۳/۳ ، ۴۲۴ ، سـورت توبه) اوس حدیثونه وګورئ .

(۱) " عن حذیفه رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وســـلم انی لا ادری ما بقائی فیکم فاقتدوا بالذین من بعدی ابی بکر و عمر " (مشکواة شریف ص ٥٦ باب مناقب ابی بکر و عمر رضی الله عنهما) .

حکیم الامت حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله د " من بعدی " په تشریح کـی لیکي : د من بعدی نه مراد د دغو صاحبانو د خلافت حالت دی .... نو مطلب دا شـو چی د دوی خلیفه کیدو په حالت کی د دوی اتباع او پیروي وکړئ او ظـاهره ده چـی خلیفه یو وي نو حاصل دا شو چی د ابوبکر صدیق رضی الله عنه پـه خلافـت کـی د ده پیروي وکړئ او د حضرت عمر رضی الله عنه په خلافـت کـی د ده پـیروي وکـړئ نـو د یوی خاصی زمانی پوری د یو شخص د پیروي حکم کـړی دی او دا یی نـدی فرمـایلي دي چی د دوی څخه داحکامو دلائل هم وغواړئ او نه دا عام عـادت وُ چـی د هـری مسئلی دلیل معلوم کړی شي او د تقلید شخصـي حقیقـت هـم دا دی څکـه چـی د یـو شخص د تقلید حقیقت همدا دی چی یو کس ته کومه مسئله پیدا شي دکوم تـرجیح پـه بناء فقط یو عالم ته رجوع وکړئ او دهغه نه تپوس کولو سره عمل وکړئ او پـدی ځـای کی د دی د وجوب نه بحث ندی هغـه وړانـدی ذکـر کیـږي ، یـواځی د دی جـواز او مشروعیت او د سنت سره موافقت ثابتول مقصود دي ، چی دا د دی ذکـر شـوی قـولي حدیث نه دی ، الحمد لله الخ (الاقتصاد فی بحث التقلید والاجتهاد ص ۳۱ ، ۳۲) .

(۲) " علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین المهدیین " (مشکواة ص ۳۰) .

ترجمه : تاسو زما سنت او زما د خلفاء راشدینو سنت مضبوط ونیسئ .

پدی حدیث کی حضور اقدس صلی الله علیه وسلم د خلفاء راشدینو طریقی ته سنت ویلو سره پدی باندی عمل کول ضروري گرځولي دي ، دا تقلید ندي نو څه دي ؟

(۳) " عن معاذ بن جبل رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم لما بعثه الی الیمن قال کیف تقضی اذا عرض لك قضاء .... قال اقضی بکتاب الله قال فان لم تجد فی کتاب الله قال بسنة رسول الله صلی الله علیه وسلم قال فان لم تجد فی سنة رسول الله صلی الله علیه وسلم قال اجتهد برأئی ولو الو فضرب رسول الله صلی الله علیه وسلم علی صدره وقال الحمد لله الذی وفق رسول الله صلی الله علیه وسلم لما یرضی به رسول الله صلی الله علیه وسلم " (مشکواة شریف ص ۳۲٤ باب العمل فی القضاء والخوف منه ابوداؤد ، بابٌ اجتهاد والرأی فی القضآء) .

ترجمه : له حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روایت دی چی کله رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه یمن ته د قاضي په توګه لیږلو نو تپوس یی ورنه وکړ چی څه مسئله درته پیدا شي نو فیصله به څنګه کوی ؟ عرض یی وکړ چی د الله په کتاب به فیصله کوم ، ویی فرمایل که هغه مسئله د الله په کتاب کی پیدا نه کړی ؟ عرض یی وکړ چی بیا به د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو باندی فیصله کوم ، ویی فرمایل که په سنتو کی هم پیدا نه کړی ؟ عرض یی وکړ چی بیا به اجتهاد کوم او د دی مسئلی د حکم په معلومولو کی به هیڅ قسم کوتاهي ونه کړم حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه فرمایي چی رسول الله صلی الله علیه وسلم زما پدی ځواب باندی (د زیاتی خوشحالی نه) په خپل مبارک لاس سره زه په سینه باندی ووهلم او وی فرمایل : د الله شکر دی چی ده د خپل رسول صلی الله علیه وسلم قاصد ته د هغی خبری توفیق ورکړ چی د الله رسول صلی الله علیه وسلم پری راضي او خوښ وي .

دحضرت معاذ رضی الله عنه لدی حدیث نه څو خبری ثابتیږي :

(۱) ډیر داسی مسائل شته چی په قران او حدیث یی حکم منصوص ندی یعنی صراحتاً ذکر ندي .

(۲) په غیر منصوص مسائلو کی خپل زای او اجتهاد سره فیصله کول مستحسن دي او دا د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عین مرضي مطابق دي .

(۳) رأی او اجتهاد د الله تعالی یو نعمت دی چی پدی باندی رسول الله صلی الله علیه وسلم الحمد لله ویلی او له ډیری خوشحالی نه یی حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه په سینه باندی وهلی ، لدینه دی طرف ته اشاره وه چی د نبوت د علومو فیوض او برکات فقیه او مجتهد سره وي .

(۴) حضرت معاذ رضی الله عنه یمن ته د قاضي په حیث لیږل کیږي او د مسائلو او دمعاملو دحل کولو تعلیم ورکول کیږي وجه ښکاره ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم پدی پوهیدو چی د یمن خلک د خپلی مسئلی او معاملی حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه ته وړاندی کوي او حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه د قرآن او حدیث او د خپل اجتهاد په رڼا کی چی کوم حکم بیانوي هغوی به پدی کی د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه پیروي کوي ، دا تقلید ندی نور څه دي ؟ گویا چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د یمن خلکو ته د حضرت معاذ رضی الله عنه د شخصي تقلید حکم کړی دی ، غرض دا که پدی حدیث کی صحیح طور باندی غور وکړی شي نو د تقلید ثبوت او جواز واضح طور سره معلومیږي .

(۵) " العلماء ورثة الانبیاء " (رواه احمد وابوداؤد والترمذی) (مشکواة کتاب العلم ص ۳٤) .

یعنی علماء د انبیاء کرامو وارثان دي نو لکه څنګه چی د انبیاء کرامو اتباع فرض او لازم دی همدا شان د دوی د وارثانو یعنی د علماؤ اتباع هم فرض او لازم دی .
د انبیاؤ میراث علم دی ، د علماؤ اتباع او اقتداء پدی وجه فرض دی چی دوی د علم شریعت وارثان او حاملان دي ، لدی حدیث نه هم تقلید ثابتیږي .
پورته ذکر شوي آیتونو او حدیثونو څخه واضح طور سره مطلق تقلید ثابتیږي او بیا د تقلید دوه صورتونه دي : یو دا چی تقلید لپاره د کوم خاص امام او مجتهد تعین ونه کړی شي کله د یو امام مسلک اختیار کړي او کله د بل امام په قول باندی عمل وکړي دیته تقلید مطلق وایي او دویم صورت چی د تقلید لپاره کوم یو مجتهد متعین کړی شي په هره مسئله کی دهغه پیروي وکړی شي دیته تقلید شخصي ویل کیږي ....د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین په دور کی د تقلید پدی دواړو صورتونو باندی عمل شوی دی او د دی ثبوت کیږي .

لکه چې په هغه مبارک دور کې دا خبره عامه وه چې کوم حضرات فقیه نه وو هغو به د فقهاؤ صحابه ؤ او تابعینو څخه تپوس کولو سره عمل کولو او د سائل په ځواب کې چې مجیب به کوم ځواب ورکولو مع دلیل یا بلا دلیل سائل به وربانـدی عمـل کولـو او د عدم دلیل په صورت کې به سائل د دلیل تپوس نه کولو ، حضرت شاه ولی الله محـدث دهلوي رحمه الله فرمایي : " لان الناس لم یزالوا من زمن الصحابة الى ان ظهـرت المذاهب الاربعة یقلدون من اتفق من العلماء من غیر نکیر من احد یعتبر انکـاره ولو کان ذلك باطلاً لانکره " (عقد الجید مع سلك مرواریدص ۲۹) .

ترجمه : ځکه چې د صحابه کرامو له وخت نه د څلورو مـذهبونو د ظاهریـدو تـر وختـه پورې دخلکو همدا دستور ؤ چې کوم مجتهد عالم به پیدا شو دهغـه تقلیـد بـه یې کولـو پدی باندی هیڅ کوم معتمد شخص انکار نه دی کړی او که چیرته دا تقلید باطـل وای نو صحابه کرامو او تابعینو به ضرور انکار او رد کولو .

د حضرت شاه ولی الله صاحب لدی وینا څخه د صحابه کرام او تـابعینو پـه دور کـې پـه واضح دور باندی د مطلق تقلید ثبوت کیږي ، لکه څنګه چـې پـه دغـو حضراتو کـې د مطلق تقلید رواج ؤ همداشان ځینی حضراتو به تقلید شخصي باندی هـم عمـل کولـو ، لکه چې د مکی مکرمی خلکو په اختلافي مسئلو کې د حضرت عبدالله بن عبـاس رضـی الله عنه قول ته ترجیح ورکولو او د ده په قول به یې عمل کولو ، او د مدینې خلکـو بـه د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه په قول باندی عمل کولو ، او د کوفي خلکو بـه د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په قول باندی عمل کولو .

(۱) لکه چې په بخاري و مسلم او ابوداوٗد کې دي : د حضرت ابوموسـی اشعري رضـی الله عنه د یوی مسئلی تپوس وشو او بیا همدا مسئله د عبدالله بن مسعود رضـی الله عنـه نه وپوښتلی شوه د ابن مسعود رضی الله عنه جواب د ابوموسی اشعري رضی الله عنه لـه جواب نه مخالف ؤ او کله چې ابوموسی اشعري رضی الله عنه ته پتـه ولګیـده نـو پوهـه شو چې د ابن مسعود رضی الله عنه جواب صحیح دی او بیا یې وفرمایل :

" لاتسئلونی مادام هذا الحبر فیکم " مسئله دا وه چې لمسـی تـه د لـور سره څـومره میراث رسي (بخاري باب میراث البنت مع ابن البنت ۹۹۸/۲) یعنی څو پـوری چـې دا متبحر عالِم (ابن مسعود رضی الله عنه) په تاسو کې موجـود وي نـو تـولی مسئلی د ده رضی الله عنه نه وپوښتئ او کومه فتوی چې درکړي په هغه عمل کوئ او له مانه تپوس

مه کوئ ، او همدیته تقلید شخصي وایي ، لدی حدیث نه تقلید شخصي په واضح طور سره ثابتیږي (مشکواة شریف ص ٢٦٤ باب الفرائض فصل ثاني) .

(٢) په صحیح بخاري کی د حضرت عکرمه رضی الله عنه نه روایت دی : " ان اهل المدینة سألوا ابن عباس رضی الله عنه عن امرأة طافت ثم حاضت قال لهم تنفر قالوا لانأخذ بقولك وندع قول زید رضی الله عنه " (صحیح بخاري ٢٣٧/١ کتاب الحج باب اذا حاضت المرأة بعد ما افاضت) .

ترجمه : د مدینی خلکو د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه د هغی ښځی په باره کی تپوس وکړ چی فرضي طواف (طواف زیارت) یی کړی وي او بیا حائضه شوی وي ، ابن عباس رضی الله عنه ورته وفرمایل : چی هغه بغیر د طواف وداع نه تللی شي ، مدینی خلکو وویل مونږ ستا په قول (فتوی) باندی عمل کولو سره د زید بن ثابت رضی الله عنه قول (فتوی) نشو پریښودلی .

لدینه ثابت شو چی دمدینی خلکو به د حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه شخصي تقلید کولو ، د دی روایت الفاظ " لانأخذ بقولك وندع قول زید " جمله باندی غور وکړئ کله چی مدینی والاو ابن عباس رضی الله عنه ته دا خبره وکړه نو ابن عباس رضی الله عنه ورباندی رد او انکار ونه کړ چی تاسو اتباع او اقتداء (تقلید شخصي) لپاره د یو شخص په معین او خاص کولو سره د شرک ، بدعت او ګناه مرتکب کیږئ ، که چیرته تقلید شخصي ناجائز او حرام وای نو ابن عباس رضی الله عنه به ورباندی ضرور رد کړی وُ .

د دغو روایتونو په نظر کی نیولو سره د دی خبری فیصله کول مشکل ندی چی د صحابه کرامو او تابعینو په کی مطلق تقلید او تقلید شخصي دواړه رواج وُ ، پدی خبره هم غور کول پکار دي چی هغه د خیر القرون زمانه وه په هغه زمانه کی خیر غالب وُ او عام طور سره په دین کی د نفسي خواهشاتو دخل نه وُ ، پدی وجه کوم سړي چی به د مشر نه د کومی مسئلی تپوس کولو نو د نیک نیتي په وجه به یی کوله نه دخپلو نفسي خواهشاتو د پوره کولو په خاطر لهذا کوم جواب چی به ورته ملاو شو که د نفس موافق وُ او که مخالف د هغه په قبلولو سره به ورباندی عمل کولو ،لهذا د هغوی د ډیرو حضراتو نه تپوس کول یا خو به اتفاقي طور سره وُ او یا پدی نیت سره چی د کوم یو په

قول کی زیات احتیاط وي په هغه باندی عمل وکړی شي ، پدی وجه هغه زمانه کي په مطلق تقلید او تقلید شخصي دواړو باندې به عمل کیدلو او بیا وروسته خومره چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مبارکی زمانی نه لری والی کیدو د خلکو دیني حالت هم په بدلیدو شو ، د الله تعالی ویره او د شرعي احکامو عظمت له زړونو نه په کمیدو شو او خود غرضي په زیاتیدو شو او حالت دا شو چې اوس د مختلفو حضراتو څخه دی لپاره تپوسونه کیدل چې په کوم یو کی سهولت او آسانی وي هغه اختیار کړی شي نو د امت نبض شناس علماؤ د زخمي رګ په نیولو سره تقلید لره په تقلید شخصي کی منحصر کړ او په تدریج سره د علماؤ هم دی طرف ته رو رو میلان شروع شو او د وخت په تیریدو سره د تقلید شخصي په وجوب باندی د امت اجماع وشوه ، که داسې نه وای شوی نو د شریعت احکام به د لوبو شیان ګرځیدلی وای او خلکو به خپل مطلب او خواهش باندی عمل کولو .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله فرمایي : " وبعد المأتین ظهر فيهم التمذهب للمجتهدين اعيانهم وقل من كان لايعتمد على مذهب مجتهد بعينه وكان هو الواجب فی ذلك الزمان " (الانصاف ص ٤٤) .

ترجمه : د دویمی صدی هجري نه وروسته په خلکو کی د یو معین مجتهد پیروي رواج شو او ډیر کم خلک داسی وو چې د کوم خاص مجتهد په مذهب باندی به یې اعتماد نه کولو ، او په هغه زمانه کی همدا ضروري وُ .

علامه ابن تیمیه رحمه الله هم تقلید شخصي ضروري ګڼي : "فی وقت يقلدون من يفسد النكاح وفی وقت يقلدون من يصححه بحسب الغرض والهوى ومثل هذا لايجوز" (فتاوی ابن تیمینه ٢/٢٤٠) .

ترجمه : یعنی دا خلک کله د هغه امام تقلید کوي چې نکاح فاسد ګڼي او کله د هغه امام چې دیته صحیح وایي د خپل غرض او خواهش مطابق او دا قسم عمل کول په اتفاق سره ناجائز دي .

حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله د تقلید ضروري کیدل مختلف انداز سره بیانوي : " باب تاكيد الاخذ بمذاهب الاربعة والتشديد فی تركها والخروج

عنها : اعلم ان في الاخذ بهذه المذاهب الاربعة مصلحة عظيمة وفى الاعراض عنها كلها مفسدة كبيرة .... " (عقد الجيد مع سلك مرواريد ص ۳۱) .

ترجمه : دریم باب د دغو څلورو مذهبونو په اختیارولو او د دوی د پرېښودو او ترینه راوتلو د سخت ممانعت په بیان کی ، پوهه شه چی د دی څلورو مذهبونو په اختیارولو کی لوی مصلحت دی او له دغو نه اعراض او مخ اړولو کی لوی فساد دی ، او په همدی کتاب کی بل ځای لیکي : " وثانياً قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اتبعوا السواد الاعظم ولما اندرست المذاهب الحقة الاهذه الاربعة كان اتباعها اتباعاً للسواد الاعظم " (عقد الجيد مع سلك مرواريد ص ۳۳) .

ترجمه : او د مذهب د پابندی دویمه وجه دا ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چی د سواد اعظم (لوی جماعت) پیروي وکړئ ، او چونکی لدی څلورو نه علاوه نور حق مذهبونه پاتی نه شول نو د دوی پیروي کول د لوی ډلی پیروي کول دي ، او له دوی نه وتل او جدا کیدل د لوی او معظم جماعت څخه وتل او جدا کیدل دي ، دی د امام بغوي رحمه الله قول نقل کوي :

" ويجب على من لم يجمع هذه الشرائط تقليده فيما يعن له من الحوادث " (عقد الجيد (۹) صفحه) .

ترجمه : او هغه کس باندی چی دغه شرائط (د اجتهاد شرائط) په کی نه وي موجود د کوم مجتهد تقلید کول په هغو حوادثو او مسائلو کی چی ورته وړاندی کیږي واجب دی .

او دا هم لیکي : " وفى ذلك (التقليد) من المصالح ما لا يخفى لا سيما فى هذه الايام التى قصرت فيها الهمم واشربت النفوس الهوى واعجب كل ذى رأيٍ برأيه " (حجة الله البالغة ۳٦۱/۲) .

ترجمه : او پدی (یعنی د دی څلورو مذهبونو څخه د کوم مذهب تقلید کولو) کی ډیر مصلحتونه دي چی د چانه پټ ندي او خاص طور سره پدی زمانه کی چی همتونه ډیر کم شوي او نفسونو ته نفسي خواهشاتو سرایت کړی دی او هر رأی والا خپلی رأی باندی نازیږي .

او فرمایي : " وهذا المذاهب الاربعة المدونة المحررة قد اجتمعت الامة او من يعتمد بها منها على جواز تقليدها الى يومنا هذا " (حجة الله البالغة ۱/۳۶۱ باب رحمت الامة على جواو تقليد المذاهب الاربعة) .

ترجمه : او دغه څلور مذهبونه کوم چې مدون او مرتب شوي دي ټول امت يا د امت معتمد حضرات د دغو څلورو مذهبونو د تقليد په جواز باندې اجماع کړې ده (او دا اجماع) تر ننه پورې باقي دی .

او فرمایي : " انسان جاهلٌ في بلاد الهند ماوراء النهر وليس هنالك عالم شافعي ولا مالكي ولا حنبلي ولا كتاب من كتب هذه المذاهب وجب عليه ان يقلد لمذهب ابي حنيفة ويحرم عليه ان يخرج من مذهبه لانه حينئذ يخلع من عنقه ربقة الشريعة ويبقى سدىً مهملاً "(الانصاف عربي ص ۵۳ مع ترجمه کشاف ص ۷۰) .

ترجمه : کوم جاهل او بې تعليمه سړی چې هندوستان او ماوراء النهر په ښارونو کې وي (چې هلته زیاتره مذهب حنفي باندې عمل کیږي) او هلته کوم شافعي ، مالکي او حنبلي عالِم نه وي او د دغو مذهبونو کوم کتاب وي نو پدې وخت کې هغه باندې واجب دي چې د امام ابوحنيفه د مذهب تقليد وکړي او دحنفي مذهب پريښودل ورباندې حرام دي ځکه چې پدې وخت کې د شريعت رسی له غاړې نه ويستل دي او مهمل و بيکار پاتې کيدل دي .

او فرمایي : " وبالجملة فالتمذهب للمجتهدين سرٌ الهمه الله تعالى العلماء وجمعهم عليه من حيث لايشعرون او لا يشعرون " (الانصاف عربي ص ۴۷ مع ترجمه کشاف ص ۶۳) .

ترجمه : حاصل دا چې د دغو مجتهدينو (څلورو امامانو څخه د کوم يو مذهب پابندي (يعنې تقليد شخصي) يو راز دی چې الله تعالى د علماؤ زړونو ته اچولی دی او پدې باندې يې متفق کړي دي که د دې تقليد په مصلحت او راز باندې پوهيږي او که نه پوهيږي) .

د حضرت شاه صاحب رحمه الله له مذکور فرموداتو څخه ثابتيږي :

(۱) د څلورو مذهبونو (حنفي ، مالکي ، شافعي او حنبلي) اتباع او پیروي د سواد اعظم پیروي دی (کوم چې د حدیث له مخې واجب دی) او د څلورو مذهبونو له دائرې نه خروج له سواد اعظم نه وتل دي (چې گمراه کن دي) .
(۲) د څلورو مذهبونو په دائره کې دننه اوسیدو کې دیني مصلحتونه دي او له دغه څخه په اعراض کولو فساد دی .
(۳) په غیر مجتهد باندې تقلید واجب دی .
(۴) د څلورو واړو مذهبونو په تقلید باندې د امت اجماع ده .
(۵) د څلورو مذهبونو څخه د یو مذهب تقلید یعنی تقلید شخصي د الله له طرفه الهامي راز دی .
(٦) کوم غیر مجتهد شخص په داسې ځای کې وي چې هلته یواځې حنفي مذهب باندې عمل کیږي او د نورو مذهبونو عالِم هلته موجود نه وي او نه کتاب وي نو پداسې ځای کې هغه باندې د امام ابوحنیفه د مذهب تقلید کول واجب دي او پدې صورت کې د ده له مذهب نه وتل حرام دي .
د شاه صاحب لدې فرموداتو څخه د تقلید اهمیت او د دې د ضرورت اندازه لګیدلی شي ، د شاه صاحب رحمه الله نه علاوه نورو علماؤ هم د تقلید په ضرورت او واجب کیدو باندې لیکلي دي ، د نمونې په طور د څو علماؤ عبارتونه ذکر کولی شي لږ یې وګورئ :
د حدیثو علامه ابن همام متوفی ۸٦۱ھ په " التحریر فی اصول الفقه " کې لیکلي :
" وعلی هذا ما ذکر بعض المتأخرین منع تقلید غیر الاربعة لانضباط مذاهبهم وتقیید مسائلهم وتخصیص عمومها ولم یبدو مثله فی غیرهم الآن لانقراض اتباعهم وهو صحیح " (التحریر ص ۵۵۲)".
ترجمه : او په همدې بناء باندې ځینو متاخرینو ذکر کړیدي چې د څلورو مذهبونو نه علاوه به د بل چا تقلید نه کیږي ځکه چې د دغو څلورو امامانو مذهبونه مکمل منضبط شوي دي او پدې مذهبونو کې مسائل لیکل شوي دي او د نورو امامانو په مذهبونو کې داسې نشته او د هغوی پیروان هم ختم شویدي ، او په همدې څلورو مذهبونو کې د تقلید منحصر کیدل صحیح او درست دي .

علامه ابن نجیم مصري متوفي ۹۷۰ھ په " الاشباه والنظائر " کی لیکلي : " وما خالف الائمة الاربعة فهو مخالف للاجماع " (الاشباه والنظائر ص ۱۳۱) .
ترجمه : یعنی د چا کومه فیصله چی د څلورو امامانو نه خلافه وي هغه د اجماع نه خلاف ده (پدی وجه قابل د قبول نه ده) .
د اورنګزیب عالمګیر استاذ جامع المعقول والمنقول شیخ احمد المعروف په ملاجیون صدیق متوفي ۱۱۳۰ھ په " تفسیر احمدیه " کی لیکي : " والانصاف ان انحصار المذاهب فی الاربعة واتباعهم فضل الهی وقبولیة من الله لامجال فیه للتوجیهات والادلة " (تفسیرات احمدیه ص ۳٤٦) .
ترجمه : د انصاف خبره دا ده چی مذهبونه پدی څلورو کی منحصر کیدل او د همدی څلورو اتباع کول الهي فضل او من جانب الله قبولیت دی او پدیکی دلائلو او توجیهاتو ته حاجت نشته .
علامه جلال الدین محلی په " شرح جمع الجوامع " کی لیکي : " ویجب علی العامی وغیره ممن لم یبلغ مرتبة الاجتهاد التزام مذهب معین من مذاهب المجتهدین "
(په حواله د نور الهدایه ترجمه د شرح الوقایه ص ۱۰)
ترجمه : او په عامي او غیر عامي باندی واجب دي کوم چی د اجتهاد مرتبی ته نه وي رسیدلی چی د مذهبونو څخه په یو معین مذهب باندی عمل کول په ځان لازم کړي .
امام عبدالوهاب شعراني په " میزان الشریعة الکبري " کی لیکي : " وکان سیدی الخواص رحمه الله تعالی اذا سأله انسان عن التقلید بمذهب معین الآن هل هو واجب ام لا یقول له یجب علیك التقلید بمذهب مادمت لم تصل الی شهود عین الشریعة الاولی من الوقوع فی الضلال علیه عمل الناس الیوم " (میزان کبری) .
ترجمه : زما سردار علی خواص رحمه الله نه به چی کله تپوس وشو چی پدی وخت کی د یو معین مذهب تقلید واجب دی او که نه ؟ نو فرمایل به یی : تا نه چی څو پوری د کمال ولایت او د کشف و شهود په نظر سره داجتهاد مرتبه نه وي حاصل شوی نو تر هغه به د یو معین امام د تقلید له دائری نه قدم باهر نه ږدي او نن صبا خلک په همدی باندی عمل کوي .

علامه سید طحطاوي رحمه الله متوفي ۱۲۳۳ھ فرمایي :

"فعليكم يا معشر المؤمنين باتباع الفرقة الناجية المسماة باهل السنة والجماعة فان نصرة الله فى موافقتهم وخذ لانه وسخطه ومقته فى مخالفتهم وهذ الطائفة الناجية قد اجتمعت اليوم فى المذاهب الاربعة هم الحنيفون والمالكيون والشافعيون والحنبليون ومن كان خارجاً من هذه المذاهب الاربعة فى ذلك الزمان فهو من اهل البدعة والنار" (طحطاوی علی الدر المختار ج ٤ ص ١٥٣ كتاب الذبائح).

ترجمه : ای مسلمانانو ! په تاسو باندی د نجات موندونکی ډلی کومه چې د اهل سنت والجماعت په نوم سره مشهوره ده تابعداري کول واجب دي ځکه چې د الله تعالی مرسته او مدد د دوی سره په موافقت کولو کی ده او د دوی مخالفت د الله تعالی د قهر و غضب او دناراضتيا سبب دی (الله تعالی دی پناه راکړي) او دغه نجات موندونکی ډله (يعنی اهل سنت والجماعت) اوس پدی څلورو مذهبونو کی چې حنفي ، مالکي ، شافعي او حنبلي دي راجمع شوي ده او کوم سړی چې پدی زمانه کی لدی څلورو مذهبونو څخه خارج وي هغه بدعتي او دوزخي دی (اهل سنت کی داخل نه دی) .

سلطان المشائخ حضرت خواجه نظام الدین اولیاء دهلوي رحمه الله خپل کتاب " راحة القلوب " کی لیکي : " حضرت خواجه سید العابدین . زبدة العارفين ، فريد الحق والشرع شکر گنج رحمه الله په کال ۶۵۵ھ د ذی الحجه د میاشتی په ۱۱ تاریخ باندی فرمایلي : دا څلور واړه مذهبونه حق دي لیکن پدی یقین کول پکار دي چې حنفي مذهب په دی ټولو کی افضل او بهتر دی او نور مذهبونه د دی نه وروسته دي او امام ابوحنیفه افضل المتقدمين څخه دی او الحمدلله چې مونږ د ده په مذهب یو (حدائق حنیفه (۱۰۴) صفحه) .

حضرت امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله ليکي :

" بی شائبه تکلف وتعصب گفته میشود که نورانیت این مذهب حنفي بنظر کشفی دررنگ دریائی عظیم می نماید وسائر مذاهب در رنگ حیاض وجداول بنظر می آیندو بظاهر هم که ملاحظه نموده می آید سواد اعظم از اهل اسلام متابعان ابی حنیفه اند علیهم الرضوان واین مذهب باوجود کثرت متابعان در اصول و فروع از سائر مذاهب متمیز است دور استنباط طریق علیحده دارد واین معنی مبنی از حقیقت است ، عجب

معامله است امام ابوحنیفه در تقلید سنت از همه پیش قدم است و احادیث مرسل را در رنگ احادیث مسند شایان متابعت مید اندو بر رأی خود مقدم مید اردو همچنین قول صحابه رابواسطه شرف صحبت خیر البشر علیه السلام بر رائے خود مقدم میداردو دیگران نه چنین اند مع ذلک مخالفان اور اصاحب رائے میدا نندو الفاظ که مبنی از سوئے ادب اند باومنتسب می سازند باوجود آنکه همه کمال علم وفو وروع و تقوی او معترف اند حضرت حق سبحانه و تعالی ایشان راتوفیق دهد که ازرأس دین و رئیس اسلام انکار نه نماید و سواد اعظم اسلام را ایذا نه کند یریدون ان یطفؤا نور الله بافواههم جماعه که این اکابر دین را اصحاب رائے میداندا گراین اعتقاد دارند که ایشانان برائے خود حکیم میکردند متابعت کتاب و سنت نمی نمودند پس سواد اعظم از اهل اسلام بزعم فاسد وایشان ضال و مبتدع باشند بلکه از جرگه اهل اسلام بیرون بودند این اعتقاد نکند مگر جاهلي که از جهل خود بی خبر است یا زندیقي که مقصودش ابطال شطر دین است ناقصي چند احادیث رایاد گرفته اند و احکام شریعت رامنحصر دران ساخته ماورائ معلوم خودر انفي می نمایندو آنچه نزد ایشان ثابت نه شده منتفي می سازند.
چون آن کرمی که درسنگیی نهان است زمین و آسمان او همان است وای هزار وای از تعصبهائ بارد ایشان واز نظر هائي فاسد ایشان (مکتوبات امام رباني ص ۱۰۷ ، ص ۱۰۸ ، ج ۲ مکتوب نمبر ۵۵ فارسي).

ترجمه : بغیر د تکلف او تعصب نه ویل کیږي چی د دی حنفي مذهب نورانیت کشفي نظر کی د لوی دریاب غوندی ښکاري او نور ټول مذهبونه د حوضونو او نهرونو پشان ښکاري او په ظاهر کی هم چی ګورو نو د مسلمانو سواد اعظم یعنی زیات خلک د امام ابوحنیفه رحمه الله تابعدار دي دا مذهب دزیاتو پیروانو باوجود په اصولو او فروعو کی په ټولو مذهبونو کی ممتاز دي او په استنباط کی جدا طریقه لري او دا معنی د حقیقت نشاندهي کوي ، ډیر د تعجب خبره ده چی امام ابوحنیفه رحمه الله د سنتو په تابعداری کی د ټولو نه وړاندی دی تر دی چی مرسل حدیثونو باندی هم د سند حدیثونو پشان عمل کوي او په خپل رأی باندی مقدم ګنږي او همدا شان د صحابه کرامو اقوال هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحبت د شرف په وجه خپلی رأی باندی مقدم ګنږي ، او نور داسی ندی، بیا هم مخالفین ورته صاحب رأی وایي او ډیر د بی ادبی الفاظ ورته منسوبوي او حال دا چی ټول خلک د ده کمال علم ، ورع و تقوی

باندی اعتراف کوي ، الله تعالی دی ورته توفیق ورکړي چی د دین سردار او د اسلام رئیس څخه انکار ونه کړي او د اسلام سواد اعظم ته تکلیف ورنکړي " یریدون ان یطفؤا نور الله بافواههم " دا خلک د الله تعالی نور په خپلو پوکو سره مړ کول غواړي ، دا خلک (غیر مقلدین) چی د دین دغه بزرگان (امام ابوحنیفه ، امام مالک ، امام شافعي او امام احمد) ته اصحاب رأی وایي که یی دا عقیده وي چی دغو بزرگانو یواځی خپلی رأی باندی عمل کولو او د قران او حدیث متابعت یی پریښودو نو د دوی د فاسد خیال مطابق د اسلام سواد اعظم گمراه او بدعتي بلکی د مسلمانانو څخه باهر دی داسی قسم عقیده جاهل او بیوقوف ساتي کوم چی د خپل جهالت نه بی خبره وي او یا هغه زندیق چی مقصد یی د اسلام نیمایي برخه باطلول دي . دغو څو ناقصانو یو څو حدیثونه یاد کړي او د شریعت احکام په همدی څو حدیثونو باندی موقوف کوي او د خپلو معلوماتو نه علاوه ټول نفي کوي او کوم څه چی د دوی په نزد ثابت نه وي (یعنی د دوی له علم نه باهر وي) د هغه انکار کوي خلک بی ځایه تعصب او فاسدو خیالونو کی مبتلا کیږي (ترجمه مکتوبات امام رباني ۱۷۸/۲ ، ۱۷۹ مکتوبات نمبر ۵۵) .

شاه محمد اسحاق محدث دهلوي فرمایي :

(سوال) مقلد ایشان رابدعتي گویند یا نه ؟

جواب : هرگز مقلد ایشان رابدعتي نخواهند گفت زیراکه تقلید ایشان تقلید حدیث شریف است باعتبار الظاهر والباطن پس متبع حدیث رابدعتي گفتن ضلال و موجب نکال است (مأته مسائل ص ۹۳) .

سوال : د څلورو مذهبونو مقلدینو ته بدعتي ویل کیږي یا نه ؟

جواب : دڅلورو مذهبونو مقلدینو ته بدعتي نشي ویل کیدی ځکه چی د څلورو مذهبونو تقلید د حدیث د ظاهر او د باطن تقلید دی او د حدیثو متبع ته بدعتي ویل گمراهي او بدبختي ده (امداد المسائل ترجمه مأته مسائل ص ۱۰۲) .

حضرت شاه محمد هدایت علي نقش بندي مجددي حنفي جی پوري رحمه الله لیکي : " د شریعت د امامانو تقلید هغه چا باندی واجب ندی چی په علم تفسیر ، فقه او حدیث کی کامل وي ، مرتبه د اجتهاد ، او د مسایلو په استباط باندی قادر وي ، په ناسخ و منسوخ او دعربو له محاوری نه پوره واقف وي او که دومره استعداد ونه لري نو بیا دامامانو تقلید ورباندی واجب دی او که دا ټول علوم پکی

موجود وي او بیا هم داامامانو تقلید وکړي نو دا نه کار دی خو لیکن پدی وخت کی لیدل کیږي چی علم تفسیر ، حدیث ، فقه او اصول خو څه کوی د قرآن شریف یا دحدیث شریف بغیر د اعراب نه صحیح تلاوت او لوستل هم نشي کولی ، دمسائلو د استنباط خو ډیره اوچته خبره ده لیکن د شریعت د امامانو تقلید نه کوي او شرک ورته وایي ، د دوی په عقل باندی پرده راغلی ، دوی نه پوهیږي چی د هندوستان دعلم تفسیر ، حدیث ، فقه او د اصول فقه مخ کښان شاه عبدالحق محدث دهلوي ، شاه ولی الله محدث دهلوي ، شاه عبدالعزیز ، حضرت مجدد الف ثاني ، حضرت مرزا مظهر جان جانان شهید ، حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي وغیره مخزن العلوم کیدو باوجود ټول حنفیان دي نو ایا د اوسنی زمانی علماء علم و فهم او تقوی زیات لري ؟ هرگز نه ، ځوک چی د امامانو مقلد ته مشرک وایي لیکن جاهلان خپل مقلدین جوړوي ، اکثر خلک کوم چی په اردو هم نه پوهیږي هغوی هم دا وایي چی مونږ اهل حدیث یو (یعنی غیر مقلد) که د دوی څخه دا تپوس وکړی شي تاسو چی خپل ځان عامل الحدیث گنئ دا مسائل مو دقرآن او حدیث نه رااخستي دي او یا دکوم مولوي صاحب نه په اوریدو سره مو عمل کړی ؟ نو هغوی به هم دا وایي چی فلاني مولوي صاحب نه مو اوریدو سره عمل کړی دی نو بیا دا تقلید نه شو نور څه شو ؟ (در لاثاني ۶۱/۲ ، ۶۲ ، احسن التقویم ص ۱۳۷ ، ۱۳۸) .

لوستونکي دی غور وکړي ! پدی آخري عبارت کی چی د کومو محدثینو او بزرگانو نومونه ذکر شول ایا په غیر مقلدینو کی د دوی برابر کوم عالِم شته ؟ دوی چی څومره په حدیثو کی مشغول وو او حدیثو باندی یی څومره ژور نظر لرلو ایا د غیر مقلدینو دومره ژور نظر شته ؟ د دی باوجود هم دغو محدثینو او بزرگانو تقلید کړی او حنفي مذهب یی غوره کړی ، اوس فیصله وکړئ چی د دغو بزرگانو قول او عمل د اتباع لائق دی یا د غیر مقلدینو ؟

همداشان پونني صفحو کی چی د کومو محققینو علماؤ عبارتونه پیش کړی شول په دغو باندی هم غور وکړئ ، الله پاک دغو بزرگانو ته د قران او حدیث ژور علم نصیب کړی وُ او د شپی او ورځی یی همدا مشغولتیا وه د دی باوجود دغو حضراتو پخپله هم تقلید کړی او امت ته یی‌هم د تقلید دعوت ورکړی ، دوی هغه بزرگان حضرات دي چی هر یو پخپل خپل زمانه کی د علم ، عمل ، تقوی ، طهارت ، خوف ، خشیت ، احسان او اخلاص امامان وو ، د الله تعالی د راضي کولو او د دین متین د خدمت جذبه د دوی

په رګ رګ کی موجود و . د آخرت په فکر کی مستغرق وو او په قران او حدیث باندی مکمل طور باندی عمل کونکی ، د حرامو خو تصور نشي کیدلی بلکی د مشتبهاتو څخه یی هم پوره پوره د ځان ساتلو کوشش کولو ، ایا د دغو بزرګانو په باره کی دا خیال کولی شي چی د تقلید (کوم چی د غیر مقلدینو په قول حرام او کفر و شرک دی) په کولو سره پخپله هم ټول عمر (معاذ الله) په حرام او کفر و شرک کی مبتلا وو او امت ته هم ټول عمر د دی دعوت ورکړی دی ، معاذ الله ثم معاذ الله د چا په زړه کی چی د قران او حدیث عظمت او د اسلافو (مشرانو) احترام او د علماء رباني او مشائخ کرامو محبت وي هغه د دی خبری تصور قدری هم نشي کولی .

له دغو بزرګانو نه علاوه د مثال او نمونی په طور د محدثینو ، لویو علماؤ ، اولیاء کرام او د طریقت د مشائخو یو فهرست درته وړاندی کوو تاسو یی وګورئ دا ټول مقلدین وو

د نقد رجال امام محدث کبیر یحیی بن سعید القطان رحمه الله (چی د امام بخاري د استاذ استاذ دی) ، امیر المؤمنین فی الحدیث حضرت عبدالله بن المبارک رحمه الله (چی د حدیثو د فن لوی رکن ، دامام بخاري داستاذ استاذ دی او د یحیی بن معین ، امام احمد بن حنبل وغیره د لویو محدثینو هم استاذ دی) ، د حدیثو امام وکیع بن جراح (چی د امام شافعي ، امام حنبل د صحاح سته و د مصنفینو د لویو شیوخو څخه دی) امام حدیث سید الحفاظ یحیی بن معین (چی د امام بخاري استاذ دی) امام حدیث امام ابویوسف (چی په علم حدیث کی د امام احمد ، علی بن مدینی ، یحیی بن معین وغیره د اکابرو محدثینو استاذ دی او دغه حضرات د امام بخاري وغیره محدثینو له شیوخو څخه دی) دا لوی لوی محدثین په حدیثو کی د جلالت شان باوجود تقلید کوي او ټول حنفیان دي .

امام بخاري رحمه الله مجتهد کیدو باوجود د صحیح قول مطابق مقلد وُ او شافعي وُ ، پخپله د غیر مقلدینو امام جناب نواب صدیق حسن خان صاحب بوپالي خپل کتاب "الحطة فی ذکر صحاح الستة" کی لیکلي دي : امام ابوعاصم ، امام بخاري په شوافعو کی ذکر کړیدي : " وقد ذکره ابوعاصم فی طبقات اصحابنا الشافعیه نقلاً عن السبکی " او په همدی کتاب (۱۲۷) صفحه (٦) فصل کی د امام نسائي متعلق لیکي : " کان احد اعلام الدین وارکان الحدیث امام اهل عصره ومقدمهم من اصحاب

الحدیث وجرحه وتعدیله معتبربین العلماء وکان شافعی المذهب " یعنی امام نسائي د دین له غرونو څخه یو غر او دحدیث له ارکانو څخه یو رکن د خپلی زمانی امامم او د محدثینو پیشوا ؤ د ده جرح او تعدیل د علماؤ په منځ کی معتبر او دی شافعي مذهب دی

د امام ابوداؤد په باره کی لیکي : " فقیل حنبلی وقیل شافعی " یعنی ځینو حضراتو ورته حنبلي ویلي او ځینو حضراتو ورته شافعي ویلي دي (الحطه ص ۱۳۵) .

او د دوی نه پرته امام مسلم ، امام ترمذي ، امام بیهقي ، امام دار قطنی ، امام ابن ماجه دا ټول مقلدین وو او د صحیح قول مطابق شافعي مذهب وو .

علامه ذهبي ، علامه حافظ ابن تیمیه ، علامه ابن قیم ، علامه ابن جوزي ، دا ټول حضرات هم حنبلي مقلدین وو .

لږ غور وکړئ ! د حدیث لوی لوی امامان ، د صحاح سته ؤ مصنفین (امام بخاري ، امام مسلم ، امام ترمذي ، امام نسایي ، امام ابن ماجه او امام ابوداؤد) کوم چې پخپله غیر مقلدین هم جلیل القدر محدثین مني ، دا محدثین د سوونو او د زرګونو نه بلکی د لکونو حدیثونو حافظان وو په حدیثو کی د دومره مهارت باوجود هم د امامانو تقلید کوي نو غیر مقلدینو لپاره کوم ګنجائش دی چې دوی دی د تقلید نه آزاد وي او تقلید ته دی حرام او کفر و شرک ووایي ، همدا شان په هندوستان کی چې څومره مشهور محدثین ، محققین علماء او د طریقت مشائخ او اولیاء الله تیر شویدي هغه ټول مقلدین او تقریباً ټول د امام ابوحنیفه پیروان وو د دوی فهرست خو ډیر اوږد دی د دوی څخه یو څو مشهورو علماؤ او مشائخو اسماء ګرامي وګورئ :

امام رباني شیخ سید احمد مجدد الف ثاني نقش بندي ، شیخ عبدالحق محدث دهلوي ، شاه ولی الله محدث دهلوي او د ده پوره خاندان چې د دوی په ذریعه په هندوستان کی د علم حدیث ښه نشر و اشاعت او ترقي شوی ، د هند د اولیاؤ سرتاج خواجه معین الدین چشتي ، مرزا مظهر جان جانان ، د وخت بیهقي حضرت قاضي ثناء الله پاني پتي د تفسیر مظهري مصنف ، خواجه قطب الدین بختیار کاکی ، خواجه نظام الدین اولیاء ، خواجه باقی بالله ، خواجه فرید الدین ګنج شکر ، خواجه علاو الدین صابر کلیري ، حاجي امداد الله مهاجر مکي وغیره وغیره ، تفصیل لپاره فتاوی رحیمیه اول جلد ۷۷ ، ۷۸ صفحی وګورئ .

غرض دا چی دامت جمهور محدثین ، محققین علماء ، اولیاء الله او عارفین ټول په تقلید باندی متفق دي ، ډیر کم خلک د تقلید منکر دي ۔
حضرت مولانا محمد ادریس صاحب کاندهلوي لیکي :

د امامانو په تقلید باندی د امت متفق کیدل خدا داد مقبولیت دی :

د امت محمدي د علماؤ ، صلحاؤ ، مفسرینو ، محدثینو د څلورو امامانو په تقلید باندی متفق کیدل نه کوم عقلي کار دی او نه کسبي دی چی د چا د کوشش او د جدوجهد نتیجه وګڼل شي بلکی خالص د الله تعالی فضل او اراده ده ، الله تعالی خپل قدرت او حکمت سره فقهاء او مجتهدین پیدا کړل او خپل قدرت سره د دوی مذهبونه خور کړل او خلکو د دوی تقلید وکړ او بیا د همدی الله حکمت او اراده د دی مقتضی شوه چی څلورو امامانو ته قبولیت او کامیابي نصیب کړی او ټول امت د همدی حضراتو په رهنمایئ سره الله تعالی ته ورسي ، نو هغه وُ چی رو رو نور مذهبونه له دنیا نه ختم شول او یواځی د دی څلورو امامانو مذهبونه باقي پاتی شول ، الله تعالی په تکویني طور سره محدثینو ، مفسرینو ، اولیاؤ او عارفینو په زړونو کی دا خبره واچوله چی تاسو خمونږ د دی څلورو مقبولو بندګانو څخه د یو اتباع وکړئ ، دا خبره ورغورځول چی د امت د عوامو او خواصو زړونو ته پریوته او د دی څلورو امامانو خواته راټول شول او ورځ په ورځ د دوی خوریدل او قبلیدل شروع شو تر دی پوری چی د دوی اصول او فروع منضبط شول او دځمکی په سر ټول خلک یعنی اهل سنت والجماعت پدی څلورو امامانو د تقلید په دائره کی منحصر او محدود شول او علماؤ اعلان وکړ چی کوم سړی د دی څلورو امامانو له تقلید نه ووځي هغه بدعتي دی اهل سنت ندی ، لکه څنګه چی په صحاح سته و باندی د ټول امت متفق کیدل د چا د جدوجهد او د کوشش نتیجه نده بلکی د خداداد قبولیت نتیجه ده همداشان د څلورو امامانو په تقلید باندی د ټول امت متفق کیدل هم د خداداد مقبولیت ثمره ده ۔

لهذا دا سوال چی تقلید پدی څلورو کی ولی منحصر شو ؟ دا داسی دي چی خلافت راشده په خلفاء اربعه و کی ولی منحصر شو ، او مقرب ملائکی ولی څلور دي ؟ جواب

دا دی چې دا بواخې د الله تعالی فضل او مهرباني دی پدی کې د کوم توجیه او د دلیل گنجائش نشته ، ماشاء الله کان وما لم یشاء لایکون (ص ۱۰۴ ، ۱۰۵) .

د شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله له نوم نه ټول واقف دي د علم او ولایت په انتهایي اعلی مقام باندی فائز ؤ مګر د دی باوجود مقلد او حنبلي ؤ او د امام احمد رحمه الله په مذهب باندی د مړ کیدو او په حشر کې د ده سره د ملګرتیا تمنا او دعاء به کولو ، د ده مشهور کتاب " غنیة الطالبین " کې دي : " قال الامام ابوعبدالله احمد بن محمد بن حنبل الشیباني واماتنا علی مذهبه اصلاً وفرعاً وحشرنا فی زمرته " .

(غنیة الطالبین ص ۶۰۵ باب فی الصلوات الخمس فصل وینبغی للماموم)

حضرت پیران پیر خو تقلید باندی د قائم پاتی کیدو دعاګانی کوي او غیر مقلدین دی ورته حرام او کفر و شرک وایي .

به بین تفاوت راه از کجا تا بکجا

او د دی باوجود ځان ته سلفي ویل پداسی حال کی چې د سلف صالحینو سره هیڅ تعلق نلري ، د دوی په شان کی ناروا الفاظ استعمالوي او د تقلید کولو په وجه دوی ته غلط وایي او د دوی توهین کوي ، د قرئت خلف الامام نه کولو په وجه د دوی لمونځ باطل ګني او بیا هم ځانته سلفي وایي دا خو برعکس نام نهادن زنګي کافور ...... مصداق دی او همدا حال د دوی ځانته د اهل حدیث ویلو دی لکه ځنګه چې د " د منکرین حدیث " د حدیث نه په انکار کولو ځانته " اهل قرآن " نوم کیښودل صحیح ندي همدا شان د شرعي تقلید نه انکار کولو سره ځانته " اهل حدیث " نوم کیښودل صحیح نه دي .

امام الهند حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله چې د ده علمي مقام او په حدیثو کی د ده کومه درجه ده د دی اعتراف پخپله غیر مقلدین هم کوي ، حضرت شاه ولی الله مقلد او حنفي دی د خپل ځان په باره کی لیکي : " واستفدت منه صلی الله علیه وسلم ثلثة امور خلاف ماکان عندی وماکانت طبعی تمیل الیه اشد میل فصارت هذه الاستفادة من براهین الحق تعالی علی ...... الی قوله

.... وثانیهما الوصاة بالتقلید بهذه المذاهب الاربعة لا اخـرج منـها " الخ

(فیض الحرمین ص ٦٤ ، ٦٥ مطبعه رحیمیه دیوبند)

ترجمه ماته د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم داسی دری خبری حاصل شویدي چـی هغی طرف ته زما طبیعت مائل نه وُ او د زړه میلان می ورته بالکل نه وُ دغه استفاده ما باندی د حق برهان وګرځیده ، له دی دریو خبرو نه دویمه خبره دا ده چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ما ته وصیت وکړ چی زه د دی څلورو مـذهبونو تقلیـد وکـړم او لـه دوی نه باهر نشم

پدی عبارت غور وکړئ او غیر مقلدینو ته پکار دي چی لدینه عبرت واخلي لـدی عبارت څخه دوه خبری ثابتیږي (۱) د نفس د تقلید وصیت (۲) په څلورو مذهبونو کـی د تقلیـد محدود او منحصر کیدل او پدی عبارت کی مقلدینو لپاره لـوی بشـارت او غـیر مقلـدینو لپاره عبرت دی .

او دا هـم لیکلـي : " وعرفنی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان فی المذاهب الحنفی طریقة انیقة هی اوفق الطرق بالسنة المعروفة التی جمعت ونقحت فی زمان البخاری واصحابه " (فیوض الحرمین ص ٤٨ ، کتب خانه رحیمیه دیوبند) .

ترجمه : رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ماته وښودل چی پـه حنفـي مـذهب کـی یـو داسی بهترینه طریقه ده چی د نورو طریقو په نسبت لدی سنت مشهوره سره زیاته موافقه ده کومه چی د امام بخاري او د ده د ملګرو په زمانه کی تدوین او تنقیح شوی ده .

دا دواړه عبارتونه په غور سره مطالعه کړئ ! د رسول الله صلی الله علیه وسلم لـه طرفـه شاه ولی الله غوندی لوی محدث په تقلید باندی مامور شـوی دی او ورتـه ویـل شـوي چی حنفي مذهب سنت سره زیات موافق دی ، رسول الله صلی الله علیه وسلم له طرفه حضرت شاه صاحب ته د تقلید امر شوی او ده محدث او مجتهد کیدو باوجود وربانـدی عمل کړی او حنفي مذهب یی اختیار کړی او تر آخره پوری حنفي پاتی شوی دی .

په فتاوی محمودیه کی دي : (حضرت شـاه ولی الله صـاحب) پـه ۱۱۷٦هـ کـی وفـات شوی او په همدی کال کی آخري خـل بخـاري شـریف تـدریس کـړ او مولـوي چـراغ صاحب ته یی خپل قلم سره سند لیکلی کوم چی بخـاري شـریف سـره پـه خـدا بخـش لائبریری پټنه کی موجود دی په هغه کی خپل نوم سره حنفي لیکلـي دي او د حضـرت شاه رفیع الدین صاحب تصدیق دی چی دا زما والد صاحب لیکلـی دی او همـداراز د

شاه عالم مهر هم پدی تصدیق باندی موجود دی لدینه معلومیږي چی تر آخره پوری حنفي وُ (فتاوی محمودیه ۳۸۸/۱) .
غیر مقلدین دا اعتراض کوي چی دا خو خوب دی او خوب شرعي حجت ندی د دی جواب دا دی چی د تقلید د ثبوت دار و مدار یواځی پدی خوب باندی ندی بلکی د تقلید د ثبوت لپاره مستقل دلائل دي چی ځینی دلائل په تیرو صفحو کی مو ولوستل ، مگر دیته هم باید خیال وشي چی دغه خوب کوم معمولي څیز ندی د خوب لیدونکی عالِم ربانی محدث کبیر حضرت شاه ولی الله محدث دهلوي رحمه الله پشان عظیم شخصیت دی او په خوب کی چی د کوم ذات اقدس زیارت کړی او دچا له طرفه چی د تقلید اختیارلو تاکید شوی هغه سید المرسلین محبوب رب العالمین حضور اقدس صلی الله علیه وسلم ذات گرامي دی ، او په حدیث کی دی :
(۱) " عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال من رٰانی فی المنام فقد رأنی فان الشیطان لایتمثل فی صورتی " متفق علیه (مشکواة ص ۳۹٤ کتاب الرؤیا) (بخاری باب من رأی النبی صلی الله علیه وسلم فی المنام ۱۰۳۵/۲) .

ترجمه : د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی : چا چی زه په خوب کی ولیدم نو یقیناً هغه زه لیدلی یم ځکه چی شیطان زما په شکل کی نشي جوړیدلی .
(۲) " عن ابی قتادة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من رأنی فقد رٰای الحق " متفق علیه (مشکواة ص ۳۹٤) (بخاری ۱۰۳٦/۲) .
ترجمه : د حضرت ابوقتاده رضی الله عنه نه روایت دی چی رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : چا چی زه په خوب کی ولیدم نو یقیناً هغه حق لیدلی دی (یعنی بالکل صحیح او رشتونی خوب لیدلی دی) .
د دی دواړو حدیثونو په رڼا کی د دیٰ خوب په رشتیا کیدو کی څه شک دی ؟لهذا دیته خوب ویلو سره خلک په شک کی غورځیدل ندي پکار .
غیر مقلدین د شیخ عبدالوهاب نجدي هم مسلک او هم عقیده گڼلی شي لیکن شیخ عبدالوهاب مقلد دی هغه د خپل ځان په باره کی لیکي : " فنحن ولله الحمد متبعون

لا مبتدعون علی مذهب الامام احمد بن حنبل " (محمد بن عبدالوهاب للعلامـة احمد عبدالغفور عطار طبع بیروت ص ۱۷٤ ، ۱۷۵) .

یو بل مکتوب کی لیکي : " انی ولله الحمد متبع ولست بمبتدع عقیدتی و دینی الذی ادین الله به .... الخ " .

ترجمه : زه الحمد لله (د سلفو امامانو) متبع یم مبتدع نه یم زما عقیده او زما دین کـوم چی د الله تعالی د دین په حیث باندی منلـی او اختیـار کـړی دی هغـه د اهـل سـنت والجماعت مسلک او طریقه ده چی د امت د څلورو امامانو او د دوی د پیروانـو مسـلک او طریقه ده (محمد بن عبدالوهاب ص ۱۷۵) .

د ده ځوی شیخ عبدالله خپل یوه رساله کـی د خپـل ځـان او د خپـل والـد (پـلار) د مسلک وضاحت کوي او لیکي : " د دین اصـول (ایمانیـات او اعتقـادات) کـی ځمونـږ مسلک د اهل سنت والجماعت مسلک دی او ځمونږ طریقه د سلفو د ائمه و طریقه ده او په فروعو یعنی فقهي مسائلو کی د امام احمد بـن حنبـل رحمـه الله پـه مـذهب یـو او خوک چی دخلورو امامانو څخه د کوم یو هم تقلید کوي نو مونږ پری انکار نه کوو "

(الهدیة السنیة ص ۳۸ ، ۳۹ عربي)

پورتنی حوالی د حضرت مولانا محمد منظور نعماني صاحب د یو کتاب " د شیخ محمـد بن عبدالوهاب په خلاف پروپیګنډه " نه اخستل شوي دي .

حاصل د کلام :

پورتنی ذکر شوی بیان څخه ثابتیږي چی د امت محدثین ، مفسرین ، علمـاء ، صـلحاء ، اولیاء او مشائخ د امامانو په تقلید باندی متفق دي او د دوی ټولو په تقلید باندی متفـق کیدل د تقلید د برحق کیدو نهایت قوي سند او دلیل دی .

په حدیث کی دي : " عن ابن عمر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان الله لایجمع امتی او قال امة محمد علی ضلالة وید الله علی الجماعة ومن شذ شذ فی النار " (رواه الترمذی) (مشکواة ص ۳۰ باب الاعتصـــام بالکتـــاب والسنة) .

ترجمه حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي الله تعالی زما امت یا د محمد صلی الله علیه وسلم امت په ګمراهی باندی نه جمع کوي او په جماعت باندی دالله تعالی لاس دی (یعنی د ده مدد جماعت سره شامل حال دی) او څوک چې دجماعت نه جدا شو هغه به تنها جهنم ته غورځولی شي

(۲) " لن تجتمع امتی علی الضلالة " قال البخاری وبالجملة فهو حدیث مشهور المتن ذو اسانید کثیرة وشواهد متعددة فی المرفوع وغیره (المقاصد الحسنة ص ٤٦٠)

ترجمه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : زما امت (علماء و صلحاء) کله هم په ګمراهی باندی نه متفق کیږي

(۳) " عن ابی ذر رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من فارق الجماعة شبرا فقد خلع ربقة الاسلام من عنقه " رواه احمد و ابوداؤد (مشکوٰة ص ۳۱ ، الاعتصام بالکتاب والسنة) .

ترجمه : له حضرت ابوذر رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : چا چی یوه ولیشت برابر هم د جماعت جدایي اختیار کړه یقیناً هغه دخپلی غاړی نه د اسلام رسۍ وویستله .

مفسر قرآن حضرت علامه ابومحمد عبدالحق حقاني دهلوي خپل مشهور کتاب " عقائد اسلام " کی لیکي " په کومه مسئله کی چی امت متفق وي هغه حقه ده او د دی مخالف مردود دی " ترمذي د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث نقل کړی چی : "لاتجتمع امة محمد علی الضلالة" یعنی امت محمدي صلی الله علیه وسلم په ګمراهی باندی نه متفق کیږي ، "وید الله علی الجماعة ومن شذ شذ فی النار" (رواه الترمذی) یعنی د الله تعالی لاس په جماعت باندی دی او څوک چی د جماعت نه جدا شو هغه به یواځی جهنم ته داخل کړی شي ، او " واتبعوا سواد الاعظم " (رواه ابن ماجه) یعنی د لوی ډلی تابعداري وکړئ . یعنی زما په امت کی چی زیات خلک په یوه مسئله کی کوم طرف ته وي د هغوی تابعداري وکړئ ځکه چی لوی

جماعت نه گمراه کیږي ، ځکه " للاکثر حکم لکل " نو که چیرته گمراه شي نو غالباً ټول به گمراه وي او د ټولو گمراه کیدل باطل دي ، ځکه که چیرته ټول امت گمراه شي نو د قرآن پاک تکذیب لازمیږي او امت وسط او خیر کیدل غلط ثابتیږي او دا محال دي نو د امت گمراه کیدل هم محال دي او پدې باره کې ډیر زیات صحیح احادیث راغلي دي (عقائد اسلام (۱) باب (۵) فصل (۷۵) صفحه) .

لدې وړاندیزونه څخه وروسته " الدین النصیحة " (یعنی دین د خیر خواهی نوم دی) په بناء د ټولو مسلمانانو خاصکر د غیر مقلدینو څخه دا درخواست دی چې ټول خلک هغه لاره غوره کړي کومه چې د امت جمهورو محدثینو ، مفسرینو ، علماؤ او صلحاؤ ، عارفینو او د طریقت مشائخو غوره کړی ده او خپل ځان جمهور امت او سواد اعظم سره وابسته کړی صحابه کرامو او سلف صالحینو رحمهم الله باندی حسن ظن وساتي ، انشاء الله العزیز په همدی کی د ایمان او داعمالو سلامتي او دگمراهی نه حفاظت دی او که نه غیر مقلدیت او لامذهبیت سراسر گمراهي او ضلالت دی ، بلکی دا وینا به بی ځایه نه وي چی غیر مقلدیت د گمراهی اوله پوړی ده او پخپله دغیر مقلدینو پیشوا مولانا محمد حسین بټالوي د کلونو تجربی نه وروسته لیکلي دي :

" د (۲۵) کالو تجربی نه مونږ ته دا خبره معلومه شوی ده چی کوم خلک سره د بی علمی مجتهد مطلق او تقلید پریدي هغوی په آخر کی له اسلام سره هم په مخه ښه کوي ، په دوی کی ځینی عیسایان کیږي او ځینی لامذهب گرځي چی دکوم دین او مذهب پابند نه وي او د شریعت له احکامو نه فسق او خروج خو د دی آزادي (غیر مقلدیت) ادنی کارنامه ده ، د سود او شراب نه پرهیز نه کوي او ځینی د کوم دنیاوي مصلحت په وجه د ظاهري فسق نه ځان ساتي او په فسق خفي کی اخته کیږي په ناجائز طور باندی ښځی په نکاح کی گیروي ، د کفر ، ارتداد او د فسق اسباب په دنیا کی خو ډیر زیات دي مگر د دیندارو د بی دینه کیدو ډیر لوی سبب دا دی چی هغوی د کم علمی باوجود تقلید پریدي (اشاعة السنة (۱۱) جلد (۲) گڼه (۵۳) صفحه ، په حواله د سبیل الرشاد (۱۲) صفحه ، تقلید ائمه (۱٦ ، ۱۷) صفحه) .

د غیر مقلدینو یو بل پیشوا جناب نواب صدیق حسن خان بوپالي صاحب د خپل جماعت متعلق چی څه لیکلي دغه هم لږ وگورئ : " فقد نبت في هذا الزمان فرقة ذات سمعة ورياء تدعى انفسها علم الحديث والقرآن والعمل والعرفان "

ترجمه : پدی زمانه کی یوه شهرت پسنده ریاکاره ډله پیدا شوی ده چې د ډیر خامیو باوجود ځانته په قران او حدیث باندی عمل کونکی وايي او حال دا چې د دوی علم ، عمل او معرفت سره ډیر لری تعلق او واسطه هم نلري .

او وړاندی د دی مضمون لاندی لیکـي : " فیا للعجب ان یسمون انفسهم الموحدین المخلصین وغیرهم بالمشرکین وهم اشد الناس تعصباً وغلواً فی الدین " .

ترجمه : ډیره د تعجب خبره ده چې غیر مقلدین څنګه ځانته خالص موحدین وايي او مقلدین حضراتو ته (د امامانو د تقلید په وجه) مشرک او بدعتي وايي پداسی حال کی چې غیر مقلدین پخپله د ټولو خلکو نه زیات متعصب او غلو کونکي دي .

او بیا د همدی مضمون په آخره کی لیکـي : " فما هذا دین الافتنة فی الارض وفساد کبیر " (الحطة فی ذکر صحاح الستة (٦٧ ، ٦٨) صفحه) .

ترجمه : دا طریقه (کومه چې د غیر مقلدینو ده) کوم دین ندی دا خو پـه ځمکـه کـی فتنه او فساد عظیم دی (پـــه حــــواله د تـــقلید ائمـه (۱۷ ، ۱۸) صـفحـی مولانـا اسماعیل سنبهلي) .

الله پاک دی ټولو ته د حق قبلولو او پری د عمل کولو توفیـق ورکـړي ، پـه ایمـان او اعمالو باندی استقامت او په همدی باندی خاتمه نصیب کړی ، اللـــهم آمین بحرمة النبی الامی صلی الله علیه وسلم فقط والله اعلم .

نوټ

پدی جواب کی د حضرت مولانـا محمـد ادریـس کانـدهلوي رحمـه الله د یـوی رسالی نه هم کافي استفاده کړی شوی ده (د اولنـو صـفحو د شـلیدو لـه وجـې د رسالی نوم معلوم نه کړی شو) الله پاک دی مرحوم ته جـزاء خـیر ورکـړي او د ده ټول تصانیف دی مفید او نـافع او مـــرحوم لپـــاره صــــدقه جاریـه وګرځـوي ، آمین (احقر سید عبدالرحیم ۵ صفر ۱۴۱۸ھ) .

د تقلید د حیثیت بیانولو کی لیکلي دي[1]

(۱۹) د دین اصل دعوت دا دی چی یواځی د الله تعالی اطاعت وکړي شي تر دی پوری چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت هم دی لپاره واجب دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپل قول او فعل سره د الهي احکامو ترجماني کړی ده چی کوم څیز حلال دی او کوم څیز حرام دی ، څه شی جائز او څه شی ناجائز دی ؟ پدی ټولو معاملاتو کی اطاعت خو یواځی د الله تعالی پکار دی مګر رسول الله صلی الله علیه وسلم چونکی د دی احکامو مبلغ او رسونکی دی پدی وجه د ده صلی الله علیه وسلم اطاعت او پیروي کوو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت درحقیقت د الله تعالی اطاعت دی ، د الله تعالی ارشاد دی : " من یطع الرسول فقد اطاع الله " لهذا د شریعت په ټولو معاملو کی یواځی د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت ضروری دی او کوم سړی چی د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه علاوه د کوم بل چا د اطاعت قائل وي او هغه مستقل بالذات د اطاعت مستحق ګڼي نو دا خو یقیناً مذموم دی ،لهذا هر مسلمان ته پکار دي چی هغه د قران او حدیث د احکامو تابعداري او اطاعت وکړي .

په قرآن او حدیث کی ځینی احکام داسی دي چی د قرآني آیتونو او صحیح حدیثونو نه صراحتاً ثابت دي او په ظاهره کی کوم تعارض هم پکی نشته ، دا قسم احکام او مسایلو ته " منصوصي " ویل کیږي لیکن ځینی احکام داسی دي چی په هغو کی یو څه اندازه ابهام او اجمال دی او ځینی آیتونه او حدیثونه داسي دي چی هغو کی د څو معنا ګانو احتمال دی ، ځینی محکم دي او ځینی متشابه ، څه مشترک دي او څه مؤول ، او ځینی احکام داسی دي چی په ظاهر کی د قرآن کریم کوم بل آیت او یا حدیث سره متعارض معلومیږي ، د دی د یو څو مثالونو بیانولو نه وروسته لیکلي دي :

پداسی مسائلو د اجتهاد او استنباط نه کار اخستل کیږي پداسی موقع باندی عمل کونکی حیرانیږي چی دی څنګه عمل وکړي پخپله اجتهاد کولو سره فیصله

[1] ـ دا مضمون د فتاوی رحیمیه زوړ چاپ ۳۹۷/۹ دی کوم چی مفتي صاحب د " فتاوی رحیمیه " او "دلائل عقلیه" عنوان لاندی لیکلي او دا د کوم سوال جواب ندی

وکړي او یا د اسلافو او د مشرانو په عقل و فهم او علم باندی اعتماد کولو سره د دوی په فیصله باندی عمل وکړي د داسی پریشاني په وخت کی غوره خبره دا ده چی لکه څنګه مونږ په دنیاوي معاملو کی د فن د ماهرینو په مشورو باندی عمل کوو ، که بیمار شو نو ډاکټر ته ځو ، که په کورټ (محکمه) کی څه مقدمه او لانجه وي نو وکیل نیسو او که کور جوړول وي نو د انجینئر نه مدد غواړو او داسی نور او څه چی هغوی وایي د تسلیمی سر ورته ټیټوو یعنی قبلوو یی هغو سره دلائل نه وایو . همدا شان په دیني معاملو کی د دغو پاکو حضراتو په فهم و بصیرت او علم باندی اعتماد کولو سره د دغو مجتهدینو امامانو څخه د کوم یو په قول باندی عمل وکړو دغه عمل ته په اصطلاح کی تقلید وایي ، د تقلید حیثیت یواځی دومره دی چی مقلد دځپل امام تقلید پدی خیال سره کوي چی هغه په حقیقت کی په قران او حدیث باندی عمل کوي او خاص د صاحب شریعت پیروي کوي او ګویا چی دا خیال کوي چی " امام " د ده او د صاحب شریعت تر منځ واسطه دی د مثال په طور دجماعت په لمانځه کی کله چی خلک ډیر زیات وي د امام آواز لری مقتدیانو ته نه رسي نو پدی وخت کی یو تکبیر ویونکی مقررولی شي هغه مکبر دامام اقتداء کولو سره اوچت آواز سره د تکبیر په ویلو د امام د نقل و حرکت . رکوع و سجدی اطلاح وروستي صفونو کی مقتدیانو ته ورکوي او د وروستي صفونو مقتدیان هم دا خیال کوي چی مونږ د امام اقتداء او اتباع کوو او پخپله مکبر هم همدا خیال کوي چی زه امام نه یم بلکی زما د ټول جماعت امام یو دی ټول دهمدی امام اقتداء کوو زه خو یواځی د امام د نقل و حرکت اطلاع ورکوم نو بالکل همدا صورت دلته هم دی چی د مقلد تصور هم دا دی چی د الله او د رسول الله صلی الله علیه وسلم اطاعت او اتباع کوم " امام " نه د هغه مکبر په نظر ګوري دی مستقل بالذات قابل اطاعت نه ګڼي ، مستقل بالذات قابل اقتداء او اطاعت خو صاحب شریعت ګڼي (فتاوی رحیمیه ۱۷۲/۴ ، ۱۷۳ . ۱۷۵)

پدی عام فهم مثال سر د تقلید حیثیت واضح کړی او د غیر مقلدینو خود ساخته اعتراض او اشکال یی رفع دفع کړی لدینه وروسته هم خامخا دا اعتراض لاره غوره کول ضد او تعصب نه غیر بل څه نه دي (والله المستعان علی ما تصفون)

(۲۰) او یو بل خای کی د تقلید په ضرورت باندی لیکلي دي

كه چيرته لږ په ساړه دماغ سره غور وكړى شي نو واضح كيږي چې تقليد يو فطري امر دى او يو قدرتي لازمي ضرورت دى كوم چې انسان سره د سوري پشان لګيدلى وي . غير مقلدين هم لدينه بې نيازه ندي . د دوى په كورو كې واړه بچي د كور مشرانو ته كتو سره لمونځ كوي او نور كارونه كوي او د دوى دكور زنانه محدثانې . عالمانې او فاضلانې نه وي د سړو نه په تپوس تپوس عمل كوي او پخپله غير مقلدين هم عالمان . فاضلان او محدثين نه وي دوى، هم دخپلو مشرانو نه او يدى تپوس تپوس علم كول مذموم نه ګڼي او ديته شرك . بدعت او ګناه هم نه ويل كيږي او په معمولي صنعت او حرفت كې هم بغير د تقليد نه كار نه كيږي .د طب دكتابونو په مطالعى سره سړى ډاكټر او حكيم نه جوړيږي او كه داسې سړى كلينك جوړ كړي نو خلك ورته مجرم وايي او خوك چې له هغه نه علاج كوي هغه د هغه ډاكټر نه هم لوى نادان ګڼلى شي . مشهور متل دى " نيم حكيم خطر جان و نيم ملا خطر ايمان " په هر حال د دنيا په هركار كې د تقليد ضرورت پيدا كيږي . ليكن ددين په معامله كې دحديثو د يو خو كتابونو ترجمې ليدلو سره خپل ځان د قران او حديث ماهر ګڼل او هدايت يافته امامانو او سلف صالحينو باندى بدګماني كول او د دوى په شان كې بدزباني او ګستاخي كول او د دوى تقليد ته شرك او بدعت ويل او پخپل ناقص عقل و فهم باندى اعتماد كول او نفساني خواهشاتو باندى، عمل كول عين توحيد ګڼل كوم انصاف دى " برين عقل و دانش ببايد ګريست " كه چيرته خمونږ غير مقلدين ورونه ضد او عناد او تعصب پريدي او ديانتداري او سنجيدګي او ساړه دماغ سره غور وكړي نو بيا هيڅ وجه نشته چې د عدم تقليد په عقيده باندى تينګ پاتې شي او خپلي مخكني رويى باندى پښيمانتيا ونه كړي (فتاوى رحيميه اول جلد ۱۰۲ صفحه)

د ركوع ته قريب ټيټيدو سره شكريه او تعظيم كول :

(۳٦ سوال) خمونږ په دى علاقه كې يو مسلمان " كراټې " (دا يو قسم ورزش او لوبه ده چې مختلف چلونه پكى ښودل كيږي) خلكو ته ښايي يعنى ور زده كوي يى هغه دا فن په نيپال كې زده كړى دى د هغه خوا ته تللو او واپس كيدو په وخت كې خپل دواړه لاسونه په بدنه او ملا باندى ايښودو سره د ركوع پشان ښكته كيدو سره د هغه شكريه ادا كوي ، هغه او د دى ادارى منتظم دا وايي چې

ددی فن زده کولو لپاره پدی قسم ښکته کیدو سره شکریه اداکول اوتعظیم کول ضروري دي .نوپدی قسم ښکته کیدو سره شکریه اداکول اوتعظیم په ځای کول شرعاجائزدی؟ اوکه پدیکی کراهت دی وضاحت وکړی مهربانی : جواب: دمسلمانانو دا ایمان دی چه الله تعالی دټولونه زیاد لائق دتعظیم دی یواځی دالله تعالی ذات ددی قابل دی چه انسان دده په وړاندی خپل سر اوتندی ښکته کړی پدی وجه اسلام کی غیرالله ته سجده کول حرام کړی شوی دی اوپه همدی بناء فقهاؤ داصورة هم مکروه لیکلی دی چه یوځوک دچاپه وړاندی درکوع په شان ښکته کیدوسره سلام وکړی اویاورته تعظیم وکړی په شامی کی دی ((قال القهستانی وفی الظهیریة کفر بالسجدة مطلقا وفی الزاهدی الایماء فی السلام الی الرکوع کالسجود وفی المحیط انه یکره الانحناء للسلطان وغیره))شامی ص۳۳۸ج۵ کتاب الحظروالاباحة ،قبیل فی البیع) ترجمه :علامه قهستانی فرمائي ظهیریه کی دی چی دسلام کولوپه وخت کی رکوع پشان ښکته کیدل دسجدی په حکم کی دی یعنی څنګه چی غیرالله ته سجده کول ناجائزدی همداشان رکوع په اندازه ښکته کیدل هم ناجائزدی ،اوپه محیط کښی دی چی بادشاه اویابل چاپه وړاندی ښکته کیدل مکروه تحریمی دی (شامی ۲۳۸\۵)په فتاوی عالمګیری کی دی (الانحناء للسلطان ...) اولغیره مکروه لانه یشبه فعل المجوس کذا فی جواهر الاخلاطی) ویکره الانحناء عندالتحیة وبه وردالنهی کذا فی التمرتاشی)) عالمګیری ۲۴۴\۲کتاب الکراهیة (۲۸باب) په سوال کی چی دښکته کیدو کوم صورة دی دا رکوع ته نزدی دی لهذا! شرعا ددی اجازه نشته دفن ورزده کونکی اود اداری منتظمینوته پکاردی چی اسلامی طریقی ته ترجیح او ړومبی توب ورکړی اودپردیو طریقی اختیار نکړی اودختل ځان په وړاندی دښکته کیدو شرط ونه لګوی ،بیشکه دخپل محسن شکریه اداکول پکاردی په حدیث کی راځی ((عن ابی سعید ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من لم یشکرالناس لم یشکرالله (ترمذی شریف ۱۷\۲باب ماجاء فی الشکرلمن احسن الیک ،ابواب البروالصلة) لهذا دخپل محسن شکریه اداکړی که په هره ژبه کی وی اګرکه دټولونه بهترالفاظ دادی چی(جزاک الله) ووائی (الله تعالی دی درته جزاء خیر درکړی) په حدیث کی راځی [عن اسامة بن زید ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من صنع الیه معروف فقال لفاعله جزاک الله خیرا فقدابلغ فی الثناء ...] حضرت اسامه بن زید ﷺ نه روایت دی چی رسول الله ﷺ فرمایلی دی : چاسره چی نیکی وکړی شی او هغه سړی دنیکی کونکی لپاره جزاک الله ووائی نوهغه دشکر حق اداکړ

ددویوان حافظ وغیره څخه فال ویستل

(۳۷سوال) دعملیاتو په ډیروکتابوکی فالنامی وی لکه دیوان حافظ،نوله داسی فالنامی نه فال ویستل څنګه دی ؟ آیا لدی څخه ایمان کی نقصان راځی؟ جواب:نیک فالی اختسل کیږی خو دایقنی څیز نشی ګڼل البته نجومی ته ورتلوسره فال ویستل اوهغه نه دغیبی خبرو تپوسونه کول ګناه کبیره ده حدیث کی په دی باندی سخت وعید راغلی : عن ابی هریرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من اتی کاهنا فصدقه بمایقول فقد برئ مما انزل علی محمد ﷺ : رسول الله ﷺ فرمایي: څوک چی نجومی ته لاړشی اودهغه دخبروتصدیق وکړی نویقینا هغه سړی دهغه دین نه بیزارشوکوم چی محمد ﷺ باندی نازل شوی دی (مشکوة شریف ص۳۹۳باب الکهانة) په مظاهرحق کی دی: بیزارشویعنی کافرشو دادحلال ګڼلوپه صورة کی دی او یا وعید او تشدیددی ددی منکراتوڅخه دپرهیزکولوپه غرض (مظاهرحق ۳۰\۴